فتاویٰ رحیمیه

پښتو

افادات

حضرت مولانا قاري مفتي سيد عبدالرحيم لاجپوري
خطيب بړی مسجد رانديرضلع سورت

پښتو ترجمه

مولانا محمد خليل

حضرت مولانا غلام ربي

مكتبه فاروقيه
محله جنګي پشاور
Ph: 091-2217181
Mob:0300-9007550

فتـــاوی رحـیـمـیه

(لسم جلد)

کـتاب الاضیحة ، کتاب الحظر والاباحة کتاب الـمیراث

افادات

حضرت مولانا قاري مفتی سید عبدالرحـیم لاجپوري رحمة الله علیه
خطیب بڑی جامع مســـجـد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه :

حضرت مـــــولانا محمد خلیـل

مکتبہ فاروقیہ محلہ جنگی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob:0300-9007550

فهرست

کـتاب الاضحیة

له قضا قـرباني سره ادا قرباني صحیح دی ؟

(۱ سوال) دقرباني له اووه شریکانو څخه یو د پروس کلني قرباني نیت وکړ نو دټولو شریکانو قرباني صحیح کیږي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) هو صحیح کیږي لیکن هغه چاچي دقضا نیت کړی دی دهغه نفلي قرباني کیږي قضای نه اداکیږي.[۱]

په قرباني کی د عقیقې حصه صحیح نه ده :

(۲ـ سوال) ایا دقرباني په لوی خاروي کی دعقیقې حصه او برخه نیولی شو؟

(ځواب) هو دقرباني په لوی خاروي کی دعقیقې برخــی پــه نیولــوکی څـه حــرج نشتـ جائزدی. فقط والله اعلم بالصواب.

دمړي له طرف نه قرباني څنګه وکړي ؟

(۳ـ سوال) که چیرته د مړي له طرف نه څوک قرباني کول غواړي نو دهـر مـړي لپار جلا جلا حصه نیول ضروري دي اوکه په یوه کی ټول شریکیدای شي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) هریو لپاره جلا جلا برخه نیول ضروری ده، یوه حصه له یـوه نـه زیـاتو مړولپار کافی نه ده، البته له خپل طرف نه دنفل قرباني په کولـو سـره لـه یـوه نـه زیـاتو مړونـ بخښلي شي لکه چي محمد صلی‌الله علیه وسلم دیو قرباني ثواب ټول امت تـه بخښلـی و، که طاقت مو وي نو مړولپاره ضروري قرباني کوئ دلوی ثواب کـاردی، پـه دی سر مړوته ډیر ثواب رسیږي.

په نابالغ ماشوم باندی قرباني واجب نه ده :

(۴ـ سوال) زه سږ کال قرباني کول غواړم، زما اولادونه نابالغ دي، دهغوی مال دی ا دهغوی له مال نه قربانی کول پرموږ ضروري دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) په نابالغ باندی قرباني واجب نه ده‌لهذا د هغوی له مال نه قرباني مه کوئ.

---

[۱] - ولو اراد والقربة الاضحیّة اوغیرها من الـقرب اجزأهم سواء كانت القربة واجبة او تطوعا أو وجب علـ البعض دون البعض وسواء اتفقت جهات القربة او اختلفت الخ. فتاوی عالـمگیری کتـاب الاضـحیة البـا الثامن ج ۵ ص ۱۳۰۷ ایضاً.

ولیس للاب ان یفعله من مال طفله ورجحه ابن الشحنه قلت وهو الـــمعتمد لما فـــی متن مواهب الرحمن من انه اصح مایفتی به اه. (درمختار مـــع الشـــامی ج۵ ص ۲۷۶ کتاب الاضیحة). فقط والله اعلم بالصواب.

که مالدار سړی د قربانۍ په ورځو کی قرباني ونه کړي نـوحکم یی څه دی؟

(سوال۵) په مالدار سړي باندی قرباني واجـب وه خـو ویی نـه کـړه، دقربانـۍ ورځـې ختمې شوې هغه دی اوس څه وکړي؟

(ځواب) په مسئوله صورت کی دی دیوې وزې قیمت صدقه کړي، کـه قربـاني لپـاره یی څاروی آخستی وي نوهغه ته اختیار دی چی پخپلـه همغـه ژونـدی صـدقه کـوي اوکـه دهغه قیمت خیراتوي.

ولوترکت التضحیة ومضت ایامها تصدق بهاحیة (درمختار) (قوله تصدق بهـــا حیـــة) لوقوع الیاس عن التقرب بالاراقة وان تصدق بقیمتها اجزاه ایضاً لان الواجـــب هنـــا التصدیق بعینها وهذا متله فیما هو الـــمقصود الخ ذخیره.(شامی ج۵ ص ۲۲۹ کتاب الاضیحة). فقط والله اعلم بالصواب.

ایاقرض مهر په نصاب کی داخل دی اوکه نه؟

(٦ سوال)یوه ښځه دنصاب خاونده نه ده لیکن پرخاوندی باندی یی له نصاب نه زیـات مهر پاتی دی لیکن فـی الحال ورته نه ورکوي، نو دمهر له اداکولو نه وروسته ښځـې تـه مالداره ویلی شو اوکه نه؟ ایاقرباني ورباندی هم لازمیږي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) په خاوند باندی دمهر دپاتی کیدو په وجه ښځه مالداره نشي کیـدی اونـه هـم ورباندی قرباني واجبیږي. فتاوی عالمګیری پنځم جلد کی دي:

واما الـــموجل الذی سمی بالفارسیة (کابین) فالـــمرأة لا تعتبر موسرة بذلك بالاجماع (جلدپنجم ص ۲۹٤ کتاب الاضیحة)فقط والله اعلم بالصواب.

د نیت په تفاوت سره دقرباني حکم څه دی ؟

(۷ سوال) په لوی څاروي کی له شریکو کسانو څخه یو کس دراتلـونکی کـال دقرباني اراده وکړي اوپاتی نور شریکان دتیرکال د قضاء قرباني نیت وکړي نـو ددی څـه حکم دی؟

(ځواب) په مسئوله صورت کی چي کوم شخص د راتلونکی کـال دقربانـی نیت کړی دی هغه صحیح دی خود نورو قرباني صحیح نه ده، دتیرکال قربـانـی پـه دی کال نه اداکیږي بلکی دانفل قرباني کیږي ټوله غوښه دی صدقه او خیرات کړي.

وشـــمل مالو کان احدهم مرید اللاضحیة عن عامه واصحابه عن الماضی تجـوز الاضحیة عنه ونیة اصحابه باطلة وصاروامتطو عین وعلیهم التصدق بلحمهـــا وعلـی الواحد ایضاً لان نصیبه شائع الخ (شامی ج ۵ ص ۲۸۵ کتاب الاضیحة). فقط والله اعلم بالصواب.

د قرباني له څاروي نه ګټه اوچتول څنګه دي:

(۸ سوال) دقرباني د څاروي له شیدو او وړیو څخه ګټه اوچتول جائز دي اوکه نه؟

(ځـواب) له قرباني نه وړاندی دی د وزی یاګډې وړی دی قینچی کـړي اوشـیدې دی ترینه ولوشي او دواړه دی صدقه او خیرات کړي،خوله قربانی وروسته قینچي شـوی وړی اوله سینی نه ویستل شوی شیدې خپله استعمالولې شي ځکه چی دڅاروي د ذبح کولو کوم مقصد و هغه حاصل شوې دی، اوس څرنګه چی دهغه غوښه استعمالول صـحیح دي همداسی وړی، څرمن او نور شیان هم پخپله استعمالولی شي. دعالمګیری په فتاوه کی دي

ولـــو حلب اللبن قبل الذبح وجز صوفها یتصدق به ولا ینتفع به کذافـــی الظهیریة واذا ذبحها فـــی وقتها جازله ان یحلب لبنها ویجز صوفها وینتفع به لان القربة اقیمت بالذبح والانتفاع بعد اقامة القربة مطلق کالا کل کذافـــی الــمحیط. (جلد پـنځم فقط والله اعلم بالصواب الباب السادس فـــی بیـــان مایســـتجب فـــی الاضحیة والانتفاع بها ج ۵ ص ۳۰۱).

که له قربانی نه وروسته ژوندی بچي ووځي په هغه دی څه وکړي؟

(۹ سوال) که له قرباني نه وروسته ژوندی بچی ووځي دهغه څه حکم دی؟

(ځواب) که ژوندی بچی ترینه ووځي نوهغه دی ذبح کړي، که مرووت نو د هغه غوښه دی نه استعمالوي. فـــان خرج من بطنها حیًا فالعامة انه یفعل بـــالام الخ (شـــامی ص ۳۸۱ کتاب الاضیحة). فقط والله اعلم بالصواب.

که چیرته د یو څاروي پرځای اوه څاروي حلال کـړي نـو یـواځې واجب قرباني یې کیږي اوکه ټول په واجب قربانۍ کی‌حسابیږي؟

(۱۰ سوال) که چیرته دیو څاروی پرځای اوه څاروي حـلال کـړي نـو یـواځې واجـب قرباني یی کیږي اوکه ټول څاروي په قربانۍ کی حسابیږي؟ همدغه راز کـه یوسـړی پـه لوی څاروي کی د اوومې حصې پرځـای پـوره څـاروی قربـاني کـُړي نـو اووه حصـې علیجده علیجده قرباني حسابیږي اوکه ټول په یو قربانۍ کی حسابیږي؟

(ځواب) که دواجب قربانۍ لپاره د یوګډ پرځای څو ګـډان یـا وزې حلالـې کـړي نـو واجب قرباني یې په یوګډ یا وزګړي سـره اداکیـږي او پـاتی نـور قربـاني پـه نفـل کـی حسابیږي، خوکه دا لوی څاروي د اوومې حصې پرځای پوره څـاروی قربـاني کـړي نـو پوره څاروي سره قربانی یی اداکیږي.قـــال فـــی الخلاصة ولو ضحـــی بـــاکثر مـــن واحدة فالواحدة فریضة والزیادة تطوع عند عامة الـــعلماء. پـه بـل ځـای کـی دي: ولو ان رجلاً موسراً ضحی ببدنة عن نفسه خاصة کان الکل اضحیة واجبة عند عامـــة العلماء وعلیه الفتوی. (شامی ج۵ ص ۲۹۱ ایضاً). خلاصة الفتاوی ج ٤ ص۳۱۵. ایضاً). (فتاوی قاضی خان ج ٤ ص ۷٤۷ ایضاً.) فقط والله اعلم بالصواب.

که غریب سړی د قرباني نیت وکړي اوبیا ونه کړي نـو دهغـه څـه حکم دی؟

(۱۱_ سوال)له یو غریب سړی سره چی دنصاب مالک نه دی یـو وزګـړې دی، هغـه لـه اختر نه وړاندی ددی نیت کړی و چی په قربانـۍ کـې بـه یی حـلال کـړي، خـو اوس دهغه دلا غر کیدو په خاطر خرڅول غواړي، ایاخرڅولې شي اوکه نه؟ ځینې خلک وایی چی کله غریب دقربانۍ نیت وکړي نوبیاهغه څاروی نشي خرڅولې بلکی دهغـه قربـاني کول ضروري ده ایا داخبره صحیح ده؟

جواب: د وزګري مالک که هغه اسیروي یاغریب کله چې دهغه د قرباني کولو نیت کوي نو په دی سره قرباني ورباندی نه لازمیږي که دهغه بدلول غواړي نوبدلولي شي اوکه خرخول غواړي نو خرخولی هم شي په شامی کی دي فلو کانت فی ملکه فنوی ان یضحی بها لایجب یعنی: دچاپه ملکیت کی چې له وړاندی نه څاروی وي نو دهغه دقرباني کولو په نیت سره دهغه قرباني کول نه لازمیږي. شامي ج ۵ ص ۲۸۰ کتاب الاضحیه. فتاوی عالمکیری ج ۵ ص ۲۹۱ کتاب الاضحیه.

همدغه راز که دڅاروي د آخستلو په وخت دقرباني نیت یی نه وي کړی نو وروسته په نیت کولو سره هم دهغه قرباني نه لازمیږي. په شامي کی دي

او اشتراها ولم ینو الاضحیة وقت الشراء ثم نوی بعد ذلك لایجب لان النیة لم تقارن الشراء فلا تعتبر بدائع (شامی ج۵ ص ۲۸۰) کتاب الاضحیة فتاوی عالمگیری ج ۵ ص ۱۹۱. البته هغه غریب چې قرباني ورباندی واجب نه ده دقرباني په ورځو کی دقرباني په نیت څاروی واخلي نوبیا هغه ددغه څاروي قرباني او حلالول واجبیږي هغه نه خرخولی شي اونه بدلولی شي. په درمختار کی دي (وفقیر شراها لها) لوجوبها علیه بذلك. په شامي کی دي لان شرائه لها یجری مجری الایجاب (شامی ج۵ ص ۲۸۰ کتاب الاضحیة).

فتاوی دارالعلوم عزیزالفتاوی کی هم همدغسې راغلی دي چې که چیرته غریب سړی دقرباني په ورځو کی دقرباني په نیت سره کوم څاروې واخلي نو هغه دقرباني لپاره متعین کیږي خوکه دقرباني په ورځو کې نه وي آخستی بلکې وړاندې یی آخستی وي نو غریب او اسیر دواړوته دهغه بدلول جائز دي (ج۵ ص ۶۵).

قرباني دی پخپله وکړي یابل ځای ته ولیږي، غوره او اولی پکی کوم یو دی؟

(۱۲ ـ پوښتنه) کوم خلک چې په افریقا کی اوسیږي هغوی خپل قرباني په هندوستان کی کوي پخپله افریقا کی نه کوي په دی کی څه حرج خو نشته؟

(خواب) په مسئوله صورت کی قرباني صحیح ده هیڅ قسم حرج پکې نشته، خو غوره داده چې څاروی پخپله خوښ کړي پخپله واخلي اودهغه خدمت وکړي ځکه چې دادیر دلوی ثواب کاردی. اود اولاد د قرباني قائم مقام دی. یعنی دڅاروي قرباني

کول د اولاد له قرباني کولو سره برابردی مستحب دادی چی پخپل لاس ذبح کړي، که چیرته ذبح کولی نه شي نولږ ترلږه حاضردی واوسي په حدیث شریف کی دي چی محمد صلی‌الله علیه وسلم حضرت فاطمه رضی‌الله عنها ته وویل ای لوري! دخپل قرباني څاروي سره حاضره اوسه څکه چیٰ د قرباني دهرې څاڅکي په بدله کی ستا ټکیني ګناهونه معاف کیږي لهذا دداسی الهی عنایت په وخت کی حاضریدل زیات غوره او د الهی انعام قدرداني ده، حضرت فاطمه رضی‌الله عنها عرض وکړ یارسول الله! ایا دغه الهی نظام یواځې زمونږ داهل بیتو لپاره خاص دی اوکه هر چاتپاره دی؟ محمد صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل دادټولو لپاره عام دی (طبرانی).

مستحب دادی چی دخپل قرباني دڅاروي له غوښې نه غوښه وخوري. که ممکن وي نوداخترپه ورځ دی دخوراک پیل دقرباني له غوښې نه وکړي، همدغه راز ګاونډیانو، خپل خپلوانو او رشته دارانو ته هم ورکړي، په بل ځای کی دقرباني کولو په صورت کی له پورتنی بیان شویو برکتونو څخه محروم پاتی کیږي که چیرته د کوم شرعي عذر او مصلحت په وجه داسی کیږي نودپوره اجرنه علاوه دزیات اجرامید هم کیدی شي، په دی کی دنیت لوی دارسدار دی په وطن کی دخپلو خپلوانو او رشته دارانو دحق اداکولو لپاره دقرباني انتظام کول صحیح اوجائز کاردی فقط والله اعلم بالصواب.

که دڅاروي له آخستلو نه وروسته قرباني ونه کړی شي نو دهغه څه حکم دی؟

(۱۳ _ سوال) پر ماقرباني فرض وه لیکن د عذر په وجه مو قرباني ونکړی شوه، اوس څه وکړم؟

۱ - ویاکل من لحم الاضحیة ویؤکل غنیا ویدخرو ندب بان لاینقص التصدق عن الثلث وندب ترکه لذی عیال توسعة علیهم وان یذبح بیده ان علم ذلك والا یعلمه شهید ها بنفسه قال فی الشامیة تحت قوله شهد ها بنفسه لما روی الکرخی باسناده الی عمران بن الحصین قال رسول الله صلی‌الله علیه وسلم قومي یافاطمة فاشهدی اضحتیك فانه یغفرلك باول قطرة من دمها کل ذنب عملته وقولی ان صلاتی ونسکی الخ درمختار مع الشامی کتاب الاضیحة ج ٦ ص ۳۲۸.

(ځواب) په مسئوله صورت کی کـه څـاروی یی آخـستی وي نوهغـه دی ژونـدیخیرا کړی اویادی دهغه قیمت په خیرات کی ورکړي اوکه څاروی یی نه وي اخـستی نودې وزکړي قیمت دی خیرات کړي.[1]

دقرباني څرمن دی چاته ورکړی شي؟

(۱۴ سوال) دقرباني څرمن چاته ورکول پکاردي؟

(ځواب) چاته چی دقرباني غوښه ورکولې شي هغه ته دقرباني څرمن هم ورکولې شي.

دمړي له طرف نه قرباني کول:

(۱۵ سوال) ایا دمړي له لوری قرباني کولې شوو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) دمړي له لوری نه اودمړي لپاره قرباني کولی شي او ددی څه صورتونه دي:

(۱) مړي وصیت کړی وي چی زماله مال نه زماله طرف نه قرباني وکـړئ اود وصیت په مطابق دهغه له مال نه قربانی وکړی شي نوداجائز دی. مګردقرباني ټوله غوښـه او نور ټول شیان په غریبانو باندی صدقه کول واجب دي.

په شامی کی دي: (وَعَنْ مَيِّتٍ) ایضحـی عن میت وارثه بامره الذمـة بالتصدق بهاوعدم الاکل منْهَا(شامي ج ۵ ص ۲۹۳ کتاب الاضحیة).

(۲) مړي وصیت کړی وي یانه دهغه خپلـوان او دوستان دخپلـو پیسـو نـه نفـل قرباني وکړي نوداهم صحیح دی. دا غوښه امیر او غریب ټول خوړلې شي. وان یـتبرع بهـا عنه له الاکل لِانَّهُ يَقَعُ علـی ملك الذابح والـثواب لـلمیت(شامی ج ۵ ص ۲۹۳ کتاب الاضیحة).

(۳) له خپل مال نه پخپل نُوم قرباني وکړي اودهغه ثواب یوه یاله یـوه نـه زیـاتو مړونه وبخښي نوداهم صحیح دی ددی غوښه هم امیر او مالدار ټول خوړلی شي.

---

[1] -واشـتـری شاة لیـضحی بهاحتی مضت ایام النحر تصدق بها حیة ولا یجوز الا کل منها فان باعهـا تصـدق بثمنها الخ فتاوی عالـمگیری . الباب الرابع فیمایتعلق بالـمکان والزمان ج ۵ص ۲۹۶.

د مړي لپاره قرباني کول غـوره دي اوکـه دقربـاني دمـال قیمـت صدقه ورکول؟

(١٦ سوال) ایامړي ته ثواب رسولو لپاره پیسې صدقه کول غوره ده اوکـه پـه دغـو پیسـو دمړي لپاره قرباني کول اودهغه ثواب وربخښل ښه کار دی؟

(ځواب) دقرباني په ورځو کی دپیسو له صدقه کولونه دځاروي قرباني کول او مـړي تـه دهغه ثواب بخښل ښه او غوره ده، ځکه چی په صدقه او خیرات کی فقط مـال ورکـول دي اوپه قربانۍ کی مال اداکول هم دي اوقرباني کول هم، یعنی دوه مقصدونه یکـی موندل کیږي په خلاصه الفتاوی کی دي: شراء الاضیحة بعشرة اولـــی من ان یتصدق بالف لان القربة الّتی تحصل باراقة الدم لاتحصل بالصدقة (خلاصة الفتـــاوی ج ٤ ص ٣٢٠ کتاب الاضیحة).

یعنی په لسو درهمو سره دځاروي آخستل اودهغه قرباني کـول د زرو درهمـو لـه صـدقه کولو نه بهتر او افضل دی، ځکه چې دقرباني په ورځو کې چې دوینې له تویولونـه کـوم قربت اوثواب ترلاسه کیږي هغه دصدقې په صورت کی نشي ترلاسه کیدای.

ایا د نابالغ اولاد له طرف نه قرباني وکړی شي او که نه؟

(١٧ سوال) زه مالدار او امیرسړی یم ، پر ما قرباني واجـب ده، زمـا واړه واړه اولادونـه دي ایا هغوی له طرف نه پر ماقرباني واجب ده اوکه نه؟

(ځواب) نه دهغوی له طرف نه پرتاقرباني واجب نه ده بلکـی مستحب ده.وفـــی الولد الصغیر عن ابی حنیفة روایتان فی ظاهر الروایة یســـتحب ولایجــب بخـــلاف صـــدقة الفـــطر(فتاوی قاضی خان ج ٤ ص ٧٥٥ کتاب الاضیحة فصل فـــی صفة الاضحیة ووقت وجوبها الخ).

ایادښځې له طرف نه قرباني وکړي اوکه نه؟

(١٨سوال) ایا زما دښځې له طرف نه پرماقرباني واجب ده اوکه نه؟

(ځــواب) واجب نه ده.

ایا دزیاتي، کور په قیمت کی صدقه اوقرباني شته؟

(۱۹ سوال) له چاسره چې دوه کورونه وي، یویې په کرایه ورکړی وي اوپه بل کې پخپله اوسیږي، نو ایا دقرباني په متعلق دمالداري په حساب سره ددغه کور دقیمت څه اعتبار او دخل شته اوکه نه؟

(ځواب) دویم کور په کرایه ورکړي یا نه د قرباني او صدقه فطر په سلسله کې دنصاب په تکمیل کی ددی دقیمت اعتباردی ځکه چې داکور دهغه له ضرورت نه اضافه دی.[1]

زمایو کور دی هغه می په کرایه ورکړی دی ایادهغه دقیمت اعتبار شته اوکه نه؟

(۲۰ سوال) څوک چې یواځې یو کور لري مګرپه هغه کې‌پخپله نه اوسیږي اوپه کرایه یې چاته ورکړی دی اوپخپله هم دکرایه په کور کی اوسیږي، نودقرباني پـه متعلق د مالداري لپاره ددغه کور دقیمت اعتبار کولی شي اوکه نـه؟

(ځـواب) خپل کور یې په کرایه ورکړی وي یـاهم مفت او یاخـالی پـروت وي اوپخپلـه دبل چاپه کور کی په کرایه اوسیږي یا مفت، په دواړو صورتونو کی دقربـاني او سرسایه په متعلق په مالداري کی ددغه کور دقیمت اعتبار کولی شـي، ځکـه چـې داکـور فـي الحال له اصل حاجت نه زیات دی.

دقرباني کوونکو لپاره دویښتانو او نوکانو کټ کول څنګه دي؟

(۲۱ سوال) دذی الحجی دمیاشتې لـه لیدلونـه وروسـته تـر قربـاني پـورې د ویښتـانو او نوکانو دکټ کولو دممانعت څه وجه ده؟

(ځـواب) دچا اراده چې دقرباني کولو وي دهغه لپاره مستحق دی چـې دذی الحجـی د میاشتې له شروع کیدونه دقرباني د مال تر حلالولو پـوری دی دخـبل دبـدن ویښتـان اونوکان کټ نه کړي ځکه چې‌قرباني کوونکی دخپل ځان په فدیه کـی قربـاني کـوي، اود قرباني دمال هریو جزء د قرباني کوونکي د جسم د هریو جـز بدلـه او عـوض دی، دجسم هیڅ یوه حصه دی درحمت دنزول په وخت د غائبیدو پـه وجـه لـه رحمـت نـه محروم نشي، نوځکه محمدصلی‌الله علیه وسلم داحکم ورکړی دی، لیکن که ترخلویښتو

---

[1] - اولـهـا الـغـنـی والـغنی فیها من له مائتا درهم او عرض یـساوی مأتی درهم سوی مسکنه وخادمه وثیابه الـتی یلبسها و اثاث الـبیت فالغـنی فـي الاضحیة ماهو الـغنی فـي صدقة الفطر حواله بالا.

ورخونه زیات وخت ورباندی تیریږي نوله کراهت نه د بچ کیدو په خاطر دی د ویښتانو او نوکانو په صفايي او کټ کولو کی هیڅ قسم سستي ونکړي[1]

د قرباني غوښه دخپل مسلمان قوم نه علاوه بل قوم ته د ورکولو څه حکم دی؟

(۲۲ سوال) آیا مونږ دقرباني غوښه دخپل مسلمان قوم نه پرته بل قوم ته ورکولی شوو اوکه نه؟

(ځواب) که چیرته کوم واقعي مصلحت وي نو ورکولې شئ مګر بهتر نه ده ځکه چې پخپله په مسلمانانو کې زیات غریبان دي.[2] فقط والله اعلم بالصواب.

که دقرباني په ورځو کې یوسړی یکدم مالدار شي نودهغه څه حکم دی؟

(۲۳ سوال) دقرباني دوجوب لپاره دمالداري اعتبار دقرباني له لومړی ورځې نه دی اوکه دآخري ورځو، ځیني وايي چې داختر په ورځ سهار په وخت کی چې څوک مالدار شي پرهغه قرباني واجب ده لدینه وروسته ورځو کې دمالدار کیدو په صورت کی ورباندی قرباني نه واجبیږي. ایاداخبره صحیح ده؟

(ځواب) د قرباني د آخري ورځې اعتبار دی، نه لومړی ورځ کی غریب وي یا مسافر وي اویا کافر مګر که دقرباني په آخري ورځ یعنی دقرباني د ورځو نه تیریدونه وراندی وراندی غریب مالدار شي یامسافر مقیم شي. یاکافر مسلمان شي په دی شرط چې مالدار هم وي نوپرهغوی قرباني واجبیږي. په فتاوی عالمګیری کی دي

حَتّٰی لَوْکان کافراً فی اول الوقت ثم اسلم فی اخره تجب علیه (الی قوله)
حتی لو کان مسافراً فی اول الوقت ثم اقام فی اخره تجب علیه (الی قوله)

---

[1] - ومما ورد فی صحیح مسلم قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا دخل العشر و اراد بعضکم ان یضحی فلا یاخذن شعرا ولایقلمن ظفرا فهذا محمول علی الندب دون الوجوب بالاجماع العیدین مطلب فی ازالة الشعر والظفر الخ ج ۲)شامی.

[2] -و یهب منها مایشآء للغنی والفقیر والمسلم والذی کذا فی الغیاثیة فتاوی عالمګیری کتاب الاضحیة الباب الخامس فی بیان محال اقامة الواجب ج ۵ ص ۳۰۰.

حتی لوکان فقیراً فـــی اول الوقت ثم ایسر فـــی اخره تجب علیه (فتاوی عالمگیری ج ۵ ص ۲۹۲ کتاب الاضیحة الباب الاول فـــی تفسیرها الخ).

که دقرباني په ورځو کې شک پیداشي نو دهغې څه حکم دی؟

(۲۴ سوال) دقرباني په ورځوکی شـک پیداشـو چـی دا دولسـمه ذی الحجـه ده اوکه دیارلسمه نو دقرباني څه حکم دی؟

(ځـواب) په مسئوله صورت کی دی تر دریمې ورځـې پـورې تـاخیر نـه کـوي، دتـاخیر کیدوپـه صـورت کـی دی قربـاني وکـړي خـو دتـولی غـوښې صـدقه کـول مستحب دي. واذاشك فـــی یوم الاضحی فالمستحب ان لایوخر الـــی الیوم الثالث فان اخر یستحب ان لایاکل منه ویتصدق بالکل الخ(فتاوی عالـــمگیری ج۵ ص ۲۹۵ کتاب الاضیحة الباب الثالث فـــی وقت الاضحیة).

که دنصاب مالک قرباني ونه کړي نودهغه څه حکم دی؟

(۲۵ سوال) کـه یوسړی دطاقت لرلو باوجود قرباني ونکړي نودهغه څه حکم دی؟

(ځـواب) رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمـایلی دي چـی کـوم سـړی دقربـاني کولو طاقت لري مګربیاهم قرباني ونکړي نوهغه دی زمادعیدګاه څنګ ته نه راځي یعنی هغه په الهي بارګاه کی دحاضریدو قابل نـه دی. من وجد سعةً لایضحی فلم یضح فلایحضر مصلانا (عین ترغیب عن الحاکم مرفوعاً_ مشکواة باب الاضیحة ص ۱۲۷).

د تکبیر تشریق څه ثبوت دی؟

(۲۶ سوال) د تکبیر تشریق اصلیت څه شی دی؟

(ځـواب) فقهاو لیکلي دي چی دتکبیر تشریق اصلیت دادی چی کلـه حضـرت ابـراهیم علیه السلام حضرت اسماعیل علیه اسلام پر زمکه څملاو نو الله تعالی حضرت جبریـل تـه حکم ورکړ چی فدیه له ځانه سره واخله او لاړشه، کله چـی هغـه لـه فـدیی سـره راغـی نولدی ویرې نه چې حضرت ابراهیم علیه السلام حضرت اسماعیل علیه السـلام حلالـوي الله اکبر. الله اکبر ویل شروع کړ، کله چی ابراهیم علیه السلام دا آواز واوریـد نـو دابی بشارت وګانه اوله خولی نه یې لا اله الا الله والله اکبر الفـاظ ووتـل. حضـرت اسـماعیل

علیه السلام پوه شو چی فدیه راغله نو دالله جل جلاله لویی او حمد بیان کړ او الله اکبر الله اکبر ولله الحمد یی وویل: (شامی ج ۱ ص ۵۸۵).[1]

ایا دپوره کور له طرف نه یو وزګړې کافي دی:

(۲۷ سوال) زمونږ په کور کی دپوره کور له طرف نه دیوی قربانی د کولو رواج دی، کله چیپه کور کی په ځوکسانو باندی دنصاب له رویه قربانی واجب وي نو خلک صرف دوزګړي قربانی کوي دبل کوم څاروي قربانی نه کوي، په لویو څارویو کی صرف سنډا او میخه پیداکیږي چی ددوه کلو عمر درلودونکی په ۲۰۰ روپی ترلاسه کیږي مګریو کلن وزګړی په دری سوه روپی ترلاسه کیږي، خلک وایی که چیرته دهرسړي له طرف نه قربانی وکړو نو ډیره زیاته خرچه کیږي، مونږ هغوی ته وایو چی کوم سړی دنصاب خاوند وي پرهغه قربانی واجب ده لیکن ددی ځای اوسیدونکي ډیر زیات جاهلان دي، دهغوی په وړاندی صرف یوصورت وړاندی کیدی شي چی هغوی دلویو څارویو قربانی وکړي په دی سره د اوه کسانو له طرف نه قربانی کیږي، خوپه دی صورت کی داسوال پیداکیږي چی دسنډا، میخې غوښه څوک نه خوري، ایادهغوی څرمن له ویستلو نه وروسته دهغوی غوښه په خاوره کی خښول جائز دي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) په کور کی چی کوم خلک دنصاب خاوندان دي پرهغوی ټول قربانی واجب ده. یوقربانی دټولو لپاره نه کافي کیږي، که د وړوکو څارویو قربانی ګرانه تمامیږي نو لوی څاروي دی حلال کړي او غوښه دی هغو ځایونو ته ولیږل شي چی دهغه ځای خلک یی خوري، یا پخپله څاروي دی هلته ولیږي اویاهم د څاروي دقیمت پیسې، دغوښې خښول جائز نه دي ځکه چی دادمال ضائع کول دي. فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1] - واصله ان جبریل علیه السلام لما جاء بالفداء خاف العجلة علی ابراهیم فقال الله اکبر الله اکبر فلما رآه ابراهیم علیه الصلوة والسلام قال لااله الا الله والله اکبر فلما علم اسمعیل قال الله اکبر ولله الحمد هکذا ذکره الفقهآء الخ باب العیدین مطلب یطلق اسم السنة علی الواجب).

دقرباني څاروی می واخست مګر قرباني می ونه کړی شوه، یاداچی څاروی ضائع شو

(۲۸ سوال) دشرعي مجبوریت له کبله می قرباني ونه کړی شوه، ایا همدا اوس دهغه قیمت صدقه کول ضروري دی اوکه دروژې په میاشت کی چی په هغه کی امیراو غریب هم وي په دغو پیسو باندی روژه ماتی واخلم او ورباندی روژه ماتی وکړم؟

(ځواب) داچی تادقرباني څاروی واخست اوپه څه وجه د قرباني کولو نه پاتی شوې نو پکاردي چی دغه دقرباني څاروي صدقه کړی، اوکه دمسئلې نه دناخبری په وجه څاروی دی حلال کړ نو دهغه ټوله غوښه صرف په غریبانو صدقه کړه. اوکه څاروی درنه ضاع شوی وي اوله قرباني نه پاتی شوی یی نو که امیر او مالدار یی نوستاپه ذمه دهغه قیمت صدقه کول واجب دي. فقط والله اعلم بالصواب.

دقرباني دڅرمن پیسې دی چیرته خرچ کړی شي؟

(۲۹ سوال) زمونږ په کلي کی خلک دقرباني څرمن په مدرسه کی ورکوي، که چیرته دڅرمن په پیسو دقرآن کریم سپارې، دلیکلو تختې، قلمونه ، کتابچې اوداسې نور شیان واخستل شي نو ایا داسی کول جائز دي؟ همدغه راز دغه پیسې دچاپه کفن او دفن کی لګولې شو اوکه نه؟ لدینه علاوه د استاذ په تنخواه کی استعمالولی شو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) دقرباني دڅرمن پیسې یواځې پرهغو خلکو مصرفولې اولګولې شئ چی دزکات حقدار وي که غریبو او نادارو ماشومانو ته قران کریمونه. تختې، کتابچې اوداسې نور شیان واخلئ او هغوی ته ورکړئ نوداهم صحیح دی. په کفن اودفن کی تملیک نه وي نوځکه په دی کی نشئ مصرفولې. خوپه دی صورت کی استعمالیدلی شي چی لومړی کوم غریب وارث یا منتظم چی دزکات مستحق وي ددغو پیسو مالک وګرځوې اوبیاهغه پخپله خوښه په کفن او دفن کی خرچ کړي نوداجائز دی، دغه پیسې د استاذ په تنخواه کی نشې ورکولې، که چیرته هغه د زکوات مستحق وي نو ذامداد په توګه ورته ورکولې شي. فقط والله اعلم بالصواب.[1] ۱۹رمضان المبارک ۱۳۹۹ هـ.

[1] – فان باع الجلد واللحم بالفلوس او الدواهم والحنطة تصدق بثمنه لان القربة انتقلت الـى بدله. جوهرة النيرة كتاب الاضيحة ج ۲ص ۲۸۶.

قرباني کوونکې سړی مړ شو

(۳۰ سوال) یوسړي دقرباني لپاره یو وزګړي ساتلی و دهغه له مړکیدونه وروسته دهغوی وارثانو هغه حرڅ کړ حکه چې اقتصادي حالت یې ښه نه و، اوس غواړي چې په لوی خاروي کی برخه واخلي ایا داسی کولی شي دمطهرد شریعت څه حکم دی؟

(حواب) په مسئوله صورت کی وزګړی دمړ شوي سړي په ترکه کـی شامل دي اودهغه وارثان دهغه حقدار دي. اوس که وارثان وغواړي نودهغه دغه دقرباني مال هغه ته دایصال ثواب لپاره قرباني کولی شي خو واجب وربانذی نه دی.

وان مات احد السبعة المشترکین فی البدنة وقال الورثة اذبحوا عنه وعنکم صح عن الکل استحسانا لقصد القربة من الکل (درمختار مع الشامی کتاب الاضحیة ج ٦ ص ۳۲٦ فقط والله اعلم بالصواب)

که دتیرکال قرباني سږکال وکړي نو دا ورته جائزدي اوکه نه؟

(۳۱ـ سوال) تیرکال ترینه قرباني پاتی شوه، سږکال غواړي په لوی خاروي کی دوه برخي ونیسي ایاداسی کول صحیح دي؟همدغه راز د نورو شریکانو په قرباني کی خو څه فرق نه راځي؟

(حواب) د شریکانو قرباني هم اداکیږي او ستا قرباني هم مګردتیر کال قضا قرباني دی نه اداکیږي بلکی نفلي قرباني کی دی حسابیږي، دهغه په عوض کـی دیـوی وزګړی قیمت صدقه کول دربانذی ضروري دی.

ولو اشترك سبعة فی بقرة ونوی بعض الشرکاء التطوع وبعضهم الاضحیة لهذه السنة وبعضهم قضاء عن السنة الماضیة یجوز الکل لکن یکون تطوعا عمن نوی القضاء عن السنة الماضیة فلا یقع عن قضائه. بل یلزمه ان یتصدق بقیمة شاة وسط لما مضی (مجالس الابرابرج ۳ ص ۲۲۸)فقط والله اعلم بالصواب.

که دقرباني ورځې تیری شوې نودقرباني خاروی دی ذبح کړي اوکه چاته صدقه کړي؟

(۳۲ سوال) د قرباني خاروی می واخست خودقرباني ورځې تیری شوی اوله قربانی نه پاتې شوم اوس څه وکړم؟

(ځواب) په کوم سړی چې قرباني واجب نه وي خو هغه دقرباني په اراده څاروی واخست مګر قرباني یې ونکړی شوه نو اوس دی دغه څاروی ژوندی صدقه کړي. اوکه مالدار سړي د قرباني لپاره څاروی واخست نو هغه ته اختیار دی چې پخپله څاروی خیرات کړي اویاهم دهغه قیمت ورکړي لیکن احتیاط په دی کی دی چې څاروی خیرات کړي (هدایه ص۴۳۰ _۴۳۱ ج ۴).[1] فقط والله اعلم بالصواب.

قرباني په چا واجب ده:

(۳۳ سوال) قرباني پر چا واجبیږي؟

(ځواب) هر هغه مسلمان سړی،ښځه او مقیم باندی چې دقرباني په ورځو کې د قرض له وضع کولو نه وروسته د نصاب په اندازه $7\frac{1}{2}$ تولو سره زرو یا $52\frac{1}{2}$ تولو دسپینو زرو قیمت چې له اصلي حوائجو او ضروریاتو څخه لکه مال، اسباب، کور زمکه اوداسی نورو شیانو څخه زیات وي پرهغه قرباني واجب ده.[2] فقط والله اعلم بالصواب.

که دقربانۍ د دویم څاروی قیمت کم وي نو څه حکم یې دی؟:

(۳۴ سوال) یومالدار سړی دقربانۍ لپاره څاروی واخست خو هغه اتفاقاً حامله او بلاربه ووتله هغه یې پخپل کور کی وساتله، دهغه پرځای یې بل څاروی واخست خو ددویم څاروي قیمت له مخکینی څاروی نه اویا روپۍ لږ دی نو ایا دغه اویاروپۍ خیراتول ضروري دي؟

(ځواب) هو دغه اویاروپۍ دی خامخا خیرات کړي. په شامی کی دي: وان ضحی بالثانية وقيمتها اقل تصدق بالزائد(شامی ج۵ ص ۲۸٤ کتاب الاضحیة). فقط والله اعلم بالصواب. ذی الحجه ۱۴۰۳ هـ.

قرباني سنت ده اوکه واجب:

(۳۵سوال)دیو غیر مقلد سړي ویناده چې قرباني واجب نه بلکی سنت ده، هغه دی لپاره دادلیل وړاندی کوي چې محمدصلی‌الله علیه وسلم فرمایلی دي: کوم سړی چې

---

[1] – ولو لم يضح حتى مضت ايام النحر ان كان اوجب على نفسه او كان فقيرا وقد اشترى الاضحية تصدق بها حية وان كانا غنيا تصدق بقيمة شاة اشترى اولم يشتر الخ كتاب الاضحية).

[2] – قوله واليسار الخ بان ملك مائتى درهم او عرضا يساويها غير مسكنه وثياب اللبس او متاع يحتاجه الى ان يذبح الاضحية الخ شامى كتاب الاضحية ج ٦ ص ۳۱۲.

دذی الحجی سپوږمی ووینی او اراده یی دقربانی وي نو هغه دی خپل ویښتان او نوکان ترهغه پری نکړي ترڅو پوری چی قربانی نه نه وي خلاص شوی. دقصد او ارادی له لفظ نه معلومیږي چی قرباني واجب نه ده صرف سنت ده. ایا دادلیل صحیح دی؟

(ځواب) قرباني سنت نه بلکی واجب ده. دمحمدصلی‌الله علیه وسلم ارشاد دی چی کوم سړی دنصاب خاوند وي اوقرباني ونه کړي هغه دی زمونږ عیدګاه ته نه راځي.

عن ابی هریرة رضی‌الله عنه ان رسول الله صلی‌الله علیه وسلم قال من کان له سعة ولم یضح فلا یقربن مصلانا(ابن ماجه ص ۲۳۲ ابواب الا ضاحی باب الاضاحی واجبة هی ام لا).

یعنی کوم سړی چی دقربانی کولو وس اوطاقت لري مګرقرباني ونه کړي نو هغه دی زمونږ عیدګاه ته نه نژدی کیږي، لدینه ثابتیږي چی قربانی‌واجب ده، پاتی شوه په حدیث شریف کی د اراد لفظ نو دایوه محاوره او عام بول چال دی. داد وجوب په خلاف نه دی ، دحج لپاره هم داسی الفاظ راغلي دي. په حدیث کی دي:

(مَنْ اراد الحج فَلْیتعجَّل) یعنی څوک چی د حج اراده وکړي نو هغه ته پکاردي چی تلوار دی وکړي (مشکوات شریف ص ۲۲۲ کتاب المناسک) نو ایا حج هم سنت دی. لنډه داچی قرباني واجب ده نه سنت.

"الاضیحة واجبة علی کل مسلم مقیم موسر فی‌یوم الاضحی عن نفسه وعن ولده الصغاراه ووجه الوجوب قوله علیه السلام من وجد سعة ولم یضح فلایقربن مصلانا ومثل هذا الوعید لایلحق بترك غیرالواجب الخ (هدایة ص۴۲۷ ج ٤ کتاب الاضحیة) فقط والله اعلم بالصواب.

د تیرکال دواجب قرباني څه حکم دی ؟

(٣٦ سوال) په چاچی قرباني واجب وه هغه څوکاله ونکړه اوس دی هغه څه وکړي؟

(ځواب) له الله تعالی څخه دی دقربانی دنه کولو معافي وغواړي، او دڅومره کلونو قربانی چی وربانډی پاتی ده دهغه دقیمت په اندازه دی صدقه او خیرات ورکړي. والله اعلم بالصواب.

کومې ښځې چې دنصاب خاوندانی دي پرهغوی د قربانی کولو شرعي حکم

(۳۷ سوال) داسې مال چې مالک یې ښځه ده اودهغه زکات دهغه خاوند اداکوي آیا پرداسې ښځو قرباني واجب ده اوکه نه؟

(ځواب) کله چې ښځې دنصاب خاوندانې وي نوپرهغه واجب دی چې پخپلو پیسو قرباني وکړي. که چیرته ورسره پیسې نه وي نوله خاوند نه دی واخلي اوقرباني دې وربانَدی وکړي، یاد خاوند له خپلې ښځې نه اجازه واخلي اودهغه له طرف نه دی قرباني وکړي نو دهغې دا قرباني اداکیږي. (فقط والله اعلم بالصواب.)

دقبلې په طرف د خاروي څملول مستحب دي اوکه سنت؟

(۳۸ سوال) دحلالې په وخت دقبلې په طرف د خاروي څملول مستحب دي اوکه سنت؟

(ځواب) د حلالې په وخت دقبلې په طرف د خاروي څملول موکد سنت دي، ددی خلاف او مخالفت کول مکروه دي.

(وکره ترك التوجه الی القبلة) لمخالفته السنّة (قوله) (لمخالفة السنّة) ای الموکدة لانه توارثه الناس فیکره ترکه بلاعذرٍ اتفاقی) (درمختار مع الشامی ص ۲۵۸ ج ۵ کتاب الذبائح) فقط والله اعلم بالصواب.

پلار ته دثواب په خاطر قرباني کول:

(۳۹ سوال)زه غواړم چې خپل پلار ته د ثواب دبخلو لپاره دقربانی په خاروي کی برخه واخلم ایاداسی کولې شم اوکه نه؟ ایاددی غوښه په غریبانو تقسیمول ضروري دي اوکه نه؟ ایاپه خپل کور کی هم داخوړلی شوو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) خپل پلار ته دثواب درسولو لپاره دقرباني په خاروي کی هغه لپاره برخه او حصه نیولی شي الله تعالی یی قبلوي، دهغه ټوله غوښه په غریبانانو باندی تقسیمول ضروري نه دي، امیر غریب اود کور خلک ترینه خوړلی شي په شامي کی دي:

وان تبرع بها (ای الاضحیة) عنه (ای عن المیت) له الاکل انه یقع علی ملك الذابح والثواب للمیت ولهذا لو کان علی الذابح واحدة سقطت عنه اضحیة.

کمافی الاجناس الخ (شامی ج ۵ ص ۲۹۳ کتاب الاضحیة) فقط والله اعلم بالصواب

دقربانۍ دڅرمن پیسې د آمدنۍ ذریعه ګرځول:

(۴۰ سوال) دقرباني د څرمنو پیسې د مسجد له انتظامي سره جمع دي. دمسجد مسئول او ذمه دار خلک له دغو پیسو نه غریبانو او نادارو ماشومانو ته دمکتب او مدرسې کتابونه او نور ضروري شیان اخلي همدغه راز له نورو مسکینانو سره هم مرسته کوي، د مسجد آمدنې لپاره دڅرمن په پیسو کور او دکان جوړول څنګه دي؟ بینوا توجروا.

(جواب) دقرباني څرمن مسجد ته نشي ورکول کیدی بلکې د وکالت په توګه ورکولی شي. لهذا ددی قیمت دی مستحقینو ته تملیکا ورکړی شي، اوتر کومه حده چې ژر ورکړی شي نوداښه کاردی. دڅه شرعي عذر نه پرته وروسته کول له کراهت نه خالی نه دی. دقرباني د څرمنو په پیسو سره له غریبانو او مسکینانو سره کومک او مرسته کول نه کار دی حو د څرمنو له پیسو نه د آمدنۍ ذریعه جوړول هرګز روانه دی، که چیرته دغه پیسې خپل اصل مصرف نه بې ځایه ولګول شي دمسجد انتظامیه وربانـدی ګنهګاریږي[۱] فقط والله اعلم بالصواب.

مالدار ته دقرباني څرمن ورکول:

(۴۱ سوال) آیا دقرباني څرمن مالدار او موړ سړي ته ورکولی شو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(جواب) دقربانۍ دڅرمن حکم هم دقرباني دغوښې په څیردی، څرنګه چې غوښه مالدارته ورکول کیدی شي څرمن هم مالدار ته ورکول کیدی شي، او مالدار سړی په خوشالۍ آخستی هم شي ممنوع ورته نه دی. او کوم مالدار ته چې څرمن هدیه ورکړی شي هغه کولی شي چې دغه څرمن خرڅ کړي او پیسې دخپل ځان لپاره په کار راولي.[۲] البته که قرباني کوونکی څرمن خرڅ کړ نو دهغه د قیمت حقدار صرف غریبانان دي مالدار ته ورکول صحیح نه دي. فقط والله اعلم بالصواب. ۱۶ ذیقعده ۱۳۹۹ هـ.

---

[۱]– وان باع الجلد واللحم بالفلوس او الدراهم والحنطة تصدق بثمنه لأن القربة انتقلت الـى بدله جوهر النيرة كتاب الاضحية ج ۲ ص ۲۸۶.

[۲]–ويأكل من لحم الاضحية ويوكل ويدخر... ويتصدق بجلدها او يـعمل منه، نحو غربال و جراب، درمختار مع الشامی كتاب الاضحية ج ۶ ص ۳۲۷.

د قرباني له خاروي نه ګټه اوچتول:

(۴۲سوال) که، چیرته یوسړی له قرباني نه څو هفتی یاڅو میاشتې وړاندی دقربانی لپاره خاروی واخلي یاپه کور کی کوم خاروی ولري اودهغه دقرباني کولو اراده وکړي نو ایا له همدی ورځې نه وروسته دقرباني ددغه خاروی له شیدو یادهغه له وړی نه ګټه اوچتولی شي. اوکه نه صرف د قرباني په ورځو کی به ګټه نه اوچتوي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) دقرباني له خاروي نه ګټه اوچتول مکروه دي، اود صحیح قول په مطابق مالدار او غریب دواړه په دی حکم کی یو برابردي، په عالمګیری کی دي:

ولواشتری شاة للاضحية فيكره ان يحلبها او يجز صوفها فينتفع به لانه عينها للقربة فلايحل له الانتفاع بجزء من اجزائها قبل اقامة القربة فيها كما لايحل له الانتفاع بلحمها اذا ذبحها قبل وقتها ومن المشائخ من قال هذآ في الشاة المنذور بها بعينها من المعسر والموسر وفي الشاة المشتراة للاضحية من المعسر فاما المشتراة من الموسر للاضحية فلا باس ان يحلبها ويجز صوفها كذا في البدائع والصحيح ان المو سر والمعسرفي حلبها وجز صوفها سواء هكذا في الغياثية. ولوحلب اللبن من الاضحية قبل الذبح او جز صوفها يتصدق ولا ينتفع به كذافي الظهيرية (عالمگیری ج٦ ص ۲۰۱ الباب السادس فی بیان مایستحب في الاضحية والانتفاع بها).

یعنی که قرباني لپاره یی خاروی واخست نو له نه شیدې لوشتل اودهغه وړی یا ویښتان قینچي کول او ترینه ګټه اوچتول مکروه دي، ځکه چی دغه وزه یاګډه یی دقربت لپاره یی مقرر کړی ده،لهذا دقربت د ادائیګي یعنی له ذبح کولو نه وړاندی دهغه له هیڅ یوجز نه ګټه اوچتول حلال نه دی. څرنګه چی دقربانی د ورځو نه وړاندی ددغه خاروي دحلالو په صورت کی دهغه له غوښې نه ګټه نشي اوچتولې بلکی خیراتوي به یی. ځیني علماء وایي چی دانتفاع دعدم جواز حکم د هغه خاروي په اړه دی چی هغه یی دنذر په توګه منلی وي، برابره خبره ده نذر ایښودونکی مالدار وي یاغریب همدغه راز دهغه خاروي په متعلق دی چی غریب سړی د قرباني په نیت آخستی وي،پاتی شو هغه خاروی چی مالدار سړی دقرباني په نیت آخستی وي نوله هغه نه دشیدو لوشل او وړی ترینه قینچی کول څه باک نه لري.

هکـذا فـی الـبدائع لیکن صحیح قول دادی چـی مالـدر او غریـب دواړو لپـاره یـو حکم دی. (هکذا ف الغیاثیة) که چیرته له ذبحـې نـه وړانـدی ولوشـي اویـا ترینـه وړی قینچی کړي نو هغه دی خیرات کړي اوپخپله دی ترینه ګټه نه اوچتوي.هکذا فـی الظهرة. فتاوی عالـمګیری ج ٦ ص ۲۰٦ فقط والله اعلم بالصـواب.

دقرباني د څرمن په اړه دیو اشکال ځواب:

(۴۳ سوال) په فتاوی رحیمیه کی دي چی دقرباني څرمن هغه چاته ورکولی شئ چاتـه چی دقرباني غوښه ورکوئ. یوسړي سـوال کـړی دی چـی غوښـه خومالـدار تـه هـم ورکولې شو او کافرته هم. په دی فتوه کـی ددې وضـاحت پکـاردی چـی چاتـه صـدقه ورکولی شوو هغه ته دقرباني څرمن هم ورکولی شوو اوکه نه؟ وضاحت وکړئ؟

(ځواب) دقرباني څرمن مالدار سړي ته هم هبـه کـولې شـي دهغـه صـدقه او خیراتـول واجب نه دي بلکی استحبابی دی، لکه غوښه ، خوکه چیرته څرمن خرڅ کړی شـي نـو دهغه پیسې بایدغریبانو ته خیرات کړی شي دا واجـب التصـدق دی،پـه در مختـار کـی دي: (فان بیع اللحم او الجلدبه)ای بمستهلك (اوبدراهم تصدق بثمنه) درمختار مـع شامی ج ٥ ص ۲۸۷ کتاب الاضحیة). فقط والله اعلم بالصـواب.

دښار په کوم مسجد کی داختر لمونځ له اداکیدونه وروسته قربـاني کول:

(۴۴ سوال) که دښار په یو مسجد کی داختر لمونځ اداکړی شي اوددغه ښار اوسیدونکي له قرباني کوله نه وروسته په بل مسجد کی داختر لمونځ دلوسـتلو لپـاره لاړشـي نـو آیـا دهغه واجب قرباني اداکیږي اوکه نه؟

که چیرته په عیدګاه کی دلمونځ نه وروسته قصاب لتوي نو ورباندی دولس بجـی کیـږي نو ځکه ډیرخلک په هغو مسجدونو کی لمونځ کوي چیرته چی وختي لمـونځ اداکـولی شي (حیدر آباد).

(ځواب) که دښار په مسجد کی معتبرو خلکوداختر لمونځ اداکړې وي نـود نـورو خلکـو قرباني هم اداکیږي مګراختیاط په دی کی دی چی په عیدګاه کی لمـونځ نـه وروسـته دی قرباني وکړي. په مجالس الابرابر کی دي:

و اول وقتها بعد طلوع الفجر لكن يشترط تقديم صلوة العيد عليها فى حق اهل الامصار... ولو خرج الامام بطائفة الى الجبانة وامر رجلا ان يصلى بالضعفاء فى المصر وضحى البعض بعدما صلى احد الفريقين يجوز استحساناً (مجالس الابرابرص ۲۲٦ مجلس نمبر ۳۵). په درمختار کی‌دي: (و اول وقتها بعد الصلوة ذبح فى مصر) اى بعد اسبق صلوة عيد(قوله بعد اسبق صلوةعيد) ولوضحى بعدما صلى اهل المسجد ولم يصل اهل الجبانة اجزاء استحساناً لانها صلوة معتبرة الخ.(درمختار مع شامى ج ۵ ص ۲۷۷ كتاب الاضحية). فقط والله اعلم بالصواب.

ایادقرباني څرمن په خپله استعمالولی شي اوکه نه؟

(۴۵ سوال) اياد قرباني څرمن پخپله استعمالولی شي اوکه نه؟ ايالدينه جاى نماز ياد اوبو لپاره بوقه جوړولی شي اوکه نه؟ بينوا توجروا.

(ځواب)له دباغت او رنګولو نه وروسته جاى نماز اودکوهي ډولچه جوړولی شي. که چيرته پخپله ترينه کار وانخست يا ترينه کار واخست خو وروسته يې خرڅ کړ نو دهغه قيمت صدقه کول واجب دي. په درمختار کی دي:

(ويتصدق بجلدها او يعمل منه نحو غربال وجراب) وقربة وسفرة ودلو(فان بيع اللحم والجلدبه) اى بمستهلك (او بدراهم تصدق بثمنه) (درمختار مع شامى ص ۲۸۰ ج ۵، كتاب الاضحية). فقط والله اعلم بالصواب.

د مړي له طرف نه قرباني کول:

(۴٦ سوال) اياد مړو له طرف نه قرباني کولی‌شواوکه نه؟ مثلا دخپل استاذ، پير او پيغمبر له طرف نه.

(ځـواب)قرباني د مړو له طرف نه هم کولی شئ مګر يو وزګړی ياپه لوی څاروي کی په يوه حصه کی په شريکيدو سره خو مړولياره قرباني کول جائزنه دي.[1]

---

[1]– وان مات احد السبعة المشتركين ف البدنة وقال او رثة اذبحوا عنه، وعنكم صح عن الكل استحسانا لقصد القربة عن الكل قال فى الشامية تحت قوله القصد القربة من الكل هذا وجه الاستحسان قال فى البدائع لأن الموت لايمنع التقرب عن الميت بدليل أنه، يجوز ان يتصدق عنه، والحج عنه، الخ درمختار مع الشامى كتاب الاضحية ج ٦ ص ۳۲۱)

محمدصلی‌الله علیه وسلم چی ټول امت په قرباني کی شامل کړی دی نـو هغـه دټـول امت له طرف نه قرباني نه ده کړی بلکی قرباني یی له خپل طرف نـه کـړی وه اودهغـه ثواب یی ټول امت ته بخښلی و. څرنګه چی مونږ نفلی قرباني لـه خپـل طـرف نـه کـوو اوثواب یی ټولو مړو او ژوندوته بخښو نودا صحیح دی. (والله اعـلم بالثـواب).

که دمړو له طرف نه قرباني وکړو نو د دغوښې څه حکم دی؟

(۴۷ سوال) که چیرته مړي وصیت کړی وي چی زماله مـال نـه قربـاني وکـړئ نوددغـه قرباني غوښه په`غرباو او مسکینانو باندی خیراتول ضروري دي اوکه نه ؟ ایالدی غـوښې نه مونږ هم خوړلی شوو؟

(ځواب) که مړي وصیت کړی وي چی زماله مال نه قرباني وکـړئ نودهغـه غوښـه پـه غرباو او مسکینانو باندی‌خیراتول لازمي دي، مالـدار اوسـید تـه ورکـول جـائز نـه دي، خوکه دهغه دمال نه قرباني نه وي کړی بلکی‌پخپلو پیسو یی قرباني کړی وي نودهغـه دغوښې حکم هم همغه دی کوم چی دخپـل قربـاني دغـوښې حکـم دی.[1] فقـط والله اعلم بالصواب.

دقرباني په ذبح کی چی ځاروی هرچیرته وي دهمغه ځای اعتبـار کیږي:

(۴۸ سوال) زما ورور عبدالرشید له مدراس نه لیکلي دي چی هغه لپاره دلتـه حیـدر آبـاد کی قرباني وکړم. هلته اختر ددوشنبې په ورځ دی او دلتـه یکشـنبې پـه ورځ اختـر دی، ایادهغه قرباني دلته دیکشنبې اداکولی شم اوکه نه؟

(ځواب) دقرباني ځاروی چی هر چیرته وي دهمغه ځـای اعتبـار کـولی شـي دقربـاني کوونکي سړی ځای ته اعتبار نشته، کله چـی قربـاني کـوونکې پـه ښـار کـی وي اوهغـه دقرباني خپل ځاروی داسی کلي ته ولیږي چی هلته داختـر لمـونځ نـه کیـږي او هلتـه دسهار نه وروسته قرباني وکړي نو دښاري سړي قرباني صحیح کیږي.

په آخري هدایه کی دي: والــمعتبر فـــی ذلك مكان الاضحية حتی لوكانت فـــی السواد والمضحی فی المصر يجوز كما انشق الفجر، ولو كان علـــی العكس لايجوز الا

---

[1]- فرع من ضحی عن الميت يصنع كما يصنع فـــی اضحية نفسه من التصدق والاكل والاجر للميت والملـك للذابح قال الصدر والمختار أنه ان يأمر الـــميت لا يأكل منها ولايأكل شامی كتاب الاضحية ج٦ ص ٣٢٦.

بعد الصلوة رحيلة المصرى اذا اراد التعجيل ان يبعث بها الى خارج الــمصر فيضحى بها كما طلع الفجر الخ(هدايه اخيرين ص ٤٣٠ كتاب الاضحية).

په درمختــار کــی دي : والــمعتبر مكان الاضحية لامكان من عليه فحيلة مصرى اراد التعجيل ان يخرجها لخارج المصر فيضحى بها اذا طلع الفجر مجبتى (درمختـــار) (قولـــه والــمعتبر مكان الاضحية الخ) فلوكانت فــى السواد والمضحى فـــى الـــمصر جازت قبل الصلوة وفى العكس لم تجزقهستانـــى (درمختار وشامى ص ۲۷۸ ج۵، كتاب الاضحية).

په مسئوله صورت کی چی ستا ورور عبدالرشيد له مدراس نـه تاتـه پـه حيـدر آبـاد کـی دقرباني کولو لپاره خط ليږلی دی اوپه مدراس کـی ددوشـنبې پـه ورځ لـوی اختردی اوپه حيدر آباد کی ديکشنبې په ورځ نوتاسی دهغه قرباني بلاتکليـف ديکشـنبې پـه ورځ کولی شئ. دهغه قربانی صحيح کيږي. فقط والله اعلم بالصواب.

دقرباني دخرمنو پيسې په مدرسه او مسجد کی استعمالول:

(۴۹ سوال) ايادقربانی خرمن د مکتب، مدرسه او مسجد په تعمير کـی اسـتعمالولی شـو اوکه نه؟

(ځـواب) کله چی دقرباني د مال خرمن خرڅ کړی شي نوهغه بايد صدقه کـړی شـي د مکتب يا مسجد د تعمير لپاره هغه نشي استعماليدلې. په آخري هدايه کی دي:

ولـــوبا ع الـــجلد او اللحم بالدراهم او بما لاينتفع به الا بعد استهلاكه تصدق بثمنه لان القربة انتقلت الـــى بدله الخ (هدايه اخرين ص ٤٣٤، كتاب الاضحية).

په درمختار کــی دي: (فـــان بيع اللحم اوالجلدبه) اى بمستهلك (اوبدراهم تصـــدق بثمنه) ومفاده صحة الـــبيع مع الكراهة وعن الثانى باطل لانه كـــالوقف مجـــتبى...الخ (درمختار مع شامى ج ٥ ص ٢٨٧ ، كتاب الاضحية).

فتاوی دارلعلوم قديم کی دي:

(سوال) ايادقرباني دخرمن پيسې دمسجد په تعمير کی لګولی شوو اوکه نه؟

(ځـواب) دقرباني دڅرمن پیسې باید په فقراو او مسکینانو بانـدی خـیرات کـړی شـي، دمسجد د تعمیر یادمدرسې او مکتب دتعمیر لپاره مصرفول روانـه دی فقـط والله اعلـم بالصـواب. (فتاوی دارالعلوم قدیم ص ۱۹۰ ج ۸۷۷ عزیزالفتاوی).

(سوال) کله چی دقرباني څرمن خرڅ کړی شي نودهغـه قیمـت څـه قسـم صـدقه کـی شمیرل کیږي؟ اوهغه په کوم کوم شیانو کی مصرفولی شي؟ ایاد مسجدونو او مدرسـو پـه تعمیر کی ددی مصرفول جائزدي اوکه نه؟ اوکه چیرته دقرباني څرمن د مسجد متولیـانو اویاد مسجد امام ته د مسجد جوړولو لپاره ورکړی شي نو ایا شرعاً داکار جائزدی؟

(ځـواب) کله چی دقرباني څرمن خرڅ کړی شي نودهغه پیسې دشـریعت لـه مخـې پـه وجوبي صدقه کی داخلی دي، لکه چی په هدایه کی دي:

ولو باع الجلد اواللحم بالدراهم او بمالا ینتفع به الا بعد استهلاکه تصدق بثمنه لان القربة انتقلت الـی بدله " او عینی شرح هدایه کـی‌دي: فاذا تموله بـالبیع وجـب التصدق. لان هذا الـثمن حصل بفعل مکروه فیکون خبیثاً فیجب التصدق. او کـافی شرح هدایه کـی دي: "قوله تصدق بثمنه لان معنی الـتمول سقط عن الاضحیة فاذا تمولها بالـبیع انتقلت القربة الـي بدله فوجب التصدق.

کله چی له پورتنیو عباراتو څخه دامعلومـه شـوه چـی دقربانـی څـرمن لـه خرڅولـو نـه وروسته دزکات په شان دهغه قیمت صدقه کـول واجـب دي،لهـذا دهغـه مصـارف هـم دزکات مصارف دي، څرنګه چی په زکات او نورو صدقاتو کی تملیک شرط دی نو ځکـه د مسجد په تعمیر کی دهغوی لګول او مصرفول بالکل جائز نه دي ځکه چی پـه مسجد کی تملیک نه لیدل کیږي.

کـمافـی الدر الـمختار لایصرف الـی نحوبناء مسجد ولا الـی کفـن میـت وقضاء دینه(الـی) لعدم التملیك وهو الرکن. هکذا فـی فتح القدیر وهدایة وشرح وقایه وغیره.

حضرت حکیم الامت مولانا شاه اشرف علی تهانوی صاحب په فتاوی اشرفیه کی لیکـي: کله چی څرمن یی خرڅ کړ نودهغه قیمت صدقه کول واجب دي اودتصدق ماهیت له تملیک نه ماخوذ دی، ځکه چی دا واجبـه صـدقه ده نوځکـه ددی مصارف دزکـات د مصرف پشان دی.

که چیرته د قرباني څرمن د مسجد متولیانو یا دمسجد امام ته د مسجد د جوړولو لپاره ورکړی شي نوبیا هغوی بیادڅرمن په پیسو سره دمسجد تعمیر جوړ کړي نوداهم جائز نه دی ځکه چې دلته هم د ملکیت شرط چې رکن دی نه موندل کیږي ځکه چې دتملیک معنی، داده چې څوک مالک وګرځول شي ترڅو هغه دمالک جوړیدو نه وروسته څه وغواړي هغه وکړي، اوپه مذکوره صورت کی داقسم مالک له سره نشي جوړولې بلکی چاته چې داڅرمنې ورکوي په دی خاطریې ورکوي چې ددې پیسې دی د مسجد په تعمیر کی ولګوي، اوداتملیک نه بلکې توکیل دی، دقرباني کوونکي لپاره ددی هیڅ مجاز او اختیار نشته چې دقرباني د څرمن قیمت دی دمسجد په تعمیر کی ولګوي، همدغه راز دا ورته هم جائز نه دي چې په مسجد کی ددغو پیسو دلګولو لپاره بل څوک وکیل ونیسي ځکه چې دکوم تصرف لپاره پخپله موکل ته دامجاز نشته نودهغه لپاره دبل چاوکیل نیول هم جائز نه دي، لکه چې په هدایه کی کتاب الوکالة کی دي:

من شرط الوكالة ان يكون المؤكل ممن يملكُ التصرف ويلزمه الاحكام لان الوكيل يملك التصرف من جهة المؤكل فلابُد من ان يكون المؤكل مالكاً يملك من غيره.

لنده داچې کله دقرباني څرمن خرڅ کړی شي نوبیاپرهغو پیسو شرعاً مسجد او مدرسه نشي جوړیدای اونه هم بل چاته ددغه مقصد لپاره ورکول جائزدی چې له خرڅولو نه وروسته دی ددې په پیسو د مسجد تعمیر جوړ کړي فقط مفتي عزیز الرحمن (فتاوی دارالعلوم قدیم ص ۱۸۸، ۱۸۹ ج ۷، ۸ عزیز الفتاوی).

په فتاوی رحیمیه کی هم یوځواب ورکول شوی دی چې په لاندې توګه دی:

(ځواب) دقربانی څرمن مسجد ته هدیه نشي ورکول کیدی بلکې دوکالت په توګه ورکول کیږي لهذا دقربانی دڅرمنو قیمت دی مستحقینو ته تملیکاً ورکړی شي، اوترڅو پورې چې کړای شي ژر تر ژره دی ورکړي او خپل اوړې دې ترینه سپکې کړي، دڅه شرعي عذر نه پرته وروسته کول له کراهت نه خالي نه دي. غریبانو ته دی قران شریفونه او کتابونه ورکړی شي له غریبو ناروغانو سره دی مرسته وکړی شي دقرباني څرمن اویادهغه قیمت دی دآمدنی ذریعه ونه ګرځولی شي که چیرته دڅرمنو پیسې له حل اصل مصرف نه علاوه استعمال کړی شي نودمسجد متولیان ګنهګاریږي. فقط والله اعلم بالصواب. (فتاوی رحیمیه جلد شمم ص ۱٦۷ اردو اود جدید ترتیب په مطابق په همدی باب کی وګورئ. فقط والله اعلم بالصواب.

مالدار امام ته دقرباني دخرمن پیسې ورکول:

(۵۰ سوال) زمونږ په مسجد کی ځینې خلک دقرباني څرمنې ورکـوي، د مسـجد متولیـان دغه څرمنې خرڅوي اوبیا دغه پیسې امام او مؤذن ته ورکوي، په داسې حال کې چـې دمسجد امام دکور خاوند دی، کور یی خالی پروت دی اوپخپله د مسجد پـه کـور کـې اوسیږي، ایا هغه ته دقرباني دخرمنو پیسې ورکول جائزدي اوکه نه؟ همدغه راز ایا هغـه ته دزکات پیسې هم ورکولی شو او که نه؟ بینوا توجرا.

(ځواب) که دمسجد متولي دقرباني څرمنې خرڅې کـړي نـو دخرمنـو ددغـو پیسـو هـم همغه حکم دی کوم چې د زکات دپیسو دی، کوم سړی چی دزکات مستحق وي همغـه ته دغه پیسې ورکول پکار دي، په آخري هدایه کی دي:

ولَوْباعَ الجلد واللحم بالدراهم اوبما ینتفع به الا بعد استهلاکه تصدق بثمنه لان القربة انتقلت الـــی بدله (هدایه اخیرین ص ٤٣٤ کتاب الاضحیة).

په مسئوله صورت کی دمسجد د امام کور خالی پروت دی اوپخپله د مسجد په کـور کـی اوسیږي نو لدینه ثابتیږي چی کور دامام له ضرورت نه زیاتی دی چی قیمت یی یقینا لـه نصاب نه زیا ت دی، نوپه دی وجه پخپله پرهغه قربـانی واجـب ده. پـه فتـاوی رحیمیـه کی دي:

(سوال) که څوک یو کور ولري مګرپه هغه کې پخپله نه اوسـیږي اوپـه کرایـه یی ورکـړی وي پخپله هم دکرایه په کور کی اوسیږي نودقرباني په متعلـق پـه مالـداري کـی دهغـه دکور اعتبار کیدای شي او که نه؟

(ځواب) که خپل کور یی په کرایه ورکړی وي یاخالی پروت وي اوپخپله په بل کور کـی په کرایه اوسیږي یامفت، په دواړو صورتونو کی وربانـدی قربـاني اوصـدقه فطـر واجـب دی، اودهغه د کور قیمت ته اعتبار ورکولی شي ځکه چی دهغه داکـور فـی الحـال لـه اصلي حاجت نه زیات دی. (دغه مسئله په همدی باب کی تیره شوی ده).

لهذا په صورت مسئوله کی امام ته دقرباني دخرمن قیمت اوزکات ورکـول جائزنـه دي. فقط والله اعلم بالصواب.

دقرباني دخاروي بچې:

(۵۱ سوال) که دقرباني خاروی دذبح کولو نه مخکې لنګـه شـي اوبچـی وزیـږوي نولـه هغه سره دی څه وکړی شي؟

(ځواب) که ‌څیرته له ذبح کولو نه وړاندی دقرباني څاروي لنګه شي او بچی پیداکړي نو هغه دی هم له مال سره ذبح کړی شي اویادی ژوندی صدقه کړي، اوکه دواړه کارونه یی ونه کړل تردی چی دقرباني ورځې تیری شوی اودبل کال قرباني ورځې راورسیدې نوپه دی قرباني کی دهغه حلالول صحیح نه دی او قرباني یی نه کیږي اوکه قرباني یی کړه نو دهغه ټوله غوښه صدقه کول لازم دي، اود څاروي د ذبح کولو په وجه چی په قیمت کی کوم کمی راغلی دی په همغومره مقدار نور صدقه کول هم لازم دي، اودخپل واجب قرباني لپاره به بل څاروی اخلي او هغه به خامخا ذبح کوي

اضحیة خرج من بطنها ولد حی قال عامة العلماء یفعل بالولدما یفعل بالام فان لم یذبحه حتی مضت ایام النحر یتصدق به حیا(الی قوله) وان بقی الولد عنده حتی کبرو ذبحه للعام القابل اضحیة لایجوز وعلیه اخری لعامه الذی ضحی ویتصدق به مذبوحاً مع قیمة مانقص بالذبح والفتوی علی هذا کذا فی فتاوی قاضی خان (عالمگیری، ۵/ ۳۰۲ الباب السادس فی بیان ما یستحب فی الاضحیة الخ).

فقط والله اعلم بالصواب.

دقرباني څاروي د ذبح کولو لپاره د امام مجبورول:

(۵۲ سوال) په ځینو کلیو کی دقرباني څاروي د حلالولو لپاره امام مجبوروليږ شي دهغه په لاس کی چاړه ورکوي اوپه زوره دقرباني څاروی وربانـدی حلالـوي، کـه څه هم دذبحې په چل او طریقه نه پوهیږي البته دځرمن دویستلو او نور کار لپاره بل کس وي، امام صاحب مجبوراً په څاروي چاړه راکاږي او حلالـوي یی، ایاداسی کول جائز او صحیح کاردی؟

(ځواب) ښه او غوره داده چی قرباني کوونکې سړی خپل څاروی پخپلو لاسو حلال کړي، که هغه نه پوهیدو نوپه یوداسی دیندار سړي بانـدی دی حلال کـړي چی دذبحې او حلالې په طریقه پوه وي. دی کار لپاره په امام بانـدی زور کـول صحیح او مناسب نه دی ځکه چی دقرباني دمال حلالول دامامت په فرائضو کی شامل نه دی.

(وان یذبح بیده ان علم ذلك والا) یعلمه (شهدها) بنفسه ویأمر غیره بالذبح (درمختار مع الشامی ۶/ ۳۲۸) فتاوی هندیه ۵/ ۳۰۰ آخر الباب الخامس فی بیان محل اقامة الواجب) فقط والله اعلم بالصواب.

د کوم سړي چې عقیقه نه وي شوې دهغه قرباني:

(۵۳ سوال) د کوم سړي چې عقیقه نه وي شوي ایا دهغه قرباني صحیح ده اوکه نه؟
(ځواب) له څه شک نه پرته قرباني یې صحیح ده ، کوم سړی چې دقرباني په ورځو کې دنصاب خاوند وي نوپرهغه قرباني واجب ده، برابره خبره ده چې دهغه عقیقه شوې وي یانه وي شوی. فقط والله اعلم بالصواب.

په کلي کې قرباني او اختر:

(۵۴ سوال) په کوم کلي کې چې داختر لمونځ شرعاً جائز نه وي هلته قرباني کیدای شي اوکه نه؟ که ځواب په اثبات کې وي نو قرباني دی کله وکړی شي؟
(ځواب) اختر اوقرباني د اسلام له شعائرو څخه دي، ښار، قریه او لوی کلي کې اختر لمونځ صحیح دی، خو واړه واړه کلیو کې داختر لمونځ نه کیږي، ویشترط لصحتها ستة اشیاء المصر اوفناؤه الخ (نور الایضاح ص ۱۷۷ باب الجمعة). البته قرباني کولی شي، ځکه چې د قربانۍ تعلق له ښار او قریو سره نشته بلکې له مالداري سره دی، هرڅوک چې دنصاب خاوند وي هغه په ښار کې اوسیږي یاکلیو کې پرهغه قرباني کول واجب دي.

دمالدارې ښځې له طرف نه دخاوند قرباني کول:

(۵۵ سوال) که چیرته د یو سړي ښځه دنصاب خاونده وي مګردهغې دمال زکات خاوند اداکوي ایاپرداسې ښځو باندی قرباني واجب ده اوکه نه؟ بینوا توجروا.
(ځواب) کله چې ښځه د نصاب خاونده وي نوپرهغې قرباني واجب ده، هغه دی پخپلو پیسو قرباني وکړي که له هغې سره نقدی پیسې نه وي نو له خاوند او بل چانه دی واخلي او وربانده دی قرباني وکړي، یادی خپله ګانه خرڅه کړي او وربانده دی قرباني وکړي، یادښځې په اجازې دهغه خاوند دخپلې ښځې له طرف نه قرباني وکړي، که چیرته دخپلې ښځې له اجازی او اطلاع نه پرته دهغه خاوند قرباني وکړي نو واجبه قرباني نه اداکیږي.[1] فقط والله اعلم بالصواب.

---

[1]- ولیس علی الرجل ان یضحی عن اولاده الکبار وامرأته الا باذنه الخ فتاوی عالمگیری کتاب الاضحیة الباب الاول فی تفسیر ها ورکنها الخ ج ۵ ص ۲۹۳.

ایا دقرباني وکیل کولی شي چی له قرباني نه کومې پیسې زیاتې پاتې شي هغه په نورو ثوابي کارونو کې خرچ کړي:

(سوال) یوشخص اشتهار ورکړی او اعلان یې کړی دی چی کوم سړی قرباني کول غواړي نو هغه دی ماته پیسې راولیږي زه دهغه لپاره قرباني کوم. هغه دانیت کړی دی چی کومې پیسې پاتې شي هغه زما حق دی، په دغو پیسو سره به محتاجو خلکو ته قرض حسنه ورکوم، همدغه راز دخپل ضرورت له پاره به هم مصرفوم، ایاداسی کول هغه لپاره شرعاً جائز دي اوکه نه؟

(ځواب) قرباني یو مهم عبادت دی، په لوی ځاروي کی اووه کسان شریکیږي، په دی صورت کی باید دهیچا حصه کمه نه کړی شي، کوم سړی چی پخپله دخلکو وکیل جوړیږي اودهغوی په وکالت دقرباني کارونه پخپل سر آخلي نوهغه ته پکاردي چی دهریوسړي حساب جلا جلا وساتي، که دچاپیسې پاتی شي نوهغه دی باید واپس خپل مالک ته ورکړي، وکیل خپل مزدوري آخستلی شي خو هله چی له مخکی نه خپل مزدوري مقرر کړی اوټاکلی وي، داچی هغه وایی کومی پیسې پاتی شي پرهغه زماحق دی دا مجهول مزدوري ده،لهذا داقسم مزدوري مقررول صحیح نه دي، دشریعت په مطابق له ابتداء نه باید خپله مزدوري مقرر کړي، کله چی خپل مزدوري واخلي نو دهغه مالک دی، په هغه کی چی هرقسم تصرف کول غواړي کولې شي، په سوال کی چی دتصرف کومه طریقه لیکلی ده همغسې هم کولې شي.فقط والله اعلم بالصواب.

دمور لپارد یې دوزګړي د قرباني کولو نیت کړی و، دهغه پرځای دکم قیمت وزګړي قرباني کول:

(۵۷ سوال) یوسړي له وړوکي والی نه یوځیرلکی ساتلی دی ، هغه ډیر چاغ اوښکلی دی، له نن نه تقریباً خلور میاشتې وړاندی دهغې مور بي بي مړه شوه هغه نیت وکړه چی داځیرلکې به دخپل مور لپاره قرباني کوي، خو اوس یوګاک هغه په ښه قیمت سره آخستل غواړي دهغه سړی پوښتنه داده چی ایا زه داښه قیمت په خاطرخرځولی شم اوپرځای یو کم قیمت ځیرلکې دخپل مور لپاره قرباني کولی شم اوکه نه؟

(ځواب) حامدا ومصلیاً و مسلماً! هوداسی کولی شی ځکه چی داد نذر صورت نه دی، دامحض دمور له طرف نه دهغی لپاره قرباني کول اوهغی ته ثواب رسولو نیت دی، غوره خبره داده چی همدغه ځیرلکی قرباني کړی شي ځکه چی خومره چاغ

اوغوښين مال قرباني کړی شي همغومره ډير ثواب يې دی، اوکه هغه خرڅ کړی اود کم قيمت خاروی حلال کړی نوداهم صحيح دی خوکه پاتی پيسې هم مورته دثواب د بخښلو لپاره په غريبانو اومسکينانو صدقه کړی شي نوداډيرښه او غوره کاردی مګر ضروري نه ده چې خامخا دغه پيسې صدقه کړې. والله اعلم بالصواب.

که دقرباني وکيل زياتی پيسې واخلي اودخپل ضرورت لپاره استعمال کړي:

(۵۸ سوال) زيدله خلکو نه پيسې آخلي اوهغوی لپاره دقرباني انتظام کوي، ليکن زيدله خلکو نه دقرباني له اصلي پيسو نه څه زياتې پيسې آخلي او ورته وايې چې دغه پيسی دخپلې خوښې په مطابق دنيکی اوثواب کارونو کې لګوي، خلک په خوشالي ورته زياتې پيسې ورکوي، که زيد پردغو پيسو خپل ځان لپاره ديني کتابونه واخلي نو آخستلی شي اوکه نه؟

(ځواب) په قرباني کې چې څومره پيسې لګيږي همغومره پيسې دی واخلي، که هغه خپل مزدوري اخستل غواړي نو د دواړو ترمنځ چې څومره مزدوري ټاکل شوی همغه دی واخلي. په دې ډول چې کومې پيسې د مزدوری په توګه واخلي زيد لپاره جائزدی او هرڅه چې وربانډی کول غواړي کولی شي، په سوال کې چې کوم صورت ليکل شوی دی دا صحيح نه دی. فقط والله اعلم بالصواب.

دقرباني خاروي په تول او وزن سره آخستل:

(۵۹ سوال) زمونږ په سيمه کې چې ژوندی خاروي د وزن او تول په حساب سره هم خرڅيږي او له تول نه پرته هم، له وزن او تول نه پرته آخستل شوی خاروی ډير ګران تماميږي ځکه چې ډير خلی اخستونکی دناتجربګی په وجه نه پوهيږي اودکم غوښې والا خاروی په ګران بيع آخلي ، له ذبحې نه وروسته ورته معلوميږي چې ډير ګران يې اخستی دی، که څه هم داحقيقت دی چې دالهی امرپه تعميل کې بايد دغوښې حساب ونه لګولی شي، مګر دغير مسلمو له دوکې نه د مسلمانانو بچ کيدل ضروري دي اوکه نه؟ پس کله چې ديو مسلمان مقصد داوي چې له نقصان نه محفوظ پاتی شي نو ايا په وزن او تول سره خاروی آخستل شرعاً جايز دی اوکه نه؟

(ځواب) خاروی غير موزونی څيز دی چې په ژوندون نه تلل کيږي مګرداچې ستاسی په علاقه کې دواړه طريقې جائزې دي، نو دبيع کوم شرعي طريقه چې ده بايد پرهغه

عمل وکړی شي یعنی له تللو او وزن کولو پرته دی واخستل شي، دی لپاره چې دوکه نشي نو له تجربه کارو خلکو څخه مرسته ترلاسه کول پکاردي. قرباني ډیر مهم عبادت دی، پکار دی، چې په دی کی د بیع صحیح طریقه خپله کړی شي، دغوښې د زیاتي او کمي پروادی، ونه کړی شي، ځکه چې په قرباني کی اصل مقصد تقوی ده نه غوښه، په دی باندی دلیل دالله تعالی داقول دی :

لَنْ يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنْكُمْ۝ .(الحج ۳۷).

داحسن الفتاوی ص ۴۹۷ ج ٦ له ځواب نه د ژوندیوچرګانو په وزن سره دخرڅولو او اخستلو ګنجائش او جوازمعلومیږي، مګرداخبره دی‌په ذهن کی وساتلی شي چې قربانی ډیر لوی اومهم عبادت دی،په دی کی داحتیاط اړخ غوره کول بنه کار دی. لهذا دقرباني لپاره دبیع صحیح طریقه دی خپله کړی شي. (باب مایجوز في الضحایا).فقط والله اعلم بالصواب. ۲۲ جمادی الثانی ۱۴۱۷ هـ.

دهغه خاروي دقرباني تفصیل چې بل چاته دساتلو لپاره په نیمایي ورکړی وي:

(٦۰ سوال) که یوسړی خپل خاروی چاته دساتلو لپاره په نیمایي ورکړی وي ایاله هغوی دواړو څخه که یوبل ته نیم قیمت ورکړی قرباني وربانډی کولی شي اوکه نه؟

(ځواب)د ساتلو او خرڅولو لپاره داقسم ورکول جائزنه دي، په هر حال که داکار یې کړی وي نو اوس په مسئوله صورت کی دادی چې که دخاروي مالک قرباني وکړي نو قربانی یې صحیح ده ځکه چې هغه د خاروي مالک دی، هغه به صرف دساتلو مزدوري ورکوي، لیکن که ساتونکي قرباني کړي نو صحیح نه دی ځکه چې هغه له مخکی نه ددی مالک نه دی، اوس که نیم قیمت هم ورکوي نو دپوره خاروي مالک نشي ګرځیدلې نو ځکه د غیر مملوک خاروي قرباني جائزنه ده.

دخرولو په معاوضه کی چې کوم وزګړی ترلاسه شوی وي دهغه قرباني صحیح کیږي اوکه نه؟

(٦۱سوال) زماپر زمکه چوپان خپل مال څروي، زه دهغه په عوض کی هرکال یو وزګړی آخلم که زه دغه وزګړی قربانی کړم نو ایا زماقربانی صحیح کیږي او که نه؟

(ځواب) که چیرته ستاپه زمکه کی ګیاه پخپله شنه شوی وي اوتاپکی نه وي کرلي او نه هم تا دهغه دحفاظت انتظام کړی وې، نوداستاسی دزمکې وابنه او ګیاه عام مباح ده

هرخوک یی چی وربیي دهمغه ده، ته دهغه قیمت نشی آخستلی، نولهذا دهغه په عوض کی د وزګړی آخستل جائزنه دي، نو ځکه ددی قرباني هم نه صحیح کیږي کمافی الدر المختار ((ومن السحت مایوخذ علی کل مباح الخ)) (ص ۳۷۴ ج ۵ حضر والاباحه). فقط والله اعلم بالصواب.

دقرباني د څارویو عمرونه :

(٦٢ سوال) دقرباني د څارویو عمر څومره ضروری دی، خصوصا د وزې ، وزګړي او ګډ، داهل حدیثو ځینې علماء وایی چی دوزې، وزګړي او دګډ دوه غاښونه ضروري دي، که عمر یی هرڅومره وي خو چی غاښونه یی نه وي قربانی یی نه صحیح کیږي، په حدیث کی د مسنة لفظ راغلی دی،لهذا مهرباني وکړئ د حدیث په حوالی سره ځواب راکړی.

(ځواب) د اوښ عمر باید پنځه کاله وي د غوا غوایي عمر دوه کالـه، د وزګړو او پسونو عمر باید یو کال وي لدینه د کم څاروي قرباني صحیح نه ده، خوکه پسه دشپږو میاشتو وي او دومره چاغ او غټ وي چی دیوکال پسه هومره معلومیږي نو دهغه قرباني صحیح ده.

په حدیث شریف کی راځي ((لاَتذبح الاَّ مسنة الا ان یعسر علیکمفتذبح جذعة)) یعنی مسنه څاروی قرباني کړئ، که چیرته د مسنه څاروی ترلاسه کیدل ګران وي نو دشپږو میاشتو حلال کړئ. (مسلم شریف ج ۲ ص ۱۵۵ کتاب الاضاحی باب سن الاضحیه).

محدث ثناالله پانی پتی وایي:

وشرط است که ګاو جاموس کم از دوسال نباشد، وشتر کم از پنج سال نباشد، وګوسفند وبز وآنکه از وحشی واهلی متولد بود. اولی این است که ازیک سال کم نباشد. وجائز است شش ماهه دنبه که شروع به ماه هفتم کرده باشد. (مالابدمنه ص ١٦۴).

یعنی په دی کی داشرط دی چی غوا، غوایی خندا او میښه له دوه کلونه کم عمر ونه لري. او اوښ دی دپنځو کلونو کم نه وي، واړه مالونه لکه وزې، پسونه او ګډان له یو کال نه کم عمر ونلري، دشپږ ومیاشتو پسه چی اووم میاشت یې شروع شوی وي دقرباني لپاره جائزدی. په جدیث شریف کی د ((مسنة)) لفظ راغلی دی. اوددی دوه معنی ګاني دي. لوړی عمر رسیده څاروی دویم غاښونو والا څاروی ، فقهاء کرامو دعمر اعتبار کړی دی او غاښونه یی ددی نښې ګرځولې دي، کله چی دقرباني څاروی مسنه

یعنی سن رسیده وي نو دهغه قرباني صحیح ده کــه دغـابنونو نبنــې او علامـی هــم وي نودابهتره ده، خود غابنونو نبنه او علامات معتبر نه دي، غابنونه دسن رسـیدگی علامـت او نبنه ده، دمثال په توگه هلک او جلي د عمر اوسن رسیدگی پــه لحـاظ سـره بالغیـږي، دشرعي احکامو مکلف گرځي او د واده قابل او وړگرځي، دبلوغ علامت یعنی حیض او احتلام ښکاره شي یانه څه باک نه لري. که چیرته یوجلـی تـه دسـن رسـیدگی بـاوجود حیض رانشي، هغه بالغه ده یعنی سن رسیدگي ضروری ده. فقط والله اعلم بالصواب.

د دم بریده څاروی قرباني صحیح ده اوکه نه:

(٦٣ سوال) دلته په افریقا کی دگډانو قرباني کول ډیر زیات گران دی ځکـه چــی دلتـه خومره گـډان دي دهغـوی لکــی پـرې کـړی شــوی وي، دلتـه دُم بریـده گـډ ډیرښـه معلومیږي اوبه صحت مند وي اودلکی په پریکولو سره پــه گـډکی کـوم عیـب هــم نـه ښکاره کیږي دگډ لکی تقریباً ۱۸ انچـه اوږده وي کلـه چــی هغـه غټــې متیـازی کــوي نودهغه لکی سره نښلي، دگندگی په وجه مچان پکــی هگــی آچـوي او هلتـه چینجـی پیداکیږي او څاروی خواریږي. نو ځکه کله چی گډ دریو میاشتو شي نودهغه لکي پـری کوي. دلته په عمومي توگه همداسې دم بریده گډان پیداکیږي، اولکی لروونکي گـډان شاذ او نادر ترلاسه کیږي هغه هم ډیـر خـوار او خـراب وي، نــو ســوال دادی چــی ایـا دداسې دم بریده گډ قرباني صحیح کیږي اوکه نه؟

(ځـواب) د دویمي حصې په اندازه یالدینـه د زیـات دم بریـده گـډ قربـاني نـه صـحیح کیږي په هدایه کی دي چی دکوم څـاروي غوږونـه اولکـی غوڅـه شــوي وي نودهغـه قرباني جائزنه ده.

وَلاَتجزئ مقطوعة الاذن والذنب، اما الا ذن فلقوله علیه السلام. استشرفوا العــین و الاذن ای اطلبوا سلامتهما، واما الذنب فلانه، عضو کامل مقصود فصـــار کـــالاذن.

(هدایه ص ٤٣١ ج ٤ کتاب الاضحیة).

د خصي څاروي قرباني منصـوص اود محمدصـلی‌الله علیـه وسـلم خوښـه ده، پـه هغـه باندی دم بریده څاروی نشو قیاس کولې، ددم بریده څـاروي قربـاني ځکـه جائزنـه ده چی لکی پوره عضوه ده او هسې بیکـاره څیـز نـه دی بلکـی دکـار څیـز دی او خـوړل کیږي، په هدایه کی دي: لکی یو کامل مقصـود عضـو دی، واماالذنب فلانه عضو کامل مقصودٌ فصار کالاذن (صفحه ٤٣١ ج٤ کتاب الاضحیة). دکـوم څـاروي چـی غوږ

اولکی پری کړی شوې وي هغه عیب دار دی، اګرکه دخینو په نظر کی بنه معلومیږي (لکه چی دړیږې کلول ځینو خلکو ته بنه معلومیږي) کله چی دم بریده خاروی وانخستلی شي نولکی لرروونکي خاروې په بنه قیمت واخستل شي نو دخارویو مالدان کله هم دهغوی لکی نه غوځوي، بل داچی ته پخپله هم دقربانی خاروی ساتلی شې، لدینه علاوه د وزګړیو، غوایانو، میښو ، اوښانو اوداسې نور خاریو چی لکی یې پری کړی شوی نه وي قرباني یی کیږي.

(نوټ) دیوقول په مطابق که لکی له نیمایي نه لږ غوڅ شوی وي یعنی له نیم نه زیات پاتی وي دهغه قرباني صحیح ده،لهذا چیرته چی پوره لکی یاله دریمې حصې نه لږ دُم بریده خاروی ترلاسه نشي هلته ددغه قول په مطابق عمل کولی شي.فقط والله اعلم بالصواب.

په کوم خاروي کی چی رسولی وي ایادهغه قرباني کول صحیح دی؟

(٦٢ سوال) په کوم خاروي کی چی رسولی وي ایادهغه قرباني کول صحیح دي؟

(خواب) هو دداسې خاروي قرباني صحیح ده. فقط والله اعلم بالصواب.

دکوم خاروي ښکر چی مات شوي وي دهغه څه حکم دی؟

(٦٥ سوال) دخاروي ښکر لږ غوندی مات شوی دی لیکن دښکر خول بالکل نه دی وتلی ایا ددې قرباني صحیح ده او که نه؟

(خواب) دکوم خاروي دښکر خول چی بالکل وتلی وي دهغه قرباني صحیح او جائزدی، خوکه ښکر له بیخ نه وتلی وي نودهغه قرباني صحیح نه ده. (فــان بلـــغ الکسر الـــی المخ لم یجز) (ص ۷۲ ج ۵ درمختـار کتاب الاضحیه) فقط والله اعلم بالصواب.

هغه خاروی چی دپیداکیدو له وخت نه نه ښکر ولري اونه هم غوږونه اولکی دهغه څه حکم دی؟

(٦٦ سوال) دکوم خاروي چی پیدایشي نه ښکرونه وي نه غوږونه او نه هم لکی ایاد هغه قرباني صحیح کیږي ؟

(ځواب) دکوم خاروي چی پیداشي ښکرونه نه وي دهغه قرباني صحیح ده

"ويــجوز ان يضحى بالـجماء وهى الَّتِىْ لاقرن لها. لان القرن لايتعلق به مقصود وكذا ما كسرت القر" (هدايه ۲ ۴۳۲ ج ٤ كتاب الاضحية،شامی ص ۲۸۲ ج ٥ كتاب الاضحية).همدغه راز دكوم مال غوږونه چی واړه وي دهغه قربـاني هـم صحيح ده.

فلو لها اذن صغيرة خلقة اجزأن(درمختار مع الشامي ص ۲۸۳ ج كتاب الاضحية فقط والله اعلم بالصواب.

كوم خاروي ته چی په اور داغ ورکول شوی وي دهغه څه حكم دي:

(٦٧ سوال) ایادهغه خاروي قربـاني صحیح ده چـی صـحت لپـاره ورتـه د اور داغ ورکول شوی وي؟ په دی سره دهغه په غوښه هیڅ اثرنه پری اوځي؟

(ځواب) دداسی خاروي قرباني له کراهت نه پرته جائزده. فقط والله اعلم بالصواب.

دخصي شوي خاروی دقرباني کولو څه حکم دی؟

(٦٨ سوال) خلک دقربانی لپاره خصی شوی مال زیات خوښـوي اګرچـی دایوعیـب دی ددی څه وجه ده؟

(ځواب) محمدصلی‌الله علهي وسلم دخصی پسه قرباني کړیده ، خصی کیـدل عیب نه دی، ځکه چی په دی سره په غوښه کی څه کمی نـه راځـي، بـل داچـی خصـی مال چاغ او غوښین وي اوغوښه یې مزه داره وي (مشکوات شریف)[1] فقط والله اعلم بالصواب.

له کوم خاروي سره چی بدفعلی شوی وي دهغه دقرباني حکم:

(٦٩ سوال) یوسړی له غوا سره بدفعلی وکړه اودهغه دغه بـد فِعلـی یوسړي پخپلو سترګو هم ولید، ایا دهغی قرباني کول جائزدي اوکه نه؟

(ځواب) دداسې خاروي غوښه خـوړل مکـروه دي،لهـذا دهغـی قربـاني کـول هـم کراهت نه خالي نه دی. بهتره داده چی داسی خاروی مالک حـلال کـړي اوغوښـه

---

[1]- عن جابر قال ذبح النـبى صلى‌الله عليه وسلم يوم الذبح كبشين اقرنين املحين موجوئين الخ باب الاضـحية ص ۱۲۸.

یی وسوځوي، ترڅو داخبرې ختمې شي، که نه نو کله هم دا غـوا خلـک وويـنـي نـو خبرې به کوي چی له دی سره بدفعلي شوی ده.
وتذبح لبهيمة وتحرق علـــى وجه الاستحباب ولايحرم اكل لحمها (شامی ص ١٥٤ ج١ كتاب الطهارة ابحاث الغسل) وتذبح ثم يحرق ويكره الانتفاع بها حية وميـــة (درمختار مع الشامی ص ٢١٣ كتاب الحـــدود مطلب فـــى وطء الدابـــة ج ٣).
فقط والله اعلم بالصواب.

د قرباني خاروی عمر او غاښونه یی :

(۷۰ سوال) دیوخاروی عمر پـوره دی خـوددی بـاوجود بیـاهم غاښونـه یی نـه دي کړي، نو ایا دا خاروی قربانی لپاره جائزدی اوکه نه؟
(ځواب) دعمر پوره کیدل ضروری دی، غاښونه یی وي یانه څه باک پکی نشته. فقـط والله اعلم بالصـواب.

دشنډ خاروي قرباني صحيح ده اوکه نه؟

(۷۱ سـوال) شنډه وزه چی د تولد قابله نه ده دقربانی لپاره جائزه ده اوکه نه؟
(ځـواب) هو جائزه ده قرباني وربانډی کیږي.[1] دممانعت کوم حکم لـه نظـر نـه نـه دی تیرشوی شنډتوب داسی عیب نه دی چی قربانی وربانډی ونشـي، څرنګـه چـی خصي والی کوم عیب نه دی همداسې شنډتوب هم څه عیـب نـه دی، زیـاتره شـنډ خاروی چاغ اوغوښین وي اودغوښې خوند یی هم مزه داره وي، که چیرتـه دزیـات عمر په وجه شنډشوې وي دهغه هم قرباني جائز ده. فقط والله اعلم بالصواب.

داختر په ورځ عمر یی دیوکال کیږي ایا دداسی خاروي قربـاني صحيح ده؟

(۷۲ سوال)کوم وزګری چی دتیرکال داختـر پـه ورځ پیداشـوی وي ایاهغـه سـږکال قرباني کولی شو؟

---

[1] -والعاجز عن الولادة لكبر سنها الخ فتاوی عالــمگيری الباب الخامس فـــی بيان محل اقامة الواجب ج ٥ ص ٢٩٧.

(ځـواب) ددغه وزګړي قرباني په دی کال داختر په دویم ورځ کولی شـئ اوقربـانی دی اداکیږي اوکه احتیاط وکړي ددی پرځای بل وزګړی حلال کړی نودابهتر دی.

دقرباني د. خاروي خکر خومره ماتوالی دجواز مانع دی؟

(۷۳_سوال) ستاسی په فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۴۹ کی دي چی که خکر له بـیخ نـه وتلی وي نو دهغه قربانی صحیح نه ده، دخکر له بیخ نه دوتلو مطلب څه دی؟ ځینو کتابونو کی ،ی لیدلي دي چی دکوم خاروي دخکر پـوره خـول وتلـی وي اود ننـه دپاتی خکر که یو انچ مات شي نو دهغـه خـاروي قربـاني نـه صـحیح کیـږي لدینـه معلومیږي چی دخکر دننه حصه دخکر جړ دی، تاسی وضاحت وکړئ چی له جړ نـه څه مراد دی؟ اوکوم قسم مات والی دقربانی دجواز مانع دی؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) دکوم خاروي خکر چی نه وي یاهم مات شوی وي یابرنی خول وتلی وي دهغه قربانی صحیح ده، خوکه بالکل له بیخ نه مات شوی وي اود زخم اثر تر دمـاغ پورې رسیدلې وي نودداسی خاروي قربانی صحیح نه ده. په عالمګیری کی دي:

ویـــجوز بالـــجماء التی لاقرن لها وکذا مسکورة القرن کذا فـــی الکافـــی و ان بلغ الکسر المشاش لایجزیه والمشاش رؤس العظام محل الرکبتین والمرفقین کذا فـــی البدائع (عالـــمګیری ج ٦ ص ۲۰۰ الباب الخامس فـــی بیان محل اقامة الواجب)

په شامی کـی دي:فان بلغ الکسر الـــی الـــمخ لم یجز(شامی ج٥ ص ۲۸۲ کتاب الاضحیة).

دبدائع په عبارت کی چی عالمګیري اوشامي کي دی ددی خبري تصریح موجـوده ده چی د جواز دمانع هغه شکستګي او ماتیدنه ده چی تر مشاش پورې رسیدلې وي، او مشاش دهډوکو سرونو ته ویل کیږي، لکه د زنګنو او څنګلو جوړ، او دلته لـه رؤس العظام څخه مراد په سرکی ددماغ د هډوکي سر دی، لدینه کم شکستګي او ماتیدنه دجواز مانع نه ده.

په بهشتی زیور کی دي: مسئله:

دکوم خاروي چی له پیدایش نه خکرونه نه وي، یاخکر یی درلودل لیکن مات شول، دهغه قرباني صحیح ده، البته که بالکل له جرړونه مات وي نوقربانی یی صحیح نـه ده. (بهشتی زیور ص ۴۷ حصه سوم).

دمظاهر العلوم سهارن پور فتاوی ولولئ:

(ځواب ۱۹۴۵) حامدا ومصلیاً و مسلما اما بعد: که چیرتـه دخـاروي دواړه یـایو خکـر مات شي نو په دی سره دقرباني په صحت باندی هیڅ اثر نه پـړی اوځـي البتـه کـه خکر بالکل له جرړی نه مات شي تردی چی دننه خکر یا هډوکی ښکاره شي نـو بیـا دداسې خاروي قرباني نه صحیح کیږي (بهشتی زیور ، بهشتی ثمـر فتـاوی دارالعلـوم اوفتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۴۹). ددی ټولو فتاوو عبارتونه یو مطلب لري او هیڅ قسم تعارض پکې نشته.

قال فـــي الـــبدائع وروی ان رجلاً من همدان جاء الـــی سیدنا علـــی رضـــی‌الله عنه فقال یاامیر المؤمنین البقرة عن کم ؟ قال عن سبعة ثمان قال مکسورة القرن قال لاضیر ثم قال سیدنا علی رضی الله عنه امرنا رسول الله صلی‌الله علیـــه وســـلم ان نشتشرف العین والا ذن فان بلغ الکسر الـــمشاش لاتجزیه والمشاش رؤس العظـــام مثل الرکبتین والـــمرفقین اه ص ۲۸٤ ج ٦ فقـــط حرره احقر.

(مفتی) عبدالعزیز عفی عنه مدرسه مظاهر علـوم سـهارنپور ۲۹ ذی الحجـه ۱۳۹۷هـــ.
جواب صحیح (مفـتی یحیی غفرله ۲۹. ۹۷/ ۵۱۲.

دحکومتی قرض په پیسو د آخستل شوي خاروي قرباني:

(۷۴ سوال) ماخو کاله وړاندی له حکومت نه په آخستل شویو قرضونو پـه پیسـو یـوه مینبه آخستی ده په هغه وخت ماته معلوم نه و چی حکومت ته به ددې قرض پیسو په مقابل کی سود ورکول کیږي، اوس له هغې مینبې نه یو بچی دی، ایـازه دغـه بچـی قرباني کولی شم او که نه؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) دکومې مینبې دبچي په باره کی چـی تـا سـوال کـړی دی دهغـه قربـاني صحیح ده. فقط والله اعلـم بالصواب.

له دوه کال نه دکم عمر کتي قرباني:

(۷۵ سوال) ته چیرته دقرباني په ورځ دمیښې د کټي عمر پوره دوه کاله نه وي بلکې پنځلس ورځې کم وي خوپه وجود ښه تکړه او چاغ وي ایا دداسې کټې قرباني صحیح کیږي ؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) دقرباني په ورځ چې دکټي عمر پـوره دوکالـه نـه وي نودهغـه قربـاني نـه کیږي.

په درمختار کې دي: وحولین من البقر والجاموس (درمختـار ج ۵ ص ۲۸۱ کتـاب الاضحیة). په مالابدمنه کـې دي: وشـرط اسـت گـاو و جـاموس از دوسـال کـم نباشـد ص۱۶۴). فقط والله اعلم بالصواب.

دخاروي خصي کول اودهغه قرباني کول:

(۷۶ سوال) زمونږ په کلي کې له یوسړي سره ډیرې زیاتې وزې دي هغـه پخپلـه وزګړی خصي کوي، اياهغه پخپل لاس دخصی کړی مال قربانی کولی شي اوکه نه؟ دلته خلک وایې چې کوم سړی پخپل لاس کوم نر وزګړی خصی کړی وي هغه نشي کولې چې په هغه وزګړی قرباني وکړي او نه هم دهغه له غوښې نه خوړلی شي، تاسـې داهـم واضـح کړئ چې ایا دخصي خاروي قربانی جائز ده او که نه؟ بل داچې ایا زمالپـاره د خـارویو خصي کول جائز دي اوکه نه ؟بینوا توجروا.

(ځـواب) ته بالکل کولی شې چې پخپلو لاسو خصی کړی شوی وزګړی قربانی کـړی او غوښه ترینه وخورې داخیال کول چې نه قربانی کولی شی اونه یې خـوړلی شـی غلـط دی،کوم خاروی چې خصی کړی شـي هغـه کـې هیڅ قسم عیـب نـه راځـي محمـد صلی‌الله علیه وسلم دخصی خاروي قربانی کړی ده. په مشکوات شریف کې دي:

عن جابر رضی‌الله عنه قال ذبح النبـــی صلی‌الله علیه وسلم یوم الذبح کبشین املحین موجوئین. الخ. محـمدصلی‌الله علیه وسلم د قربانی په ورځ دوه بـرګې، خکـر لـروونکې اوخصی ګډان قرباني کړي وو. (مشکوات شریف ص ۱۲۸ باب الاضحیه).

په اخری هدایه کې دي: ویـــجوز ان یضحی بالـــجماء.... والـــخصی لان لـــحمها اطیب وقد صحَّ ان النـــبی صلی‌الله علیه وسلم ضحی بکبشین املحین موجوئین.

یعنی د خصی، څاروي قرباني جائز ده ځکه چې دهغه غوښه غوره او خوند هوروي، اوله محمدصلی الله علیه وسلم نه ثابت دی چې هغه دوه خصي برګې ګډان حلال کړي دي (هدایه آخیرین ص ۴۳۳). همدغه راز په فتاوی عالمګیری کې دي:
والخصی افضل من الفحل لانه اطیب لحما کذا فی المحیط، د خصی څاروي قرباني دغیر خصی څاروی نه غوره ده ځکه چې دهغه غوښه غوره او خونده وره وي (عالمګیري ج٦ ص ۲۵۱_ الباب الخامس فی بیان محل اقامة الواجب). په درمختار کې دي ویضحی بالجماء والخصی والشولاء. الخ ج ۵ ص ۲۸۲ مع الشامی کتاب الاضحیة).
دی لپاره چې، څاروی چاغ شي او ګته ترینه اوچته کړی شي خصي کول یې جائز دي، اوپه کوم عبارت کې چې دخصي کولو ممانعت راغلی دی هغه دځه شرعي وجې نه پرته هسې دلهو او لعب په خاطر خصی کول مراد دي، په درمختار کې دي:
وجاز (خصاء البهائم) حتی الهرة واما خصاء الآدمی فحرام قیل والفرس وقیدوه بالمنفعة وهی ارادة سمنها اومنعها من العض بخلاف بنی آدم فانه یرادبه المعاصی فیحرم افاده الاتقانی عن الطحاوی. یعنې دڅارویو، آن چې د پیشو خصی کول جائزدي، او فقهاو دخصی کولو د جواز لپاره د منفعت قیدلګولې دی، که چیرته منفعت ترینه مقصود نه وي نو بیا حرام دی او منفعت دادی چې دڅاروي چاغول مقصد وي، یایی دانیت وي چې هغه له چیچلونه منع شي، پاتی شو دسړي خصی کول هغه ځکه حرام دي چې دلته اصلی مقصد ګناه دی(درمختار شامي ج ۵ ص ۳۴۲ کتاب الخطر والاباحه).
په عالمګیری کې دي: اخصاء بنی ادم حرامٌ بالاتفاق الی قوله. واماف غیره من البهائم فلابأس به اذاکان فیه منفعة واذا لم تکن منفعة او دفع ضررٍ فهوحرامٌ کذافی الذخیرة.
یعنی دانسان خصی کول بالاتفاق حرام دي، اود نورو څارویو خصي کول په دی مقصد چې په دی ئې څه ګټه او منفعت دی هیڅ حرج پکې نشته. اوکله چې نه څه منفعت پکې وي اونه هم دکوم ضرر دفع کول مقصد وي نوبیاخصی کول حرام دي.

(عالمگیری ج ٦ ص ٢٣٦ کتاب الکراهیه الباب التاسع عشر فی الختان والخصآء الخ).
فقط والله اعلم بالصواب یکم ذی الحجه _۱۴ هجری کال.

دکوم خاروي غوږونه چې پیدایشي واړه وي دهغه قرباني کول:

(۷۷ سوال)دیو وزګړي غوږونه پیدایشي واړه دي نوایا ددی قربانی صحیح ده اوکه نه؟
(ځواب) دکوم خاروي چې غوږونه پیداشي واړه وي دهغه قرباني جائز ده، خوکه دکوم خاروي پیداشي غوږونه له سره نه وي یایو غوږ یې وي اوبل یې نه وي، یاداچې دواړه غوږونه یې مکمل چا غوڅ کړې وي نو دهغه قرباني صحیح نه ده.
په در مختار کې دي: (ولابالسکاء) التـي لا اذن لها خلقة فلو لها اذن صغيرة خلقـة اجزأت زيلعي درمختار (قوله التي لا اذن لها خلقة) قال فـي البدائع ولاتجوز مقطوعـة احدى لاذنين بكما لها والتـي لهااذن واحدة خلقة هو (درمختـار والشـامی ج ۵ ص ۲۸۳ کتاب الاضحیة). فقط والله اعلم بالصواب.

کوم خاروی چې دبت یا زیارت لپاره ساتل شوی دهغه په بیع آخستل او قرباني کول:

(۷۸ سوال) دلته هندوانو او جاهلو مسلمانانو کی دا دستور دی چې خاروی دکوم بُت یا زیارت په نوم خه مودی لپاره خوشې کوي، بیاکله چې دهغې تکلیف لری شي نوداخاروی په بل چا خرڅوي، اوس داسې خاروی چې د غیرالله په نوم پریښودل شوی وي دهغه په بیع آخستل او قرباني کول یاله قصاب نه دهغه غوښه آخستل او خوړل څنګه دي؟ بینوا توجروا.
(ځواب) دکوم بت یا زیارت په نوم دخاروي خوشې کول په قطعي نص سره حرام او ډیره لویه ګناه ده، مګرپه دغه حرام عمل سره خاروی نه حرامیږي اودشرعي اصول مطابق دخپل مالک له ملکیت نه نه خارجیږي، اګرچې دهغه مالک دخپلې غلطې عقیدې په بنادافکر کوي چې دا زماله ملکیت نه وتلی او غیر الله لپاره وقف شوی دی، مګرشرعاً دهغه داعقیده باطله ده هغه خاروی بالدستور دهغه په ملکیت کې دی،لهذا که کوم سړی دغه خاروی دهغه له مالک نه واخلي اوقرباني یې کړي نو قرباني یې صحیح کیږي، همدغه راز که چیرته قصاب دغه خاروی واخلي اوغوښه یې خرڅه کړي نو دهغې خوړل هم صحیح دي. (معارف القرآن از مولانا مفتی محمد شفیع صاحب ج۲

ص ۴۲۳_ ۴۲۴ سوره بقره تحت الایه وما اهل بـه لغیرالله). فقـط والله اعلـم بالصـواب.
یکم صفر المظفر ۱۴۰۳ هجری کال.

که چیرته د کوم خاروي غوږ داوږدوالی له طرف نـه څـیری شـوې وي دهغه قربانی صحیح ده؟

(۷۹ سوال) دیو وزګړي غوږ داوږدوالي له طرف نه څیری شوی دی، ایـا ددی قربـاني صحیح کیږي اوکه نه؟ غوږ ټول پوره دی خود اوږدوالي له طرف نـه څـیری شـوی دی بینوا توجروا.

(ځـواب) دکوم خاروي غوږ چی مکمل وي خود اوږدوالي لـه طـرف نـه څـیرې کـړی شوی وي دهغه قرباني کول صحیح دي په شامی کی دي:

وفــی الــبدائع وتجــزی الشرقاء مشقوقة الاذن طولاً والخرقــاء مثقوبــة الاذن الخ (شامی ص ۳۸٤ ج ٥ کتاب الاضحیة). فقط والله اعلم بالصواب.

د خنثی وزګړي قرباني:

(۸۰ سوال) د، خنثی وزګړي قربانی صحیح ده اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) دخنثی وزګړي قربانی صحیح نه ده. په فتاوی عالمګیری کی دي:

لاتجوز التضحیة بالشاة الخنثی لحمها لاینضج (فتاوی عالمگیری ج ٥ ص ۲۹۹ بــاب نمبر ٥) فــی بیان محل اقامة الواجب).

په فتاوی دارالعلوم قدیم کی دي:

(الجــواب) پــه درمختــار او شــامی کــی دي چــی د خنثــی قربــانی صــحیح نــه دی.ولابالــخنثی لان لحمها لاینضج شرح وهبا نیة (درمختار) قوله لان لحمها لاینضج) ولهذا التعلیل اندفع ما اورده ابن حبان من انها لا تخلوا اما ان تکون ذکــراً او انثــی وعلی کل تجوز الخ شامی ج ٥ ص ۲۸٤ کتاب الاضحیة فقط.(فتــاوی دارالعلــوم قدیم، عزیز الفتاوی ص ۱۸۳ ج ۷، ۸). فقط والله اعلــم بــالصــواب.

کوم خاروی چی په لاره ګوډ ګوډ ځي دهغه قرباني:

(۸۱_ سوال) یو وزګړی چی ښه چاغ او صحت مند دی پښه یی زخمـی شـوی ده او پـه لاره ګوډ ګوډ ځي ایا ددی قربانی جائز ده اوکه نه؟

(ځـواب) که چیرته وزګړی په لاره کی دتللو په وخـت کـی پـه زخمـي پښـه زور راوړلی شي اوپرزمکه لګولی شي البته درد په وجه ګوډ ګوډ ځي نو ددی قرباني کول جـائزدی اوکه په پښه باندی بالکل زور نشي راوړلی اوپرزمکه نشي لګولی اوځان پسې یې راکـاږی یا دا چې اوچته نیسي اوپه دریو پښو ګرځي نوقرباني یې نه صحیح کیـږي پـه درمختار کی دي: (والعرجاء التی لاتمشی الی المنسك) په شامی کـی دي: (قوله والعرجاء) ای التی لایمکنها المشی برجلها العرجاء انما تمشی بثلاث قوائم حتی لو کانت تضع الرابعة علـی الارض وتستعین بها جاز عنایة (درمختـار وشـامی ص ۳۸۲ ج۵ کتـاب الاضحیة).

په آخری هدایه کی دي: ولایضحـی بالـعمیاء والعرجاء الـتی لاتمشی الی المنسك والعجفاء... والعرجاء البین عرجها. په حاشیه کی دي: قوله البین عرجهـا هـی التی لایمکنها المشی برجلها العرجاء وانما تمشی بثلث قوائم حتی لو کانت تضع الرابعـة علـی الارض وضعاً حقیقیاً یجوز ذکره خواهر زاده. (هدایه آخرین ص ۴۲۹ ایضاً مع حاشیه ص ۵) فقط والله اعلم بالصـواب.

دجرسي غوا قرباني کول څنګه دي؟

(۸۲ سوال) دجرسي غوا قرباني کول څنګه دي؟ جرسي غوا هغه ته ویل کیږي چـې دهغې په رحم کی دپیچکاری په ذریعه دانګریزي غوایی نطفه اچول کیږي له هغې نه چې کوم بچی پیداشي هغه ته جرسي غوا ویـل کیـږي، دعـامو غواګـانو پشـان دهغه کوهان اوچت نه وي، ایا هغه دقرباني لپاره جائز ده اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) داچې د انجکشن یاپیچکاری په ذریعـه دغـوا پـه رحـم کـی دغـوایی نطفه واچول شي اوله هغې نه کوم بچی پیداشي نوهغه.ته د غوا بچی ویـل کیـږي، دهغه غوښه حلاله ده، البته قرباني چې یو لوی عبادت دی په دی کی باید یوداسی څاروی حلال کړی شي چې په هغه کی هیڅ قسم شک اوشبه نـه وي، کلـه چـې غیر مشتبه څاروی په آسانه پیداکیږي نو داقسم دمشتبه څاروی په حلالولو کی دی احتیاط وکړی شي، خپل عبادت له مجبوریت نه پرته مشتبه ګرځول مناسب نـه دی. فقـط والله اعلم بالصواب.

دغرخه قرباني:

(۸۳ سوال) بوسړي د قرباني په نیت یوه غرخه آخستی دی او هغه ورسره ډیر بلد شوی دی هغه غواړي چی قربانی یی کړي، ایادغرخه قرباني کول صحیح اوجایزدي؟ هغه سړی وایی کله چی دغرخه غوښه حلاله ده نو دهغه قرباني کول هم باید جائز شي تاسی مهرباني وکړئ په دی اړه معلومات راکړئ.

(ځـواب) غرخه له وحشی ځناورو څخه دی اودوحشي ځناور قربانی نه صحیح کیږي.

په فتاوی عالمګیری کی دي:

وَلاَیَجُوْز فـی الاضحی شیٌ مـن الـوحش. دوحشـی ځناور قربـانی نـه صحیح کیږي (فتاوی عالمګیری ص ۱۹۹ ج ٦ کتاب الاضحیه باب۵).

داضروری نه ده چی دکوم ځناور خوړل جائزوي دهغه قربـانی دی هـم صـحیح وي، وګوره چی د کال نه دکم عمر وزګړي قربـانی نـه صـحیح کیـږي، همدغـه راز لـه دوه کالونه د کم عمر سخندر یاسخي قرباني هم نه صـحیح کیـږي، حـال داچـی دهغـوی غوښه حلاله ده او خوړل کیږي. دقرباني صحیح کیدو لپاره شرعي دلیل ضـروری دی، عقلي دلائل کافی نه دي.

لهذا په مسئوله صورت کی که غرخه څومره بلد شوی وي بیاهم دهغـه قربـاني جائزنـه ده.

دعالمګیری په فتاوی کی دي:

وان ضحی بظبیةٍ وحشیةٍ انست وببقرةٍ وحشیة انست لم تجز. که چیرته کـوم شـخص ځنګلی (وحشی) غرخه یاځنګلی غوا چی مانوس اوبلـد شـوی وي قربـاني کـړي نـو قربانی یی نه صحیح کیږي.

فتاوی عالمګیری ص ۱۹۹ ج ٦ باب مایجوز فیه الشرکه، کتـاب الاضـحیه بـاب۵) فقـط والله اعلم بالصـواب.

په اوښ یا سنډا کې دوه کسانو شریکیدل صحیح دي اوکه نه؟

(۸۴ سوال) که په اوښ یاسنډا او غوایی کی د اووه تنو پرځای صرف دوه کسه شریک شي مثلاً ښځه او خاوند دواړه په شریکه قرباني وکړي ایا دا قرباني صحیح کیږي اوکه نه؟ ځکه چی دهریو $3\frac{1}{2}$ حصې کیږي.

(ځـواب) هو دا قرباني بالکل صـحیح او جـائز ده، پـه لـوی څـاروی کـې د دوه تنو دشریکیدلو په صورت کې دهیڅ یو حصه له اوومې حصې نه کمه نه ده. په (مالابُدمنه) کې دي: اگر دوکس یک گاو بالمناصفه خریده قربانی کنند جائز است بروایت صحیح (ص١٦٥ مالابدمنه). فقط والله اعلم بالصـواب.

په یوه وزګړي څلور نفلي قرباني کیږي ایادا صحیح دی؟

(۸۵ سوال) له افریقا نه یوسړي په خط کې لیکلي دي چې په افریقا کې یو عالِم ویلـي دي چې څلورو مړو شویو تنانو لپاره دیوی وزګړي نفلـي قربـانی کـول صـحیح دي، هغه وایي چې ما د څلورو وزګړو او هغوی لپاره دشلو مړو کسـانو نومونـه لیکلـي دي. نوایاداپنځه وزګړي دشلو مړشویو خلکو لپاره صحیح کیږي اوکه هریو لپـاره بـه څانله څانله وزګړی حلالولی شي؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) دکومو مړو شویو کسانو لپاره چې دهغوی په نوم قربانی کول مقصـد وي نـو دهر یو مړي لپاره څانله څانله وزګړی قربانی کـول ضـروري دی. اوکـه نفـل قربـاني دخپل طرف نه کول غواړی او هغه ته صرف ثواب بخښې نو څـومره مـړي چـې پکـې شریکول غواړی شریکولی شې، دقید ضرورت پکې نشته. فقط والله اعلم بالصواب.

ایا د اوومې حصې په نفل قرباني کې شپږ کسان شري کیدلی شي؟

(۸٦ سوال) شپږو کسانو دقرباني په لوی څاروی کې خپلې خپلې حصې ونیـولې اوپـه اوومه حصه کې هم شپږو واړو پـه شـریکه پـه دی نیـت ګـډون او شـرکت وکـړ چـې دمحمدصلی‌الله علیه وسلم لپاره نفلی قرباني وکړي. ایاداسی کول صـحیح دي اوکـه نه؟ایا په واجب قرباني باندی خو څه اثرنه پری اوځي.

داخبره دی په یاده وي چې اوومه حصه د یو تن له طرف نه نه ده بلکې په یوه حصه کې شپږ تنه شریک شوي دي، مهرباني وکړئ دکتابونو په حواله ځواب راکړئ.

(ځـــواب) ان مات احد السبعة الـــمشتر کین فی البدنة وقال الورثة اذ بحـــوا عـــم وعنکم صح عن الکل استحساناً لقصد القربة من الکل ولوذبحوها بلا اذن الورثة لم یجزهم. (درمختار مع الشامی ج ٥ ص ٢٨٤ کتاب الاضحیة).

د فقه له مذکوره روایت نه استحساناً جائز معلومیږي، ځکه چې کله اووم حصه دار مړ شو نو دهغه حصه دهغه دوارثانو په طرف منتقل شـوه اودهغـه دحصـې وارثـان مالـک وګرخیدل او هغوی ددغه اوومې حصې دمالک کیدو په حیثیت سـره دقربـاني اجازه

ورکړه نودهغه قرباني صحيح شوه، همدغسې په مسئوله صورت کی شپږو ملګـرو اوومـه حصه هم واخسته او دنبی کریم صلی‌الله علیـه وسـلم لپـاره یی وکرځـاو نـو ددی هـم صحیح کیدل پکاردي. مهرباني وکړئ په دی مسئله کی له نورو علماو نه هم معلومات ترلاسه کړئ چی هغوی درته څه ځواب درکوي. فقط والله اعلم بالصـواب.

که پنځه ورونه په ګډه دخپل مړ شـوي پـلار لـه طـرف نـه دلـوی خاروي قرباني وکړي نو ددی څه حکم دی:

(۸۷ــ سوال) که چیرته پنځه ورونه دخپل مړ پلار یا مړي مور له طرف نه دلوی خاروي قرباني وکړي نو ایادهغوی داقربانی صحیح ده او که نه ؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) دخپل مرحوم پلار یا مرحومه مور له طرف نه نفلی قربانی کـول صـحیح دي او ډیر د فضیلت اوثواب کـاردی. هـر یـو ورور دی ځانلـه ځانلـه د ورکـوتې خـاروي قرباني وکړي یالږ ترلږه په لوی خاروي کی برخه ونیسي، لدینه کمه حصه باید نـه وي. همدغه راز که پنځه ورونه په ګډه په یو لوی خاروی قرباني وکـړي نـو داهـم صـحیح ده، ځکه چی په دی صورت کی دهریوه حصه له اوومې حصې نـه نـه کمیـږي بلکـی زیاتیږي په آخری هدایه کی دي:

وتجوز (البقرة او بدنة) عن خمسة اوسبعة اوثلثة ذکره، فـــی الاصل لانه لما جاز عن سبعة فعمن دونهم اولی(الـــی قوله) ولو کانت البدنة بین اثنین نصفین تجـــوز فـــــی الاصح لانه لما جاز ثلثة الاسباع جاز نصف السبع تبعاً له.(هدایه اخیرین ص ٤٢٨، ص ٤٢٩، کتاب الاضحیة).

په مالابدمنه کی دي چی که چیرته دوه تنه په نیمایی یو غوا قرباني کړي نو دصـحیح روایت په مطابق قرباني یی صحیح ده. (مالابدمنه ص ٦٥). فقط والله اعلم بالصواب.

که چیرته دوه تنه په شریکه یولوی خاروی قرباني کړي نو قرباني یی صحیح کیږي اوکه نه؟

(۸۸ سوال) که چیرته په لوی خاروی لکه اوښ سنډا یـا غـوا غـوایی کـی د اووه تـنـانو پرځای صرف دوه تنه شریک شي او قرباني یی کړي نو دهریو په حصه کی درې نیمې حصې راځي نوایا داقرباني صحیح کیږي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(خــواب) په مذکوره صورت کی قرباني جـائز دی، ددی وجـه داده چــی د دواړو لـه حصونه دهیڅ یو تن حصه له اوومی حصې نه کمه نه ده. په مالابد منه کی دي:
اگر دو کس یک گـاو بالمناصـفه خریـده قربـانی کننـد جـائز است بروایـت صـحیح
(مالابدمنه ص ١٦٥).

په هدایه اخیرین کــی دي: ولو کانت البدنة بین اثنین نصفین تجوز فـــی الاصـــح لانه لما جاز ثلثة الاسباع جاز نصف السبع تبعاً له. (هداية آخيريـــن ص ٤٢٩ كتاب الاضحية).فقط والله اعـــــلــــــم بالـــــصـــــواب.

باب العقـيـقـة

دقرباني په ورځو کې عقيقه کول څنګه دي؟

(۹۳ سوال) ايادقرباني په ورځو کې عقيقه کول صحيح دي؟

(ځـواب) هو صحيح دي. فقط والله اعلم بالصواب.

دماشوم دعقيقې شرعي حکم څه دی؟

(۹۴ سوال) دماشوم د عقيقې شرعي حکـم څـه دی؟ يوسړی وايی چـی عقيقـه هسـې بورسمي څيز دی، اسلامی طريقه نه ده، امام ابوحنيفه رحمه الله پخپله ديتـه بـدعت او تحريمي مکروه ليکلي دي ، ايا داخبره صحيح خبره ده؟

(ځـواب)په حنفی مذهب کی عقيقه مسـنون او مسـتحب دی، (رواجـی نـه دی) بلکـی اسلامی طريقه ده. په امام ابو حنيفه باندی الزام لګول افترا اوبهتان دی.

په مالابد منه کی دي: بدانکه عقيقه نزد امام مالک رحمـه الله، امـام شـافعی رحمـه الله واحمد رحمه الله سنت موکده است. وبه روايتي از امام احمدرحمـه الله واجـب ونـزد امام اعظم ابوحنيفه مستحب وقول بدعت بودنش افتراء است بر امام همام.

ترجمه :پوه شه چی عقيقه د امام مالک، امام شافعی او امام احمد پـه نـزد موکـد سـنت دی او د امام احمد يو روايت د وجوب هم دی، اود امام ابوحنيفه په نزد عقيقه مستحبه ده دهغه په طرف دبدعت قول منسوبول په امام همام باندی هسی افتـراء ده. (ضـميمه مالابدمنه ص ۱۷۸). د ماشوم د پيداکيدو د خوشالي په شـکريه همـدا راز لـه افتونـو او مرضونو نه دحفاظت لپاره اوومه ورځ يعنی داچی که ماشوم دجمعی په ورځ پيداشي نو دپنجشنبې په ورځ اوکه دپنجشنبې په ورځ پيداشي نو دچارشنبې په ورځ، دماشـوم لپـاره ادوه نر وزګري او جلی لپاره دی يو نروزګری حلال کړی شي، دماشوم سردی کل کـړی شي او دويښتانو په وزن سـپين زر دی غريبـانو تـه ورکـړي.اوپـه سـرباندی دی زعفـران ولګوي، داټولی خبری صحيح او مسـتحب دي. دمحمـد صـلی‌الله عليـه وسـلم حـديث مبارک دی:

عـــن ثـــمرة قال قال رسول الله صلی‌الله عليه وسلم الغلام مرهَنٌ بعقيقته يذبح عنـــه يوم السابع ويُسَمَّی ويحلق راسه.(ترمذی شريف ج۱ ص ۱۸۳ ابواب الاضاحی باب ماجاء فـــی العقيقة).

ترجمه: ماشوم دخپلې عقيقې په عوض کی مرهون اوګروي وي،لهذا پـه اومـه ورځ دی دهغه له لوری يو څاروی حلال کړی شي اوپرهغه دی نوم کيښودلی شـي، همدغـه راز دهغه سردی هم کل کړی شي. دمرهون زيات معناګانې بيان شوي دي (مثلاً)

(۱) په احاديثو کی راځي چې ماشوم دمـور اوپـلار لپـاره سـفارښت کـوي اوهغـه لپـاره شفاعت کوونکی ګرځي، که چيرته دطاقت لرلو بـاوجود عقيقـه يې ونکـړه او ماشـوم پـه وړوکتوب کی مړشو نو مور اوپلار لپاره شفاعت نه کوي، لکه څرنګه چی ګرو کړی شـوې څيز په کار نه راځي داماشوم هم مور اوپلار لپاره په کار نه راځي. *

(۲) له عقيقې نه پرته ماشوم په چټلی او ګندګی کې اختـه کيـږي او لـه صـفايی نـه لـری کيږي لکه چی د محمد صلی‌الله عليه وسلم ارشاد دی :

مــع الغلام عقيقة فاهر يقوا عنه دماً واميطوعنه الاذى. (بخـــارى شـــريف ج ۲ ص ۸۲۲ کتاب العقيقة باب اماطة الاذى عن الصبى فى العقيقة).

همدغه راز په حديث شريف کـی دي: عن علـــى بن ابى طالب رضى‌الله عنه قال عـــق رسول الله صلى‌الله عليه وسلم عن الحسن بشأة وقال يافاطمة احلقى رأسه، وتصـــدق بزنة شعره فضة فوزنته فكان وزنه درهماً اوبعض الدرهم الخ (ترمذى ج ۱ ص ۱۸۳ باب ماجاء فى العقيقة).

ترجمه: محمد صلی‌الله عليه وسلم د امام حسن رضی‌الله عنه عقيقـه ديـو نـر وزګـړي پـه حلالولو سره وکړه او حضرت فـاطمې تـه يې حکـم ورکـړ چـی دهغـه سـرکل کـړه او د ويښتانو په وزن سره سپين زر خـيرات ورکـړه. حضـرت فاطمـه رضـی‌الله عنهـا د محمـد صلی‌الله عليه وسلم د حکم تعميل وکړ، دويښتانو وزن له يو درهم يالدينه لږ غونـدی کـم و. (مذکوره حواله).

(۴) عن ابـــى بردة يقول كنا فـــى الجاهلية اذا ولد لاحدنا غلامٌ ذبح شأةٌ ولطخ رأسه بدمها فلما جاء الله بالاسلام كنا نذبح شأةً ونحلق رأسه ونلطحه بزعفـــران (ابـــوداود شريف ج ۲ ص ۳۷ کتاب الضحايا باب العقيقة).

ابوبرده رضی‌الله عنه فرمايي : دجاهليت په زمانه کې به چی ماشوم پيدا شو نو مونږ به يو چيلی حلالوه او دهغه وينې به مود ماشوم پـه سـرلګولې کلـه چـی الله تعـالی مونږ

مسلمانان کړو نو اوس په اوومه ورځ چیلې حلالوو او دماشـوم ويښتـان کلـوو او زعفـران وربانديٍ مږو (حواله مخکې تیره شویده).
(۵) عـــن ام کرز رضی‌الله عنها قالت سمعت يقول صلى‌الله علیه وسلم عن الغلام شـــاتان وعن الجارية شاةً لايضر كم اذُكراناً كن ام اناثا. (ابوداود ج ۲ ص ۳۶، ايضاً).
محمد صلی‌الله علیه وسلم وفرمايل دهلک دعقيقې لپـاره دوه چيلـی او دجلـی‌د عقـيقې لپاره يوه چيلی ده په دی کی هيڅ حرج نشته چی نر چيلی وي يا ماده.

عقيقه تر کوم وخت پوری کيدای شي؟

(۹۵ سوال) دعقيقې موده څومره وخت پوری ده؟
(ځـواب) د عقيقې مستحبه طريقه داده چی په اوومه ورځ وکړی شي لکـه چـی پـه تـيره فتوه کی په لوموړی نمبر حديث کی تيرشول، که چيرته په اووم ورځ يی ونکړنو څوارلسم يا اوويشتم ورځ دې وکړي. دمحمدصلی‌الله عليه وسلم ارشاد دی چی د عقيقې خـاروی دی يا په اووم ورځ حلال کړی شي او ياهم په څوارلسم او ويشتم ورځ.[1]

کله چې دعقيقې خاروی حلالولی شي نو کومـه دعـا لوسـتل پکـار دي؟

(۸۹ سوال) مهرباني وکړئ موږ ته دا معلومات راکړئ چی د عقيقې خاروی د ذبح کولو په وخت کومه دعا ولوستلی شي؟
(ځـواب) دعقيقې خاروي د ذبح کولو په وخت کی دی دادعا ولوستلی شي:
اللّٰهُم هذه عقيقة ابني.... (اسم ولد) دمها بدمه وعظمها بعظمه وجلدها بجلده وشعر ها بشعره اللهُمَّ اجعلها فداء لابنی. (دهلك نوم).
(نوټ) که چيرته عقيقه دجلی لپاره کولې شي نـو (اللهم هذه عقيقة بنتی) (دجلـی نـوم) اوکه چيرته دپلار پرځای بل څوک دعقيقې مـال حلالـوي نـود ابنـی يـا بنتـی پرځـای دماشوم او دهغه دپلار نوم دی واخلي، له مذکوره دعا سره دی انی وجهت څخـه وانـا

---

[1] – طبرانی وفيه ايضاً عن بريدة ان النـبی صلی‌الله عليه وسلم قال العقيقة لسبع او اربـع عشـرة او احـدی وعشرين رواه الـطبرانی فی الصغير والاوسط الخ بحواله اعلاء السنن، كتاب الذبائح، باب افضلية ذبح الشاة فی

من المسلمين پوری ولولي او اللهم منک ولک په لوستلو سره دی بسم الله اکبر ووایی او خاروی دی ذبح کړي.

ایا د مړ ماشوم لپاره عقیقه شته اوکه نه؟

(۹۰سوال) دمړماشوم لپاره عقیقه شته اوکه نه؟

(ځـواب) دِ مړ ماشوم لپاره عقیقه نده ثابته حواله وروسته را روانـه ده. فقـط والله اعلم بالصواب.

دعقیقې مسئولیت دچاپه غاړه دی د پلار اوکه د مور؟

(۹۱ سوال) دعقیقې مسئولیت دچاپه غاړه دی د پلار اوکه د مور؟

(ځـواب) د چاپه ذمه چې دماشوم نفقه واجبه ده دهغه پـه سـر دعقـيقې مسـئوليت هـم دی، که پلار يې وس نه لري نو مور دی ورته عقيقه وکړي، اوکه وس يې نه درلود نـو پـه قرض اخستو سره دی عقيقه نه کوي. (فقط والله اعلم بالصواب) .

دهلک لپاره یوه وزګړی هم کافی دی :

(۹۲ سوال) ایا دهلک لپاره یو وزګړی کافی دی اوکه نه؟

(ځـواب) که څوک وس لري نو دوه وزګړي، ګډان یا دوه پسونه افضل دي که نه نو يـو وزګړی، يو ګډ يو پسه هم کافی دی،پدی سره عقيقه کيږي.وګورئ دهمدی باب لومړی نمبرسوال .

د واده په دعوت کی دعقیقې غوښه استعمالول :

(۹٦ سوال) يوسړی د واده پـه وخـت عقيقـه کـوي اوپـه دعـوت کـی دعقـيقې غوښه استعمالوي، عرفاً خلک د واده په مراسمو کی د سلامي ورکولـو عـادي دي، کـه څـوک ورنکړي نو داعی خفه کيږي اومدعو هـم سلامي ورکـول ضـروري ګڼـي، نوپـه داسی صورت کی د عقیقې غوښه د واده په مراسمو کی په خلکو خـوړلی شـي اوکـه نـه بينوا توجروا.

(ځـواب) د عقيقې غوښه بايد بلاعوض او مفت خلکو ته ورکړی شي څرنګه چـې د واده په محفل کی راغلي ميلمانه سلامي ورکوي نو څکه په دی کـی د عـوض اوبـدلی شبه راځي.لهذا لدينه بچ کيدل پکار دي، خود ناشتي اوسباناری په وخت کـی چـې څـوک سلامي نه ورکوي دعقيقې غوښه ورکول څه ګناه نه لري، که چيرته په واده کی دعقيقې دغوښې ورکول رواج وسومي نوپه دی کـی دابـدي منـخ تـه کيـږي چـې داسـتحباب

رعایت او لحاظ څوک نه کوي. مستحب دادی چې په اوومه ورځ دی عقیقه وکړی شي او دعقیقې دریمه حصه دی غریبانو ته ورکړی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

دماشوم عقیقه دی څوک وکړي:

(۹۷ سوال) که چیرته دماشوم مور اوپلار مالداره وي ، مګر د ماشوم عقیقه دهغه ماما، کاکا یا نکیه اوبل خپلوان وکړي، داصحیح دی اوکه نه؟ عقیقه اداکیږي او که نه؟ اوکه مور پلار ورته دوباره عقیقه وکړي؟ بینوا توجروا.

(ځواب) پرچاچې دماشوم نان او نفقه واجبه ده نو که هغه مالداره وي نوهغه دی خپل ماشوم عقیقه وکړي په مالا بدمنه کی دي:

مسئله: بر هرکسی نفقه مولود واجب باشد او راعقیقه اوهم از مال خود باید کرد نه از مال مولود ورنه ضامن خواهد شد، واګر پدرش محتاج باشد مادرش عقیقه نماید اګر میسر باشد. مالابد منه رساله احکام عقیقه ص ۱۷۹).

ددی باوجود که مور اوپلار ته ددی توفیق نه وي شوی اوبل څوک یې کول غواړي اودماشوم مور اوپلار هم ورباندی رضا وي نو ورته کافي کیږي بیالپاره کول ورته ضروري نه ده. فقط والله اعلم بالصواب. ۱۴ صفر المظفر ۱۴۰۰ هـ کال.

دمړماشوم دعقیقې په متعلق دیو مشکل ځواب:

(۹۸ سوال) دفتاوی رحیمیه په همدی باب کی دي:

(ځواب) دمړ ماشوم لپاره عقیقه کول ثابت نه دي فقط لدینه خو جواز هم ثابتیږي دجواز دلیل پکی څه شی دی؟ مهرباني وکړئ ځواب راکړئ. (از مبارکپور)

(ځواب) عقیقه خو په ژوندون کی کیږي، له مړکیدونه وروسته مستحب کیدل ثابت نه دي که چیرته دمړماشوم عقیقه مستحب ونه ګڼل شي مګر یواځی دشفاعت او مغفرت په لالچ سره وکړی شي نو ګنجائش پکی معلومیږي، لکه چی یو چا حج نه وي کړی اوله وصیت نه پرته مړشو، دهغه وارث دهغه د مغفرت په امید پخپلو پیسو بدل حج وکړي، نو امید دی چی الله تعالی قبول کړي. په دی صورت کی دعقیقې څاروی باید مستقل وي دقرباني په څاروي کی دی حصه نه آخلي.

وحاصله ان الغلام اذا لم یعق عنه فمات لم یشفع لو الدیه ثم ان الترمذی اجازها الـی یوم احد وعشرین قلت بل یجوز الی ان یموت لما رأیت فی بعض الروایـات ان الـنبی

صلى‌الله عليه وسلم عق عن نفسه بنفسه الخ (فيض البــارى ج ٤ ص ٣٣٧ كتــاب العقيقة).

په دی باره کی له نورو علماو نه هم معلومات ترلاسه کړئ ترڅـو صـحیح مسئله واضح شي. فقط والله اعلم بالصواب.

دعقیقې دڅاروي دڅرمن په پیسو دنکاح خواني رجسټر جوړول:

(۹۹ سوال) ایاداجائز دي چې دعقیقي دڅاروي څرمن څرخه کړی شـي اودهغـه په پیسو دنکاح خواني رجسټر جوړ کړی شي؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) ځینو علماو لیکلي دي چې دعقیقې دڅاروي څرمن هغه اهمیت نه لري چې دقرباني دڅرمن ده، لیکن ښکار دادی‌چـې غریبـانو تـه ورکـړی شـي اودنکـاح خـواني رجسټر دی ورباندی وانخستلی شي. فقط والله اعلم بالصواب.

له قرباني نه علاوه په نورو ورځو کې لوی څـاروی پـه عقیقـه کـی ذبح کول اوپه هغه کی دخپلو والدینو لپاره حصه نیول:

(۱۰۰ سوال) مادخپل زوې دعقیقې کولـو اراده کـړی ده، پـه دی کـی دخپلـو والـدینو دعقیقې اراده می هم کړی ده نو ځکه لوی څاروی می آخستی دی، ډیـر خلـک وایی چې صرف د قرباني په ورځو کې دلوی څاروي عقیقه کیږي اوپـه نـورو ورځـو کـې نـه کیږي، تاسی ځواب راکړئ چې ماد عقیقې کومه اراده کړې ده هغـه صـحیح ده اوکـه نه؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) که چیرته تاسوته معلومه وي چې ستا او سـتا دَ والـدینو عقیقـه نـه ده شـوی او تاسی غواړئ چې دخپل ماشوم له عقیقې سره دټولو عقیقـه وکـړئ اودی لپـاره مولـوی څاروی آخستی دی نو ستا دا عقیقه صحیح ده، که چیرتـه سـتا او سـتا د والـدینو عقیقـه شوی وي نو دویم ځل لپاره عقیقه کول صحیح نه ده، نو ځکه پـه دی صـورت کـی پـه عقیقه کې دهغوی شریکول جائز نه دي، ټول څاروی بایـد دخپـل ماشـوم لپـاره عقیقـه وکړی. اویاهم دوه وزګړي ورته عقیقه کړي، دا وینا چې دقرباني د ورځو نه عـلاوه لـوی څاروی دعقیقې لپاره صـحیح نـه دی غلطـه وینـا او غلـط خیـال دی. فقـط والله اعلـم بالصواب.

كه د تبليغي اجتماع په خواړه كى دعقيقى غوښه وړاندى كړى شي نو څه حكم يى دى؟

(۱۰۱ سوال) زمونږ په علاقه كى د تبليغي جماعت اجتماع وشوه، په دى كى ديووخت دخوراك لپاره دسړي په سردرى روپى مقررې شوې وې، د غرمې په ډوډى كى ورته چاد عققې غوښه وړاندى كړه ، ورروسته دخلكو ترمنځ دابحث روان شو چى داعقيقه نه ده صحيح شوى ځكه چى له هر سړي نه درې روپى آخستل شو دي. تاسى معلومات راكړئ چى په مذكوره صورت كى څه حكم دى؟ بينوا توجروا.

(ځـواب) دعقيقې د غوښې حكم دقرباني دغوښې پشان دى، اودقرباني د غوښې حكم دادى چى كه دا د پيسو په مقابل كى خرڅه كړى شي نو هغه پيسې دى خامخا خيرات او صدقه كړى شي.

په هدايه آخيرين كى دي: ولـــو باع الجلد او اللحم بالدراهم اوبما لاينتفع به الا بعــد استهلاكه تصدق بثمنه لان القربة انتقلت الـــى بدله (هدايه اخيرين ص ٤٣٤ كتاب الاضحية).

عينى شرح هدايه كــى دي: فاذا تموله بالـــبيع وجب التصدق لان هذا الثمن حصـــل بفعل مكروه فيكون خبيثًا فيجب التصدق (عينى بحواله فتاوى دارالعلـــوم قـــديم ص ١٨٨ ج ٧. ٨ كتاب الاضحية).

احكام عقيده رساله كى دي:

مسئله: درشرح مقدمه امام عبدالله وغيره مرقوم است: وهـــى كالاضحيه، يعنـــى دعقيقې دخاروى حكم دقرباني دخاروى پشان دى په عمر كى وزګړى بايد له يوكال نــه كم نــه وي سخندر ياسخى له دوه كــالو نــه كــم نــه وي او اوښ دى پنځــو كلونــه كم نــه وي، همدغه راز دعقيقې غوښه هم په خوراك كى دقرباني د غوښې پشان ده لدينه فقير، غنــى خپله عقيقه كــوونكي مــور اوپــلار اونــور خلــك هــم خــوړى شــي. او خرڅــول يى منــع دي.(رساله احكام عقيقه مالابدمنه ص ١٨٠).

په صورت مسئوله كى ديو وخت خوراك پرڅاى دسړي په سردرى روپى آخــستل شــوى دي اوپه مقابل كى دعقيقې غوښه ورته وركول شوى ده، نوځكه ددغى غوښې په مقابــل كى چى څومره پيسى ترلاسه شوي دي هغه بايد ټول غر بــاو بانــدى صــدقه او خــيرات

کړي. انشاء الله عقیقه به یې صحیح شي، داسې دعوت ته چې په هغه کې عوض اوبدل
وانخستل شي دعقيقې غوښه ورکول صحیح او جائزدی خوپه دی کې هم داخرابي ده
چې دعقيقې مستحبه طریقه له منځه ځي، دعقيقې مستحبه طريقه داده چې په اووم
ورځ عقیقه وشي او غوښه درې حصې شي، يوه حصه دکور خلکولپاره، يوه حصه
خپلوانو لپاره اویوه حصه غریبانو او مسکینانوته. فتاوی رحیمیه اردو جلد ٦ ص ۲۲
دجدید ترتیب په مطابق په همدی باب کې د واده په دعوت کې دعقيقې غوښه
استعمالول ترعنوان لاندې وګورئ.

دعقيقې احکام (د دولسو سوالونو ځوابونه)

(سوال ۱۰۲) (۱) عقیقه څه ته وايي، ددې لغوی او اصطلاحي معنی څه ده؟
(۲) ایاعقیقه فرض ده اوکه واجب یاسنت؟
(۳) دعقيقې په وخت دځاروی د ذبح کولو په وخت کې څه لوستل پکاردي؟
(۴) دعقيقې ځاروی باید څنګه وي؟ اوعمر یې څومره پکاردی؟
(۵) د هلک او جلۍ لپاره څومره ځاروی باید حلال کړی شي؟
(٦) ایادهلک لپاره دنر ځاروي حلالول ضروري دی ، همدغه راز دجلۍ لپاره ماده ځاروی ضروری دی؟
(۷)ایادعقيقې لپاره له ذبح شوي ځاروي نه دهلک مور اوپلار غوښه خوړلی شي اوکه نه؟ همدغه راز هغه ماشوم او شخص هم خوړی شي چې دهغه لپاره عقيقه شوی وي.
(۸) ایادعقيقې لپاره دماشوم دعمرڅه قید شته؟ اوکه دژوند په هروخت کې کولی شي؟
(۹) ایایوسړی خپل عقیقه دخپل محنت او ګټل شویو پیسو باندې کولی شي؟ اوکه یواځې دمور اوپلار په پیسوکیږي؟
(۱۰) زیاتره خلک وايي چې دکوم ماشوم عقیقه وکړی شي دهغه مور اوپلار د ذبیحې غوښه نشي خوړلې، که هغوی خوړل غواړي نو له بازار نه دی په بیع غوښه واخلي اود عقيقې له غوښې سره یوځای کړي اوبیادی وخوري، همدغه راز څه خلک داهم وايي چې دخپل ځان لپاره عقیقه کوونکی سړی دعقيقې له غوښې نه نشي خوړلې، داخبره څومره صحیح ده؟
(۱۱) که چیرته یوسړی کمزوری وي ایاپه یو ځاروی هم عقیقه کیږي؟
(۱۲) که چیرته یوسړی مړشي اودهغه عقیقه پاتې وي ایا هغه ګنهګار شو، ایادهغه پر وارثانو دهغه عقیقه کول ضروري دي؟ بینوا توجروا.

(ځـواب) عقیقه له عق څخه مشتق ده چی معنـی یی ده څـیرول او دلتـه دماشـوم هغـه ویښتان مراد دي چی دپیدا کیدو نه وروسته پر سرکې شـنه کیـږي او پـه اووم ورځ هغـه کلولی شي. عقیقه هغه خاروی ته هم ویل کیږي چـی پـه اووم ورځ دماشـوم د ویښتـانو دکلولو په وخت حلالولی شي. (مرقاة المفاتیح).

(۲) زمونږ په حنفي مذهب کـی عقیقـه مسـنون او مستحبه ده ، عقیقـه نـزد امـام اعظـم مستحب است.(مالابدمنهص ۱۷۸).

(۳)دماشوم پلار چی خاروی ذبح کوي نو داسی دعا دی وکړي: (اللهم هـــذه عقیقـــة ابنـــی) په دی وخت کی دی دماشوم نـوم واخلـي. دمها بدمه ولحمها بلحمه وعظمها بعظمه وجلدها بجلده وشعرها بشعره اللهم اجعلها فداءً لابنی من النّارِ.

که دجلی عقیقه وي نو داسي دعـادی وکـړي: (اللهم هذه عقیقة بـــنتی) (دلتـه دی د جلی نوم واخلـي) دمها بد مها ولحمها بلحمها فعظمها بعظمها جلدها بجلدها وشعرها بشعرها، اللهم اجعلها فداءً لبنتی من النّار. کـه چیرتـه ذبـح کـوونکی سـړی دماشـوم پلارنه وي نود اینی او بنتـی پرځـای دی دماشـوم اودهغـه دپـلار نـوم واخلـي. لدینـه وروسته دی دادعا ولولي:

انـــی وجهت وجهی للذی فطر السموات والارض حنیفاً وما انـــا مـــن المشـــرکین لاشریك له وبذلك امرت و انا من المسلمین.

لدینه وروسته دی دادعا ووایي : اللهم منك ولك، بیادی بسم الله الله اکبر ووایی او خاروی دی حلال کړي. فقط.

(۴) کوم خاروی چی دقرباني لپاره مناسب وي هغه دعقیقې لپاره هم صحیح دی.وهـــی شاة تصلح لاضحیة (شامی ج۵ ص ۲۹۳ کتاب الاضحیه). فقط.

(۵) عن الغلام شاتان و عن الجاریة شاةٌ.

یعنی دنرماشوم د عقیقې لپاره دوه وزګري اودجلی دعقیقې لپاره یـو وزګـړی. (مشـکوات شریف ص ۳٦۲ باب العقیقه). که یوسړی کمزورې وي او ددوه خارویو د حلالولو طاقـت نه لري نو هلك لپاره یو وزګړی هم کافی دی. فقط.

(٦) دهلک لپاره د نر وزگري اودجلی لپاره دماده وزی ذبح کـول ضـروري نـه دي پـه حدیث کـی دي: لایضرکم ذکــر انــا کــن او اناثــاً. یعنـیٰ نـر اوښځـه دواړه یـو برابردي. (مشکوات صفحه ٣٦٢ باب العقیقه). فقط.

(٧) پخپله ماشوم، دهغه مور اوپلار او نور خلک دعقیقې غوښـه خـوړلی شـي کـوم حکـم چی دقرباني دغوښې دی همغه د عقیقې دغوښې دی.

(٨) دا مسنون او مستحب دی چی دماشوم له پیداکیدونـه وروسـته پـه اووم ورځ پرهغـه نوم کیښودلی شي ، سریی کل کړی شي اودویښتانو په وزن سپین زر غریبـانو تـه ورکـړی شي، اودی سره سره عقیقه هـم وکـړی شـي کـه پـه اووم ورځ یی عقیقـه ونکـړه نـو پـه څوارلسم او یوویشتم تاریخ دی عقیقه وکړي، که طاقت نه لري نود اووه ورځو په حساب سره دی وکړي یا اووه هفـتې یـا اووه میاشـتې یـا د اووه کلـو حسـاب دی ولګـوي ان تربلوغ پورې. ځینو له بالغیدونه وروسته هم جائز کړی دي.

بعد ولادت هفتم روز، یا چهاردهم، یابست ویکم، وهمین حساب یابعد هفت ماه، یاهفت سال عقیقه باید کرد ، الغرض رعایت عدد هفت بهتر است. (مالابدمنه ص ١٨١).

(٩) که چیرته یوسړی خپل عقیقه له بلوغت نه وروسته کول غواړي نو کولی شي.

(١٠) داخیال صحیح نه دی بلکی غلطه اوبی بنیاده دی.

(١١) او یو څاروی کافي دی . په مشکوات شریف کی حدیث دی. عن محمد بن علی بن حسین عن علی بن ابی طالب قال عق رسول الله صلی الله علیه وسلم عن الحسن بشاة وقال یافاطمة احلقی رأسه، وتصدقی بزنة شعره فضة فوزناه فکان وزنه درهماً اوبعض دراهم. رواه الترمذی مشکواة شرف ص ٣٦٢ باب العقیقة).

(١٢) که له عقیقې نه پرته مړشي نو ګنهګار نه دی اوپر وارثانو یی عقیقه کول ضروري نـه دي. فقط والله اعلم بالصواب. ٢٢ شعبان المعظم ١٣٨٠ هـ.

كتاب الذبـائح

دغيرمقلدينو په نزد دكافر ذبيحه حلاله ده اوكه حرامه ؟

(۱۰۳ سوال) اياد غيرمقلدينو په نزد دكافر ذبيحه حلاله ده اودهغې خوړل جائز دي؟

(ځـواب) مولانا نواب صديق حسن خان صاحب ليكي:((قال الشوكاني والحق ان ذبيحة الكافر حلالٌ)) شوكاني وايي چې حقه خبره داده چـې دكـافر دلاسـه حـلال شـوى ځاروى حلال دى. (دليل الطالب ص ۴۰۳).

دهغې چرګې حلالول چې غاړه يې تاو كړى.شوي وي صحيح دى اوكه نه؟

(سوال ۱۰۴)يو پيشو په چرګې باندى حمله وكړه او غاړه يې ورته ماته كړه ليكن چرګه لا ژوندى ده او ټوپونه وهي غاړه يې دومره پاتې ده چې چاړهورباندى وګرځـول شـي او حلاله شي، ايادهغه حلالول اوخوړل يې صحيح دي اوكه نه؟

(ځـواب) په مسئوله صورت كې كه چرګ ژوندى وي اودغاړې حصه يې دومره پـاتې وي چې حلال كړى شي نودهغې حلالول او خوړل صحيح دى ليكن چيچل شـوى سـريې بايد ونه خوړى شي. اوكلـه چې‌لـه سـر سره پـوره غـاړه يې هـم شـكول شـوي وي او دحلالولو لپاره ځاى پاتې شوى نه وي دهغه خوړل حرام دى. شامى.[1]

(۱۰۵ سوال) كه د ذبحې په وخت د ځاروي مخ د قبلې په طرف نه وي نـو څـه حكـم يې دى ؟

(ځواب) د حلالې په وخت دقبلې په طرف دځاروي مخ اړول سنت دي، له عذر نه پرتـه دقبلې په طرف مخ نه اړول له سنت نه دمخالفت په وجه مكروه دي.[2]

كه چيرته د سنت په مطابق ذبح ونكـړى شـي نودهغـه څـه حكـم دى؟

---

[1] -شاة قطع الذئب اوداجها وهى حية لاتذكى لفوات محل الذبح ولوانتزع رؤسها وهى حية تحل بالذبح بين اللبة واللحيين كتاب الذبائح ج ٦ ص ٣٠٨.

[2] وكره ترك التوجه الـى القبلة المخالفة السنة ص ٢٩٦ كتاب الذبائح).

(سوال ۱۰٦) په افریقا کی د ذبح کولو نه وړاندی څاروی په تفنګچه یادټوپک پـه ګولـی ولي اوپرزمکه غورځوي، بیادهغه په غاړه چاړه ګرځـوي او حلالـولی یی، دحـدیث پـه رڼاکې داسی کول جائز دي اوکه نه؟ همدغه راز دداسـی څـاروي غوښـه خـوړل روادہ اوکه نه؟

هغه غوایی او غواګانې بی مهاره آزادی ګرځي دهغوی تړل اونیول ګـران وي، نوځکـه پرهغوی دټوپک اویاهم د چاړه ګـوزار صـحیح دی اوکـه نـه؟ مهربـاني وکـړئ ځـواب راکړئ؟

(ځـواب) دمذکوره سوال په مطابق که چیرته څاروی دومره مست او طوفاني وي چـی هغه نه قابوکیږي نو مجبوراً په غاړه یاپښه (خوپه سر نه) باندی ویشـتل اودهغـه زخمـي کول او غورځول په دی شرط جائز دي چی له مړکیدونه مخکی مخکـی حـلال کـړي، فقها داحادیثو په رڼاکې تردی لیکي چی کله غـوایی یـا غـوا اوداسـی نـور څـاروي د طوفاني او مستي له کبله په لاس نه راځي او قابو وربانډی ونکړی شـي نـو مجبـوراً پـه چاړه یا ټوپک باندی دهغه زخمي کول اوبیاحلال جائز دي لکه چی په ښکار کی خلک همداسی کوي.

وما الاضطرارية فركنها العقر وهو الجرح فى اى موضع كان وذلك فى الصيد وكذلك ماندمن الابل والبقر والغنم بحيث لايقدر عليها صاحبها لانها بمعـنى الصـيد(فتـاوى عالمگيرى ج ٥ ص ٢٨٥ كتاب الذبائح الباب الاول).

خوکه چیرته یواځی په دی خاطر زخمي کوي چی دتړلو او نیولو لـه تکلیـف نـه ځـان خلاص کړي نوداکار سخت مکروه دی، له ذبحـې نـه وړانـدی داقسـم تکلیـف ورکـول صحیح نه دي. فقط والله اعلم بالصواب.

ایاله ذبح کوونکي سره کومک کـوونکی سـړی دی هـم الله اکبـر ووایی اوکه نه؟

(۱۰۷ سوال) د (اغلاط العوام) نومی کتاب کی دي چی په خلکو کی مشهوره ده چـی دذابح مرسته کوونکي سړي باندی بسم الله الله اکبر ویل واجب دي خوداخبره بالکـل غلطه ده (ص ۷). او ضمیمه پـه ((مالابدمنـه)) کـی ده چـی: اګرکسـی اضـحیه خـودش باعانت دیګر ذبح نماید، پس واجب است تسمیه برمعین وذابح واګریکی از آن هم تـرک

نماید حرام گردد. (ص۱۷۳). په دی دواړو کی کوم یو صحیح دی؟ دکتابونو په حواله خواب راکړی. بینوا توجروا.

(خواب) ددعی مسئلې جلا جلا صورتونه دي او دادواړه صورتونه پخپل پخپل ځای صحیح دي (اغلاط العوام)نومی کتاب کی د ((معین ذابح) مطلب دادی چی کوم سړی د ذبحې په وخت دخاروي پښې او سرنیسي او ورسره مرسته کوي، پرهغه بسم الله ویل واجب نه دي، یواځی د ذابح (ذبح کوونکي) سړی بسم الله لوستل کافي دي.

او((ضمیمه مالابدمنه)) کی له معین نه مراد د ذبح کوونکی سړي ملګري دی چی دحلالولو په وخت کی ورسره چاړه نیولی وي، پرهغه بسم الله ویل ضروري دي، که له دواړو نه هریو بسم الله ونه وایی نو خاروی نه حلالیږي. (په درمختار کی دي :

فوضع یده علی‌یدالقصاب فی الذبح واعانه علی الذبح سمی کل وجوباً.

ترجمه: که چیرته ذابح د ذبحې په وخت خپل لاس دقصاب په لاس کیږدي او ذبح کوونکی مرسته وکړي نو پر دواړو باندي بسم الله لوستل واجب دي، که چیرته له دواړو نه یوهم بسم الله پریږدي اویا داګمان وکړي چی دیو تن لوستل کافی دی نو خاروی مرداریږي.(درمختار مع الشامی ج ۵ ص ۲۵۲ کتاب الذبائح).

لنډه داچی کوم سړی هسې دخاروي لاس او پښو یاد سرپه نیولو سره ذبح کوونکی سره مرسته کوي نوپرهغه بسم الله ویل واجب نه دی، خوکه دچاړه په چلولو کی ورسره مددګار او مرستندوی وي نوپرهغه بسم الله ویل واجب دي.

د حلالی په وخت د کومو کارونو خیال ساتل ضروري دی:

(۱۰۸) ځیني خلک دحلالی په وخت کی له خاروی سره ظلم کوي،لهذا دحلالې په وخت دکومو کومو کارونو خیال ساتل ضروري دي؟

(ځواب) (۱) پکاردی چی له ذبحی نه وړاندی په خاروی ګیاه وخوروي او اوبه ورباندی وڅښوي وږی‌تږی پریښودل مکروه دي. (۲) مذبح خانی ته په راښکودلو راښکودلو سره راوړل مکروه دي.(۳) په اسانی سره دی وغورځوي بیځایه سختی کول ورباندی مکروه دی. دقبلی په طرف دی په ښي ډډه وغورځوي. ترڅو روح یی په اسانه ووځي. لدینه مخالفت کول مکروه دي. (۵) له څلورو پښو څخه دی درې پښی ورته وتړي.(٦) چاړه دی تیره کړي په کنده چاړه حلاله کول مکروه دی.(۷) چاړه دی

د څاروي په وړاندی نه تیره کوي ځکه چی داسی کول مکروه دی.(۸) دخاروي له غورځولونه وړاندی دی چاړه تیره کړي وروسته تیره کول مکروه دی.[۱]
په حدیث شریف کی دي چی یوسړي څاروی پرزمکه څملاو او بیا دچاړه په تیره کولو شروع شو محمد صلی‌الله علیه وسلم ورته وفرمایل ته وزګړی دوه ځلی حلالول غواړې؟
(۹) دیوڅاروي دبل څاروی په وړاندی حلالول مکروه دی. (۱۰) له څملولو نه وروسته دی فوراً حلال کړی شي هسی بی فائدې وروسته کول مکروه دي، دومره په زور زور دی حلال نه کړي چی سریی له غاړی نه جداشي اوبابی حرام مغز، له غاړی نه په پورتنی حصه کی ذبح کول مکروه اومنع دي ځکه چی په دی کی څاروي ته له ضرورت نه زیات تکلیف رسیږي. (۱۳) له ذبح کولو نه وروسته دڅاروي له یخیدونه وړاندی باید ترینه سرجدا نه کړی شي اونه دی ترینه څرمن وباسي ځکه چی داسی کول مکروه دي. (هدایه) (درمختار ، شامی وغیره).
داپورتني احکام یواځې دقربانی له څاروي سره مخصوص نه دي بلکی دهریو څاروی لپاره ضروري دي.

که چیرته د ذبحې په وخت سر له غاړی نه جداکړی شي نوددی څه حکم دی؟

(۱۰۹ سوال) که چیرته د ذبحې په وخت دڅاروي سر له غاړی نه جداشي نو دهغه غوښه خوړې شوو اوکه نه؟ ځینی خلک وایی غوښه یې حرامه ده او ځینې نور وایی چی مکروه ده. په دی کی کوم یوه خبره صحیح ده؟ بینوا توجروا.
(ځواب) دداسی څاروی غوښه خوړل زواده مکروه او حرامه نه ده (هدایه ج ۴ ص ۴۲۲ کتاب الذبایح).
خو قصدا یادبی پرواهی په وجه داسی کول مکروه دي ځکه چي پدی کی له ضرورت نه زیات څاروي ته تکلیف رسیږي، په حدیث کی‌دي چی الله تعالی له هریو مخلوق سره احسان او نیکي کول فرض ګرځولی دي. که چیرته کوم مجرم وژل غواړي نو ...

۱- ونـدب احداد شفرته قبل الاضجاع وكره بعده كالجر برجلها الـى الـمذبح وذبحها من قفا ها ان بقيت حيه حتى تقطع العروق والالم تحل لموتها بلاذكاة والنخع.... وكره كل تعذيب بلا فائدة مثل قطع الرأس والسلخ قبل ان تبدرد اى تسكن عن الاضطراب وهو تفسير باللازم كما لا يخفى وكره ترك التوجه الى القبلة لمخالفته السنة. درمختار مع الشامى ج ٦ ص ٢٩٦.

مناسب طريقه سره ووژنه چې تکليف ورته ونه رسيږي او چې ځاروی ذبح کوی نو هغه هم په مناسبې طريقې سره ذبحه کړه، ترڅو زيات تکليف ورته ونه رسيږي، چاړه ورته تيزه وساته، همدغه راز د ځاروي دسهولت لپاره پوره پوره کوشش وکړه، يعنی دچاړه له راکارلونه مخکی او وروسته داسی کوم کار مه کوه چی ځاروی ته پری تکليف ورسيږي. (مسلم شريف ص ۱۵۲ ج ۲).

(نوټ) لدينه ثابتيږي چی په افريقه کې کوم رواج دی چی دځاروي له حلالولونه وړاندی هغه په سرباندی په غټ کانې باندی ولي اوبيايی ذبح کوي اوهغوی فکر کوي چی په داسی کولو سره دځاروي روح ژر اوځي نو داظالمانه طريقه او سخته مکروه ده.

دپيشو له خولې نه دخلاص کړی شوی چرګ حکم :

(۱۱۰ سوال) که چيرته چا چرګ د پيشو له خولې نه وويست او حلال يی کړی، وينه ترينه ووت خو روانې نه شوې دداسی چرګ خوړل څنګه دي حلال اوکه حرام؟

(ځواب) دداسی چرګ غوښه، بالکل خوړی شي په درمختار کی دي:

ذبح شاةً مريضة فتحركت اوخرج الدم حلت، " والاّ لا". (درمختار ص ۲۶۹ ج۵ کتاب الذبائح).

که ناروغه وزه حلال کړی شي اوترينه وينه ووځي اوياحرکت وکړي نوغوښه يی حلاله ده اوکه وينه هم ترينه ونه وت او حرکت يی هم ونکړ نو غوښه يی حلاله نه ده. فقط والله اعلم بالصواب.

دنن سبا ديهودو او نصاراو د ذبيحی حکم:

(۱۱۱ سوال) اياد نن سبا ديهود او نصاراو ذبيحه حلاله ده، زمونږ په وطن کی چی کوم عربي شاګردان په پوهنتونو کی سبقونه وايی هغوی وايی چی حلاله ده، او وايی چی له مونږ سره دمصر ،فلسطين او نورو عربو علماو فتاوی موجودی دي هغوی دا دليل وړاندی کوي. وطعام الذين اوتوا الکتاب حل لکم.

ماهغوی ته په لنډ ډول داځواب ورکړی دی چی نن سباکوم اهل کتاب دي هغوی صرف تش په نامه اهل کتاب دي، ليکن هغوی زماداخبره نه مني او دلايل راسره وايی، تاسی مهرباني وکړئ په دی اړه په مفصل ډول رڼاواچوئ.

(ځواب) بيشکه په قرآنکريم کی دي : (وطعام الّذِيْنَ اوتو الکتب حل لکم) مګر ددی آيت تعلق له داسی يهودو او نصاراو سره و چی دخپل مذهب اصول، پيغمبر او

اسماني کتابونه یی منل، سائنس پرست او نجوم پرست نه وو. په ذبیحه باندی به لـه الله نه علاوه دبل چانه نوم نه آخست بلکی دالله نوم به یی آخسته، دداسی یهود او نصاراو ذبیحه حلاله وه، که نن سبا هم داسی یهود او نصارا موجود وي او ذبحی په وخت لـه الله نه علاوه دبل چا نوم نه آخلي[1] نو دهغوی ذبیحه ددغه آیت شریف له مخی حلالـه او روا ده، لیکن د نن سبا زیاتره یهود او نصارا مرتد، ملحد، ساینس پرست اونجـوم پرست دي، هسی تش په نامه یهود او نصاری دي له مذهب سره هیڅ مینـه او تعلـق نـه لري، بلکی دهغوی له خبرونه معلومیږي چی له خپل دین نه بیزاره دي، نو څکه هغوی اهل کتاب نشي کیدلې اونه هم دهغوی‌ذبیحه حلاله کیدای شي دهغوی په باره کی له آیت نه څنګه استدلال کېدای شي؟ نوځکه ضروري دی چی حلال او غیر مشتبه شیزونو پرڅای مشتبه شیز ونه خوړی شي اودهغوی له ذبیحی نه ډډه وکړی شي حکیم الامت حضرت مولانا، اشرف علی تهانوي علیه الرحمه فرمایی:

(ځـواب) دکتابی ذبیحه دقرآنکریم نص سره حلاله ده. قال الله تعالـی: وطعـام الـذین اوتوا الکتب حل لکم ای ذبائح الیهود والنصاری (جلالین). مګرپه دی کی شرط دادی چی دالله له نوم نه پرته دبل چانوم ورباندی وانخلي، که نه نو ذبیحه حرامه او مـرداره ده. فی الدرمختار:اذا تسمع منه عندالذبح ذکر الـمسیح علیه السلام. اوځینـو فقهاو شرط لګولی دی چی کتابی یهودي دعزیر علیه السلام اوعیسی علیـه السـلام د الوهیـت قائع نه وي یعنې عزیر او عیسی علیه السلام ته الله ونه وایی. عمومي روایتونه مطلـق دي مګراحتیاط پکی دادی چی داختلاف له ځای نه ډډه وکړی شـي هکـذا حققـه العلامـه الشامي فی رد المختار (امداد الفتاوی ج ۳ ص ۴٦۷ کتاب الذبائح والاضحیه).

نن سبا چی کوم نصارا ځانته نصاری وایی هغوی صرف په قومي لحاظ سره نصـاری دي په مذهبي توګه محض دهري او ساینس پرسـت دي، دداسـی نصـارا و او یهـودو لپـاره دنکاح د جواز حکم نشته، همدغه راز د حلالې او ذبیحې دجواز حکم هم نشته.

(امداد الفتاوی ج ۲ صفحه ۱۷۰، بیان القرآن پ ٦ ج ۳).

دقرآنکریم مفسر حضرت مولانا شبیراحمد عثمانی رحمه الله فرمایی:

داخبره دی په یاد وساتل شي چی زمونږ دزمانې نصاری عموماً تش په نامه نصـاری دي له هغو نه زیاتره نصاری داسی دي چی نه کوم اسماني کتاب مني او نه هـم مـذهب او

[1]– اود الله تعالی د نوم په ویلوسره ذبح کوي.

الله به هغوی داهل کتابو اطلاق نشي کیدلې لهذا دهغوی ذبیحه او ښځو حکم داهل کتابو پشان نه کیږي، همدغه راز دادی هم په نظر کی ونیول شي چی دیو څیز دحلال کیدو معنی داده چی فی حد ذاته د تحریم کومه وجه نشته، لیکن که خارجی اثرات او حالات داسی وي چی له دغه حلال نه په منتفع کیدوکی د ډیرو نورو ګناهونو ارتکاب راشي بلکی به کفر کی داخته کیدو ویره وي نو بیاله داسی حلال نه دانتفاع اجازه نشي ورکول کیدی. (فوائد عثمانی سوره مائده پاره نمبر٦). په فتاوی دارالعلوم کی دي چی نن سبا کوم نصاری دي په دوی کی ډیر داسی دي چی دهریه او ملحد دي، هیڅ یو مذهب نه مني بلکی له الله نه هم منکر دي، داخلک که څه هم دنفوس شماری په لحاظ نصاری دی لیکن دشریعت په حکم کی اهل کتاب نه دي(فتاوی دارلعلوم ج ۱_ ۲ ص ۱٦٠).

دپاکستان مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی محمدشفیع رحمه الله لیکي: دنن سبا اروپایی عیسایی او یهودانو کی یو لوی تعداد دداسی خلکو دی چی د نفوس شماري په وخت کی خپل ځانته یهود او نصارای وایی مګرپه حقیقت کی هغوی نه الله مني او نه هم کوم دین او مذهب. نه تورات او انجیل ته دالله کتاب وایی او نه هم موسی او عیسی علیه السلام د پیغمبرانو په توګه پیژني، ښکاره خبره ده چی هسې دنفوس شماري په وجه هغوی اهل کتاب نشي کیدلې د بني تغلب دنصاراو په باره کی حضرت علی کرم الله وجهه وفرمایل چی دهغوی ذبیحه حلاله نه ده اوهغه دا وجه بیان کړ چی دوی د نصرانیت له دین نه دشراب خوري نه علاوه بل هیڅ څیزنه مني د علی رضی‌الله عنه ارشاد دی:

روی ابن الجوزی بسنده علی رضی‌الله عنه قال لا تاکلوا من ذبائح نصاری بنی تغلب فانهم لم یتمسکوا من النصرانیة بشی الاشربهم الخمر، ورواه الشافعی رحمه الله بسند صحیح عنه تفسیر مظهری ج ۳ ص ۳٤) سوره مائده.

ابن جوزی پخپل سندسره دعلی رضی‌الله عنه داقول نقل کړی دی چی دبنی تغلب دنصاراو ذبیحی مه خورئ ځکه چی هغوی دنصرانیت له مذهب نه له شراب څکلونه علاوه بل هیڅ نه دي منلي. امام شافعی هم په صحیح سند سره دا روایت نقل کړی دی. علی رضی‌الله عنه ته دبنی تغلب دیهودانو په باره کی همدومره معلومات ترلاسه شوی وو چی هغوی بی دینه دي او نصراني نه دي. اګرچی ځانته نصراني وایی نو

ځکه دهغوی د ذبیحې له خوړلونه منع وکړه (اسلامی ذبیحه بحواله جواهر الفقه ج۲ ص ۳۹۳۳، ۳۹۴). علی رضی‌الله عنه دخپلې زمانې دبنی تغلب دنصاراو حالاتو ته په کتلو سره دهغوی ذبیحې ته حرام وویل. د نن سبا یهود او نصاراو حالات خوله هغوی نه ډیر زیات خراب او بد تر دی نوبیاڅنګه د دوی ذبیحه حلاله کیدای شي؟
هغوی چې دمصر او فلسطین علماو دفتاوو یا دونه کوي له نن نه پنځوس کاله وړاندی هغه ددی فتوه ورکړی وه، دنن سبا علماء هم دهغه په تقلید کی دافتوه ورکوي، هغه چې په هغه وخت دیهودو او نصاراو د ذبیحې په جواز فتوه ورکړی وه نو دهغې زمانې ټولو علماو دهغه فتوه مسترد کړی وه ، مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله دهغه په اړه فرمایی:
له نن نه پنځوس کاله وړاندی دمصر مفتی عبده ټول اسلامی امت او څلورو امامانو په خلاف په اروپا کی دټولو ذبائحو په حلال والي باندی فتوه ورکړی وه چې په ټوله اسلامي امت کی پریشاني پیدا شوه، د مفتی عبده دګوښه کولو غوښتني او مطالبې وشوې اوډټولو اسلامي هیوادو علماو دهغه دغه فتود مسترده کړه. _ الی‌قوله _ نوځکه دامت علماو دمفتی عبده دغه فتوه دقرآنکریم او نبوی سنت له نصوصو، څلورو ائمه و او جمهورو فقهاو په خلاف وګرځاو او داسلامي نړی له هر طرف نه دهغه په خلاف مضامین ولیکل شول. دمفتی عبده شاګرد رضا دمصر اوچت لیکوال اولوی عالم دی، هغه دخپل استاد په حمایت کی (امین ولیکل هغه دخپل سیاسي اقتدار او خصوصي کوششونو په ذریعه دځینو علماو تو ق ترلاسه کړ، اوپه دی ترتیب په مصر کی دافتنه ترزمکې لاندی خښه شوه، مګر دفتنې خښیدل ځانله کاردی اودفتوی منل بل څیز، که دهغې زمانې اخبار اورسالوته وکتل شي نوداحقیقت له هیچانه پټ نه پاتی کیږي چې دټولی دنیا علماو دمفتی عبده دغه فتوی ته غلط ویلی وو. (اسلامی ذبیحه بحواله جواهر الفقه ص ۴۰۵، ۴۰٦ جلد دوم).
دادی دمفتی عبده او درشید رضا دعلماو د فتوو حقیقت ،لهذا اوس ددغو فتوو په استناد سره دیهود او نصاراو ذبیحیی ته حلال ویل اودټول اسلامي امت مخالفت کول بالکل صحیح کار نه دی، د مومن کامیابي او نیکبختي داده چې دهغه ګیډې ته حلاله اوپاکه غذا لاړه شي، په دی سره زړه روښانه کیږي ، روحانیت اودعبادت شوق پکی پیداکیږي، دالله محبت او معرفت ترلاسه کیږي، اوکله چې ګیډی ته حرام او مشتبه

ځیزونه لاړشي نوپه زړه کی تیاره پیداکیږي، روحانیت ختمیږي اودعبادت شوق له منځه ځي، نو ځکه د حلال اوپاکی غذا دترلاسه کولو کوشش باید وشي. والله اعلم.

ایاپه ټوپک سره ښکار شوی ښکار حلال دی اوکه نه؟

(۱۱۲ سوال) دټوپک په ګولی مې ښکار وکړ، پس له ډیر لټولو نه وروسته چی می پیداکړ نو حلال می کړ لیکن دحلالو په وخت کی هیڅ قسم حرکت نه و صرف لږ غونـدی وینـه ترینه ووت ایا دداسی ښکاره خوړل روادي اوکه نه؟
که چیرته د ډز په وخت کی په زړه کی د ذبحې نیت وکړې اوله ژبې نـه بسم الله الله اکبر ووایی اوبیا د لټولو په وخت هغه ښکار مړ ترلاسه شي نـو دداسـی ښکـار څـه حکـم دی؟ همدغه راز خاری دومره ورکوټې دی چی دګولی په لګیدو سره په تکه مـري نوپـه داسیصورت کی ددې څه حکم دی؟ بینوا توجروا.
(ځواب) کله چی دټوپک په ګولی سره کوم ښکار وکړی شي نو دهغـه حلالـول ضروري شرط دی که چیرته له ذبح کولو نه وروسته ښکار شوی ځیز مړشـي (کـه هغـه لـوی وي یاوړوکی) نو هغه په هغه صورت کی حلال نه دی چی مرمی تیره نه وي، بلکی دګولـی په زور او دهغه په اور سره مړ شوی وي، په درمختار کی دي:
(اوقتله معراض بعرضه او بندقة ثقلية ذات حدة تقتلها بالثقل لابالحد) پـه شـامی کـی دي: قال قاضی خان لایحل صید البندقة والحجر والمعراض والعصا وما اشبه ذلك و ان جرح لانه لایخزق. الـی قوله. فاما الجرح الذی یدق فی الباطن ولایخزق فی الظـاهر لایحل لانه لایحصل به انهار الدم. الـی قوله: وفی التبیین ان الـموت اذا حصل بالجرح بیقین حل وان بالثقل او شك فیه فلایحل حتماً او احتیاطـا اه ولا یخفـی ان الجـرح بالرصاص انما هو بالا حراق والثقل بواسطة اندفاعه العنیف اذ لیس له حد فلایحل وبه افتی ابن نجیم.(درمختار شامی ج ۵ ص ۴۱۷ کتاب الصید). فقط والله اعلـم بالصـواب. ۷ جمادی الثانی ۱۴۰۱ هـجری.

د حلالولو نه پرته کب ولی حلال دی؟

(۱۱۳ سوال) کب له حلالولو نه پرته ولې حلال دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب) الهی ارشاد دی : وَهُوَالَّذِیْ سخرا لبحر لتأکلو منه لحماً طريّا وهو السمك) الله هغه ذات دی چی دریاب یی ستاسی لپاره مسخر کړ ترڅو تاسی له هغه نه تازه غوښه وخورئ. دلته له تازه غوښې نه مراد کب دی. تفسیر جلالین سوره نحل پاره ۱۴ ص ۱۷۸.

دنورو ښاروېو په خیر دکب د حلالو شرط نشته له ذبح نه پرته حلال دی.

محمد صلی‌الله علیه وسلم فرمایی : احلت لنا میتتان ودمان المیتتان الحوت والجراد والدمان الکبد والطحال.

یعنی مونږ لپاره دوه مړه شیان او دوه وينې حلال کړی شوي دي، له دو مړونه مراد کب او ملخ دی، اوله دوه وينو نه مراد ځيګر او توری دی. (مشکوات شریف ص ۳٦۱ باب مایحل اکله ومایحرم).

کب دنورو ځناورو پشان نه دی په دی کی مسفوح وینه نشته، دهغه دبدن اصلي ماده اوبه دي او اوبه بالطبع پاکې دي،لهذا د کب روح د جدا کيدو له کبله پرهغه دناپاک کيدو حکم نه لګيږي،لهذا ذبح کول یی ضروري نه دي. فقط والله اعلم بالصواب.

(۱) که عیسوي د ذبح په وخت نوم وانخلي نو څه حکم یی دی؟
(۲) په ذبح کی دڅومره رګونو غوڅول ضروري دي؟

(۱۱۴ سوال) دعیسویانو ذبیحه چی نه وربانده دالله نوم آخلي اونه دبل چا ، په ذبحه کې مری نه غوڅوي دیته داهل کتابو ذبیحه ویلی شو اوکه نه؟ بینوا توجروا.

(ځواب) له هرڅه نه وړاندی دامسئله دغور وړ ده چی ایا دنن سبا عیسویان په عیسویانو کی حسابيږي اوکه نه؟ په دی اړه یو تفصیلی فتوه په فتاوی رحیمیه اردو شپږم جلد کی موجوده ده هغه ضرور وګورئ او د جدید ترتیب په مطابق دافتوه په همدغه باب کی تیره شویده.

دکو مو خلکو ذبیحه چی حلاله ده دهغوی په باره کی دا مسئله ده چی دذبح کولو په وخت کی دالله نوم واخلي او بسم الله اکبر په ویلو سره ښاروی ذبح کړي، نو هله ذبیحه حلالیږي، که چیرته قصداً بسم الله ونه وایی نو هغه عمداً متروک التسمیه کی راځي او هغه ذبیحه حلاله نه ده. په هدایه آخیرین کی دي:

وان ترك الذابح التسمية عمداً فالذبيحة ميتة لاتوكل وان تركها ناسياً اكل... والمسلم والكتابي في ترك التسمية سواء. (هدايه آخيرين ص ٤١٩، كتاب الذبائح).

د ذبح بهتره او متفقاً علیه طریقه داده چی څلور رګونه یعنی حلقوم، مری او دجان غوځ کړی شي که چیرته لدینه هر یو رګ غوځ کړی شي نو دامام ابوحنیفه په نزد حلال دی په در مختار کی دي:

وعروقه الحلقوم.... (والمری) هو مجرى الطعام اوالشراب (والودجان) مجرى الدم (وحل) المذبوح (بقطع اى ثلث منها) اذ للاكثر حكم الكل (درمختار مع شامی ص ٢٥٦، ص ٢٥٧ ج ٥ كتاب الذبائح). په هدایه آخیرین کی دي: والعروق التى قطع فى الذكاة اربعة، الحلقوم والمرى والودجان... الى قوله وعند نا ان قطعها (اى الاربع) حل الا كل وان قطع اكثرها فكذلك عندابى حنيفة اذا قطع الثلث اى ثلث كان يحل (هدايه اخيرين ص ٤٢١ جلد٤ كتاب الذبائح).

په بهشتي زیور کی دي: د ذبحه کولو طریقه داده چی دځاروي مخ قبلی ته وکړی شي او تیره چاړه په لاس کی ونیول شي، بیادی بسم الله الله اکبر ویلو سره سم دی دځاروي مری غوځه کړي تردی پوری چی څلور واړه رګونه غوځ شي، یوه نرخره چی ساه پری آخلي، دویم هغه رګ چې ګیاه او اوبه پکې ځي، او دوه شه رګونه چی دنرخرې بني او ګڅ طرف ته وي. که چیرته له دغو څلورو واړو رګونو څخه درې رګونه غوځ کړی شي بیاهم ذبیحه حلاله ده خوړل یی صحیح دي. اوکه دوه رګونه یی کټ کړی شول نو ځاروی مردار شو خوړل یی صحیح اوجائز نه دي.

مسئله: که چیرته د ذبحي په وخت ذبح کوونکی شخص قصداً بسم الله ونه وایی هغه مردار دی او خوړل یی روانه دي. اوکه سهواً ترینه له یاده ووت نوخوړل یی صحیح او جائزدي (بهشتی زیور صفحه نمبر٧٠ دریمه حصه). فقط والله اعلم بالصواب.

مشيني ذبحه :

(١١٥ سوال) ددین مفتیان د لاندینی مسئلې په اړه څه فرمایی:

زمونږ په وطن بار باړوز کی دمشین په ذریعه چرګان حلالولې شي چی تفصیل یی څه دارنکه دی: ژوندي چرګان مشین ته راوړل کیږي اوهغوی ته د برق کرنټ یاشارټ

ورکوي چی دهغه په وجه چرګ بیهوشه کیږي له هغه نه وروسته داوماتیک پتی په ذریعه مشین ته رسول کیږي چی هلته چاړه لګیدلې وي، په دی وخت هلته یو مسلمان سړی ولاړوي هغه بسم الله وایی اود مشین په ذریعه حلالولي، دچرګ مکمل ساه او وینی وتلو نه وړاندی پرګرمو اوبو کی اچوي، لدینه وروسته دچرګ ټولې کولمې او ګندراوباسي، بیاپه یوه ډبي کې چی ورباندې حلال چرګ لیکل شوی بندوي اوبازار ته یی وباسي، په دی وخت مسلمانان هلته موجود وي او داهرڅه پخپلو سترګو ویني، دمشین په ذریعه په یو ساعت کی تقریباً یونیم زر دانې چرګان حلالیږي خوپه ډبو کی دچرګانو دبندولو کار کافران کوي، لدینه وروسته په ډبو کی دغه پیک شوي چرګان ګوداموتو ته لیږل کیږي، هلته دمسلمانانو مذبوحه اودکفارو دلاسه ذبحه شوي دواړه قسمه چرګان موجود وي، لدینه وروسته دحلال چکن (چرګ) په نوم په ډبو کې په مارکیټونو کی خرڅیږي، دغه مشیني ذبحه زمونږ مسلمانو دوستانو پخپلو سترګو لیدلې او کتلې ده، ایا دغه طریقه دشریعت په رڼا کې د مسلمانانو لپاره روا ده اوکه نه؟ مفصل ځواب یی راکړئ؟

(ځواب) په مسئوله صورت کی چی دذبحې په وخت په چرګانو کوم حالت تیریږي ددغه حالت په لیدلو سره دداسی ذبیحی دخوړلو اجازه نشي ورکول کیدې، دذبحی چی کوم مسنونه طریقه ده دهغه په مطابق باید ذبحه وکړی شي. فقط والله اعلم بالصواب. ۱۷ جمادی الثانی ۱۴۱۵ هـ ۲۱/۱۱/۹۴.

باب مایــجوز اکله من الحیوان ومالایجوز

دحلالو ځناورو اووه شیان حرام دي:

(۱۱٦ سوال ، بریلوي علماء پخپلو وعظونو کې دفتاوی رشیدیه په حوالـه وایی چـی د دیوبند علماء د وزګړي خوټې حلال اوپاک ګنې. ایا داخبره صحیح ده؟

(ځـواب) قطعاً غلط او افترا اوبهتان دی. سوال او ځواب هوبه هو دلته رانقلولې شي:

(سوال) په حلالو ځناورو کې مثلاً وزګړی، غوایې مرغان او نورو کی کـوم ځیزونـه حلال دي اوکو ځیزونه مردار دي.

(ځـواب) د حلال ځاروي د اووه ځیزونو خوړل منع دي، غین، شـرمګاه، مثانـه، غـدود، حرام مغز چې دملا په هډوکي کی وي ، خوټې، تریخې اوبهیدونکی وینه قطعـی حرامـه ده، لدینه علاو ټول ځیزونه یی حلال دي، مګرپه ځینو روایتونو کی دتریخ پټې کراهـت لیکلي دی اوپه تنزیهی کراهت باندی حملوي.فقط والله اعلم بالصواب.

بنده رشید احمد ګنهګوي.

ایا د کارغه خوړل حرام دي اوکه حلال ؟

(۱۱۷ سوال . ایا مولانا رشید احمد ګنګوهي دا لیکلي دي چی د کارغه خـوړل حـلال دي ؟

(ځواب) حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي هغـه څـه لیکلـي دي چـی حنفـي فقهـاو لیکلي دي دشمنان یې هسې بی ځای بدنامي کوي، دمولانا ګنګـوهي فتـوه اود مکـې معظمې مفتي اعظم عبدالله بن عباس بن صـدیق حنفـی فتـوه چـی دمولانـا ګنګـوهي دفتوی په تائید کی ده وګوره (تذکره الرشید ج ص ۱۷۸).

(نوټ) کوم حکم چی حرام ته دحلال ویلو دی همغه حکـم حـلال تـه دحـرام ویونکـو دی، ددغو خبرو په ذهن کې نیولو سره دځواب لوستل پکاردې.

کارغه په اردو کې کوا، فارسي کې زاغ او په عربي کی ورتـه غـراب ویـل کیـږي (لغات کشوري) کارغان په څو ډوله دي ځینې حـلال او ځیـنې حـرام. پـه هـر حـال دامسئله فروعي ده، ډیر ځناور داسی دي چی دهغوی حلال او حرام کیدو په اړه داهـل سـنت داامامانو ترمنځ اختلاف دی، مثلاً سمځاره داامام ابوحنیفه په نزد حرامـه ده خـود امـام شافعی په نزد حلاله ده.

بجو (یوقسم ښکاري مرغی ده چې په غالب ګمان پښتو کې ورته کله خورک ویل کیږي) دامام شافعی په نزد حلال اود امام صاحب په نزد حرام دی(خواله مذکوره).
شام پرک ته ځینې امامان حلال وایی او ځینې مردار(ص ۲۹۰) انس ته ځینې امامان حلال وایی او ځینې ناجائز، روباه (ګیدړې) ته امام شافعی حلال وایی او احناف ورته حرام وایی، د، سیند چندخې ته امام شافعی حلال وایی او امام ابوحنیفه حرام، پخپله دامام ابوحنیفه اودهغه دشاګردانو ترمنځ د ځینو شیانو دحلت او حرمت په مسئله کې اختلاف دی، همدغه راز دکارغه په باره کې هم دفقهاو ترمنځ اختلاف دی.
والغراب الذی یاکل الحب والزرع ونحوها حلال بالاجماع کذافی البدائع (الی) وعن ابی یوسف رحمه الله تعالی قال سالت اباحنیفة رحمه الله تعالی عن العقعق فقال لاباس به فقلت انه یاکل النجاسات فقال انه یخلط النجاسة بشئ اخرثم یاکل فکان الاصل عنده ان مایخلط کالدجاجة لا باس وقال ابویوسف رحمه الله تعالی یکره العقعق کما تکره الدجاجة کذافی فتاوی قاضی خان (الی قوله) فاما الغراب الزرعی الذی یلتقط الحب مباح طیب وان کان الغراب بحیث یخلط فیأکل الجیف تارة والحب اخری فقد روی عن ابی یوسف رحمه الله تعالی انه یکره وعن ابی حنیفة رحمه الله تعالی انه لا باس باکله وهو الصحیح علی قیاس الدجاجة کذافی المبسوط.(فتاوی عالمگیری ج۵ ص ۲۸۹، ۲۹۰ کتاب الذبائح الباب الثانی فی بیان مایؤکل من الحیوان الخ).
خپله حنفي فقهاء لیکي چې کارغه په درې قسمه دی، ځینو فقهاو له دریونه هم زیات قسمونه لیکلي دي، یوه هغه کارغه دی چې صرف مرداره خوري، داحرام دی، دویم هغه کارغه دی چې صرف دانه خوري، دا حلال دی، دریم قسم هغه کارغه دی چې دانه او مردار دواړه خوري، دیته عقعق ویل کیږي، داهم دامام ابوحنیفه په نزد حلاله ده ځکه چې هغه د چرګ پشان دی چې دانه او نجاست دواړه خوري اود امام ابویوسف په نزد دغه دریم قسم کارغه مکروه ده ، ځکه چې هغه زیاتره مرداره خوري، لیکن دامام ابوحنیفه مذهب زیات حق دی. (زیلعی شرح کنز). (تکمله بحر الرائق ج ۱ ص ۱۷٦ کتاب الذبائح) (مجمع الانهر ج ۴ ص ۵۱۴) ذخیره العقبی ص ۴۲۹،

۴۳۰)(فتاوی جامع الرموز ج ۳ ص ۱۴۳) (فتاوی قاضی خان ج ۴ ص ۱۵۱)(الدر الغرر ج ۱ ص۱۷۱).

یعنی کوم کارغه چی دانه اوداسې نور شیان خوري هغه بالاتفاق حلال دی. (ج۵ص۲۸۹ ،لباب الثانی فی بیان ما یوکل من الحیوان الخ) (بدائع ص ۳۹ ج۴ کنز البیان ص ۲۱۸ قدوري ص ۲۲٦ درمختار مع الشامی ۲٦۸ ج۵ شرح وقایه ج ۴ص ۳۳۷)(فتاوی سراجیه ص ۸۷) (هدایه ج ۴ ص ۴۲۵) (احکام القران للجصاص ج ۳ ص ۲۳).

له دغو فقهی روایتونو څخه ثابتیږي چی دکارغانو ځینی ډولونه حلال دي او ځینې حرام دبریلویانو خود کارغه له نوم نه هسې نفرت ډی او هرقسم کارغانو ته حرام وایي. کله چی مولانا گنگوهي دفقهې دامامانو داقوالو په رڼاکې ځینوته حلال او ځینو ته مردار وایي، ،وبیا دهغه دبدنامولو څه ضرورت دی؟ زه په دعوی سره ویلی شم چی مولانا گنهگوهي صاحب له حنفي فقهاو نه مخالفت نه دی کړی که بالفرض غلطی یی هم کړی وي بیاهم د لعنت مستحق نه دی، ځکه چی انسان له غلطی نه خالی نه دی. دعالمگیري په فتوه کی کونگ ته حلال ویل شوي دي.

والبوم یوکل (فتاوی عالمگیری ج ۵ ص ۲۹۰) حال داچی کونگ حرام دی الله تعالی دی مونږ له بدگمان نه وساتي. آمین یارب العالمین.

دخرگوش څو ډولونه دي اودکوم یو غوښه خوړی شي؟

(۱۱۸ سوال) دخرگوش دوقسمونه دي له هغوی نه کوم یو حلال دی؟

(ځواب) دواړه قسمه خرگوش حلال دي، یحل اکل الارنب عندالعلماء کانه الخ (حیواة الحیوان ج ۱ ص ۱۹ وفتاوی رشیدیه ج ۲ ص ۹۰).

د جینگا خوړل جائزدی اوکه نه؟

(۱۱۹ سوال) د جینگا خوړل جائزدي اوکه نه؟ که جائزدي نو له دلیل سره یی ولیکئ؟ کوم خلک چی دیته مکروه وایی دهغوی ځواب څه دی؟ دلته په گجرات کی ډیر زیات خوړل کیږي بینوا توجروا.

(ځواب) جینگا یو دریابی مخلوق دی او په دریابي مخلوق کی کب حلال دی اوکوم یو چی کب نه دی هغه حرام دی، په جینگا کی اختلاف دی ځینو علماودکب په جمع کی راوستی او حلال یی ورته ویلي دي، ځینو د چینجیو په قطار کی حساب کړی او

حرام یی ورته ویلي دي نو ځکه دا مشکوک دی او مشکوک پخپل اصل باندی محمول دی، دجینګا اصل کب دی اوپه چینجی کیدو کی شبه دی‌لهذا داصل په بنا حلال دی، حرام و ته ویل صحیح نه دي، اوداهم صحیح نه دی چی جینګا چینجی دی ځکه چی چینجي له ګیدې نه پیداکیږي خو جینګا د کب په شان له هګیو نه پیداکیږي، همدغه راز دکب نوری نښې نښانې هم په جینګا کې لیدل کیږي‌لهذا جینګا حرام او واجب الترک نه دی دا فتوه ده خولدینه ځان ساتل تقوی ده، تقوی دکمال مرتبه ده. دلت او طب په کتابونو کی دجینګا یادونه شوی ده چی جینګا کب دی.لکه چی لاندی لیکل شویدي:

(۱) الروبیان (جهینګا) هو السمك صغیر جداً احمر(حیوة الحیوان ج۱ ص ٤٦٠).

(۲) الاربیان بالکسر سمك کالدود (قاموس المحیط ج ٤ ص ۳۳۲ دارالـــــمامون). (ص ٢٥٤ ربع رابع، نولکشور).

(۳) (والاربیان بالکسر سمك کالدود) وفـی الصحاح بیض من الســمك کالــدود یکون بالبصرة. فصل الراء من باب الوا والیاء (صحاح مع تاج العروس عربی ج ۱۰ ص ۱٤۳). (امام بغوی والسید محمد مرتضی الزبید).

یعني اربیان دیوکب نوم دی چی په شکل او صورت کی د چینجي پشان دی.

(۴) اربیان نوعی ازماهی (صراح ص ۵٦۰ باب الواو والیاء فصل الراء نولکشور).

(۵) اربیان دکبانو یوقسم دی چی په هندي ژبه کی ورته جینګا ویل کیږي. (منتهی الارب فی لغت العرب ص ۱۲۰ ربع دوم).

(٦) اربیان به فتح الف وبای تازی داوبوملخ دی اوداد ږوکبانو له جملې څخه هدی چی په هندي ژبه کی ورته جینګا ویل کیږي او په تازی د سمندر ملخ ویل کیږي.

(۷) جینګا کب، حلال کب دی، بریتان یی اوږده وي، رنګ یی سپین ، اوذائقه یی ډیر خونده وروي(مخزن المفردات).

(۸) روبیان اسم مضرب من السمک (تذکره داود الطاکی).

(۹) الاربیان جینګا کب (الـمنجد اردو ص ۵۲ مطبع مصطفائیه).

(۱۰) که جینګا د کب له اقسامو څخه وي نوبیا مباح دی، لیکن دځه شک په وجه په دی کی شبه او تردد پیداشوی دی، خو صحیح خبره داده چی دامباح دی. (عین الهدایه ج ۴ ص ۱۷۳).

دحکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله فتوه:

د ماهی روبیان (جینګا) حکم:

(خـواب) په دی خبره خو دټولو اتفـاق دی چـې هرقسـم کـب حـلال دی، اوس شـک صرف په دی کی دی چې جینګا کب دی اوکه نه، لدینـه دانـه ثابتیـږي چـې دکـب د خصوصیت د نشتوالي له کبله له کب توب نه وویستل شي.
مدار، دعدول او مبصرینو په معرفت باندی دی، که چیرته په مبصرینو کـی اخـتلاف وي نوپه حکم کی هم اختلاف راځي، له همدی کبله په جزیث کی امـام محمـد رحمـه الله مخالف دی کمانقله الشامی. په دی وخـت لـه ماسـره د دمـیري حیـواه الحیـوان چـې دحیواناتو دماهیت بحث پکی هم شته موجود دی، په دی کـی دا وضـاحت او تصـریح ده چې : ((الروبیان هو السمک صغیر جداً) اوپه دی کی دمقبول نه کیدو هیڅ وجه نشته پس داد حلت مقتضی ده. محزن هم چې د ادویاتو بحث پکی شته په دی کی کـه څـه هم له ماهي نه تعبیرول حجت نه دی مکروراندی دیته حلال ویل پـه دی بانـدی صـفا قرینه ده چې دایی دکبانو په ماهیت کی شامل کړی دی. پس لدینه نور هم تائیـد وشـو په هرحال په دی وخت زه مطمئن یم چې داد ماهیانو له جملې څخـه دی. ولعـل الله یحدث بعد ذلک امراً والله اعلم ۱۱ ذیقعده ۱۳۲۴ هـ ج ۲ ص ۱۷۷(امـداد الفتـاوی ج ۴ ص ۱۰۱).

همدارنګه (۵۸ سوال):

(سوال) دلرتي خوړل څنګه مکروه دی اود دریابی جینګا خوړل چې دلتـه پـه مـدراس کی ډیر زیات خوړل کیږي څه حکم لري؟
(خـواب) فقهاو لرې د غوښې په حکم کې لیکلی دی کمافی رد الـمختار (ص ۲۰۹) پـه درمختار او نورو ټولو کتابونو کی دهرقسم کبانو ته حلال ویلي دي، اودکب کیدو اعتبـار دعدول مبصرینو په اخبارباندی دی. په حیوات الحیوان کی جینګاتـه کـب ویـل شـوي دي،لهذا لری او جینګا دواړه حلال دي، دجینګا په لفظ باندی شبه ونکـړی شـي. لکـه چې دمار ماهي دحلت لپاره حلت مطرح دی اودمارپه لفظ سره پدی کـی شـبه نـه ده شوی. ۹ رجب ۱۳۳۲ هـ تتمه ثالث ((امداد الفتاوی ج ۴ ص ۱۰۲).

دحضرت علامه عبدالحی لکهنوي رحمه الله فتوه:

جینګا چې ورته اربیان هم ویل کیږي لکه چې له صحاح او نورو نه معلومیږي حلال دی ځکه چې دادکبانو له جملې څخه یوقسم کب دی اوهرقسم کب بالاتفاق حلال دی، کومو کسانو چې ورته حرام ویلي دي، هغوی دجینګا په نوم نه دي پوه شوي اودایې دکبانو له اقسامو څخه خارج ګڼلی دی، حال داچې داسې نه ده، په حمادیه کې دي: الدودي الّذی یقال له جهینکه حرامٌ عندٰ بعض العلماء لانه لایشبه السمك فانما یباح عندنا من صیدالبحر انواع السمك وهذا لایکون کذلك وقال بعضهم حلالٌ لانه یسمَّی باسم السَّمك والله اعلم.

حرره (علامه) محمد عبدالحی عفا الله عنه (مجموعه فتاوی قدیم ج ۱ ص ٦٥).

ترجمه : په حمادیه کی دي: چینجې چې ورته جهینکه ویل کیږي، دځینو علماو په نزد حرام دی هغوی وایې چې ددریاب ښکار چې دکبانو له جملې څخه دی حلال دی اودا دماهیانو له جملې څخه نه دی، حال داچې داسې نه ده، اودځینو علماو تحقیق دادی چې جهینکه حلال دی ځکه چې دیته کب ویل کیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

بطخ حلال دی اوکه حرام:

(۱۲۰ سوال) دبطخې خوړل څنګه دي؟ ځینې وایې چې ددی دحلالولو نه وړاندی چې پښې کښ کړی شي نو حلالیږي. ایا ددی دحلالولو همدغه مخصوصه طریقه ده؟ اودا خیال صحیح دی؟ بینوا توجروا.

(ځواب) دبطخ خوړل حلال دي په فتاوی عالمګیری کی دي:

ومالامخلب له من الطیر والمستأنس منه کالدجاج والبط والمتوحش کالحمام والفاختة والعصافیر والقبج والکرکی والغراب الذی یاکل الحب والزرع ونحوها حلال کذافی البدائع (عالمگیری ج ٦ ص ١٩٤ کتاب الذبائح الباب الثانی فی بیان مایؤکل من الحیوان الخ).

اوددی دذبحې طریقه همغه ده چې دچرګانو دی. فقط والله اعلم بالصواب ۲۱ ذیقعده کال ۱۴۰۱ هـ.

ایادخرگوش غوښه حلاله ده اوکه نه؟

(۱۲۱سوال) خرگوش داسی ځناور دی چی یوازی وابنه او دانې خوري، مردار اونجس شیان نه خوري او نه هم بل ځناور ځانته ښکارکوي، خرگوش په دوه قسمه دي یو هغه چی پنجې یې نه وي.(۲) هغه چی پنجې لري، کروگانو والا خرگوش زمونږ په وطن کی نشته صرف پنجه لروونکي خرگوشان موجود دي لیکن دا پخپلو پنجو خوراک نه کوي مردار څیزونه هم نه خوري، دواړه قسمه خرگوشان حلال دي اوکه نه؟ بینوا توجروا.(راندیر).

(ځواب) دواړه قسمه خرگوش حلال دی په حیوات الحیوان کی دي:

(یحل اکل الارنب عندالعلماء کافة . یعنی دټولو علماو په نزد دخرگوش غوښه حلاله ده.(حیواة الحیوان ج ۱ ص ۱۹). په آخري هدایه کی دي:

ولابأس باکل الارنب لان النبی صلی‌الله علیه وسلم اکل منه حین اهدی الیه مشویاً وامراصحابه رضی‌الله عنهم بالاکل منه ولانه لیس من السباع ولامن اکلة الجیف فاشبه الظبی.

یعنی دخرگوش دغوښې په خوړلو کې هیڅ حرج نشته ځکه چې کله محمدصلی‌الله علیه وسلم ته ددی سره کړې غوښه پیش کړی شوه نو هغه صلی‌الله علیه وسلم ترینه وخوړه او اصحابو کرامو ته هم ددی د خوړلو حکم ورکړ. خرگوش نه درنده دی اونه مردار شیان خوړوونکې، داله غرڅنی سره مشابه دی نوځکه ددې په حلال والي کی هیڅ قسم شک نشته. (هدایه اخیرین ص ۴۲۳ کتاب الذبائح).

په درمختار کی دي: (وحل غراب الذرع) الّذی یأکل الحب (والارنب)(درمختار ج۵ ص ۳۶۸ کتاب الذبائح). فقط والله اعلم بالصواب.

د نر وزگړي خصیې (خوټې) خوړل حرام دي:

(۱۲۲ سوال ، دنرمال د خوټو خوړل حرام دي، ستا په فتاوی رحیمیه کی چی کومه فتوه ده هغه مونږ یوسړي ته وښوده، خو هغه وایی چی پدی کی دفقهی دکوم کتاب حواله نشته ستاسی له حضور نه هیله ده چی د فقهې دکوم کتاب حواله ورکړئ نو ډیره به ښه وي ځکه چې هغه لدینه پرته منلو ته تیارنه دی.

(خواب) دنرمال د خوټو خوړل حرام دي. دفقهي په کتابونو کې په صراحت سره موجود دي لکه چې په شامي کې دي:

مایحرم اکله من اجزاء الحیوان الماکول سبعة الدم المسفوح والذکر والانثیان والقبل والغدة والمثانة والمرارة ، بدائع (شامی ص ۲۷۱ ج۵ (قبیل کتاب الاضحیة).

په درمختار کې دي: (کره تحریماً) من الشاة سبع الحیاء (هوالفرج) والخصیة والغدة والمثانة والمرارة والدم المسفوح والذکر) للاثر الوارد في کراهة ذلك وجمعها بعضهم في بیت واحد، فقال .

فقل ذکر والانثیان مثانة

کذلك دم ثم المرارة والغدد

(درمختار مع رد المحتار ۵/ ٦۵۵، مسائل شتی قبیل کتاب افرائض).

په بدائع الصائع کې دي: (فصل) واما بیان مایحرم اکله من اجزاء الحیوان الماکول فالذی یحرم اکله منه سبعة الدم المسفوح والذکر والانثیان والقبل والغدة والمثانة والمرارة لقوله عز شانه یحل لهم الطیبات ویحرم علیهم الخبائث وهذه الاشیاء السبعة مماتستخبثه الطباع السلیمة فکانت محرمة وروی عن مجاهد رضی‌الله عنه انه قال کره رسول الله صلی‌الله علیه وسلم من الشاة الذکر والانثین والقبل والغدة المرارة والمثانة والدم فالمراد منه کراهة التحریم بدلیل انه جمع بین الاشیاء لستة وبین الدم فی‌الکراهة والدم المسفوح محرم الخ (بدائع الصنائع ٤/٦١ کتاب الذبائح والصیود). ففط والله اعلم بالصواب.

دخاروي په اووه و حرامو شیانو کې دنرمال ذکر (اله تناسل) شامل دی اوکه نه؟

(۱۲۳سوال) په فتاوی رحیمیه کې دخاروي اووه شیان حرام شوي دي په دی کې د ماده مال فرج هم شامل دی، ایاد نرمال ذکر هم په حرامو څیزونو کې شامل دی اوکه نه؟ په فتاوی رحیمیه کې ددی یادونه نه ده شوی.

بل داچی له حرام مغزنه څه شیز مراد دی، ایا غدود او حرام مغز دواړه یوشیز دی اوکه جلا جلا مهرباني وکړئ ځواب راکړئ. (بینوا توجروا).
(ځواب) تاچی دفتاوی رحیمیی دکومې فتاوی یادونه کړی ده په هغه کی دماشین د غلطی په وجه ځینې عبارتونه پاتی شوي دي خو په وروستي چاپ کی داعبارتونه شامل کړی شوي دي چی په لاندی ډول دي:
(ځواب) دحلال څاروي اووه شیان حرام دي، لکه ذکر، فرج، مثانه، غدود یعنی حرام مغز چی دملا په مهرو کی وي، خصیه، تریخې چی لړمون سره نښتی وي اوبهیدونکی وینه حرامه ده لدینه علاوه نور ټول شیان حلال دي، مګرپه ځینو روایتونو کی دتریخی کراهیت راغلی دی. او تنهزیی کراهت باندی حملوي. فقط والله اعلم بالصواب.
بنده رشید احمد ګنګوهي (فتاوی رحیمیه ص ۲۲۳ ج ۲).
له پورتني عبارت نه معلومیږي چی په حرامو شیزونو کی دنر ذکر هم داخل دی. اوله حرام مغز نه هغه غدود مراد دي چی دملا په مهر کی وي فقط والله اعلم بالصواب.

کوم ماهی چی دآفت په وجه مړشي هغه حلال دی :

(۱۲۴_ سوال) د باروتو له کیمیکل څخه یو شیز جوړولی شي چی دګجرات خلک ورته طوطا وایی، داشیز دکانو ماتولو لپاره استعمالیږي، که داپه اوبو کی واچول شي نو ددی په اواز سره کبان داوبو په سر راځي لدینه وروسته کبان نیول کیږي، که ونه نیول شي نو لږ وخت وروسته مړه کیږي نودداسی کب خوړل څنګه دي حلال او که حرام؟
(ځواب) کوم کب چی دڅه آفت په وجه مړشوی وي هغه حلال دی اوکوم کب چی پخپل مرګ مړشي اود اوبو په سر اولته روان وي نو هغه حلال نه دی. په درمختار کی دي: (ولا)یحل حیوان مائی الا السمك) الذی مات بآفة ولو متولداً فی ماء نجس ولو طافیة مجروحة وهبانیة (غیر الطافی) علی وجه الماء الذی مات حتف انفه وهو مابطنه من فوق فلو ظهره من فوق فلیس بطاف فیؤکل کمایوکل مافی بطن الطافی ومامات بحر الماء او برده وبربطه فیه او القاء شئ فموته بافة وهبانیة.
په شامی کی دي: وانما قال العلامة عبدالبر الاصل فی اباحة السمك ان مامات بآفة یوکل ومامات بغیر آفة لایوکل (قوله اوالقاء شئ) وکان یعلم انها تموت منه قال فی

الـــمنح لو اكلت شيئا القاه فـــي الـــماء لتأكله فماتت منه، وذلك معلوم اه.(درمختار و شامی ص ۲٦۷ و ص ۲٦۸ ج٥، كتاب الذبائح).
نوپه مسئوله صورت کی که چیرته دباروتو دبم په وجه کب مړشـي نـو حـلال دی ځکـه چی دبم د چاودیدو په وجه مړشوی دی نه پخپل مرګ فقط والله اعلم بالصواب.

دلري خوړل څنګه دي؟

(۱۲۵ سوال): زمونږ په علاقه کی یوسړی وایی چـی دخـارویو لـری خـوړل حـرام دی، اوخپل داخبره یو عالـم په طرف منسوب،ي، هغه وایی: تاسی چی لري تـه حـلال وایی صحیح نه ده، تاسی مهرباني وکړئ په دی باره کی وضاحت وکړئ چـی دلـري خـوړل حلال دی اوکه حرام؟ بینوا توجروا.
(ځـواب) فقهاو دخاروي اووه شیان حرام ګرځـولي دي پـه دغـو اووه شـیانو کـی لـرې شامل نه دی‌لهذا دا حلال دی، کوم خلک چـی دیتـه حـرام وایی دلیـل دی وړانـدی کړي په امدان الفتاوی کی دي:

(۷۸سوال) ایاذخارویانو لري حلال دی اوکه نه:

(ځـواب) لرن ځکه حلال دی چی په دی کی دحرمت څه وجه نشته، فقهاو چـی کـوم حرام شیان بیان کړي دي داله هغوی نه نه دي، دغه اووه شیان د درمختـار پـه مسائل تستی کی بیان شوي دي. (الـــحیاء والغدة والخصـــیة والـــمثانة والـــمرارة والـــدم الـــمسفوح والذکر امداد الفتاوی ص ۱۰۲ ج مطبوعه پاکستان.)
(دحرامو څیزونو حلال، حرام، مکروه او مباحو څیزونو بیان) فقط والله اعلم بالصواب.

كتاب الحظر والاباحة

باب الحجاب (دپردی په اړه بحث)

(۱۲٦ سوال ، په اسلام کی دښځو لپاره دپردی حکم دې، د محمد صلی‌الله علیه وسلم اود اصحابو کرامو په زمانه کې به ښځو پرده اوسترکاو. ایاله خپل استاذ او پیرنه پرده پکار ده اوکه نه؟ دقرآن او حدیث په رڼا کې ځواب راکړئ. (مؤذن عبدالغفار).

(ځواب) له څه شک اوشبهی نه پرته په اسلام کی له نامحرمو سړو څخه چې نکاح ورسره کیدای شي پرده اوسترکول ضروري ګرځول شوي دي. که چیرته دپردی حکم نه وای موجود نو دابه دشریعت یو نقصان و، دانبیاء علیهم السلام په تهذیب کی له همیشه نه پرده داخله وه. بی ستري دهغو قومونو دستوردی چی دنبوت له رڼانه محروم دي، نامحرم استاذ وي یا پیر له ټولو نه پرده اوستر کول واجب دي. البته له شیخ فانی او فانیه ښځه چی دنکاح واده لائقه نه وي جذبات یی ختم شوی وي شهوانی قوتونه یی له منځه تللي وي هغوی له ستر نه مستثنی دي. په مجالس الابرار کی دي:

فالمرأةُ کلما کانت مخفیة من الرجال کان دینها اسلم، یوه ښځه چی له سړونه څومره پټه وي همغومره دین یی سالم او محفوظ پاتی کیږي (م ۹۸ ص ۵٦۳).

له محمدصلی‌الله علیه وسلم نه به زیات بل څوک مقدس وي؟ له هغه صلی‌الله علیه وسلم نه ښځو صحابیاتو ستره کوله ، البته ځینې ښځې چی به لوڅ مخ راتلی هغه دضرورت په وجه وه.

دعائشی رضی‌الله عنها بیان دی چی یوی ښځې محمد صلی‌الله علیه وسلم ته خط راوړی و هغه یی دپردی له شانه ورته ورکړ (ابوداود، نسائی، مشکوات) ټولي ښځې د محمد صلی‌الله علیه وسلم روحاني لورګاني دي اوپخپله محمد صلی‌الله علیه وسلم معصوم و، دهیڅ قسم شک اوشبهی پکې ځای هم نه و، لیکن ددی باوجود ورته د پردی کولو حکم و، همدغه راز دمحمد صلی‌الله علیه وسلم ازواج مطهرات دمسلمانانو مورګانې وې، لکه چی الله فرمایی : ((و ازواجه اماتهم)) مګرددی سره سره دالله تعالی فرمان دی : ((وقرن فی بیوتکن ولاتبرجن تبرج الجاهلیة الاولی)). یعنی پخپلو کورو کی کینئ اود جاهلیت د زمانې پشان بی پردی مه ګرځئ. (سوره احزاب).

همدغه راز دقرآنکریم په بل آیت کی فرمایی :

يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ.

اى نبى ! تاسى خپلو ښځو، خپلو لورګانو او نورو مسلمانانو ښځـو تـه وواپـه چـى خپـل څادرونه پرمخ واچوي، يعنى دڅادر څه حصـه پرمخونـو بانـدى ځوړنـد كـړي ترڅوله سرسره مخ هم پټ شي. په داسى كولو سره ژر پيژنـدل كيـږي او آواز ورتـه نـه وركـول كيږي. (بيان القرآن).

مطلب داچى، وينځې په ښكاره مخ ګرځي اوشريعت پرهغوى مخ پټول نه دي لازم كړي اوشريران هغوى آزار وي، نو پر آزادو اوشريفو ښځو باندى لازم دي چـى خپـل مخونـه پټ كړي په دى سره په آسانى سره هغوى پيژنـدل كيـږي اوشـرير خلـك ددغـو بـاعزتو ښځو د تنګولو همت نشي كولې، د پاملرنې وړ خبره داده چـى قرآنكـريم نقـاب اوپـرده دشريعت او عزت نښه ګرځولې ده، ددى برعكس بى پردګي او بى حجابي دهغو خلكو علامت ګرځولى دي چى دعزت او شرافت نه محروم اوبى آبرو دي. (معاذ الله).

همدغه راز الله تعالى فرمـايي: ((واذا سئلتموهن متاعاً فاسئلوهُنَّ من وراء حجـــاب))
يعنى كله چى، تاسى د پيغمبر عليه السلام له ښځو نه كوم سامان غواړئ نو هغـه لـه بـاهر نه د پردى له شانه وغواړئ، داطريقه ستاسى اودهغوى د زړونو دپاك پاتى كيدو بهترينـه ذريعه ده. (احزاب).

له احاديثو نه دحجاب ثبوت:

(۱) دمحمد صلى‌الله عليه وسلم ارشـاد دى : عن ابن عمر عن النبى صلى‌الله عليه وسلم ليس للنساء نصيبٌ فى الخروج الا مضطرة روه الطبرانى فى‌الكبير.

يعنى ښځوته له خپلو كورونو څخه د وتلو حق نشته، ليكن هغـه وخـت وتلـى شـي چـى مجبورى وي (طبرانى).

(۲) الـــمرأةُ عورةٌ فاذا خرجت استشرفها الشيطن.(ترمذى شريف ج۱ص۱٤۰).

يعنى ښځې لپاره ستر ضرورى دى، څكه چى كله هغه بيرون اوځي نوشيطان هغـه پـسى كيږي. په كوڅو او بازارونو كى دداسى شيطانانو هـيڅ كمـى نشته. نوځكـه ښځـې تـه پكاردي چې له ضرورت نه پرتـه لـه كـوره ونـه اوځـي. آن چـى لمـونځ لپـاره دى هـم مسجدونو ته لاړى نشـي. بيشـكه دمحمدصـلى‌الله عليـه وسـلم پـه زمانـه كـې ښځـو تـه مسجدونو ته دتللو اجازه وه، ليكن ورسره دا هدايت هم وركول شوى و چى: ((بيـولهن

خیلهن)) دهغوی کورونه دهغوی لپاره مسجد ته له تللونه ښه دي. (مشکوات شریف ص ۹۶ باب الجماعه).

له احادیثو نه ښرګندیږي چې محمد صلی‌الله علیه وسلم پخپل آخري عمر کې ښځو لپاره داخوښول چې مسجدونو ته لاړې نشي، او ځینو جلیل القدرو اصحاب، خپلې ښځې له مسجدونو نه بندې کړې وې.

عـن ام حمید، امرأة ابی حمید الساعدی رضی‌الله عنها انها جاءت الی النبی صلی‌الله علیه وسلم فقالت یارسول الله انی احب الصلوة معك، قال قد عملت انك تحبین الصلوة معی وصلوتك فی بیتك خیرمن صلوتك فی حجرتك، وصلوة فی حجرتك خیرمن صلوتك فی دارك وصلوتك فی دارك خیرمن صلوتك فی مسجد قومك وصلوتك فی مسجد قومك خیر من صلوتك فی مسجدی قال فامرت فبنی لها مسجد فی اقصی شئ من بیتها واظلمه کانت تصلی فیه حتی لقیت الله عزوجل رواه احمد وابن خزیمة وابن حبان فـی صحیحهما (ترغیب ترهیب ج ۱ ص ۱۸۷)؟.

ترجمه: دابو حمید ساعدی ښځه بي بي ام حمید رضی‌الله عنها روایت کوي چې زه د محمد صلی‌الله علیه وسلم په خدمت کې حاضره شوم اوپوښتنه مې ترینه وکړه چې یارسول الله! زما ډیر شوق دی چې تاپسې لمونځ ولولم. هغه صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل ته صحیح وایې، لیکن ستالمونځ ستاله صحن نه په بنده کوټه کې زیات بهتر دی.اود احاطې لمونځ دمحلې دمسجد لـه لمونځ نـه غوره دی، اود محلې دمجسد لمونځ زمونږ مسجد (نبوی مجسد) کې له لمونځ لوستلو نـه افضل دی. پس ام حمید رضی‌الله عنها فرمایش وکړ چې دخپلې کوټې آخري کنج چې هلته ډیره تیاره وه دلمونځ دلوستلو لپاره ځای جوړکړای او هلته به یې لمونځ اداکاوه ، تردې چې له دنیانه رخصته شوه، اوخپل حقیقی خالق سره یوځای شوه. (ترغیب ترهیب ص ۱۸۷).

کله چې دعمر رضی الله عنه په زمانه کې دښځو په حالت کې بدلون راغی، دښه لباس زینت، خوشبو او نورو شیانو داستعمال رواج پیداشو نو عمر رضـی الله عنـه هغـه ښځې چې مسجدته راتللې منع کړې، نولو اصحابو دهغه داکار ډیرخوښ کړ او هیچا ورسره اختلاف ونه کړ. خینو ښځو عائشه رضی‌الله عنها ته شکایت وکړ، عائشې رضی‌الله عنها هم دعمر رضی‌الله عنه ددغې‌فیصلې حمایت وکړ او ویې فرمایل: لوادرك رسول الله مـا

احدث النساء لَمَنَعَهن الـــمسجد كما منعت نساء بني اسرائيل. يعنـي كـه چيرته محمد صلی الله عليه وسلم هم دغه کارونه ليدلی وای چی نن سبانبځو ايجاد کـړی دي نو هغه صلی الله عليه وسلم به ښځې مسجد ته له تللو نه منع کړی وی لکـه چــی دبنی اسرائيلو ښځې منع کړی شـوی وی. (بخـاری ج ۱ ص ۱۲۰). بـاب خـروج النسـاء الـی المساجد الخ صحيح مسلم ج ۱ ص ۸۳ ايضاً.

دبخاری شرف شرح عينی کې دی چی حضرت عمر رضی الله عنه دجمعی په ورځ ودريد اوپرښځو به يې گټکی ورولی اوله مسجدنه به يې شړلی (عينی شرح بخاری).

نوځکه فقهای کرامو هم مسجد ته دښځو د ورتللـو مخالفـت ليکلـی او مکـروه يې ورته ويلـي دي. ويـــکره حضورهن الجماعة ولو بجمعةٍ وعيدٍ ووعظٍ مطلقا ؤلو عجوزاً ليلاً علی الـــمذهب المفتی به نفساد زمان.

يعنی په مسجد کی دښځو راتلل اوجمع کيـدل مکـروه دي اگرچــی دجمعـی، اختـر او دوعظ مجلس هم وي، برابره خبره ده چی ښځه ځوانه وي يا بوډۍ، شپه وي يـا ورځ، دزمانې دفسادپه وجه مفتی به مذهب همدادی. (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۵۲۹ باب الامامه).

محمد صلی الله عليه وسلم خپلې ښځې له يو وړوند اصحابي نه دستر کولو حکم وکړ، ام سلمه رضی الله عنها فرمـايی چــی زه او ميمونـه دواړه دمحمدصـلی الله عليـه وسـلم په خدمت کی حاضر وو چی يو وړوند اصحابی عبدالله ابن مکتـوم رضـی الله عنـه تشريف راوړ. محمد صلی الله عليه وسلم مونږ ته حکم وکـړ چــی پـرده وکـړو. مـاعرض وکـړ ايا داداسی وړوند نه دی چی مونږ نه ويني؟ محمد صلی الله عليه وسـلم فرمايـل: اياتاسی هم ړانده يئ اياتاسی هغه نه وينئ.

عن ام سلمة انها كانت عندرسول الله صلی الله عليه وسلم وميمونه اذا قبــل ابــن م مكتوم فدخل عليهما فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم احتجبا منه فقلت يارسول الله! اليس هو اعمی لايبصرنا؟ فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم افعمياو ان انتمـا الستما تبصرانه. (مشکوة شريف ص ۲۶۹ باب النظر الــی الــمخطوبة).

همدغه راز محمدصلی الله عليه وسلم فرمايی چی ښځه دشيطان په شکل کـې مخـې ته راځي اودشيطان په صورت کی بيرته ځي. يعنی کلـه چـې ښځـه مخامخـه وي نـو هـم

دسړي په زړه کې وسوسه پیداکوي اوشیطان پشان بدخیالونـه پـه زړه کـې آچـوي او چې کله ښا اړوي او روانیږي نوداحصـه یې هـم شـهوت راپـاروي او شـیطان تـه موقـع پیداکوي چې نفس گمراه کړي. (مشکوات ص ۲٦۸ باب النظر الـی المخطوبه).

(۴) دمحمدصلی‌الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی:

العینان تزنیاں، وزناهُما النظر، واذنان تزنیان وزناهُما الاستماع، واللسان زناه الکـلام (الحدیث).

یعنی‌سترګې زناکوي اودهغوی زنا بل چاته کتل دي او غوږونـه زنـا کـوي دهغـوی زنـا دپردی ښځې آواز اوریدل دي او ژبه زنا کوي دده زنا له پردیو نامحرمو ښځـو سـره پـه شهوت سره حبرې کول دي.

لاس هم زناکوي دهغه زنا دغیر محرمو ښځو لاس نیول دي. پښې هم زنـاکوي اودهغـه زنا داده چې محرمونبځو ته په بدی ارادی سـره تلـل دي، زړه خـواهش اوتمنـا کـوي اوشرمګاه دهغه تصدیق او یا تکذیب کوي. مسلم شـریف ج ۲ ص ۳۳٦ بـاب قـدر علـی ابن ادم حظه من الزنا وغیره (ابوداود شریف ج ص ۲۹۹).

(۵) محمدصلی‌الله علیه وسلم خپله ښځه سوده رضی‌الله عنهـا دهغـه ورور چـې دپـلار د وینځې له ګیډې څخه و ستره کړی وه، هغه دعتبه مشابه و[1] هغه خپل ټول عمر له سـوده رضی‌الله عنه سره ونه لیدل. (بخاری شریف ص ٦۱٦ باب مقام النبی صلی‌الله علیه وسلم بمکه زمن الفتح).

---

[1] – دجاهلیت په زمانه کې یو رواج داهم و چې دبل چاله وینځې سره دناجائز تعلق په وجه به چې کوم ماشوم پیداکیدو که دغه سړی به دعوه وکړه چې دازما ماشوم دی نو هغه ماشوم به دهغه منل کیده اودهغه دنسبت پـه نـوم به یادیده. حضرت سعد بن ابی وقاص رضی‌الله عنه ورور عتبه بن ابن وقاص حضرت سعد ته وصیت کړی و چې د زمعه له وینځې نه کوم ماشوم پیداشوی دی هغه زما دی ، هغه ترینه واخله، زمـه دحضرت سوده رضی الله عنه پلار و. عتبه خود کفر حالت کې مړشو دمکې لـه فتحې نـه وروسته دامقدمـه محمد صلی‌الله علیـه وسلم تـه پـیش کړی شوه ، دحضرت سعد مطالبه داوه چې دا ماشوم باید ماته حواله کړی شي. زمـا ورور ماتـه وصیت کړی و چـې داد هغـه لـه صلب څخه دی، د حضرت سوده رضی‌الله عنهـا د ورور غوښتنـه دا وه چې دازمـاد پـلار د وینځې لـه ګیډې څخه دی، لهذا دا باید ماته راکړی شي. محمد صلی‌الله علیـه وسلم دحضرت سوده دورور مطالبـه ومنلـه او دعتبه زوی ونه منل شو. دزنا په وجه نسبت نه ثابتیږي، مګرځرنګه چې دا ماشوم د عتبـه پـه شـکل اوصـورت کـې و نو ځکه حضرت سودی ته ددی اجازه ورنکړه چې دهغه په وړاندی بی پردی شي حـال داچې حضرت سـوده رضـی‌الله عنها دعمر په لحاظ بوډۍ شوی وه.

محمد صلی‌الله علیه وسلم او اصحابوکرامو په زمانه کی دپردی لوی اهتمام و لکـه چـی په احیاء العلوم کی دي:

والنساء یخرجن متنقبات یعنی ښځې به په نقاب او پـرده کـی بـیرون وتلـې (ج۲ ص ۴۸ احیاء العلوم الباب الثالث فـي المباشره).

که طبعی ضرورت اوشرعي ضرورت له کبله ښځه بیرون وتلوته مجبوره شي نوپرهغی لازم دي چی دقرآنی تعلیم او نبوي لارښودنی په نظر کـی نیولـو سـره دسـتر اوپـردی پـوره پوره اهتمام وکړي.

(۱) سترکې دی ټیټې ونیسي لکه چی آیت شریف دی: وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْـــنَ مِـنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ.

اوتاسی مسلمانو ښځوته ووایئ چـی خپـل نظرونـه ښکتـه ونیسـي اودخپلـو شـرمګاهونو دعصمت حفاظت وکړي اوخپل ښکلا او زینت دی نه ښکاره کوي. (سوره نور).

(۲) له پردی سره دی ووځي په قرآنکریم کی دي: يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِـــنْ جَلَـــابِيبِهِنَّ یعنی دخادرونو نقاب دی پرمخ باندی واچوي. (سوره احزاب).

حضرت عائشه رضی‌الله عنها فرمایی چی دحجة الوداع پـه وخـت کـی بـه کلـه خلـک زمونږ په وړاندی راتلل نو مونږ به پرمخ باندی دخادر څوکه راکش کوله، اوکله بـه چـی زمونږ له مخی نه اخوا شول نو مونږ به خپل مخونه لوځول.

(فـــاذا حاذوا بناسدلت احدانا جلبابها من رأسها علـــــی وجهـــا فـــاذا جاوزنـــا کشفناه(ابوداود شریف ج ۱ ص ۲۶۱ کتاب الـــمناسك باب الـــمحرمات تغطـــی وجهما).

(۳) کله چی ښځې بیرون اوځي نو ډول او سینګار دی نه کوي. پـه قرآنکـریم کـی دي: ولاتبرجن تبرج الجاهلية الاولـــی. یعنی دجاهلیـت د دسـتور پـه شـان دی پـه ډول او سینګار سره نه اوځي (سوره احزاب).

حافظ ابن همام فرمایی کوم ځای ته چی ښځو ته دتللـو اجـازه ده شـاید هغـه پـه دی وجه ده چی بی پردی اوډول وسینګار سره لاړی نشي. داسی هیئـت اوشـکل کـی دی لاړی شي چی سړو ته دهغوی پـه طـرف دکتلـو رغبـت پیدانشـي، ځکـه چـی الله پـاک فرمایی:

(ولاتبرجن تبرج الجاهلية الاولى) (مجالس الابرار ص ۵٦٣).
(۴) په زاړه برقعه او ساده جامو کی دی لاړی شي په حديث شريف کی دي:
ولکن يخرج رهن تفلات ، ليکن ښځې دی په زاړه اوساده جامو کې له کوره ووځي (ابوداود ج ۱ ص ۹۱ باب ماجاء في خروج النساء الى المسجد).
حضرت عمر رضی‌الله عنه وفرمايل: اعرو النساء يلزمن الحجال وانما قال ذلك لانهن لايرغبن في الخروج في الهيئة الرثة.
يعنی ښځو ته غوره لباس مه ورکوئ، هله به په کورو کی کيني، دایی ځکه وفرمايل چې ښځې په خرابو اوساده جامو کی بيرون وتلو ته زړه نه ښه کوي. (احياء العلوم ج ۲ ص۴۸ الباب الثالث في المباشره).
(۵) خوشبوی پاوډر او نورخه دی نه لګوي :په حديث شريف کی دي:
کل عين زانية، يعنی هر نظر چی په بدنيت سره وي زنادی، رښتيا چې کله ښځه خوشبولګولې وي او دسړو له څنګ نه تيريږي زاينه اوبدکاره ده. (مشکوات ص ٦٩ باب الجماعة وفضها).
په مجالس الابرابر کی دي که ښځه دضرورت په وخت کی دخاوند په اجازه له کوره بهر ووځي نوپه پرده کی دی لاړه شي کمزوری او ساده جامی دی واغوندي، په غير اباد لارو کی دی لاړه شي چی هلته دخلکو تګ اوراتګ کم وي، دبازار اوسړکونو په لاره دی حتی الوسه نه ځي، خوشبوی دی نه لګوي اوخپل ځان دی نه ښايسته کوي اوپه لاره کی دی له هيچاسره خبرې اترې ونکړي. (ص ۵٦۸).
وكان الحسن يقول اتدعون نساء كم ليزاحمن العلوفي الاسواق قبح الله من لايغار.
يعنی حسن بصري فرمايي چې ايا تاسې خپلی ښځې ، مورګانې او خويندی ديته پريږدئ چی بازاروته لاړی شي ؟ اوله کافرانو سره وسوليږي ، الله دی هلاک کړي هغه خوک چی غيرت نه لري ، احياء العلوم ج۲ ص ۴۸ الباب الثالث في اداب المباشره الخ).

٦_ په سفر کی له خاوند او محرم سره يو ځای والی : دمحمد صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی .

چې کومه ښځه پر الله اوقیامت په ورځ ایمان لري نو هغې لپاره جائز نه ده چې لـه ۴۸ میلونه زیات لاره ووهي مګره پدی صورت کې چې ورسـره دهغـې پـلار ، خاونـد ، ورور یابل کوم محرم ملګرې وي . (صحیح مسلم ج۱ ص۴۳٤ باب سفرا المـــرأة مـــع محرم الی حج وغیره)

په ځینو روایتونو کې دوه ورځې په ځینو کې یوه ورځ ، په ځینو کې یوه شپه ، پـه ځینـو کې فقط ددربو میلو حکم راغلی دی . داتفاوت دفتنې په اعتبار سره دی ، فتنـه او فسـاد چې څومره ډیره وي همدومره داحتیاط ضرورت دی .

حضرت فاطمه رضی الله عنها اودهغی ستر:

له حضرت فاطمه رضی الله عنها څخه پوښتنه وشوه چې ښځو لپاره له ټولو نه غـوره کـار څخه دی ؟ فاطمه رضی الله عنها وفرمایل داچې نه سترونه وګوري اونه سـړی هغـې تـه وګوري . محمد صلی الله علیه وسلم دهغی داځـواب ډیـر خـوښ کـړ اودعاګـانې ورتـه وکړې .

(مسند بزار ـ دارقطني ...)

دښځې په جنازه باندی چهتري او دځنبولو په وخت دقبر لـه څلـورو طرفونـو نـه پـرده کول دحضرت فاطمې رضې الله عنها ایجـاد دی . هغـی رضـی الله عنهـا د مړکیـدو پـه وخت وصیت کړی و چې زما جنازه دی پټ کړی شي ترڅـو پردیـو خلکوتـه زمادقـداو قامت او جسامت پته ونه لګیږي ، دهغی طبعی شرم او حیا داهم برداشـت ونکـړ ، حـال داچې جسم په کفن کې پټ وي اوله مړکیدونه وروسته جسم دشهوت محل هـم نـه وي پاتې شوی ، اوپه جنازه کی شریک خلک هم په هغه وخت غمژن وي اوزړونـه یـې مړه وي ، دالله ویره وربandی غالبه وي . یو طرف ته دمحمدصلی الله علیه وسلم دلور فاطمـه رضی الله عنها دومره زیات طـبعې شـرم او حیـاء ده بـل لـورې زمونـږ داوسـنې زمـانې دمسلمانو ښځو حالت دی چې په نریو جامو کې بې لستونې شلیدلې ګریوان اوپه زیـب سینګار کې بازارونو او پارکونو کې له سرو سره یوځای ګرځې وهي ډیری ښځـې داسـې هم شته چې ظاهراً خوبې جامې اغوستې وي مګر پـه حقیقـت کـې لـوڅې لغړې وي ، دنورو خلکوتوجه خپل طرف ته آړوي ، داسې ښځې دجنت لـه خوشـبوی نـه محـرومې دي .

(ولايخرجن الى الطرقات فان خروجهن بعد من عدم الغيرة فليزم لرجل ان يمنـــع زوجته عن الخروج من البيت ولا يأذن لها بالخروج الا فى مواضع مخصوصة وهل سبعة مواضع (۱، ۲) زيارة الابوين (۳ ، ٤) وعيادتهما (٥، ٦) وتعزيتـــهما او احدهما(۷) رزيارة المحارم وفى بيان العصبة فى حق النساء .(مجالس الابرار م ۹۸ ص ٥٦٢)

يعنى ښځې دى لارو كوڅو ته نه اوځي ، ځكه چى دهغوى داوتل په بې غيرتـي كې شمارل كيږي ، پرسړي باندى لازم دي چى ښځه له كورنه وتلـو تـه پـرې نـږدي ، مګـر دضرورت اوشرعي عذر په وخت كې دى ورته اجـازه وركـوي ، لكـه دمـور اوپـلار سـره ليدنه، دهغوى پوښته ، يادخفګان اوصدمې پـه وخـت كـې دلاسـه وركولـو لپـاره ، يالـه داسې خپلوانو سره چى محرم يې ورسره دملاقات لپاره تلل ،لكه ورور، خور ، ماما خالـه ، عمه اوداسې نور محرم خپلوان.

ياكومه ښځه دائيه وي ، يامړوته غسل وركوي اودخلكو ورته سـخت ضـرورت وي نـو پـه دى صورت كې هم باهر تللې شي ، لدينه علاوه دپردو خلكو سره تلـل يـادهغوى وليمـه اوډوډى ورتګ ورته جائز نه د ى، خاوند ورتـه بايـد اجـازه ورنكـړي اوكـه وركـړي نـو خاوند يې ګنهګار دي ، اجازه په غلي كيدو سره هم كيږي ، داچوپتيا هم يو قسم اجـازه ده ، له بدو حبرو نه منع كول دخاوند فرض دى اوپه غلې كيـدو سـره دافـرض تركيـږي اودفرض تركول ګناه ده .(ج۹۸ص ۵۲۲)

حضرت علامه شيخ ابن همام فرمايي كومو ځايونو ته چـې ښځـو تـه دورتـګ اجـازه ده هلته هم بايد په فيشن كې لاړه نشي ، بلكې داسې حالت كې دى لاړه شـي چـې سـړې ورته ونه وګوري ځكه چى الله تعالى فرمايي : (ولاتبرجن تبرج الجاهلية الاولى_) دجاهليت دزمانې دښځو پشان دى له كوره نه اوځي . (۹۸ ص ٥٦٢، ٥٦٨)

فالمرأة كلما كانت مخفية من الرجال كان دينها اسلم لما روى انه عليه السلام قال لابنته فاطمة اى شئ خير للمرأة قالت ان لاترى رجلا ولا يراها رجل فاستحسن قولها وضمها اليه وقال ذرية بعضها من بعض (۹۸ ص ٥٦٣.)

اصحابو كرامو په دكور دديوالوسورې بندول ترڅو سړوته ونه ګوري .

(مجالس الابرارم ۵۸ ص ٥٦٣ .) فقط والله اعلم بالصواب .

دښځو لپاره شرعي پرده :

(۱۲۷سوال) کومه ښځه چې له پردو خلکو سره په خندا خندا خبرې کوي او نـازونخرې ورسره کوي ، مګر خاوند ورته هیڅ نه وايـي او خپـل خـوښي وربانـدې ښکـاره کـوي ، نوداسې خاوند لپاره دشریعت څه حکم دی؟ ایا په شریعت کې ښځو لپـاره سـتر اوپـرده شته او که نه ؟ مفصل ځواب راکړئ بینوا توجروا.

ځواب: حامداً ومصلیا ومسلماً . ښځو لپاره پردی او سـتر حکـم پـه حقیقـت کـې دالهـي غیرت تقاضا ده ، که چېرته په اسـلامي شـریعت کـې دپـردې حکـم نـه وای نودابـه پـه شرعیت کې یو قسم نقصان و . له پردی نه هغه قومونه محروم دي چې دنبـوت لـه نـورو اورڼا نه محروم دي ، دمحمدصلی الله علیه وسلم ښځې دټول امت دمور په درجـه کـې دي ، مګر بیاهم هغوی ته دالله حکـم وچـې : ((وقرن في بیوتکن ولاتبرجن تـــبرج الجاهلیة الاولی))

یعنې تاسې پخپلو کورونو کې په آرام سره کینئ او دپخوانې زمـانې دجاهلیـت ددسـتور پشان ښکاره نه ګرځئ . (احزاب پاره نمبر ۲۲)

اصحابو کرامو ته چې ددی امت ډیر پاک خلک وو دالله داحکم و چې :

((واذا سالتموهن متاعاً فاسئلوهن من وراء حجاب ذلکم ازکی لکم واطهر))

یعنې کله چې تاسـې دمحمدصـلی الله علیـه وسـلم لـه بیبیـانو څخـه څـه څیـز غـواړئ نودپردې له شانه یې وغواړئ ، داکار همیشه لپاره ستاسې اودهغوی دزړونو دپـاک پـاتې کیدو لپاره غوره ذریعه ده . (سوره احزاب پاره نمبر : ۲۲)

دحضرت سلمه رضی الله عنها بیان دی چې زه او میمنه رضی الله عنها دمحمدصـلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر وو ، ګورو چې یو ړوند اصـحابي عبـدالله ابـن مکتـوم راغې ، محمدصلی الله علیه وسلم مونږ ته دپردې کولو اولدی ځای نه داخواکیدو حکم وکړ، ما محمد صلی الله علیه وسلم ته وویل : دابیچاره خو په دواړو سترګو ړونـد دی او مونږ نهویني ، محمدصلی الله علیه وسلم وفرمایل : ایـا تاسـې دواړه هـم ړانـده یـئ ؟ ستاسې سترګې خوروغې رښې دي او وربانـدی لیـدل کتـل کـولی شـئ . داروایـت پـه مشکوات شریف کې موجود دی :

عن ام سلمة انها كانت عند رسول الله صلى الله عليه وسلم وميمونة اذاقبل ابن ام مكتوم فدخل عليه فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم احتجبامنه فقلت يارسول الله اليس هو اعمى لايبصر نافقال رسول الله صلى الله عليه وسلم افعميا وان انتما الستما لاتبصرا نه (مشكوة شريف ص ٢٦٩ باب النظر الى المخطوبة)

دعائشې رضی الله عنها او حضرت سالم رضی الله عنه ترمنځ چې مخکې غلام و پرده نه وه دهغوی په نزد له غلام نه پرده کول ضروري نه وه ، يوه ورځ سالم راغې او ويې ويل زه الله پاک ازاد کړې يم ، عائشه رضی الله عنها ورته مبارکي وويل . حضرت سالم فرمايي چې لدغې ورځې نه وروسته حضرت عائشه بيا ما چېرته ونه ليدله .

په نسائي شريف کې داروايت نقل شوی دی :

قال سالم كنت اتيها مكاتباً ماتختفي من فتجلس بين يدي وتتحدث معى حتى جئتها ذات يوم فقلت ادعى لي بالبركة يا ام المؤمنين قالت وما ذالك فقلت اعـتقنى الله قالت بارك الله لك وارخت الحجاب دوني فلم ارها بعد ذلك اليوم.(نسائي شريف ج١ ص١٤ باب مسح المرأة رأسها)

دمحمدصلی الله علیه وسلم له خادم انس رضی الله عنه څخه روايت دی چې زه کله دبلوغت عمر ته ورسيدم يعنې دبلوغت اثار ښکاره شول ، نو سهار وختي دخپل بلوغت خبرمی وکړ، محمدصلی الله علیه وسلم وفرمايل :

ته نور ښځو حواته مه زه .

(انس رضى الله عنه .) لما كان صبيحة احتملت دخلت على رسول الله صلى اله عليه وسلم فاخبرته ، فقال لاتدخل على النساء فما اتى على يوم اشدمنه . (جمع الفوائد ج١ص٢٦٩ الغيرة والخلوة بالنساء والنطر اليهن)

له حضرت انس رضی الله نه پاک او نيک انسان بل څوک کيدلی شي ؟

دمحمدصلی الله علیه وسلم پاکې بيبيانې ددنيا غوره او مقدسې ښځې دي ، ليکن ددی باوجود دهغه صلی الله علیه وسلم خاص خادم باندی بنديز ولګاو او دپردې حکم يې ورته وکړ نن دفتنې په دی زمانه کې خلک ددغی خبرې په کولونه شرميږي چې دزړه صفايي پکار ده ، درسمي ستر اوپردې ضرورت نشته دزړه پرده پکار ده ، داښکاره په

شریعت باندې اعتراض دی . ایا ددغې زمانې خلکو زړونه دمحمدصلی الله علیـه وسـلم اودهغه صلی الله دښځو ، لورګانو او دهغه معتمد فرمانبردار او متقي خادم حضرت انـس رضی الله عنهم اجمعین نه زیات پاک کیدی شي ؟ نه هرګز نه .

له یو مشهور بزرګ شیخ نصیر آبادي رحمه الله څخه پوښتنه وشوه چې خلک دپردو ښځـو سره ناسته ولاړه کوي او وایي چې دهغوی په کتلـو کـې زمونـږ نیتونـه پـاک دي . هغـه وویـل : (مادامت الا شباح باقية فان الامر والنهى باقٍ والتحليل والتحريم مخاطب به)

یعنې ترڅو پورې چې انساني جسم باقي دی امر او نهي (شرعي احکام) هم بـاقي دي او تحلیل او تحریم ته مخاطب دی . (بوادر النوادر ص۷۰۲)

دنامحرمو ښځو اوسرو یوبل ته کتل دا زنا او فحش کاري لومړنې پایـه ده . پـه دې سـره دټول بی شرمي ، بې حیایي اوبدکاري دروازې خلاصیږي ، نو ځکه الله پـاک مسـلمانانو سړو او ښځو ته هدایت کړی دی چې لـه بـدنظرۍ نـه خپـل ځانونـه وسـاتي او خپـل نفساني خواهشات ختم کړي ، آیت شریف دی :

[قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّـهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ] (النور۳۰)

مؤمنانو ته ووایه چې خپل نظرونه ښکته واچوئ اوخپلو فرجونو ساتنه وکړئ داستاسې لپاره دزړه دصفایي ذریعه ده . بیشکه الله تعالی دخپلو بنده ګانو له کـارو څخـه خبـردار دی ، همدغه راز دښځو په باره کې الهي ارشاد دی :

[وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ]

یعنې مومنو ښځو ته (هم) ووایه چې خپل نظرونـه ښکتـه وسـاتي اودخپلـو شـرمګاهونو ساتنه وکړي . (سوره نور پاره نمبر۱۸.)

علامه ابن کثیر ددغه آیت په تفسیر کې لیکي چې په دی آیت کې دمومنو ښځو دزړونـو دصفا یې اوپاکي لپاره ، اودمومنو سړو دغیرت لپاره ، اودمومنو ښځو دکفارو دښځو څخـه دممتاز کولو لپاره ، الله پاک احکـام نـازل کـړي دي لومړنې حکـم دادی چـی خپـل نظرونه ښکته وساتي ، یعنې نامحرمو سړوته ونه ګوري ، په احیاء العلوم کې دي :

وزنا العين من كبار الصغائر وهو يؤ دی علی القرب الی الكبيرة الفاحشة وهي زنا الفرج ومن م يقدر علی غض بصره لم يقدر علی حفظ دينه.

يعني دسترګو زنا په صغيره ګناهونو کې ترټولو لويه ګناه ده ، اودادلوی ګناه يعني دزنا سبب هم کيدی شي ځکه چې کوم انسان پخپل نظر باندی کنټرول نشي کولی هغه دخپل دين محفاظت هم نشي کولی .

(احياء العلوم ص۹۸ ج ۳ بيان ما علی المريد في ترك التزوج وفعله .)

دحضرت عيسی عليه السلام فرمان دی : (اياكم والنظر فانها تزرع فی القلب بشهوة وكفی بها فتنة ،) يعني له کتلو نه ځان وساته ، په دی سره په زړه کې دشهوت تخم پيداکيږي ، او دفتنې دپيداکيدو لپاره همدومره کافي دی .

(احياء العلوم ج۲ ص۹۸ بيان ماعلی المريد في تركه التزوج وفعله)

حضرت داود عليه السلام خپل زوی سليمان عليه السلام ته وويل : دزمري اومار پسې خولاړشه مګر دښځې پسې کله هم مه زه . ځکه چې داپه فتنه کې داخته کولو لپاره له زمري او مارنه هم خطرناکه ده .

وقال سعيد بن جبير انما جاءت الفتنة من قبل النظرة ، ولذلك قال لابنه يابني امش خلف الاسد ، والاسود ولاتمش خلف المرأة . (احياء العلوم ص۹۸ ج۳ ايضاً)

چاله حضرت يحی عليه السلام نه پوښته وکړه چی زنا له کوم ځای نه شروع کيږي . هغه عليه السلام وفرمايل نامحرمو ښځوته په کتلو او حرص کولو سره .

اودحضرت فضيل ويناده چی ابليس وايي : نامحرم ته کتل زما هغه زوړ غشي دی چی کله هم نه خطاکيږي او سيده په هدف باندی لګيږي .

وقيل يحی عليه السلام مابدء الزني قال النظر والتمنی . وقال الفضيل يقول ابليس هو قوسی القديمة وسهمي الذي لا أخطئ به يعنی النظر (احياء العلوم ص۹۸ ج۳ ايضاً).

یعني نامحرم ته کتل دابلیس له غشو څخه یو زهرجنه غشې دی ،هرڅوک چې داد الله له ویرې نه پریږدي الله تعالی هغه ته دایمان داسې رڼا ورکوي چې حلاوت یې پخپل زړه کې محسوسوي . (مشکواة شریف ص ۲٦۸ باب النظرالی المخطوبة)

همدغه راز په حدیث کې دي : عن جریر بن عبدالله قال سألت رسول الله صلی الله عیه وسلم عن نظر الفجاء فامرني ان اصرف نظري .

دحضرت جریربن عبدالله رضی الله عنه بیان دی چې له محمدصلی الله علیه وسلم نه مې په نامحرمې ښځې باندې دناگهانې نظرلګیدو په اړه پوښتنه وکړه نو هغه صلی الله علیه وسلم ماته حکم راکړ چې زه فوراً خپلې سترګې ترینه واړوم .

(مکشواة شریف ص۲٦۸ باب النظر الی المخطوبة)

همدغه راز په حدیث کې دي :

(قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لعلی لاتتبع النظرة النظرة فان لـــك الاولی ولیست لك الاخرة .)

له حضرت بریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمدصلی الله علیه وسلم علی کرم الله وجهه ته هدایت وکړ چې ای علي ! له یو ځل نظر لګیدو نه وروسته بل ځل ورته مه ګورد لومړنې نظر چې له ارادې نه پرته ولګیږي هغه دعفوی وړ دی ، دویم نظر اوکتل چې قصداً وي دمعافې وړ نه دی . (ابو داود ، بحواله مشکواة ص ۲٦۹ ایضاً)

احکام القران ددغه حدیث په اړه فرمایي :

((قال ابو بکر انما اراد النبي صلی الله علیه وسلم بقوله لك النظـــر الاولی اذا لم تکن عن قصد فاما اذاکانت عن قصد فهی والثانیة سواء)) .

یعنې له لومړی نظر نه هغه نظر مراد دی چې ناڅاپي له قصد نه بغیر وي ، لیکن کله چې له شرعي اجازې نه پرته قصداً وي نو څرنګه چې دویم نظر جرم دی ، همدغسې مخکینې نظر هم جرم او قابل مواخذه دی . (احکـام القران ج ۴ ص۳۸۵ ، سورة النور باب مایجب من غض البصر عن المحرمات)

په تفسیر مواهب الرحمان کې یو حدیث دی : ایا کم والجلوس علی الطرقات .

دمحمد صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک دی : خبردار! پـه لویـو لارو کـې مـه کینـئ اصحابو کرامو عرض وکړ یارسول الله لدینه علاوه خوبله چـاره نشـته . (ځکـه چـې لـین دین او تجارتي معاملات دي) محمدصلی الله علیـه وسـلم ورتـه وفرمایـل : کـه ډیـر مجبوریت وي نو په دی شرط درته اجازه ده چی دلارې حق اداکړئ ، اصحابو کرامـو پوښتنه وکړه دلارې حق څه شې دی ؟ هغه صلی الله علیه وسـلم وفرمایـل : نظـر ښکتـه ساتل له تکلیف رسولو نه ځان ساتل ، دسلام ځواب ورکول ، دنیکـي حکـم کـول اولـه بدي نه منع کول اوداسې نور .

تفسیر مواهب الرحمن ص ۱۵۷ ج٤ سوره نور تحت الاية قل للمومنين يغضومن ابصـــارهم ، دمسلم شریف ص ۲۱۳ ج۲ باب من حق الجلوس على الطرق ورد السلام .

په حدیث شریف کې دي چی : لعنه الله الناظر والمنظور اليه .

یعني دالله تعالی په هغو خلکو باندی لعنت دی چی نامحرمو ښځو تـه ګـوري او پرهغـه چاهم چې ورته وکتل شي . (مشكواة شريف ص ۲۷ باب النظر الى المخطوبة)

همدغه راز په یوبل حدیث کی دي :

((عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان المرأة تقبل في صورة شيطان وتدبر في صورة شيطان)).

یعنې نامحرمه ښځه چی مخې ته راځي نو دشيطان په شکل کې راځي اوچی بیرته شـاه اړوي او روانېږي نو بیا هم دشیطان په صـورت کـې وي . (مشکواة شریف ص ۲٦۸ ايضاً) .

دشهوت دپاروونکو جراثیمو څخه دمحفوظ کیدو لپاره الله تعالی لارښوونـه کړیـده چـی وقرن في بیونکن ، تاسې پخپلو کورونوکی کینئ . (احزاب پاره نمبر ۲۲)

اودمحمدصلی الله علیه وسلم ارشاد دی : ليس للنساء نصيب فى الخروج الا مضطرة.

یعنې ښځو ته پکار دي چې له خپلو کرونـو څخـه ونـه اوځـي مګـر دسـخت ضـرورت او اضطراري حالت کې . (یعنې هله چې طبعي او شرعي عذر ولري .)(طبراني)

حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمايي :

ان لا تخرج المرأة من بيتها الا لحاجة منها لا تجد منها بداً قال صلى الله عليه وسلم : المرأة عورة فاذا اخرجت استشرفها الشيطان.

یعنې له شدید ضرورت نه پرته دی ښځه له کوره ونه اوځي ، محمدصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

ښځه دپټولو ځیز دی ، کله چې هغه له کورنه اوځي نو شیطان هغی پسې کیږي او دخلکو په زړونو کې ګنده خیالات پیداکوي چې دهغې عصمت او آبروته نقصان رسوي.

حجة الله البالغة مع ترجمه نعم الله السابغه ص ٦٥ ٣ ج٢ من ابواب تدبير المنزل ذكر العوارت)

په مجالس الابرار کې دي :

فالمرأة كلما كانت مخفية من الرجان كانٍ دينها اسلم لما رويه انه عليه السلام قال لابنته فاطمة اى شيئ خير للمرأة قالت ان لاترى رجل ولا يراها رجل وستحسن قولها وضمها اليه وقال ذرية بعضها من بعض وكان اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم يسدون الثقب والكوى فى الحيطان لئلا تطلع النساء على الرجال ،

یعنې ترڅو پورې چې ښځه له سړونه پټه وي نودین یې محفوظ دی ، ځکه چې هغه صلی الله علیه وسلم خپل لورسیده فاطمه رضی الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې ښځې لپاره له ټولو نه دلوی خوبي او بهتري خبره څه ده ؟ عرض یې وکړ چې هغه پردو سړو ته ونه ګوري اونه هم پردي خلک دیته وګوري ، دهغیداځواب محمدصلی الله علیه وسلم ډیر زیات خوښ کړ او له خپل سینې سره یې ولګاوه او ویې فرمایل : چې اولاد یو دبل نه دی (یعنې دپلار اثر په اولاد کې هم راځي) اصحابو کرامو به هم دیوالونو سورې بنده وړل ترڅو ښځې سړوته ونه ګوري .

مجالس الابرار ص ٥٦٣ مجلس نمبر ٩٨.

په بل ځای کې فرمایي :

واما الغيرة في محلها فلابد منها وهي محمودة لماروى انه عليه الصلواة والسلام قال: ان الله يغار وان المؤمن يغار ، وغيرة الله ان ياتى المومن ماحرم الله عليه وفي حديث انه عليه السلام قال اني لغيور وما امرء لايغار الامنكوس القلب والطريق المغني عن

الغيرة ان لابد خل عليهن رجل ولا يخرجن الى الطرقات لان خرو جهن يعـــدمن عدم الغيرة فليزم للرجل ان يمنع زوجته عن الخروج من البيت ولا يـــاذن لهابـــا الخروج الا في مواضع مخصوصة وهي ماقال صاحب الخلاصة . نقلا عن مجمـــوع النوازل يجوز للزوج ان ياذن لها بالخروج الى ســـبعة مواضـــع زيـــارة الا بـــوين وعيادهما وتعزيتهما او احدهما وزيارة المحارم . الى قوله وان خرجت مـــن بيـــت زوجها بغير اذنه يلعنها كل ملك في السماء وكل شيئ تمر الا الا نـــس والجـــن فخروجها من بيته بيغر اذنه حرام عليها قال ابن الهمام وحيث ابيح لها الخـــروج فانما يباح بشرط عدم الزينة وتغيير الهيئاة الى مالا يكون داعياً الى نظـــر الرجـــال واستمالتهم.

ترجمه : او هغه غیرت چی پخپل ځای کې وي هغـه ضـرور پکـار دی ، ځکـه چـې پـه روایت کی دي چی محمد صلی الله علیه وسـلم وفرمایـل : بیشـکه الله غـیرت کـوي او بلاشبه مومن هم غیرت کوي ، دالله غیرت دادی چی مومن داسې کار وکـړي چـې الله وربائدی حرام کړی دی . اوپه یـو حـدیث کـې دي چـی محمدصـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل : زه لوی غیرتي یم ، اوداسې سړی نشته چې هغه غیرت ونه کړي ، مګر معکوس زړه والا (یعنې داسې سړې چی عقیده خرابه شوې وي) هغه طریقه چې سـړې لـه بـې عزتي نه وساني داده چې دښځو خواته څوک رانشئ ښځـې لاروتـه ونـه اوځـي . ځکـه چې دهغوی وتل په بې غیرتي کې حسابیږي : نو ځکه پرسړو لازم دي چې خپلې ښځـې له باهروتلو نه بندې کړي او دڅو مخصوصو ځایونو نه علاوه بـل ځـای تـه پـرې نـږدي دغه مخصوص ځایونه دخلاصة الفتاوی مؤلف په مجمع النـوازل کـې نقـل کـړی دي ، چی دادي : سړي ته جائز دي چی خپل ښځې اووه ځایونو تـه دتللـو اجـازه ورکـړي . (۱_۲) دمور اوپلار دملاقات لپاره (۳_۴) دهغوی دناروغي دپوښتنې لپاره (۵_۶) له هغـوی دواړو څخه دیو سره دتعزیت لپاره (۷) اودنورو محارمو ملاقات لپـاره ، همدغـه راز مـړي ته دغسل ورکولو لپاره هم اجازه ورکوې شي . اودائیې ښځې ته هم دبیرون وتلو اجـازه ده .... او که چبرته ښځه دخاوند له اجازې نه پرته بیرون لاړه نوداسمان اوزمکـې ټـول

ملائکې اوله کومو ځایونو څخه تیرېږي هغه ټول وربانديې لعنت کوي ، ماسواد انسان او پیریانو نه .
او علامه ابن همام فرمایلي دي چې کومو ځایونو ته دښځو دورتللو اجـازه ده نـو هغه په دې شرط سره دی چې ډول او سینګار ونه کړي ، اوپـه داسـې حالـت کـې دی لاړه شي چې سړوته هغې ته دکتلو رغبت پیدانشي . (مجالس الابـرار ص ٥٦٢ مجلـس نمبر ٥٨).

حضرت حسن بصري رحمه الله علیه به ویل :
ایا تاسي ښځې دیته پرېږدئ چې په بازارونو کې له کافرانو سره یو ځای څنګ په څـنګ لاړې شي او ځان ورسره وسـولوي ، الله تعـالی دهغـه څـوک هـلاک کـړي چـې غـیرت ونکړي .
((مذاق العارفین ــ ترجمه احیاء العلوم ص ۲٦ ج۲ وكان الحسـن يقـول اتـدعون نساء كم ليزاحمن العلوج في الاسواق قبح الله من لايغـار)) (احيـاء العلـوم ص ٤٨ ج٢ الباب الثالث في اداب المباشرة الخ)

داسې بې غیرته سړی دیوث دی ، په حدیث کې دي چې درې قسـمه خلـک پـه جنـت کې نه داخلیږي ، له هغوی نه یو تن دیوث دی ، پوښتنه وشوه چې دیوث څـوک دی! ارشاد یې وفرمایل : هغه څوک چې ددی خبرې پروانه لري چې دهغـه مـور او خـور ته څوک ګټ اوړاګټ کوي . (طبراني)
دفتنو ددغو دروازو دبنده ولو لپاره اسلامي شریعت په نظر بانـدې بنـدیز لګـولې دی او دحجاب کولو حکم یې ورکړې دی ، پردیوښځو ته په کتلو سـره نـاروا جنسـي مـیلان او مینه پیداکیږي اوداهم دزناکاري لومړنې زینه ده اودزنا اسبابونه دزنا په حکم کـې دي څکه په قرآن کریم کې تاکیدي حکم دی چې (لاتقربوا الزني) زنا ته مه نژدی کیږئ سوره بني اسرائیل پاره نمبر ۱٥ .
په رغبت او محبت سره نامحرمو ته کتل ، خبرې کول ، نژدی ورته کیناستیدل ، دهغوی خبرې اوریدل اوهغه لمسول داټول دزنا په درجه کې دي اوداټـول لومـړنې سـبب دی نوځکه الله تعالی لدینه دبچ کیدو حکم کـړی دی . پـه حـدیث کـې دي چـې سترګې زناکوي دهغوی زناکول بل چاته کتـل دي ، غوږونـه زنـاکوي ، دهغـوی زنادنـامحرمو ښځو خبرې آوریدل دي، نو څکه څوانـو ښځـو تـه جـائز نـه دي چـې پردیـو نـامحرمو

خلکوته سلام وکړي، ژبه زنا کوي دهغې زنا کول له پردو نامحرمو سره خبرې کـول دي لاس زناکوي دهغه زناکول له نامحرمو سـره لاس لګـول دي ، پښـې زنـاکوي دهغـوی زناکول تلل دي زړه خواهش او تمنا کوي او شرمګاه دهغه تصديق کوي یاتکذیب .

لعينا زنا هما النظر ، والاذنان زناهما الاستماع ، واللسان زناه الكلام واليدان زناهما البطش ، والرجل زناهما الخطى ، والقلب يهوى ويتمنى ويصدق ذلك الفرج ويكذبه

(مسلم شريف ص٢٢٦ ج٢ باب قدر على ابن ادم خطه من الزناوغيره .)

داحکم ښځو اوسړو دواړو لپاره دی څرنګه چې دسړو نظرونه پردیو نامحرمو ښځوتـه پـه کتلو سره خیانت کوي ، همدغسې دپردیو ښځو سړو ته په کتلو سـره هـم خیانـت کـوي څرنګه چې سړو لپاره په نامحرمو ښځو کې کشش او جاذبیت دی همدغسې ښځـو لپـاره هم نامحرمو سړو ته په کتلو کې کشش او جاذبيت دی ، نو ځکه له سړو سـره سـره ښځـو ته هم الهي ارشاد دی چې .

(قل للمومنين يغضوا من ابصارهم الخ وقل للمومنات يغضضن من ابصـــارهن الخ.)

اې محمـده! تاسـې مومنـو سـړو او مومنوښځـو تـه ووايـئ چـې خپـل نظرونـه ښکتـه واچوي سوره نور پاره نمبر ۱۸.

په حدیث شریف کې دي چې کومه ښځه عطر لګوي او بـيرون او ځـي هغـه زاینـه ده . احکام القران .(نصاب الاحتساب قلمي ۴. باب ۲۳.)

اودمحمدصلی الله علیه وسلم ارشـاد دی : ماترکت بعدي فتنة اضرُّ على الرجـــال من النساء يعني له مانه وروسته سړو لپاره دښځو له فتنې نه زيات بله کومه فتنه مضر او نقصاني نه دی پرېښې . (مشکواة شريف ص٢٦٧ كتاب النكاح)

په بل روایت کی ارشاد دی :

واتقوا النساء فان اول فتنة بني اسرائيل كانت في النساء

له ښځو نه وویرېږه چې په بني اسرائيلو کې له ټولو نه لومړې فتنه دښځو پـه وجـه شـوی وه (مشکواة شريف ص ٢٦ كتاب النكاح)

دادفتنې زمانه ده ، هغه صلی الله علیه وسلم وړاندوینه اوپیش ګوي کړی دی چی دیهود او نصاراو پشان به آخره کې دا امت هم خرابیږي تردی چی که دکوم یهود او نصاراو ځخه کوم یو خبیث له خپل مور سره زنا کړی وي ، نو زمادامت په بدترین امت کې به هم داسې بې غیرته خلک پیداکیږي چې داسې فحش کاري او بدعملي کې به اخته کیږي .

په حدیث شریف کې دي چې ښځه دی له کوم سړي سره یواځې نه پاتې کیږي اګر چې پلاریې وي چی له شیطاني فتنې نه په امن کې نشي پاتې کیدی .

په روایت کې دي چې حضرت حسن او حسین رضی الله عنهما له خپلو حقیقي نیاګانو نه علاوه نورو پاکو بیبیانو ته نه کتل . (تفسیر مواهب الرحمان اردو ص۱۴٦ سوره نور)

په معیار السلوک دي چې له نامحرمو ښځو ځخه پرده نه کول ډیرې زیاتي خرابیانې پیداکوي . له نفس اوشیطان ځخه نه د چا اطمنان شوی دی اونه کیدای‌شي .

لکه چی عائشه رضی الله عنها او ابو بکر صدیق رضی الله عنه دواړه لور اوپلار په کور کی ناست وو ، محمدصلی الله علیه وسلم چی دواړه یواځې ناست ولیدل نو ورته وفرمایل : ای ابو بکره! شیطان لرې نه دی ، له لورسره یواځې مه کینه بلکې دریم کس هم له ځان سره کینوئ . (معیا السلوک ص ۱٦۴ .)

دالله تعالی فرمان د ی: یا ایها النبی قل لازوا جك وبناتك ونساء المؤمنین یدنین من جلابیبهن ذلك ادنی ان یعرفن فلایوذین .

ای نبي! خپلو ښځو ، اودمونانو ښځوته ووایه چی دخپلو څادرونو پلو دی پرخپل مخ واچوي . په دی سره ژر پیژندل کیږي چی (دا آزادی ښځې دی).اوخلک به ورته ازارنه ورکوي . ترجمه حضرت اقدس تهانوي رحمه الله .(سوره احزاب پاره نمبر ۲۲)

جلابیب دجلباب جمع دی ، حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایي چی جلباب داسې څادر ته ویل کیږي چې په هغه سره ټول بدن پټ شي .

(فالجلا بیب جمع جلباب وهوعلی ماروي عن ابن عباس رضی الله عنه الذي یستر من فوق الی اسفل) (تفسیر روح المعاني ص ۸۸ ج۲۲ .)

لدینه هغه څادر مراد دی چی عموماً په سر باندی اچول کیږي ، او کله چې له کور نه ښځه باهر اوځي نو بیا ورته دلوی څادر ضرورت دی اویاهم ددی پرځای چادری په سرول ضروري دي .

حضرت ابن عباس رضی الله عنه دمذکوره آیت په تفسیر کې فرمايي :
تغطي وجهها من فوق راء سها بالجلباب وتبدي عينا واحداً.
يعنې الله پاک مسلمانو ښځو ته حکم ورکړې دی چی خپل سرونه او مخونه پټ کړي او يواځې سترګې ښکاره پريږدي . (تفسير روح المعاني ص ۸۹ ج۲۲.)
نو هغه عملاً خپل سر او مخ پټ کړ او ګڅه سترګه يې ښکاره پريښوده اوويې فرمايل چی دادی ددغه آيت عملي تفسير او مراد .
عن محمد بن سيرين قال سألت عبيدة السلماني عن هذا لآية فرفع ملحفة كانت عله فتقنع بها وغطى رأسه ، كله ، حتى بلغ الحاجبين وغطى وجهه ، وخرج عينه اليسرى من شق وجهه الايسر ((روح المعاني ص ۸۹ ج۲۲ ، تفسير مظهـري ص۲۵۲ ج۱۰ اردو تفسير مواهب الرحمن . ص۱۱۳ ج ۵ سوره احزاب .))
حضرت مولانا بشير احمد عثماني قدس سره فرمايي : په روايتونو کـې دي چـې ددغـه آيت دنازليدو په وخت مسلمانو ښځو به خپل بدن او مخ پټول اوپه دی ترتيب به بـيرون وتلې چې يواځې يوه سترګه به يې ښکاره کيده چی وربانـدې لاره ووينـي لدينـه ثابـت شو چی دفتنې په وخت بايد آزاده ښځه خپل مخ اوبدن پټ وساتي . (فوائـد عثمـان ص۵٦۸ سوره احزاب)
په احکام القران کی دي :
(قال ابو بكر في هذه الاية دلالة على ان المرء ة الشابة مامو بستر وجهها عـن الاجنبيين .)
يعنې دا آيت په دی باندی دلالت کوي چی ځوانې ښځې لپاره ضروري دي چې لـه نامحرمو سړو څخه خپل مخ پټ کړي . (.احکام القران ج ۳ ص ۴۵۸ سوره احـزاب اخـر باب ذکر حج النساء .)
له دغو پورتنيو حوالو څخه دمعروف او مشهوري پردې حکم واضح کيږي ، ددی باوجود داويل چې په پرده باندی کوم شرعي دليل نشته بې دليلـه دی ، دچاپـه زړه کـې چـی دالله ويره نه وي هغه همداسې خبرې کوي ، لدينه علاوه دمفتـي اعظـم مفتـي کفايـت الله فتوه هم وګورئ .

دحضرت مفتي اعظم مولا نا کفایت الله صاحب نور الله مرقده فتوی

ځواب: دښځې مخ په لمونځ کې دپردې په حکم کی نه دی شامل ، لیکن دنامحرمو خلکو سره دسخامخ کیدو په وخت کې دی باید دمخ پرده وکړې شي ، ځکه چې مخ اصلي ځیز دی چی دخلکو نظرونه جذبوي او جذبات راپاروي . (کفایت المفتي ص۳۸۸)

دحضرت عائشه رضی الله عنها بیان دی چی کله په حجة الوداع کی خلک زمونږ په وړاندی راتلل نو مونږ به پرمخ باندی ځادر راکشول . او کله به چی زمونږ له وړاندې نه اخواشول نو له مخ نه به مو ځادرونه لرې کول . ځکه چې داحرام په حالت کې دمخ پټول منع دی .

((عن مجاهد عن عائشة قال كان الركبان يمرون بناونحن محرمات مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فاذا حاذوا بنا سدلت احدنا جلبا بها من رأسها على وجهها فاذا جاوزنا كشفناه ابوداود شريف ص۲۶۱ ج۱ كتاب المناسك باب المحرمة تغطى وجهها))

په ابوداود کې یوبل حدیث دی :

قال جاءت امرأة الى النبي صلى الله عليه وسلم يقال لها ام خلاد وهي متنقبة تسئال عن ابنها وهو مقتول فقال لها بعض اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم جئت تسئالين عن ابنك وانت متنقبة فقالت ان ارزأفلن ارزا حيائي .

یعنې په غزوه کې دیو ځوان دشهید کیدو خبره خوره شوه نو دهغه مور چې نوم یې اخلاد دی ، ددغې واقعې دتحقیق لپاره پریشان او پراګنده حالت کې چې پرمخ یې ځادر آچولې و راغله ، یو چاوویل ددومره پریشاني په وخت کې هم پرده یې نه ده پریښې . هغې په ځواب کې وویل : مازوی ورک کړی دی نه خپل غیرت . (ابو داود ص۳۴۴ ج۱ کتاب الجهاد باب فصل قتال الروم الخ.)

تاسې اندازه ولګوئ چې دهغې په زړه کې دپردې څومره ډیر اهمیت و ، دام المؤ منین حضرت سوده رضی الله عنها ورور چې دهغه دپلار لـه وینځې نـه پیداشـوی و اودهغه په اړه دنورو دعوه وه چې دازماله نطفې څخه دی ، هغې دهغه دعـوه رد کړ او دحضرت سوده ورور وګرځاو ، خو محمدصلی الله علیه وسلم حضـرت سـوده تـه حکـم وکړ چې له هغه نه پرته وکړي . لکه چی په روایتونو کې راځي .(فما رأها حتی لقـــی الله) یعنې ترمرګ پورې یې هغه ونه لیده . مشکواة شریف ص ۲۸۷ باب اللعان.

په حدیث کې دي : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ایاکم والدخول فقال رجل یارسول الله أرأیت الحموقال الحمو الموت .

محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل چی دنامحرمونښځوخواته له ورتګ نه ډډه وکړئ ، یـو اصحابي عرض وکړ ایا دلیور هم همدغه حکم دی ، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایـل : لیور خو مرګ دی ، یعنې څرنګه چې له مرګ نه ویریږې اوترینه تښتې همدغسې لـه لیـور اودخاوند له نورو خپلوانو څخه هم ویره کـول اوپـرده کـول ضـروري ده .(مشـــکواة شریف ص ۲٦۸ باب النظر الی المخطوبة)

محمدصلی الله علیه وسلم چی کوم څیز مرګ‌ګڼل نن سبا اکثر خلک خپل حیات ګڼي له لیور ، خورې وراره ، تره زوی ماما زوی اوداسې نورو خپلوانو څخه پرده کـول ضـروري نه ګڼي بکلې معیوب یې ګڼي ، له هغوی سره ناسـته ولاړه خبـرې او خنـداکول خـوش اخلاقي ګڼل کیږي ، داچی ګناه ته خوش اخلاقي ووبل شي نولدینه زیـات جسـارت بـه څه وي ؟ همدغه راز دمحمدصلی الله علیه وسلم دفرامینو برملا مخالفت کیږي چی پـه دی کی علماء اودیندار خلک هم شامل دي . افسوس !

چون کفر ازکعبه برخیزد کجامند مسلماني ،

ددی پرځای چې دخپل جرم او ګنـاه اعتـراف کـړی وای اودخـپلې معاشـرې اوتـولنې اصلاح کړی وای ، برعکس غلط دلائل وړاندي کوي اووايي چـې دزړه پـرده کـافي ده دمعروفې او مشهورې پردې ضرورت نشته ګویا خپل ځانونه دمحمدصلی الله علیـهِ وسـلم له بیبیانو ، لورګانو اونورو اصحابو څخه زیـات پـاک ګڼـي او دافکـر کـوي چـی مونږ د هغوی په نسبت پخپلو زړونو زیات قابو لرو ، (نعوذ بالله من هذه الهفوات)

په حديث شريف کې دي چې يو ځل دمحمدصلی الله عليه وسلم نظر په نامحرمه ښځه ولګيد او زړه يې متاثر شو ، ددی دلرې کولولپاره فوراً کورته راغې اودخپلې ښځې حضرت سوده بنت زمعه رضی الله عنها سره خلوت وکړ او وېې فرمايل چې هرچاته داسې واقعه مخې ته راشي نو هغه دی خپلې ښځې خواته راشي ځکه چې له هغی سره هم همغه خير دی چې له هغې سره دی .

عن ابن مسعود رضی الله عنه قال رأی رسول الله صلی الله عليه وسلم امرأة فاعجبته فاتی سودة هی تصنع طيباً عندها نساء فاخلينه فقضی حاجته ثم قال ايمارجل رأی امرأة تعجبه فليقم الی اهله فان معها مثل الذي معها . (مشکوة شريف ۲٦۹ باب النظر الی المخلوبه)

داواقعه په خصوصي توګه دامت دتعليم لپاره ده چې کله هم يو چاته داسې واقعه مخې ته راشي نو په داسې کولو سره دی خپل طبيعت ته تسکين ورکړي .

دښځې په ليدو سره دطبيعت متاثرکيدل انساني فطرت دی ، نو ځکه هغه لومړني نظر چې پرښځه لګيږي اوله ارادې نه پرته وي هغه معاف دی او وربانـدې نـه ګنهګاريـږي ، لنډه داچې که دمحمدصلی الله عليه وسلم زړه متاثرشوه نو زمونږ دزړونـو حيثيـت څه دی ؟ لهذا هرچېرته چې فتنه زياته وي هلته دپردې حکم هم سخت دی .

حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي ليکي :

له چانه چې له لومړې سر نه پرده وي که هغه پيروي يابل کوم نژدی خپلوان لـه هغـوی ټولونه ښه پرده او ستر وکړئ ، قصد السبيل ص۵۲.

په بل ځای کې ليکلي: مسئله : ځوانې ښځې ته پکار نـه دي چـې دنـامحرمو خلکـو پـه وړاندې خپل مخ ښکاره کړي ، په داسې ځای کې دی نـه ودريـږي چـې دخلکـو نظـر وربانـدی لګيږي ، لدينه معلوم شو چې دناوې دمخ کتو کوم رواج دی او دکورنـی ټـول سړي دناوې مخ ګوري هرګز جائز نه دی .(بهشتي زيورص۷۵ حصـه ۳ دلبـاس اوپـردې بيان)

دمفتي اعظم مولانا مفتي کفايت الله صاحب نورالله مرقده ، فتوی

سوال يوسړي خپلې ښځې ته دخپل مشر ورور نه دپردې کولو حکـم ورکـړ ، دهغـې پـه وجه سړيې ډيره خفه شوه او وايي چې ته خپل ښځې باندی له ورور نـه دپـردې کولو

حکم مه کوه ، که نه نوزه به تانه جداشم غرض داچی دمور خفه کیدل دقیامت پـه ورځ کې خوبه څه نقصان ماته نه رسوي ؟

ځواب : په حدیث شریف کې دخاوند ته ښځې لپاره مرګ ویل شوي دي چې مطلب یـې دادی چی له هغه نه پرده کول لازمي دی ، دغه سړي دشـریعت پـه مطـابق کـار کـړی دی ، په دی کاربااندی دهغه دمورخفګان هیڅ نقصان نه شي رسولی فقط مولانـا مفتـي محمد کفایت الله کان الله له . (کفایت المفتي ص ۳۹۰ ج ۵کتاب الحجاب)

سوال : په یو کور کې څلور ورونه اودهغه پلار تول یو ځای اوسیږي دګور دتنګـوالې پـه وجه په هغه کې جلاجلا حصې نشي کیدلی ، لدینه عـلاوه پـه خـوراک څښـاک کـې هـم جدایي ناممکن دی ، ځکه چې څوک مزدوري کوي او څوک سبق وایـي ، څـوک بـې روزګاره دي اوکور کې ناست و ي، هریو ورور تـه کورتـه دننـه کیـدو ضـرورت دی ، پـه داسې حالت کې څنګه پرده وشي ایا دمخ لاسونو اوپښو داستثنی جواز شـته اوکـه نـه ؟ دجواز په صورت کې داقباحت دی چی دمخ په کتلو سره دسړي پـه زړه خـراب خیـال پیداکیږي . اودعدم جواز په صورت کې دکور کار او بار مشکل کرځي ؟

لدینه علاوه پرښځو هم نظرونه لګیږي . (ملخص)

ځواب : په داسې حالت کې پکار دي چـې ښځـې پـه احتیـاط کـې واوسـې اودامکـان ترحده کوشش . وکړي چې خپل مخونه پټ کړي ، اوکه چېرته مجبوراً مخې تـه راشـي نودزړه دصفایي په صورت کې هغه ته دمعافي امیـد کیـدای شـي . فقـط(مولانـا مفتـي محمد کفایت الله کان الله له دهلي کفایـت المفتـي ص ۳۹۰ ص ۳۹۱ ج ۵ . فقـط والله اعلم بالصواب وعلمه اتم واحکم وهو الهادي الی الصراط المستقیم .)

دنوسې له ښځې نه پرده کول نشته ځکه چې هغه محرم دی :

(۱۲۸ سوال) ایادنوسې له ښځې نه برده کول شته اوکه نه ؟ بینوا توجروا.

ځواب : دنوسې له ښځې نه پرده کول ـــه ځکه چې له محرماتو څخه ده ، له هغې سره همیشه لپاره نکاح حرامه ده . قوله تعالی ﴿حلائل ابنائکم ﴾ یعـنې دزامنـو لـه ښځو سره نکاح حرامه ده . اودځـوی پـه عمـوم کـې نوسـې هـم داخـل دی‌لهـذا دهغوی له ښځو سره نکاح جائز نه دی .

(فقط والله اعلم بالصواب)

(۱) په اسلام کی دپردې اهمیت (۲) دخور میره شرعاً محرم نه دی ، که چیرته مور اوپلار له هغه نه دپردې نه کولو اصرار کـــوي نـــو گنهگـــار نـــه دي . (۳) ناشـــزه دنفقـــې حقداره نه ده :

(۱۲۹ سوال) دزید نکاح له هندی سره شوی ده ، یو وخت زید وکتل چی هنده دخپل خور میره سره فحش خبرې اترې او خنداکوي ، زید هغې ته په خبرو کولو اودهغه له خوانه دلرې کیدو اشاره وکړه ، هغه ترینه لرې شوه ، وروسته زید خپله ښځه ښه پوه کړه خو هغې چندان اهمیت ورنکړ اودهغه په خبره یې خندلې . زید هغی ته وویل چی ایا ته له ماسره کور کول غواړې او که نه ؟ هغې وویل ولې نه کور کول لاداچاخوښه نه ده ، بیا وروسته له دی ور ته دخدای قسم ورکړ او په قرآن کریم باندې یې لاسونه کیښودل اووعده یې ترینه واخسته چې لدینه وروسته به دخپل خورله میره سره داسې مذاق او خنداکاني نه کوي او نه به هم ځانله له هغه سره ناسته او ولاړه کوي او نه به دهغه کورته ورځي ، هغی داټولې خبرې خو ومنلې لیکن په یوه خبره یې هم عمل ونه کړ اوپه پټه به هغه کره تلله ، ددی باوجود چې زید هغه پوهوله چی داسې مه کوه ، تردې چې یوه ورځ پخپله مور کره لاړه اودوباره خپل کورته رانغله ، مورئې ځواب ولیږه چې آخر ته څوک یې چې زمالور دخور له میره نه بندده وی؟ ، هنده به نور ترمرګه پورې ستاکور ته نه راځي . اوس سوال دادی چی په داسې حالت کې زید څه وکړ ي؟

(۱) دداسې مور اوپلار لپاره دالله اودهغه درسول څه حکم د ی چـی داولاد بـی ځـای طرفداري او مدد کوي ؟

(۲) په داسې حالاتو کې دهندې نان او نفقه به څوک ورکوي .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً.

(۱) دمحمدصلی الله علیه وسلم ارشاد دی : (استوصوا بالنساء خیراً فانما هن عـوان عندکم لیس تملکون منهن شیئا غیر ذلك الا ان یأتین بفاحشة مبینة فـان فعلـن فاهجر وهن في المضاجع واضربو هن ضرباغیر مبرح فان اطعنکم فلاتبغوا علـیهن سبیلاً الا ان لکم علی نساءکم حقا ولنسائکم علیکم حقافاما حقکم علی نسـاء

کم فلايؤطئن فرشکم من تکرهون ولا ياذن في بيوتکم لمن تکرهون الا وحقهن عليکم ان تحسنوا اليهن في کسوتهن وطعامهن) (ترمذي شريف ج۱ ص۱۳۹ باب ماجاء في حق الزوج على المرأة ، ابواب الرضاء)

يعنې له ښځو سره په نيکي سره داوسيدو اومخامخ کيدو په باره کې زما وصيت او هدايت ومنئ هغه ستاسې په قيد کې دي ، لدينه علاوه پرهغوی ستاسې څه حق نشته ، مګر په دی صورت کې چی هغه ښکاره دبې حيايي اوبې شرمي کار وکړي ، که هغه دبې حيايي ارتکاب وکړي ، نودسزا اونصيحت په توګه له هغې نه خپل کټ اوبستره جداکړئ او ناسې سپک غوندې وهلې هم شئ .

بياکه هغه ستاسې خبره ومني نوپرهغوی دتيرې او زياتي کولو لپاره بهانې مه لټوئ خبردار ! څرنګه چې ستاسې پخپلو ښځو حق دی همداسې ستاسې ښځو هم پرتاسو حق دی .

په ښځو باندی ستاسی حق دادی چی خپل فرش او بسترې ته داسې څوک پرې نږدي چې تاسې يې نه خوښوئ ، اونهه غه چاته ستاسې کورته دراتلو اجازه ورکړي چې تاسې يې نه خوښوئ ، خبردار پرتاسو باندې دښځو حق دادی چی هغوی ته ښه لباس اوښه غزا ورته ورکړئ . (ترمذي شريف)

لهذا هنده اوهغه دخور دميره ترمنځ فحش مذاق او خبرې اترې چې خاوند يې ډير بدمني يقيناً ښکاره بې حيايي او فحاشي ده ، په دې کې ميره ته حق دی چی هغی ته خبردارې ورکړي او سپکه وهل ورته ورکړي ښځې ته پکار دي چی له داسې حرکتونو څخه لاس واخلي ، که چېرته دهغی مور اوپلار دخپل لور ملګرتيا کوي اوله خپلې اوښې سره يواځې ملاويدل اوله هغه سره خندا او توقې تقالې کول خوښوي اودهغې دخاوند دخفګان پروانه کوي نو هغوی پخپل لور باندی ظلم کوي اوډير سخت ګنهګار دي .

دخور ميره شرعاً نامحرم دی ، له هغه نه پرده ضروري ده ، ستاسې دسهولت لپاره ديو مشهور کتاب حواله ورکوم . په اصلاح الرسوم کې دي چې :

له چاسره چې په ټول عمر کې نکاح صحيح کيږي هغه شرعاً محرم نه دی اوکوم حکم چې په شريعت کې دپردي سړي دي همغه حکم ددی هم دی اګرکه ډير نږدی خپلوان هم وي، لکه دتره یاترور زوی ، یادماما او خاله زوی ، همدغه راز ليور او دخور

میره داتړول نامحرمه دي ، له دوی نه هم داسې ستر او پرهیز په کار دی څرنګه چې له پردونه پکار دی ، بلکې څرنګه چې په داسې مواقعو کې دفتنې واقع کیدل اسانه وي نو ځکه دزیات احتیاط کولو حکم د ی. (اصلاح الرسوم ص۷٦)

په حدیث کې دي : ((ايّاكم والدخول على النساء فقال رجل يارسول الله ارأيــت الحمو ، قال الحمو الموت .))

محمدصلی الله علیه وسلم سړوته هدایت وکړ چې تاسې له پردیو او نامحرمو ښځو خواته له تللو نه ځانونه وساتئ . یو اصحابي عرض وکړ یارسول الله ! دخاوند دورور په هکله څه حکم دی ؟ (هغه دې هم له خپل ورینداره ځان وساتي ؟) محمدصلی الله علیه وسلم وفرمایل : لیور خو مرګ دی ، یعنې له هغه سره ناسته ولاړه اوبې ستري کول مرګ دی ، یعنې زیات خطرناک دی .(مشکواة شریف ص ۲٦۸ بـــاب النظـــر الى المخطوبة)

حضرت شاه ولي الله محدث ډهلوي فرمايي : داخبره په ياد وساتئ چې څرنګه دښځو په طرف دکتلو په صورت کې سړي پر ښځو عاشقيږي ، همداسې دسړو پـه طرف دښځو په کتلو سره هم عشق او محبت پیداکیږ ي. (حجة الله البالغــه ج ۲ ص ۳٦٤ مــن ابواب تدبير المنزل ذكر العورات)

نبوي فرمان دی : المرأةُ عورة اذا خرجت استشرفها الشيطان.

یعنې ښځه دستر اوپټولو څیز ده ، کله چې له کوره نه اوځي نو شیطان (شیطاني ډله) هغې ته ګوري ، (اودخلکو په زړونو کې خراب جذبات پیداکوي .)

(مشکواة شریف ص ۲٦۸ باب النظر الى المخطوبة)

زنا یواځې دبدکاري نوم نه دی ، بلکې سترګې هم زناکوي او غوږونه هم ، ژبه هم زناکوي او دماغ هم الله تعالې فرمايي : (ولا تقربوا الزنا انه كان فاحشة)

زنا ته بالکل مه نژدی کیږئ ، یعنې دسترګو، غوږونو ، لاسونو پښو او دماغ له زنانه هم خپل ځانونه وسا تئ ، په حدیث کې دي :

((العينان تزنيا ن وزناهما النظر والا ذنان تزنيان وزناهما الاستماع واللسان يزنى وزناه النطق واليد ان تزنيان وزناهما البطش .)) (مسلم باب قدر على ابن آدم خطه من الزنا وغيره ج ۲ ص۳۳٦)))
په حديث کې دي چې يو وړوند اصحابي دمحمدصلى الله عليه وسلم کورته راتلو، هغه صلى الله عليه وسلم ام سلمه رضى الله عنها او ميمونه رضى الله عنها ته حکم وکړ چې له هغه نه پرده وکړي ، هغوی وويل ای رسول الله! هغه خو وړوند دی او هيڅ څيز نشي ليدلی ، محمدصلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل :
ايا تاسې هم وړانده يئ ؟ تاسې خو هغه ليدلې شئ .
(مشکواة شريف ص ۲٦۹ باب النظر الى المخطوبة ، فصل نمبر)
په حديث کې دي چې دمحمد صلى الله عليه وسلم بي بـي حضرت سوده رضى ا لله عنها ورور (چې دپلار له وينځې نه پيداشوی و) په باره کې شک و چې ايا دحضرت سوده دپلار له نطفی نه دی اوکه نه ؟ محمدصلى الله عليه وسلم هغه ته دشرعي قانون په مطابق دحضرت سوده زوی گرځولې و ، ليکن دشک له کبله حضرت سوده رضى الله عنها ته احتياطاً له هغه سره دملاقات کولو نه ممانعت کړی و . (فمارأها حتى لقى الله تعالى متفق عليه .)
بيا هغه ټول عمر خپل خورحضرت سوده پخپلو سترگو ونه ليده .
(مشکواة شريف ص ۲۸۷ باب اللعان)
دادی شرعي قانون چې بره بيان شو ، خودلته مسلمانان دخور له ميره سره داجازت په نه ورکولو خفگان ښکاره کوي .
دمحمدصلى الله عليه وسلم ټولې بيبيانې دټول امت مورگانې وې (وازواجه امهاتهم) مگر بياهم له هغوی نه دپردې کولو حکم و . قوله تعالى فاسئلوهن من وراء حجاب کله چې له پاکو بيبيانو څخه څه غواړئ نو دپردې لـه شـانه يې وغواړئ ، ددغه آيت لـه نازليدونه وروسته له پاکو بيبيانو سره هم له حجاب نـه پرتـه خبرې کـول ممنوع شـوې نودخور خاوند څنگه لدينه مستثنې کيدای شي ؟

یواصحابي عرض وکړ چې یارسول الله ! کـه پـه نـامحرمې ښځـې بانـدې ناڅـاپي نظر ولګیږي نوددی څه حکم دی ؟ ورته یې وفرمایل : فوراً خپل نظر ترینه واړوه (یعنې مه یې ګوره)

(مشکواة شریف ص ۲۶۸ باب النظر الی المخطوبة)

همدغه راز نبوي ارشاد دی چې پرهغه چادالله لعنت دی چې غیر محـرم تـه وګـوري اوپرهغې ښځې هم چې بل چاته دکتلو موقع ورکړي .

(مشکواة شریف ص ۲۷۰ باب النظرالی المخطوبة)

دخورله خاوندسره په یواځې ځان ملاقات اولیدنـه کتنـه کـول ډیـرې زیـاتې خرابیـانې پیداکوي . محمدصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې کله کوم نامحرم سړي لـه ښځـې سره ځانله کیني نو هلته به دریم تن شیطان ضرور موجـود وي . (مشـــکواة شـــریف ص۲۶۹ باب النظر الی المخطوبة)

نفس او شیطان نه هیچاته اطمنان نه حاصلیږي نو ځکه په دې معامله کې شریعت له ډیـر احتیاط نه کار آخستي دی ، یوه ورځ عائشه رضی الله عنها له خپل پلار ابـو بکـر صـدیق سره ځانله یواځې ناسته وه محمدصلی الله علیه وسلم چې هغوی ولید نو ویې فرمایـل : ای ابوبکره! شیطان لرې نه دی ، له لور سره هـم یـواځې مـه کینـه . (معیـار السـلوک ص۱۶۴)

کله چې ابو بکر صدیق اودهغې لور عائشې لپاره چې قران کریم دهغـوی پـه بـاره کـې ګواهي ورکوي ، درسول الله صلی الله علیه وسـلم دا هـدایت و نودخـور خاونـد لپـاره څنګه حکم پکار دی ؟ لږ غونډې غور خو وکړئ .

دویم خواب: په مسئوله صورت کې ښځه ناشزه او باغي ده ترڅوپورې چې خپـل کورتـه نه وي راغلې هغه دنفقې متسحقه نه ده فقط والله اعلم الصواب.

دوېښتانو احکام

که دعلاج په خاطرښځه دخپل سر وېښتان کل کړي نو؟

۱۳۰سوال) دښځې په سر کې ناروغي ده ، دډاکټرانو رای داده چې وېښتان کـل کـړئ هله به ورته علاج ګټور شي . ایا په داسې صورت کې دوېښتانو دکلولو شـرعاً اجـازه شـته اوکه نه ؟

ځواب: کله چې له کلولونه پرته علاج معالجه څه ګټه نـه ورکـوي نـو مجبـوراً دوېښتـانو دکولولو اجازه ده . په خلاصة الفتاوی کې دي.

المرأة اذاحلقت رأسها كان لوجع اصابها لابأس به وإن كان لتشبه بالرجال يكره .

که چېرته ښځه دوېښتانو دکلولو لپاره مجبوره شي نو ورته اجازه ده ، لـیکن کـه لـه سـړو سره دمشابهت اوفیشن لپاره وي نو جائز نه بالکـل حـرام دي .(ج٤ص۳۷۷ کتـــاب الكراهية الفصل التاسع فى المتفرقات)

که چېرته دښځې ږیره اوبریتان شنه شي نودهغه څه حکم د ی؟

(۱۳۱ سوال) که چېرته دښځې ږیره او بریتان شنه شـي دهغـه څـه حکـم دي کـل دی کړي اوکه نه .

ځواب: ښځې لپاره جائز دي چې داږیـره بریتـان کـل کـړي ، نـه یـوائې جـائز بلکـې مستحب دي چې دمخ وېښتان صفا کړي .[1] فقط والله اعلم بالصواب.

دتحرګونو اونامه لاندې دوېښتانو دکلولو وخت :

(۱۳۲ سوال) دتخرګونو اونامه لاندې وېښتان دی په څومره ورځو کې صفا کړې شـي ، مسنون او بهتر کوم یو دی ؟

ځواب: بهتره داده چې هره هفته پاک کړي بالخصوص دجمعې پـه ورځ ، یعنـي نوکـان دی کټ کړي دشونډو وېښتان دی واخلي ، دتخرګونو اوشرمګاه وېښتان دی صـفا کـړي او غسل دی وکړي ، که چېرته دتخرګونو اونامه لاندې وېښتان هره جمعه نشـي پـاکولې

[1] ــ شامي ولاباس باخذ الجبين وشعر وجهه مالم يشبه المخنث تاتار خانيه شامي كتاب الحظر والا باحة فصـــل في البيع ج ٥ ص ۳٥٨.

نو پنځلس شل ورځو کې کل کړي ، خو انتهايي او آخري موده يې څلويښت ورځې ده ، لدينه وروسته پريښودل ګناه ده .

ويستحب حل عانته وتنظيف بدنه بالا غتسال في كل اسبوع مرة) والافضل يوم الجمعة وجاز في كل خمسة عشرو كره تركه وراء الاربعين مجتبى (درمختار) (قوله وكره تركه) اى تحريما اقوال المجتبى ولا عذر فيما وراء الاربعين ويستحق الوعيد (شامي ص ۳۵۸ ج كتاب الحضر والباحه)

دجنابت په حالت کې دږيږې اونوروشيانو دکلولوحکم:

(۱۳۳ سوال) دجنابت په حالت کې دسر کلولو، ږيره خريلو اونوکانو کټ کولـو حکم څه د ی؟

(ځواب) په دی حالت کې مذکوره کارونه ممنوع او مکروه دی ، فتاوی عالمګیری کې دي :

((حلق الشعر حالة الجنابة مكروه وكذا قص الاظافير))

دجنابت په حالت کې دسرکلول اودنوکانواخستل مکروه دي (ص ۳۵۸ ج ۵ كتاب الخظر والاباحة فصل في البيع) فقط والله اعلم بالصواب .

دويښتانو دخښولو حکم:

(۱۳۴ سوال) ايادويښتانو خښول ضروري دي ؟ بينوا توجروا.

ځواب: ضروري نه دی خوښه کار دی ، په پاک ځای غورځول هم جائز دی ، واذاقص اظفاره اوحلق شعره ينبغي ان يدفنه وان القاه فلابأس به.

الاختيار شرح المختار ص ۱٦۷ ج ٤ كتاب الكراهية والله اعلم بالصواب .

خومره ږيره پريښودل مسنون دی :

(۱۳۵ سوال) له يوې موټې نه دزياتې ږيرې پريښودل منع دی او که جائز ؟ بينواتوجروا.

(ځواب) يوه موټې ږيره ساتل ضروري دي ، له يوې موټې نه زياته ږيره پره پريښودل له سنت نه مخالفت دی .

واعفاء اللحى قال محمد ، عن ابي حنيفة تركها حتى تكث وتكثر والتقصير فيها سنة وهوان يقبض رجل لحيته فما زاد على قبضة قطعه لان اللحيــة زينة وكثر تها من كمال الزينة وطولها الفاحش خلاف السنة (الاختيــار شرح المختار ص ۱۲۷ ج ٤ ايضاً)

دږيرې داوږدولو په متعلق دامام محمد روايت دی چې حضرت امـام ابـو حنيفـه رحمـه الله فرمايلي دي ، ږيره بايد اوږده پريښودې شي تردې پورې چې ښه ډېره اولوی شي ، اوپه ږيره کې قصر کول سنت دی ، قصر دادی چی ږيره موټې کړي او خـومره چـې لـه ږيرې نه زياته شي هغه دی په قينچي سره پرې کړي ، حقيقـت دادی چـې ږيـره سـنت دی ، غته ږيره دمومن ښکلا او زينت دی ، ليکن ډېره اوږده ږيره هم له سنت نه خـلاف ده . الاختيار شرح المختار ص ۱٦۷ ج ۴.) فقط والله اعلم بالصواب .

دږيرې وجوب اودملاذمت په وجه دهغې کلول :

(۱۳٦ سوال) په ځينو نوکريانو او ملازمتونو کـې دږيـرې خريـل شـرطاً وي ، دچـاچې ږيره ؤي ، هغه ته نوکري نه ورکول کيږي ، که له ډېر کوشش سره هم ورته پيداشـي نـو معاش ورته کم ورکوي ، په داسې صورت کې دږيرې خريل يـادانګريزانو پشـان جـوړول ځنګه دی ؟ دمدلل او مفصل ځواب ضرورت دی ترڅـو خلکوتـه واضـح شـي او خلـک لدې غلطي او شنيع کار نه منع شي او دږيرې اهميت دهغوی په زړونو کې پيداشي .

بينوا توجروا . (سورت)

ځواب: حامدا ومصليا ومسلماً . دسړو لپاره دږيرې پريښـودل واجـب دی اوددی شـرعي مقدار يوه قبضه ده ، ږيره ساتل دټولو انبياو مستمره سنت دی .

اسلامي اوقومي شـعار دی ، دشـرافت اوبزرګـي علامـت دی ، پـه وړوکـې اولـوی کـې دامتياز اوفـرق کولـو شـي ده ، پـه دی سـره مردانـه شـکل تکميـل اونـوراني کيـږي . دمحمدصلی الله عليه وسلم دائمي عمـل دی ، اومحمدصـلی الله عليـه وسـلم ږيـره لـه فطرت نه تعبير کړی دی ،لهذا دږيرې ساتل واجب او ضرورت دی ، خريل يـې حـرام او ګناه کبيره ده ، په دی باندې دامت اجماع ده .

عائشه رضی الله عنها دمحمدصلی الله عليه وسلم ارشاد نقل کړی دی !وفرمايي :

عشر من الفطرة قص الشارب واعفااللحية الخ .

یعنې لس خیزونه دفطرت دي ، (۱) دبریتـانو کمـول ، (۲) دږیـرې اوږدول (۳) مسـواک کول (۴) په پوزه کې داوبو په اچولو سره دپوزې صفايي کـول .(۵) دنوکـانو کـټ کـول (٦) دبـدن جوړونـه وینځـل (۷) دتخرګونـو ویښتـان ویسـتل (۸) ترنامـه لانـدې ویښتـانو صفاکول .(۹) په اوبو سره استنجاکول . دحدیث راوي ته لسم خیـز پـه یادنـه دی پـاتې شوې . فرمایي ممکن دی چې هغه دمرۍ غړ غـړه کـول وي .(مسلم شریف ص ۱۲۹ باب حضال الفطرة کتاب الطهارة)

په دی حدیث کې چې نهایت قـوي دی پـه دغـو لسـو خیزونـو کـې دږیـرې پرینـودل اودبریتانو کمول هم په فطرت کې شامل دي . او فطرت په شروع کـې هغـو کـارونو تـه ویل کیږي چې دټولو انبیاو اورسولانو معمـول بـه او متفـق علیـه سـنت وي او مونږ تـه پرهغه دعمل کولو حکم وي ، دمجمع البحار مصنف ددی حدیث په شرح کې فرمایي :

عشر من الفطرة ای من السنة ای سنن الانبیاء علیهم السلام التي امرنـا بالاقتداء بهم فیها : ای من السنة القدیمة التي اختارها الانبیـاء علـیهم السلام واتفقت علیها الشرائع فکانها امر جبلي فطروا علیه.

لس خیزونه له فطرت (سنت) له جملې څخه دي یعنې دانبیاو دهغو سنتونو څخـه چـې مونږ ته دهغوی داقتداء حکم راکول شـوی دی . (اولئك الذین هدی الله فبهدا هم اقتده)

یعنې له دغو قدیمي سنت څخه چې دانبیاو عمل وربانـدی پاتې شوی دی اوپرهغه ټـول شرائع متفق دي ، ګویا هغه جبلي امر دی چې انبیاء علیهم السلام وربانـدی پیـداکړی شوي دي (مجمع البحار ج۴ ص ۱۵۵ فطر)

امام نوویي په شرح مسلم کې وایي چې :

((قالو ومعناه انها من سنن الانبیاء صلوات الله وسلامه علـیهم)) یعنې دفطـرت معنې داده چې هغه دانبیاو سنت دي . (نووي شرح مسلم ج۱ ص۱۲۸)

لدی حدیث نه ثابت شو چې دږیرې داوږدولو حکم پـه ټولـو شـریعت کـې و اودادټولـو انبیاو سنت پاتې شوې دی .

عن ابن عمر رضی الله عنه قال قال النبي صلی الله علیه وسلم : خـالفوا المشـركين اوفروا اللحي واحفو الشوارب ، وفي رواية انهكو الشوارب واعفوا اللحی ، متفق علیه ، مشکواة شریف ص ۳۸۰ باب ا لرجل.

دمشرکانو مخالفت وکړئ ، بریتان کم کړئ او ږیرې پریږدئ یعنې مه یې کټ کوئ .

اوپه یوبل حدیث کې دي : ((ارخوا اللحی)) ږیره اوږده کړئ ، په دغو ټولـو احـادیثو کې محمدصلی الله علیه دږیرې دپرېښودلو لپاره دامر صیغه استعماله کړی ده او امر پـه حقیقت کې دوجوب لپاره وي ، همدغه راز دږیرې پـه خریلـو کـې لـه ښځـو ، کفـارو او ایجړاګانو سره مشابهت راځي . چې دهغه ناروا والې له احـادیثو نـه ثابـت دی . مـن تشبه بقوم فهو منهم (ابو د اود.)

په یو حدیث کې حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه روایت کوي چـې الله تعـالی پـه هغو خلکو لعنت وای چې (دږیرې په خریلو یادزنا نه و دلبـاس پـه اغوسـتلو سـره) لـه ښځو سره مشابهت کوي اوپرهغو ښځو هم لعنت وایي چې له سړو سره مشـابهت کـوي . (مشکواة ص ۳۸۰)

له حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چی دالله رسول په هغـو سړو لعنت کړی دی چی له ځان نه ایجړا جوړوي ، همدغه راز پرهغه ښځو چې لـه سـړو سره مشابهت کوي ، محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایـل هغـو لـه خپلـو کورونـو څخـه وباسئ .

عن ابن عباس قال لعن النبي صلی الله علیه وسلم المخنشین من الرجال والمترجلات من النساء وقال اخرجو هم من بیوتکم (مشکواة شریف ص ۳۸۰)

په مالا بدمنه کې دي : مردراتشبهه به زنان وزن راتشبهه به مردان ومسلم راتشبه به کفـارو فساق حرام است .

یعنې سړو ته له ښځو سره مشابهت کول او ښځو ته دسړو سره مشابهت کول حرام دی . (مالا بدمنه ص ۱۳۱) لهذا له کفارو او فساقو سره له مشابهت کولو نه ځـان سـاتل ضـروري دي ،. دصلحاو مشابهت خپلول دفلاح باعث دی . یو عربي شاعر وایي :

فتشبهوا ان لم تکونوا مثلهم
ان التـــشبه بالـــکرام فلاح

سرو لپاره ږیره وقار او ښکلاده ، تکمله بحر الرائق کـې دي : ((لان اللحیة في اوا نهـا جمالٌ)) (ج۸ ص ۲۳۱ کتاب الدیات)
په اسمان کې دملائکو تسبیح دی.
سبحان من زین الرجال باللحی والنساء باذوائب.
پاک دی هغه ذات چې سړوته په ږیره اوښځو ته په کونسو سره ښکلا ورکړی ده .
(تکمله بحر الرائق ج۸ص۳۳۱ کتاب الدیات شمس الضحی فی اعفاء اللحی ص۱۳)
مفسرینو ((ولآ مرنهم فلیغیرن خلق الله)) په تفسیر کې لیکلـي دي چـې دږیـرې خریـل هم په خلق الله کې تغیر راوړل دي ، یعنې دالله جوړ کړی شوی صورت خرابـول دي .
(بیان القران ص ۱۵۹ پاره نمبر ۵ حاشیه)
(ترجمه شیخ الهند ص ۱۲۷) تفسیر حقاني ج۳ ص ۲۲۹ پاره نمبر ۵ سوره نساء) بالاتفـاق په خلق الله کې بدلون راوړل حرام دي .
لعین شیطان داویلي وو چې زه به دالله بندګانوته داحکم ورکـوم چـې هغـوی دالله په لاس جوړ شوي صورتونه او شکلونه بدل کړي .
لدینه معلوم شو چې کوم خلک ږیرې خروي او خپل فطري صورت ته تغیر ورکـوي هغه دلیعن شیطان دحکم پیروي کوي ، کوم خلک چې دمردود شـیطان فرمـانبرداري کـوي هغوی په لوی تاوان کې اخته دي ، الهـي ارشـاد دی : ومن یتخذ الشیطان ولیا من دون الله فقد خسر خسراناً مبیناً .
خوک چې له الله نه پرته شیطان خپل دوست ګرځوي هغه په ښکاره تاوان کې دی .
دروح البیان په تفسیر کـې دي : حلق اللحیة قبیح بل مثلة وحرام وکما ان حق شعر الرأس في حق المرأة مثلة منهی عنه وتفویت للزینة کذلك حلق اللحیة مثلة فی حق الرجال وتشبه بالنساء منهی عنه وتفویت للزینة قال الفقهاء اللحیة في وقتها جمال

وفي حلقها تفويت للزينة على الكمال ومن تسبيح الملائكة سبحان من زين الرجال بالللحى وزين النساء بالذوائب .

دږيرې کلول قبيح او بدعمل دی ، بلکې مثله او حرام دی ، لکه څرنګه چې يوه ښځه دخپل سرويښتان کل کړي او هغه مثله ده اوپه دی سره دښځې ښکلا لـه منځـه ځـي . همدغسې که چېرته سړی ږيره کله کړي نوداهم مثلـه ده اوپـدی سـره دسړي شـان او شوکت ختميږي . فقهاء کرام وايي چـی ږيـره پخپـل وخـت کـې جمـال دی اودهغـی کلول دسړي ښايست ختموي .

دملائکو تسبيح ده چې وايي : هغه ذات پاک دی چی سړو ته په ږيـره ښکـلا ورکـړی ده اوښځو ته په زلفو او کونځوسره . (روح البيان ص ۲۲۲ تحت الاية واذابتلى ابراهيم ربه بكلمات فاتمهن)

په هدايه کـی دي : ((لان حلق الشعر في حقها مثلــة كحلــق اللحيــة في حــق الرجال)).

يعنې دښځې دسر ويښتان خريل داسې مثله ده لکه څنګه چی دسړي دږيری خريل مثلـه ده (هدايه ج ۱ص ۲۳۵ باب الاحرام كتاب الحج (هكذا في الجوهرة الـنيرة ج۱ص۱٦۷ كتاب الحج) .

دږيرې خريل دلوط عليه السلام دقوم دهلاکت له اسبابو څخه يو سبب دی .

په درمنثور کې دي : دلوط عليه السلام قوم دلسو بدو کارونو په وجه هـلاک کـړی شـوي دي چې له هغونه يو بدکار دږيرې خريل دي :

واخرج اسحاق بن بشير والخطيب وابن عساكر عن الحسن قال قال رســول الله صلى الله عليه وسلم عشر خصال عملتها قوم لوط بها اهلكوا وتزيــدها امتي بخلة اتيان الرجل بعضها بعضاً . الى قوله . و قص اللحية وطول الشارب الخ (درمنثور ج ٤ ص۳۲٤ سورة انبياء پاره نمبر۱۷ تحت الآيــة . ولوطــاً آتيناه حكما وعلما ونجيناه من القرية الخ)

کله چې دکسری دوه قاصدان محمدصلی الله علیه وسلم ته په داسې شکل کـې راغلـل چې ږیرې کلې اوبریتان یې غټې غټې وو نو محمدصلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې تاسې دداسې شکل او صورت جوړلو حکم چـادر کـړی دی .؟ هغـوی وویـل زمونـږ رب کسری ، محمدصلی‌الله علیه وسلم ورته وفرمایـل : لکن امرني ربي ان احصی بشاربي واعفي لحيتي.

لیکن زمارب خوماته دږیرو داوږدولو اودبریتانو دکمولو حکم راکړی دی . (طبقات ابـن سعد جلد اول ، مصنف شیخ الحدیث مولانا محمد ذکریا نور الله مرقده .)

ډیر دعبرت خبره ده چې کله محمدصلی الله علیه وسلم کافر په داسې شکل کـې ولیـده نو وربانديې حفه شو ، داچې مونږ دهغه صلی الله علیه وسلم دامتـې کیـدو دعـوه کـوو اوداسې شنیع حرکت وکړو نو هغه صلی الله علیه وسلم ته بـه خـومره تکلیـف رسـیږي ، ددی اندازه دی کتوونکې پخپله ولګوي .

په هندوستان کې دفارسي ژبې یو شاعر مرزا بیدل په نوم یو سړی و ، دهغه له شعر نه یـو ایراني متأ ثر شو اودهغه دملاقات لپاره راغې ، هغه چې مرزا بیدل ولید نو هغـه دږیـرې په کلولو کې بوخت و ، له ایران نه راغلې مسافر په ډیر تعجب او غم کې وویل :

تاسې ږیره کاوئ ؟ هغه وویل هو دچا زړه نه خفه کوم ، لوی ګناه دچـازړه تـه خفګـان رسول دي ، مسافر ورته وویل : ته درسول الله صلی الله علیـه وسـلم پـه زړه کـې چـاړه ګرځوې په دغې خبرې سره دمرزا بیدل دماغ خلاص شو او ویې ویل :

جزاک الله که چشم ما باز کردي

مرا باجان جنان همراز کردي

له رویفع بن ثابت رضی الله عنه څخه روایت دی چې ماته محمدصـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل : کیدی شي له مانه وروسته ستا ژوند اوږد شي ، خلکو ته داخبرورکړه چې کـوم سړي خپله ږیره غوټه کړي یادلینډې تار په غاړه کې واچـوي یاپـه خوشـایي او هـډوکې سره استنجاء وکړي نو محمدصلی الله علیه وسلم له هغـه نـه بیـزاره دی . پـه مشـکوات شریف کې دي :

عن رویفع بن ثابت قال قال لي رسول الله صلی الله علیه وسلم یـــارویفع لعـــل الحیواة ستطول بك بعدي فاخبرالناس ان من عقد لحیته او تقلد وترا او اســـتنجی

برجيع دابة او عظم فان محمدا منع برئ رواه ابوداود مشكوات شريف صفحه ۴۳ـ (باب اداب الخلاء)

کله چی دریرې داوږدولو پرځای دهغی دغوته کولو لپاره وعید دی نودکلولو اوله شرعي مقدار یعنې دیوې قبضې نه دکمولولپاره به خومره سخت وعید وي ، تاسې اندازه ولګوئ. له پورتنیو حوالو څخه داثابت شو چې دږیرې پریښودل واجب دي ، اسلامي شعائر دی اوکلول یې حرام دی .

په احادیثوکی دمحمدصلی الله علیه وسلم دږیرې داوږدوالي اندازه یوه موټې بلکې له دینه څه زیاته هم ثابت دی . لکه چې په حدیث کې دي چې محمدصلی الله علیه وسلم په ږیره کې خلال کاو .

عن انس بن مالك ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان اذاتوضاً اخذ كفاً من ماء فادخله تحت حنكه فخلل به لحيته وقال هكذا امرني ربي (ابو داود شريف باب تخليل اللحية) .

اودمحمدصلی الله علیه وسلم ږیره دومره ګڼه وه چې سینه یې ورته پټه کړی وه ، كان النبي صلى الله عليه وسلم كث اللحية يملاء صدره (شمائل ترمذي)

محمدصلی‌الله علیه وسلم به خپله ږیره مبارکه کې ګومنځه هم وهله .

عن انس بن مالك قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يكثر دهن رأسه وتسريح لحيته (شمائل ترمذي ص٤ باب ماجاء في ترجل رسول الله صلى الله عليه وسلم .) .

همدغه راز په روایتونو کې داهم راغلي دي . چې محمدصلی الله علیه وسلم دخپلې ږیرې له طول او عرض نه چې له قبضې نه به زیات قینچې کوله .

په ترمذي شريف کې روايت دي:

عن عمرو بن شعب عن جده ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يأخذ من لحيته عرضها وطو لها (ترمذي شريف ج ۲ ص۱۰۰ باب ماجاء في الاخذ من اللحيته)

په شرح شرعة الاسلام کی دقبضې دمقدار صراحت راغلي دی :

عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يأخذ من لحيته طولاً وعرضا على قدرا القبضة شرعة الاسلام ص ۲۹۸

حكيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي نورالله مرقده په ((الطرائف والظرائف)) كى ليكي : فائده :

روى الترمذي عن عمرو بن شعب عن ابيه عن جده انه صلى الله عليه وسلم كان يأخذمن لحيته طولا وعرضا: صاحب مفاتيح وغرائب .

ددغه حديث په اخره كې داذا زاد على قدر القبضة لفظ هم زيات نقل كړى دى. يعنې په مفاتيح او غرائب كې ددغه حديث په آخره كې دالفظ هم دى چې محمدصلى‌الله عليه وسلم به له خپل ږيرې نه عرضاً او طولاً په هغه وخت كې ويښتان قينچي كول چې له يوې قبضې نه زياته شوه .
(الطرائف والظرائف)

دمحمدصلى‌الله عليه وسلم داصحابو له عمل نه چې دهغه صلى الله عليه وسلم هريو عمل او فعل يې پخپلو سترګو ليدل هم همدامعلوميږي . حضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنه چې دمحمدصلى الله عليه وسلم دسنتو فدايي او شيدايي دى ، امام بخاري دهغه عمل دمعيار په توګه پيش كړى دى او ليكي چې :

وكان ابن عمر اذا حج او اعتمر قبض على لحيته فما فضل اخذه .

حضرت ابن عمر به چې كله له حج يا عمرې نه خلاص شو نو خپله ږيره به يې په موټې كې ونيوله اوكوم ويښتان به چې له موټې نه زيات وو هغه به يې قينچي كول. (بخاري شريف ج۲ ص ۸۷۵ كتاب اللباس)

حضرت ابو هريره رضى الله عنه به هم له موټې نه زياته ږيره كموله .
(حاشيه بخاري شريف ج۲ ص ۸۷۵ حاشيه نمبر ۷ باب اعفاء اللحى الخ)

دترمذي شريف په حاشيه كى دي :

وقد روى عن ابي هريرة ايضاً انه كان يقبض على لحيتى فيأخذمافضل عن القبضه اسنده ابو شيبة (ج۲ ص۱۰۰ حاشيه نمبر ۰ حواله بالا)

لدینه ښکاره معلومیږي چې محمدصلی الله علیه وسلم به دخپلې ږیرې له قبضې نه زیاته حصه قینچې کوله .
اولدینه داهم ثابت شو چې دږیرې مسنونه مقدار یوه قبضه ده لهذا لدینه کمول په شریعت کې جائز نه دی .
ددغو احادیثو په رڼا کې دفقهاو اقوال هم ولولئ . امام محمدرحمه الله له کتاب الاثار کې فرمایي :
والسنة فیها القبضة وهو وان یقبض الرجل لحیته فمازاد منها علی قبضة قطعة.
دږیرې مسنونه مقدار یوه قبضه ده اوهغه داسې چې ږیره په موټې کې ونیسي او څه چې ترینه زیاته شي هغه دی قینچې کړي .(کتاب الاثار)
په در مختار کی دي : (ولا بأس باخذ اطراف اللحية والسنة فيها القبضة (وقوله والسنة فيها القبضة) وهو ان يقبض الرجل لحيته فمازاد منها على قبضه قطعه كذا ذكر محمد في كتاب الاثار عن الامام قال وبه نأخذ محيط . آه).
یعني په ږیره کې مسنونه مقدار یو موټې او قبضه ده لهذا دږیرې کومه حصه چې له یوې موټې نه زیاته وي هغه قینچې کړئ همدغه دامام ابو حنیفه قول هم دی .
(شامي جلد ٥ ص ٣٥٩ کتا بالحظر والاباحة تحت وصل البیع) په بل ځای کې لیکي : واما الاخذ منها وهی دون ذلك کمایفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم یبحه احد واخذ کلها فعل هنود الهند ومجوس الاعاجم (در مختار مع الشامي جلد٢ص١٥٥ کتاب الصوم مطلب في الاخذ من اللحیة) .
ږیره دومره قینچې کول چې له موټې نه کمه پاتې شي لکه چې غربیان او مخنث کوي ، نوهیچادیته مباح نه دي ویلي ، دږیرې پوره کلول دهندوانو کار دی اودعجم دمجوسیانو طریقه ده . کذا في فتح القدیر (غایة الاوطار ج ١ص٥٢٤ باب مایفسد الصوم ومالا یفسده)
حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي قدس سره لیکي :
قوله : لم یبحه احدٌ نص في الاجماع (بوادر النوادر ج٢ ص ٤٤٣)

یعني ددر مختار مصنف اودفتح القدیر قول چې لم یسجه احد څخه معلومیږي چې دږیرې دکلولو اولنډولو په حرمت باندې اجماع صریح دلیل دی .
په تنقیح الفتاوی الحامدیه کې دي : وقال العلائي في كتاب الصوم قبيل فصل العوارض ان من اللحية وهي دون القبضة كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه احد واخذ كلها فعل يهود الهندو مجوس الاعاجم فحيث ادمن على فعل هذا المحرم يفسق وان لم يكن ممن يستخفرنه ولا يعدونه قادحاً للعدالة والمروة (تنقيح الفتاوى الحامديه ج۱ ص ۳۵۱ كتاب الشهادة فى شهادة محلوق اللحية)
لنډه داچې له یوې موټې نه لږې ږیرې ساتلو ته چامباح نه دي ویلي :
علامه محمود خطاب لیکي : فلذلك كان حلق اللحية محرماً عندائمة المسلمين المجتهدين ابي حنيفة ومالك والشافعي وغيرهم المنهل ج۱ص۸٦ بحواله داږهي اودانبیاو سنتونه)
یعني له همدې کبله ټول مجتهدین علماء لکه امام ابو حنیفه ، امام شافعي ، امام احمد وغیر هم رحمهم الله په نزد دږیرې کلول حرام دی .
په فیض الباري شرح بخاري کې دي :
واما قطع مادون ذلك فحرام اجماعاً بين الائمة رحمهم الله . دږیرې دومره قینچې کول چې له یوې موټې نه لږه پاتې شي دائمه و په اتفاق حرام دی . (ج۴ ص۳۸۰ باب اعفاء اللحى)
په نصاب الاحتساب کې دي : مسله : هل يجوز حلق اللحية كما يفعله الجوالقيون؟
الجواب: لايجوز ذكره في كراهية التجنيس والمزيد وفي جنايات الهدايه وقال عليه السلام احفو الشوارب واعفوا الحى اى قصوا الشوارب

واتركوا اللحى ولاتحلقوها ولا تقطعوها ولا تنقصوها القدر المسنون وهي القبضة .

مسله : دږیرې کلول جائز دی اوکه نه ؟

ځواب: د التجنيس والمزيد كتاب الكراهية اودهدایـه پـه بـاب الجنایـات کـې دي چې دږیرې کلول جائز نه دي . ځکه چـې محمدصلی الله علیـه وسـلم فرمـایلي دي : بریتان کم کړئ او ږیرې پخپل حال پریږدئ ، له مسنونه مقدار نه مه کموئ او هغـه یـوه قبضه ده .

(نصاب الاحتساب ص۱۴_۱۵ قلمي باب نمبر٦ .)

په مالا بدمنه کې دي چې : تراشیدن ریش بیش ازقبضه حرام است .

یعنې دږیرې کلول اوله یوې موټې نه کمول حرام دی ، مالابدمنه ص ۱۳۰)

شیخ عبدالحق محدث دهلوي علیه الرحمه فرمایي :

حلق کردن لحیه حرام است وروش افرنج وهنـود اسـت ، وګذاشـتن ان بـه قـدر قبضـه واجب است واوراسنت ګویند، بمعنی طریقه مسلوک دردیـن اسـت یابـه جهـت آن کـې ثبوت آن ، به سنت است چنانچه نماز عید راسنت ګفته اند.

یعنې دږیرې کلول اولنډول حرام دی او دغریبانو او هندوانو طریقه ده . پوره یوه موټې ږیره ساتل واجب دي اودیته پدی اعتبار سره سنت ویل شوي دي چې داپـه دیـن کـې مسلوکه طریقه ده ، یاځکه ورته سنت ویل کیږي چـې داثابـت سـنت دی ، لکـه داختـر لمونځ ته دهمدغه معنې په لحاظ سره سنت ویل کیږي .

حال داچې هغه واجب دی : اشعة اللمعات ج۱ص ۲۱۲ باب الرجل .

الاختيار شرح المختار کـې دي : واعفاء اللحى . قال محمد عن ابي حنيفة تركها حتي تكث وتكثروا لتقصير فيها سنة وهو ان يقبض رجل لحيته فمازاد على قبضة قطعه لان اللحية زينة وكثرتها من كمال الزينة وطولها الفاحش خلاف السنة .

ترجمه : دږیرې داوږدولو په اړه لـه امـام احمـد نـه روایـت دی چـې امـام ابـو حنیفـه وفرمایل پکار دي چې ږیره پریښودې شي تردې چـې ښـه ګڼـه او اوږده شـي ، دږیـرې کمول سنت دي او کمول دادي چې ږیره په موټې کې ونیسي له هغه نـه چـې څـومره ږیره باهر شي . نو هغه دی قینچي کړي ؛ ځکه چې ږیره زینت او ښکلاده او دهغه غـټ

والي اوږدیر والی دزینت کمال او انتها ده ،لیکن له معمول نه دډیرې زیات اوږدول له سنت نه مخالف دی .

(الاختيار شرح المختار ج٤ ص١٦٧ كتاب الكراهية)

امام غزالي ليکي :

وقد اختلفوا فيما طال منها فقيل ان يقبض الرجل على لحيته واخذ ما فضل عن القبضة فلابأس فقد فعله ابن عمرو جماعة من التابعين واستحسنه الشعبي وابن سيرين وكرهه الحسن وقتاده وقالا تركها عافية احب لقوله صلى الله عليه وسلم اعفو اللحى (احياء العلوم ج١ص ١٤٨ كتاب الكراهية)

ترجمه : خلکو په دی باره کې اختلاف کړی دی چی که چېرته ږیره اوږده شي نو له هغې سره څه کول پکار دي ؟ دځينو وينا ده چې له موټې نه زياته ږيره که قينچي کړي نو څه بدي پکې نشته ځکه چې حضرت ابن عمر اونورو ډيرو تابعينو همداسې کړي دي ، امام شعبي او ابن سيرين ديته ښه ويلي دي ، خو حسن او قتاده ديته مکروه ويلي دي او ويلي يې دي چې دږيرې اوږدول مستحب دی ځکه چې محمدصلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې : اعفو اللحى . ږيره اوږده پريږدئ ، مذاق العارفين ترجمه احياء العلوم ص ۱۵۹ ص ۱٦۰ . ددغو اقوالو اورواياتونو لنډيز دادې چې دږيرې پريښودل واجب دي ، اويو موټې پريښودل موکد سنت دی ، لدينه کمول تحريمي مکروه دی او دومره اوږدول چې دخلکو په نظر کې هسې مذاق وګرځي نو داهم له سنت نه مخالف دی .لهذا دنوکري او ښه تنخوا لپاره دږيرې کلول يادانګريزانو پشان جوړول جائزنه د ی، داشرط بايد ونه منل شي . رازق ذت يواځې يو الله دی ، پرهمغه بايد توکل وکړې شي ، دالله تعالى داحکامو او دمحمد صلی الله علیه وسلم حسنه اسوه مطابق بايد ژوند تير کړې شي ، دالله جل جلاله فرمان دی چې :

(وكاين من دابة لاتحمل رزقها الله يرزقها واياكم) سوره عنكبوت پاره ۲۱.

ډير خو خنده داسې دي چې (آينده لپاره) خپل رزق نشي جمع کولې ، هغوی ته هم يواځې يو الله رزق ورکوي او تاسې ته هم ؛ همدغه راز الهي فرمان دی چې : ومن

یتق الله یجعل له مخرجا ویرزقه من حیث لایحتسب ومن یتوکل علی الله فهـو حسبه .

ترجمه : څوک چې له الله نه ویریږي (دهغه نافرماني نه کوي) نو الله تعالی هغه لپاره له مشکلاتو نه دخلاصون لاره پیداکوي ، او هغه ته له داسې ځای نه رزق ورکـوي چـې دهغه په ګمان کې هم نه نه راځي، اوڅوک چې په الله بروسه کوي (دهغـه د مشـکلاتو دحل لپاره) الله کافي دی . (سوره طلاق پاره ۲۸)

حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرمایي چې ماله محمدصلی الله علیـه وسـلم نـه اوریدلي دي چې فرمایل یې : بیشکه که تاسې په الله تعالی باندې توکل وکړئ نـو هغـه تاسو ته داسې رزق درکوي لکه چې الوتونکې مرغانو ته ورکوي ، چې سهار (له خپلو لـو ځخه) وږي اوځي او مابنام ته په مړه ګیډه بېرته راځي .

عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیـــه وســـلم یقول له انکم تتوکلون علی الله حق توکله لرزقکم کمایرزق الطیر وتغــدو خمـــا صاوتروح بطانا (مشکواة شریف ص ٤٥٢ باب التوکل والبصر)

شیخ سعدي علیه الرحمه پخپل مناجات کې وایي :

ای کریمي که از خزانه غیب ګبروترساوظیفه خورداري
دوستان راکـــجاکني محروم توکه بادشمنان نظر داري

ای کریم ذاته ته چې یهود ، نصاری، آتش پرستانو ، بت پرستانو اونورو ته له خپلې غیـب خزانې نه رزق ورکوې ، کله چې ته پرخپلو دښمنانو باندې داسـې دکـرم نظر لـرې نـو خپل دوستان چې یواځې ستا بندګي او عبادت کوي څنګه له رزق نه محروم ساتې ؟ (مقدمه ګلستان) .

نقل دی چې کله دکارغه بچی له هګې نه ووځي نو دهغه دبدن ټول وبنتان سـپین وي ، دهغه مور او پلار داګمان کوي چې دازمونږ بچـی نـه دی ، کـه زمونږ بچـی وای نـو زمونږ پشان به تک تور و نو ځکه هغه ته دانې مانې نه راوړ ي، کلـه چـې دهغـه وبنتـان لوی شي نو هله خپل بچې ګڼي او دانې مـانې ورتـه راوړي، ترڅـو پـورې چـې دهغـه وبنتان نه وي تور شوي نو په غه وخت کې ورته الله تعالی داسې رزق رسوي چې کلـه خپل مخوکه دخوراک لپاره پرانیزي نو په هغه وخـت کـې دزمکـې حشرات او جـرائیم

دهوادلارې دهغه په مخوکه کې دننه کوي اودهغه خوراک جوړېږي (ابن کثیر مظاهر حق) الله تعالی په دی ترتیب دکارغه بچی ته رزق رسوي ، نو ایا هغه لوی ذات په خپلو صالحو بندګانو ته رزق نه ورکوي ؟ ایا هغه به تاله لوږې نه مړکړي ؟ ناهرګز نه . په دی باره کې یو شاعر داسې وایي :

غم روزي مخور برهم مزن اوراق دفتر را

که پیش ازطفل ایزد پرکند پستان مادر را

درزق په فکر کې دپریشان کیدو هیڅ ضرورت نشته ، الله تعالی خوداسې قدرت لروونکې ذات دی چې دنیاته دماشوم له راتلو نه وړاندې دهغه دمور تیان له شیدونه ډکوي ، بیشکه هغه ډیر دلوی شان او قدرت مالک دی .

انما امره اذا اراد شیئاً ان یقول له کن فیکون . دالله تعالی شان خودادی چې کله هغه کوم شې پیداکول غواړي نو هغه ته حکم کوي چې شه نو هغه په همغه وخت پیدا کیږي . (سوره یسین پاره نمبر ۲۳)

الله تعالی دی مونږ ټولو ته دهغه په لاره اودمحمدصلی الله علیه وسلم دسنت په مطابق دژوند تیرول په نصیب کړي . آمین فقط والله اعلم بالصواب وعلمه اتم واحکم وهوالهادي الی الصراط المستقیم .

دانګریزانو پشان ویښتان جوړول:

(۱۳۷ پوښتنه) دانګریزانو پشان دویښتانو جوړول چې شاطرف ته زیات کمولې شي او مخکینې طرف ویښتان دورستي طرف په نسبت زیات پریښودلې شي ، ایا داډول ویښتان جوړول دشریعت په نظر کې جائز دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا.

(ځواب) محمد صلی الله علیه وسلم به داسې ویښتان پریښودل چې کله به دغوږونو نیمائې پورې رسیدل اوکله به دغوږونو ترنرمي پورې ، کله به چې لدینه زیات شول نو اوږو پورې به رسیدل ، یوځل هغه صلی الله علیه دحج په وخت کې خپل ویښتان کل کړي هم دي ، همدغه راز له حضرت علي رضی الله عنه اونورو اصحابو څخه هم دسر دکلولو روایتونه موجود دي ، نوځکه سنت دادې چې یا دسر ټول ویښتان یو برابر پریږدي اویاهم ټول ویښتان کل کړي ، یادی ټول یو برابر قینچي کړي ، دسرخه ویښتان کمول اوځه پریښودل لکه چی نن سبارواج دی او خلک ورته انګریزي ویښتان وایې

ناروا دی اوله سنت نه مخالفت دی ، په دی سره نصارا ، فساق او فخارو سره مشابهت راځي چې په اسلامي شریعت کې ممنوع دی .
له حضرت عبدالله بن عمررضی الله عنه څخه روایت دی چې محمدصلی الله علیه وسلم له قزع نه منع کړ دی او قزع داده چې دسر دڅه حصې ویښتان کل کړی شي او څه حصه پریښودې شي .
عن ابن عمر قال نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن القزع والقزع ان يحلق راس الصبى ليترك بعض شعره ابو داود ج۲ ص۲۲٤ ، مشكواة شريف ص۳۸ باب الرجل.
په بخاري کې دقزع تفسیر داسې شوی دی : دسر په مخکینۍ حصه کې ویښتان پریښودل اودسر دوروستي حصې ویښتان کلول . ومن القزع ان يترك ناصية شعر وليس في رأسه غيره ، (بخاري شريف جلد ۲ ص ۸۷۷ باب القزع.)
یو بل حدیث دی چې یو ځل محمدصلی الله علیه وسلم یو ماشوم ولید چې دهغه دسرله څه حصې نه ویښتان کل کړی شوي دي اوپه ځینو حصو کې پریښودل شوي دي . محمدصلی الله علیه وسلم له داسې کولو نه منع وکړه او ویې فرمایل چې که چېرته سر کلول غواړئ نو پوره سر کل کړئ اوکه ویښتان ساتل غواړئ نو بیا ټول ویښتان پریږدئ.
عن نافع عن ابن عمر رضى الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم رأى صبياً قد حلق بعض رأسه وترك بعضه فنها هم عن ذلك فقال احلقوه كله او اتركوه كله (ابو داود شريف ج ۲ ص ۲۲۵) (مشكواة شريف ص ۳۸۰ باب الترجل.)
په شامي کې دي : (قوله واما حلق رأسه الخ) وفي الروضة للزندوسي ان السنة في شعرا لرأس اما الفرق او الحق وذكر الطحاوي ان الحلق سنة ونسب ذلك الى العلماء الثلثة. الى قوله ويكره القزع وهو ان يحلق البعض ويترك البعض قطعاً مقدار ثلثة اصابع الخ .)

دعلامه زندوي په روضه کې دي چې دسر دوېښتانو دېرېښودلو په سلسله کې سنت طريقه داده چې ياخودې ټول وېښتان پرېښودل شي اويادې ټول کل کړې شي
علامه طحاوي فرمايي چې دسر کلول سنت دی ،او دايې امام ابـو حنيفه ، امـام ابـو يوسف او امام په طرف يې منسوب کړې دی ، او قزع مکروه دی ، قـزع داده چـې دسر دخه حصې وېښتان کل کړې شي . اودخه حصې وېښتان پرېښودلې شي
(شامي جلد ۵ صفحه ۳۵۹ کتاب الحضر والاباحة فصل في البيع)

په عالمګيري کـې دي : يستحب حلق الرأس في کل جمعة کذافي الغرائب ، الی قوله القزع وهو ان يحلق البعض ويترك البعض مقدار ثلثة اصابع کذافي الغرائب .
يعنې په غرايب کې دي چې هره جمعه دسر وېښتان کلول مستحب دی . او قـزع دادی چې دسر څه حصه کل کړې شي او په څه حصه کې ددريو ګوتـو پـه انـدازه پرېښـودې شي فتاوی عالمګيري ج ٦ص۲۳۸ الباب التاسع عشر في الختان کتاب الکراهية
په بهشتي ګوهردي ، مسئله : دغوړونـو ترنرميـو پـورې دټـول سـرويښتان پرېښـودل يالږ غونډې لدينه لاندې پرېښودل سنت دی ، که څوک خپل وېښتان کلـول غـواړي نـو بيا دی ټول سر کلول سنت د ی، دوېښتانو کمول هم صـحيح دی خودسـر شـاه طـرف تـه وېښتان کلول او مخکيني طرف ته پرېښودل چې نن سبا فيشن جوړ شـوی دی جـائز نـه دی ، همدغه راز دسر څه وېښتان کلول او څه پرېښودل هم جائز نه دی .(بهشتي ګـوهر ص ۱۳۴)

دحضرت مولانامفتي کفايت الله صاحب نورالله مرقدوه فتوی :

سوال : ايا انګريزي وېښتان جوړول جائز نه د ی؟
جواب: انګريزي وېښتان جوړول مکروه دی .(کفايت المفتي ج ۹ص۱۷۰.)
لهذا انګريزي وېښتان جوړول مکروه دی ځکه چې په دی کې له کفارو سره مشابهت دی اوپه حديث کې له کفارو سره دمشابهت کولو نه ممانعت شوی دی ، مشهور حـديث دې چې من تشبة بقوم فهو منهم . له کوم قـوم سـره چـې مشـابهت کـوي لـه همغـه نـه شمارل کيږي . (مشکواة شريف ص ۳۷۵ کتاب اللباس .)
په مالابدمنه کې دي : مرد را تشبه زنان وزن راتشبهه مردان ، ومسلم راتشبه کفـار وفسـاق حرام است .

دسړو له ښځو سره او دښځو له سړو سره مشابهت کول ، همدغه راز دمسلمان لـه کفـارو سره مشابهت کول حرام دی .(مالا بدمنه ص ۱۳۱)
په احادیثو کې په داسې مشابهت باندې وعید راغلی دی ، له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې لعن النبي صلی الله علیه وسلم المخنثین مـن الرجال والمتر جلات من النساء وقال اخرجو هم من بیوتکم.
یعنې محمدصلی الله علیه وسلم پرهغو سړو چې له ځانه محنث جوړوي لعنت کړی دی ، اوپرهغو ښځو هم لعنت کړی دی چې دسړو پشان ځان جـوړوي ، اوویـې فرمایـل چـې هغوی له خپلو کورونو څخه وباسئ ، په یوبل حدیث کې دي : ومنه قال قــال الـنبي صلی الله علیه وسلم لعن الله المتشبهین من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال.
محمدصلی الله علیه وسلم وفرمایل : الله تعالی لعنت کړی دی پرهغو سـړو بانـدی چـې دښځو پشان ځان جوړوي اوپرهغو ښځو چې دسړو پشان ځان جوړوي . بخـاري شـریف ج۲ ص۸۷۴ (مشکواة شریف ص ۳۸۰ باب الترجل)
لهذا له کفارو فساقو او فجارو سره مشابهت کولو نه باید ډډه وکړې شي . اودعلماو صلحاو مشابهت دی وکړې شي . یو عربي شاعر وایي:

فتشبهوا ان لم تکونوا مثلهم
فان تشبیه بالکرام فـــــلاح

دصلحاو مشابهت خپل کړئ که څه هم تاسې دهغه په شان نه یئ . ځکـه چـې دنیکـانو خلکو مشابهت کولو کې کامیابي دی . فقط والله اعلم بالصواب .

ایا ښځه کولې شي چې خپل غوږځیدلي ویښتان یوځا ی کړي او له خپلې چونټۍ سره یې یوځای کړي

سوال ۱۳۸ : ښرچېرتـه ښځـه خپـل غوږځیـدلي ویښتـان راجمـع کـړي او چونټۍ کـې ونخلوي نو ددی څه حکم دی ؟ همدغه راز که تور تارونه چې دویښتانو په شان وي لـه چوټي سره ونخلوي نوددی څه حکم دی ؟ جائز دی اوکه نه ؟

ځواب: ښځه نشي کولې چې خپل غورځيدلي ويښتان بېرته له خپلو ويښتانو سره يوځـاى کړي ، خو تور تار ورسره يو ځاى کولى شي .

وفي الاختيار ووصل الشعر بشعر الادمي حرام سواء كان شعرها اوشعر غيرها الخ (درمختار) (قوله سواء كان شعرها اوشعر غيرها) لما فيه من التزوير كما يظهر مما يأتي وفي شعر غيرها انتفاع بجزء الآدمي ايضاً لكن في التتارخانية واذا وصلت المرأة شعرها بشعر ها فهو مكروه وانما الرخصة في غير شعر بني آدم تتخذ المرأة لتزيـد في قرونها وهو مروي عن ابي يوسف وفي الخانية ولابأس للمرأة ان تجعل في قرونها وذوائبها شيئاً من الوبر (شامي ج ٥ ص ٣٢٨ كتاب الحظـــر والاباحـــة بـــاب الاستبرآء وغيره) فقط والله اعلم بالصواب.

دانګيو ويښتان اخستل جائز دي اوکه نه ؟

۱۳۹ پوښتنه : ايا دانګو ويښتان او دږيرې دخه ويښتانو په کلولو سره مـخ جـوړول جائز دي او که نه . که جائز دی نو څومره ؟ بينوا توجروا.

ځواب: داقسم مخ جوړول چې له هر طرف نه يوه موټې ږيره پـاتې شـي صـحيح دی ا که له يوې موټې نه لږ پاتې شي نو بيا ددی اجازه نشته .

ولا بأس باخذ اطراف اللحية والسنة فيها القبضه (قوله والسنة فيها القبضة) وهو ان يقبض الرجل لحيته فما زاد منها على قبضة قطعه ، كذا ذكره محمد في كتاب الآثار عن الامام قال وبه ناخذ محيط .(درمختار والشامي ج٥ ص ٣٥٩ فصل في البيع)

که چېرته په دواړو انګيو باندې له ژامې لـه حدنـه اخواويښتـان شـنه شـوي وي اومخ بدمعلوميږي نو هغه ويښتان کلولې شي . په عدم الآثام کې دي چې دږيرې کوم ويښتان چې دانګو په طرف وخيژي نودهغه په برابر ولو يعنې دخط په جوړولـو کـې څـه حرج نشته (عالمګيري)(عدا الاثار مرتب مولوي محمد ياور حسين حنفي ګويـا مـوي .) فقط والله اعلم بالثواب.

دریرې په هغه ځای باندې چاړه کشول چې هلته ویښتان نه وي ختلې

۱۴۰ پوښتنه : زماږیره ختلې ده لیکن په منځ کې په ځینو ځایونو کې ږیره بالکل نشته نو ځکه بد ښکاري ، دځینو خلکو تجربه ده چې که چېرته په دغه خالي ځای باندې چاړه کش کړی شي نو ویښتان پکې راخیژي ، په دې نیت سره دچاړه رابنکل جائز دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا.

ځواب: که چېرته دریرې دختلو ځیني ځایونه خالي وي او ږیره پکې نه وي ختلې هلته په دې نیت سره چاړه رابنکل جائز دی چې ږیره پکې وخیژي ، خوکه چېرته په دغه ځای کې واړه او متفرق ویښتان ختلي وي نو دهغه دلویو لویو په خاطر دچاړه رابنکودل صحیح نه دی . فقط والله اعلم بالصواب .

په ږیره کې تورخضاب لګول :

۱۴۱ پوښتنه : که چېرته په ځواني که دسر ویښتان سپین شي نو تور رنګ وهل ځنګه دی ؟ بینوا توجروا.

ځواب:تور رنګ وهل سخت ګناه لرې په احادیثو کې په دی باندې وعید راغلې دی په یو حدیث کې دي عن ابن عباس رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال یکون قوم في اخر الزمان یخضبون بهذا السواد کحواصل الحمام لا یجدون رائحة الجنة

له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې محمدصلی‌الله علیه وسلم وفرمایل : په آخري زمانه کې به څه خلک داسې تور رنګ لګوي لکه چې دکونترو سینه ، داسې خلکوته دجنت خوشبوی نه په برخه کیږي . (ابو داود شریف ج۲ ص۲۲٦ باب ماجاء في خضاب السواد) (مشکواة شریف ص ص ۳۸۲)

په یو بل حدیث کې دي : عن جابر رضی الله عنه قال اتی النبي صلی الله علیه وسلم یابي قحافة یوم الفتح ورأسه ولحیه کالثغامة بیاضاً فقال النبي صلی الله علیه وسلم غیروا هذا بشيئ واجتنبو السواد.

له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چې هغه وایي چې دمکې دفتحې په ورځ ابو قحافه رضی الله عنه دمحمدصلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر کړې شو دهغه دسر او دږیرې ویښتان دثغامه دګیاه پشان بالکل سپین وو ، نو محمدصلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چی دغه سپین والې په څه څیز سره بدل کړه اوله تور رنګ نه ډډه وکړه . (ابو داود ج ۲ ص۲۲٦ باب في الحضاب) (مشکواة شریف ص۳۸۲)

په دی حدیث کی له تور رنګ نه دځان ساتلو په ښکاره امر وکړ ،لهذا لدینه ګلکه ډډه کول پکار دي او استعمال یې جائز نه دی ، دتور رنګ نه پرته نور رنګونه لکه سور خالصې نکریزي یاخه تور مائل رنګ چې په هغه کې دکتم ګیاه چې درنګ لپاره پکاریږي ورسره یوځای کړې شي جائز دی . په حدیث کې دي : ((ان احسن ماغیر به الشیب الحناء والکتم ،)) ښه رنګ نکریزې او کتم دي . (ابو داود ج ۲ ص۲۲٦ باب في الخضاب)(مشکواة شریف ص ۳۸۲)

له حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه څخه په صحیحینو کې منقول دی چی هغه به دنکریزې او کتم رنګ استعمالاوه . وفي الصحیحین عن انس رضی الله عنه ان ابابکر رضی الله عنه احتضب بالحناء والکتم (بحواله زاد المعاد ج۲ ص۱٦۹)

په فتاوی عالمګیري کې دي : وعن الامام ان الخضاب حسن لکم بالحناء والکتم والوسمة واراد للحیة وشعر الراس .

یعنی د ږیرې او د سر د ویښتو رنګول ښه کار دی ، لیکن په نکریزو ، کتم او وسمه سره دی رنګ کړی شي . فتاوی عالمګیري ج ٦ ص ۲۳۸ کتاب الکراهیة الباب العشرون في الزینة الخ ، فقط والله اعلم بالصواب .

په رمضان او په غیر رمضان کی د ږیرې کلول :

۱۴۲ پوښتنه : یو سړی صرف د روژې په میاشت کی ږیره پریږدي او وائي چی په روژه کی ځکه نه کلوم چی په روژه کی له دغه ګناه څخه بچ پاتی شم ، د روژې له ختمیدو سره سم بیا ږیره کلو ي ، د هغه دا کار څنګه دی ؟ ښه دی او که بد ؟

ځواب: داس کل کړي د دی لویه ګناه ده او که په نائي باندی په کلولو سره ؟ بینوا توجروا .

خواب : د ږیری کلول حرام کار دی ، دا چی د روژی په میاشت کی لدی کناه نه بچ پاتی شي خو له روژی نه وروسته دا شنیع حرکت کوي نو له روژی نه وروسته د یو حرام کار مرتکب کیږي ، همدغه راز که په نائي باندی هم کل کړي نو بیا هم د یو حرام کار مرتکب کیږي او کلونکی هم ګنهګاریږي . فقط والله اعلم بالصواب .

نوکان ، بریتان ، د نامه لاندی او تخرګونو د ویښتانو د صفایئ موده خومره ده ؟

۱۴۳ پوښتنه : د پورتنو بیان شویو شیانو د صفایئ موده خو ورځی پکار دي مسنونه طریقه ئی څه ده ؟

خواب : افضل دا دي چی هره هفته خصوصاً د جمعی په ورځ صفائي حاصل کړی شي . یعنی نوکان او بریتان واخستل شي او دتخرګونو او نامه لاندی ویښان دی کل کړی شي ، لدینه وروسته دی غسل وکړي ، که چیرته د تخرګونو او د نامه لاندی ویښتان هره هفته نشي کلولی نو پنځلس شل ورځو کی دی کل کړی شي ، خو انتهائي موده ئی څلویښت ورځی ده ، که چیرته څلویښتو ورځو نه وروسته هم صفائي ونه کړي نو سړی ګنهګاریږي . په شامي کی دي :

ویستحب (حلق عانة وتنظیف بدنه بالاغتسال فی کل اسبوع مرة) والافضل یوم الجمعة جاز فی کل خمسة عشر وکره ترکه وراء الا ربعین (قوله وکره ترکه) ای تحریماً . لقوم المجتبی ولا عذر فیما وراء الا ربعین ویستحق الوعید (در مختار مع الشامی ج ٥ ص ۳٥۸ کتاب الحضر والاباحة فصل فی البیع) عن ابن عمر ان النبی صلی الله علیه وسلم کان یأخذ اظفار و یحفی شاربه کل جمعة ویحلق عانته فی عشرین یوما وینتف الا بط فی اربعین یوماً .

یعنی په یو حدیث کی دي چی محمد صلی الله علیه وسلم به هره جمعه نوکان کټ کول او بریتان به ئی سمول ، په شلمه ورځ به ئی تر نامه لاندی ویښتان او څلویښتمه ورځ به ئی د تخرګونو ویښتان صفا کول . (التعلیق الصحیح ج ۴ ، ص ۴۰۵ باب الترجل) فقط .

د ږيرۍ کلول ، له شريعت نه مخالف ويښتان جوړول ، او د داسې سړي هديه او دعوت قبلول :

۱۴۳ سوال : نائي چې له شريعت نه خلاف انګريزي ويښتان جوړوي يا خلکو ته ږيره کلوي ايا دا جائز دي او که ناجائز ؟ د داسې سړي هديه او دعوت قبلول څنګه دي ؟ بينوا توجروا .

ځواب : محمد صلی الله عليه وسلم به داسې ويښتان پرېښودل چې کله به د غوږ تر نيمائي پورې رسيدل او کله د غوږونو تر نرميو پورې او کله به چې اوږده شول نو ولو ته به رسيدل . يو ځل هغه صلي الله عليه وسلم خپل ويښتان کل کړي هم دي ، له حضرت علي کرم الله وجهه او ځينو نورو اصحابو څخه د ويښتانو کلول هم ثابت دي نو ځکه د ويښتانو په اړه سنت دا دی چې د سر ټول ويښتان پرېښودی شي او يا دی ټول کل کړی شي ، يا په مساوي ډول يو برابر کم کړی شي . د سر څه ويښته پرېښودل او څه کلول چې نن سبا ئې رواج دی او د انګريزي پريډ په نوم يادېږي له نبوي سنت نه مخالف کار دی ، په دی سره د نصاراو ، فساقو او فجارو له شکل او هيئت سره مشابهت لازميږي .

کله چې دا قسم ويښتان ساتل ممنوع دي نو ولا تعاونوا بالاثم والعدوان په نظر کی نيولو سره داسې ويښتان جوړل جائز نه دي . د ږيرۍ ساتل واجب دي او د دی شرعي مقدار يو موټی دی ، لدينه لنډول تحريمي مکروه دي ، همدا راز د ږيرۍ کلول هم حرام او کبيره ګناه ده ، کله چې د ږيرۍ کلول حرام دي نو د بل چا د ږيرۍ کلول هم حرام دي ، که چيرته دا يقين وشي چې هديه يا ميلمستيا له مشتبه ګټې او مزدوري څخه دی نو دا هديه او دعوت دی قبول نه کړی شي . که د هغه په ګټه او امدني کی مشتبه آمدني زيات وي له هغه نه دی هم ډډه وکړی شي او که په آمدني کی لږ غوندی مشتبه او زياته حلاله ګټه وي نو بيا د هديی په قبلولو کی ګنجائش موجود دی که چيرته آمدني کی حرام مال زيات وي خو هغه په صراحت سره ووائي چې زما دا هديه بالکل له حلال مال څخه ده نو په دی صورت کی هم د هديی او دعوت په قبلولو کی څه بدي نشته .

په فتاوی عالمګيري کی دي :

اهدی الی رجل شیئا او اضافه انه کان غالب مال من الحلال فلا بأس الا ان یعلم بانه حرام فان کان الغالب هو الحرام ینبغی ان لا یقبل الهدیة ولا یأکل الطعام الا ان یخبره بانه حلال ورثته او استقرضْ من رجل کذا فی الینا بیع (فتاوی عالمکگیري ص ۲۲۸ ج ٦ کتاب الکراهیة باب ۱۲ فی لهدایا) (امداد الفتاوی ص ۳۱۱ ، ج ۳ کتاب الاجاره مطبوعه کراچی) فقط والله اعلم بالصواب .

آیا ښځه خپل ویښتان کمولی شي ؟

۱۴۵ سوال : که چیرته د کومی ښځی د کونسو ویښتان اوږد او لنډ وي د هغه د برابرولو لپاره د ویښتانو قینچي کول څنګه دي ؟

ځواب : ویښتان په قدرتي توګه لوی او واړه وي په دی کی څه بدي نشته ، په کمولو سره کونسی وړه کیږي لهذا کمول ئی نه دي پکار ، د فیشن په خاطر هم د واړه ماشومانو ویښته کمول ممنوع دي . فقط والله اعلم بالصواب .

د ښځی زیات اوږده ویښان کمول ؟

۱۴٦ سوال : زما د دولس کلنی لور ویښتان زیات اوږده دي او تر کوناتو پوری رسیږي ، د هغی د ویښتانو وینځل او دهغه صفا کول ډیر مشکل کار دی . سپږی او ریچی پکی هم پیدا کیږي ، ایا په داسی صورت کی د ویښتانو کمول جائز دي ، تر څو څو خپل ویښتان صفا ستره وساتلی شي . بینوا توجروا .

ځواب : اوږده او ګڼ ویښتان د ښځو او جنوکیانو لپاره ښکلا او زینت دی . په اسمان کی د پرښتو نسبیح دی سبحان من زین الرجال باللحی وزین النساء باذوائب . پاک دی هغه ذات چی سړو ته په ږیره ښکلا ورکړی او ښځو ته په کونسو سره . (روح البیان ص ۲۲۲ ج ۱) لهذا پکار دي چی ویښتان باید کم نه کړی شي البته که دومره اوږده شي چی کوناتو نه هم لاندی پری اوځي او بد معلوم شي نو هغی ته د زیاتي ویښتانو کمول جائز دي فقط والله اعلم بالصواب .

هغه ښځه چی د فیشن یا د خاوند په حکم او یا هم پخپله خوښه ویښتان کم کړي :

۱۴۷ سوال : که چیرته خاوند خپلی ښځی ته د فیشن لپاره د ویښتانو د کمولو حکم وکړي یا هم پخپله د فیشن لپاره خپل ویښتان لنډ کړي نو دا کار جائز دی او که نه ؟ بینوا توجروا

ځواب : د خاوند په حکم هم د ویښتانو لنډول گناه ده او پخپله خوښه کمول هم گناه ده د گناه په کارونو کی د خاوند خبری منل جائز نه دي لکه چی په حدیث کی دي :
عن علی رضی الله عنه قال نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان تحلق المرأة راسها (رواه النسائی مشکواة شریف ص ۳۸٤ باب الترجل) .

په درمختار کی دي : قطعت شعر رأسها اثمت و لعنت زاد فی البزازیة وان یاذن الزوج لانه لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (درمختار مع ردالمختار ص ۳۵۹ ج ٥٦ کتاب الحضر والاباحة ، فصل فی البیع) .

عالمگیري کی دي : ولو حلقت المرأة رأسها فان فلعت لوجع اصابها لابأس به وان فعلت ذلك تشبهاً بالرجل فهو مکروه کذا فی الکبری (عالمگیري ص ۲۳۸ ج ٦ ، کتاب الکراهیة باب نمبر ۱۹) .

په بهشتي زیور کی دي ي : چی ښځی ته ویښتان کلول او لنډول حرام دي ، په حدیث کی په داسی ښځی باندی لعنت ویل شوی دی (بهشتي زیور ص ۱۳۴ حصه نمبر ۱۱ ، تتمه حصه پنجم) (امداد الفتاوی ص ٢١٦ ص ۲۱۷ ، ۲۱۸ جلد چهارم د ویښتانو کلول ، رنگول او نور احکام) فقط والله اعلم بالصواب .

په دی خاطر د ښځی ویښتان کمول چی اوږده شي :

۱۴۸ سوال : که یوه ښځه د خپلو ویښتانو د اوږده ولو په خاطر د ویښتانو له څوکو نه څه ویښتان قینچي کړي څنگه دي ؟ ځینو ښځو ویلي دي چی کله کله د ویښتانو څوکی چوي او دوه سرونه کوي بیا لدینه وروسته د ویښتانو اوږدیدل بند کیږي نو په داسی صورت کی د ویښتانو کمول څنگه دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که چیرته کافي حد تک ویښتان لوی شوي وي نو د زیات اوږدولو لپاره د ویښتانو د قینچي کولو اجازه نشته فقط والله اعلم بالصواب .

باب السلام والمصافحه

دمصافحی په وخت کی لاسونه ښکلول :

۱۴۹ سوال : ځيني خلک له مصافحی نه وروسته خپل لاسونه ښکلوي ايا دا جائز دي ؟

ځواب : وكذا ما يفعله الجهال من تقبيل يد نفسه اذا لقی غيره فهو مكروه فلا رخصة فيه (درمختار قوله فهو مكروه) ای تحريما ويدل عليه قوله بعد فلا رخصة فيه.

د مصافحی مسنون طريقه څه ده ؟

۱۵۰ سوال : زيد وائي چی په دواړو لاسونو سره مصافحه کول بدعت دی ايا دا صحيح ده ؟

ځواب : په حديث شريف کی دي چی يو اصحابي وويل : زما لاس د محمد صلی الله عليه وسلم په دواړو لاسونو کی و . لدينه ثابتيږي چی په دواړو لاسونو سره مصافحه کول سنت دي نه بدعت . کوم کار چی حديث نه ثابت وي هغه ته بدعت ويل غلط دي [1]. فقط والله اعلم بالصواب .

د سلام اچولو په وخت کی کله او څنګه دی لاس پورته کړي ؟

۱۵۱ سوال : يو بل ته د سلام اچولو په وخت کی د السلام عليكم د لفظ په ويلو سره دی لاس اوچت کړي او که نه ؟ بينوا توجروا .

ځواب : د سلام اچولو په وخت کی دی لاسونه نه اوچتوي . خو که سامع (اوريدونکی) لری وي يا آواز نشي اوريدلی (کوڼ وي) نو د سلام له لفظ سره دی لاس هم اوچت کړي او يا دی اشاره وکړي .

---

[1] _ والسنة فی المصافحة بكلتا يديه وتمامه فيما علقته علی الملتقی قال فی الشامية تحت قوله وتمامه الخ والسنة ان تكون بكلتا يديه وبغير حائل من ثوب او غيره وعند اللقاء بعد السلام وان يأخذ الابهام فان فيه عرقا يثبت المحبة كذا جآء فی الحديث ، درمختار مع الشامی باب الاستبرآء وغيره ج ۵ص۳۷۶.

په مسجد کې د داخیلیدو په وخت کې سلام اچول :

۱۵۲ سوال : مسجد ته په تلوراتلو کې سلام کول څنګه دي که څه سړي په لمونځ ولاړ وي یا څه خلک ناست وي او ذکر کوي پر هغوی سلام اچول څنګه دي ؟

ځواب که چیرته خلک په لمونځ او ذکر کې مشغول نه وي نو سلام وربانـدی واچوئ او که په لمونځ کې مشغول وي یا څوک په مسجد کې نه وي نـو د داخیلیـدو پـه وخـت کې دی داسی ووائي :

السلام علینا من ربنا وعلی عباد الله الصالحین . (فتاوی عالمګیري جلد ۵) .

او که چیرته څه خلک لمونځ کوي او څه خلـک فـارغ ناسـت وي ، کـه چیرتـه فارغـان دومره لرې وي چې هغوی ته د سلام اچولو او یا د هغوی په ځواب سره لمونځ کوونکو ته څه تکلیف نه رسیږي نو د سلام اچولو اجازه ده . فقط والله اعلم بالصواب .

که د سهار په وخت کې صبحک الله بالخیر او د ماښام په وخت کې مساک الله بالخیر ووائي نو د دی څه حکم دی

۱۵۲ سوال : په ځینو ځایونو کې رواج دی چې د سـهار پـه ملاقـات کـې صبحک الله بالخیر ، او د ماښام په ملاقات کې مساک الله بالخیر ویل کیږي ، په دی باره کـې شـرعي حکم څه دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که له سلام نه وروسته شي نو جائز دی ، او که د سلام پر ځـای دا الفـاظ وویـل شي نو جائز نه دی بلکې بدعت دی . فقط والله اعلم بالصواب .

له اختر نه وروسته مصافحه او معانقه کول څنګه ذي ؟

۱۵۳ سوال : خلک د اختر له خطبې او لمونځ نه وروسته مصافحه کوي لـه یـو بـل سـره تکر کیږي ، او ځیني خلک معانقه کوي ، کوم خلک چې دا کار غلط ګڼي نو هغوی ته د کرکې په نظرګوري ، د اختر له لمونځ نـه وروسـته د معـانقې او مصـافحې کولـو شرعي حکم څه دی ؟ ایا محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابو کرامو د اختر لـه لمونځ نه وروسته مصافحه یا معانقه کولو او که نه ؟ که د کتابونو په حواله سره ځواب راکړئ نو دا به ستاسو مهرباني وي . بینوا توجروا .

ځواب : مصافحه او معانقه پخپله مسنونه ده ، سلام ، مصافحه او معانقه کـول پـه عبادتـ کې داخل دي ، کله چې عبادت د شریعت په مطابق ادا کړی شي نـو هغـه پـه عبادتـ

کی شمارل کیږي او د ثواب حقدار ګرځي که نه نو بدعت ګرځي او د ثواب پر ځای د عذاب حقدار ګرځي
د مجمع البحرين مصنف پخپل شرح کی وبلي دي چی یو سړي د اختر په ورځ له لمونځ نه وړاندی په عیدګاه کی د نفل لمونځ ادا کولو اراده وکړه نو حضرت علي رضی الله عنه هغه لدینه منع کړه هغه سړي وویل : ای علي رضی الله عنه ! زه ښه پوهیږم چی الله تعالی د لمونځ په ادا کولو چاته عذاب نه ورکوي ، علي رضی الله عنه وویل ! زه هم ښه پوهیږم چی الله تعالی هم تر هغه چاته ثواب نه ورکوي ترڅو پوری چی محمد صلی الله علیه وسلم هغه کار نه وي کړی یا هم د دی د کولو ترغیب ئی نه وي ورکړی ستا دا لمونځ عبث دی او عبث کار حرام دی ، ویره ده چی الله تعالی راته په دی کار سره تاته عذاب درکړی ځکه چی تاله پیغمبر علیه السلام نه مخالفت کړی دی .
وقال صاحب مجمع البحرين فی شرحه ان رجلا یوم العید فی الجبانة اراد ان یصلی قبل صلوة العید فنهاه علی رضی الله عنه فقال الرجل یا امیر المؤمنین انی اعلم ان الله تعالی لا یعذب علی الصلوة فقال علی رضی الله عنه وانی أعلم ان الله تعالی لا یثیب علی فعل حتی یفعله رسول الله صلی الله علیه وسلم او یحث علیه فیکون صلاتك عبثا والعبث حرام فلعله تعالی یعذبك به بمخالفتك نبیه صلی الله علیه وسلم ج ۱۸ ص ۱۲۹ .
ګوره چی آذان عبادت دی ، د دین شعار او اسلامي علامت دی ، د جمعی لپاره دوه آذانونه او یو اقامت لازمي دی ، مګر د اختر لمونځ لپاره نه آذان دی او نه اقامت ځکه چی دا له پیغمبر نه ثابت نه دي . که چیرته په عیدګاه کی آذان او تکبیر وویل شي نو هر سړی پوهیږي چی دا بدعت دی همدغسی د مصافحی او معانقی حکم دی ، له اختر او نورو لمونځونو نه وروسته د دی التزام کول بدعت دی .
په مجالس الابرار کی دي : واما غیر حالة الملاقاة کونه عقیب صلوة الجمعة والعیدین کما هو العادة فی زماننا فالحدیث ساکت عنه فیبقی بلا دلیل وقد تقرر فی موضعه ان ما لا دلیل علیه فهو مردود .

ترجمه لکن د ملاقات نه علاوه په بل وخت کی لکه د جمعی او اختر لمونځ نه وروسته لکه چی په دی زمانه کی د خلکو عادت جوړ شوی دی ، په حدیث کی د دی ثبوت نشته لهذا دا یو بی دلیله کار دی ، دا پخپل ځای ثابت او محقق دی چی د کوم کار لپاره دلیل نه وي هغه مردود او د عمل وړ نه دی .
په شامي کی دي چی له هر لمونځ نه وروسته د مصافحه کول مکروه دي ، ځکه چی اصحابو کرامو به له لمونځ نه وروسته مصافحه نه کاو . د کراهت یوه بله وجه دا ده چی دا د روافضو طریقه ده ، ابن حجر شافعي فرمائي چی کوم خلک په پنځو لمونځونو کی مصافحه کوي هغوی مکروه بدعت کوي ، په محمدي شریعت کی دی لپاره کوم اصل نشته ابن الحاج مکي په " کتاب المدخل " کی وائي چی امام لپاره ضروري دي چی خلک له دی بدعت نه منع کړي ، په شریعت کی مصافحه کول صرف له مسلمان سره د ملاقات په وخت کی ثابت دي نه له لمونځونو نه وروسته ،لهذا شریعت چی کوم محل او ځای مقرر کړی دی په همغه ځای کی دی دا ادا کړی شي ، له سنت نه مخالفت کوونکي دی منع کړی شي .

ثم نقل عن ابن حجر من الشافعية انها بدعة مكروهة وقال ابن الحاج من المالكية فى المدخل انها من البدع وموضع المصافحة فى الشرع انما هو عند القاء المسلم لاخيه لافى ادبار الصلوات فحيث وضعها الشرع يضعها. فينهى عن ذالك ويزجرفاعله لما اتى به من خلاف السنة .آه (شامى ص ۳۳٦ ج .۵ كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع)

واما فى غير حال الملاقاة مثل كونها عقيب صلوة الجمعة والعيدين كما هو العادة فى زماننا فالحديث ساكت عنه فيبقى بلادليل وقد تقرر فى موضعه ان مالا دليل عليه فهو مر دود ولا يجوز التقليد فيه بل يرده . (مجالس الابرار م۵۰ ص ۲۹۸)

دمشکوات شارح محدث ملاعلي قاري مکي حنفي لیکي :
بیشکه دشرعي مصاحفی وخت دملاقات کولو خت دی . خلک له مصافحی نه پرته له یوبل سره ملاقات کوي ، علمي خبرې کوي او بیا کله چې لمونځ وکړي نو مصافحه

کوي داد کوم ځای سنت دی ؟ نو ځکه ځينو فقهاو وضاحت کړيدی چی داطريقه مکروه اوبدعت دی . (مرقاة شرح مشکواة ص ۵۵۷ جلد ٤۵ باب المصافحة)
ددغو تصريحاتو په وجه ضروري ده چی له داسې رسمي مصافحې نه ډډه وکړي مګر داسې طريقه دی نه خپلوي چی په هغه سره خلکو کې غصه او نفرت پيداشي ، په داسی ځايو نو کې دی دملاعلي قاري دهداياتو خيال وساتي هغه رحمه الله فرمايي : کله چې کوم مسلمان بی ځای دمصافحی لپاره لاس اوږد کړي نو خپل لاس دی ترينه نه لرې کوي اودخلکو زړونه دی نه خفه کوي دبدګماني سبب دی نه ګرځي، په پوره نرمي سره دی پوه کړي او دمسئلې له حقيقت نه دی خبر کړي . فقط والله اعلم بالصواب .
(مرقاة شرح مشکواة ص ۵۷۵ ج ٤)

دقران کريم تلاوت کوونکې دی دسلام ځواب ورکړي :

(۱۵۴) سوال : که دقرآن کريم په تلاوت کوونکې سلام واچول شي نو آيا هغه دی دسلام ځواب ورکړي او که نه ؟ بينوا توجروا.
ځواب : په تلاوت کوونکو باندی دی سلام وانچول شي ، مرعلى من يقرء القــران او يؤذن او يقيم ، او يخطب فی الجمعة او العيدين (او النکــاح) او علــى جماعــة يشتغلون بالصلوة لا يسلم الا اذا کان فيهم من لا يصلى وکذآ فی الدرس الخ .
ليکن که چا سلام واچاو نو غوره دا ده چی ځواب دی ورته ورکړی شي وان فی حــال التلاوة فالمختار انه يجب الرد بخلاف حال الخطبة والاذان وتکرار الفقه . (فتاوی بزاريه جلد نمبر ۳ مع هنديه ص ۳۵۵ کتاب الکراهية نوع فی السلام) فقط والله اعلم بالصواب .

مصافحه کله مسنونه او کله بدعت دی ؟

۱۵۵ سوال : مصافحه په کوم صورت کی سنت دی او په کوم صورت کی بدعت دی په تفصيل سره ئی وليکئ .
ځواب : مصافحه له حديثو نه ثابت ده او د دی لوی فضيلت بيان شوی دی د محمد صلى الله عليه وسلم مبارک ارشاد دی :

ما من مسلمين يلتقيان فيتصا فحان الا غفرلهما قبل ان يتفرقا .

كله چي دوه مسلمانان پخپلو کی مصافحه وکړي نو د هغوی له بیلیدو نه وړاندی د هغوی لپاره مغفرت او بخښنه کیږي (ترمذي شريف ج ۲ ص ۹۷ ابواب الاستيذان باب ما جاء في المصافحه) .

لدینه ثابت شو چی د مسلمانانو د ملاقات نه وروسته سلام اچول او بیا مصافحه کول مسنون او مشروع دي ، څرنګه چې مصافحه دَ سلام تکلمه ده نو ځکه له سلام نه وروسته باید وکړی شي د مشکوة شارح ملا علي قاري لیکي :

فان محل المصافحة المشروعة اول الملاقات وقد يكون جماعة يتلاقون من غير مصافحة ويتصاحبون بالكلام ومذاكرة العلم وغيره مدة مديدة ثم اذا صلوا يتصافحون فاين هذا من السنة المشروعة ولهذا صرح بعض علمائنا بانها مكروهة حينئذ وانها من البدع المذمومة . (مرقاة شرح مشكوة ج ٤ ص ٥٧٥ المصافحة .)

بیشکه دمشروع مصافحې ځای دملاقات لومړي وخت دی ، ځيني خلک له مصافحې نه بغیر ملاقات کوي ترډیره وخته پورې پخپلو کې اخوادیخوا خبرې کوي بیاکله چې لمونځ اداکړي نو مصافحه کوي آخر دادکوم ځای سنت دی ؟ ځکه خو ځينو علماو په صراحت سره لیکلي دي چی داطریقه مکروه اوبدعت دی . (مرقاة شرح مشكواة باب المصافحة)

په مجالس الابرار کې دي : واما المصافحة فسنة عند التلاقى الخ .

دملاقات په وخت کې مصافحه مسنون ده ، ځکه چی له حضرت براابن عازب رضی الله عنه څخه روایت دی چی محمدصلی الله علیه وسلم وفرمایل : کله چی مسلمان پخپلو کې مخامخ شي او مصافحه وکړي نه ددواړو له جداکیدو نه وړاندې ورته بخښنه کیږي دملاقات په شروع کې یعنې څنګه چې سلام واچول شي له هغه وخت نه علاوه په نورو وختونو کې چې مصافحه کولې شي . مثلاًدسهار ، ماسپښين ، دجُمعې لمونځ یا اخترونو لمونځونو نه وروسته چې خلک پخپلو کې کومه مصافحه کوي او داسنت ګڼي داغلط دی محمدصلی الله علیه وسلم اوداصحابو کرامو له عمل نه ثابت نهِ دی .

په شامي کې دي:

ونقل فى تبيين المحارم عن الملتقط انه تكره المصافحة بعداداء الصلواة لكل حال لان الصحابة رضى الله تعالى عنهم ماصافحوابعداداء الصلوة ولا نها من سنن الروافض اه . ثم نقل عن ابن حجر من الشافعية انها بدعة مكروهة لا اصل لها فى الشرع وانه ينتبه فاعله اولا ويعزر ثانياً ثم قال وقال ابن الحاجب من المالكية فى المدخل انها من البدع وموضع المصافحة فى الشرع انما هو عندلقاء المسلم لاخيه لافى ادبار الصلوات فحيث وضعها الشرع يضعها فينهى عن ذالك ويزجرفاعله لماأتى به من خلاف السنة . اه.

ترجمه : له لمونځ نه وروسته مصافحه کول مکروه دی ځکه چې اصحابو به له لمونځ نه وروسته مصافحه نه کوله ، بل په دی خاطر هم مکروه ده چې داد روافضو طريقه ده . علامه ابن حجر فرمايي چې دا مکروه بدعت دی ، په محمدي شريعت کې ددی هيڅ اصل او بنياد نشته ، کوم خلک چې دا کار کوي هغوی ته بايد لومړې خبرداري ورکړې شي که ونه مني نودويم ځل دی ورته سزا ورکړې شي . ابن الحاج مالکي په مدخل کې ليکي : داهم يو بدعت دی ، په شريعت کې دمصافحې کولو هغه وخت بنودل شوېدی چې کله يو مسلمان له خپل مسلمان ورور سره مخامخ شي نه له لمونځ نه وروسته ، پس چېرته چې شريعت مصافحه جائز کړی دی همغلته دی مصافحه وکړی شي، لدينه علاوه په نورو وختونو کې لکه له لمونځونو نه وروسته دی له مصافحې کولو نه باهر ممانعت وکړې شي . او کوم خلک چې له سنت نه خلاف کار کوي هغه بايد په سختي سره منع کړی شي . (شامي ج ٥ ص ٣٣٦ کتاب الحضر والاباحة باب الاستبراء وغيره .) همدغه مضمون په مجالس الابرار کې هم دی .

په هر حال اصلي خبره خو همداده ليکن دخلکو مزاج ډير وران شوې دی په خبرو خبرو جګړې کوي ،يوبل باندې بدګماني کوي نو ځکه دفتنې دختمولو لپاره علماؤ داهم ويلي دي چې که څوک دمصافحې له پاره لاس اوږد کړي نو له هغه نه دلاس په لرې کولو سره داسې حالت دی پيدانه کړي چې خفګان پيداشي .

(مرقاة شرح مشكواة جلد ٤ صحفه ٥٧٥ باب المصافحة) فقط والله اعلم بالصواب.

د اختر په ورځ دمصافحې او معانقې بدعت كيدل يواځې عيدګاه پورې محدود دی ؟

۱۵٦ سوال : ايا د اختر په ورځ دا مصافحې او معانقې كولو بدعت يواځې عيدګاه پورې محدود دی او كه له عيدګاه نه باهر جائز دي ؟ بينوا توجروا .

ځواب : مصافحه في نفسه سنت دی مګر د نوي سپورمی په ليدو سره د مبـاركي وركولـو د وخت خصوصيت او د جمعې او اخترونو لمونځو نه وروسته د مصافحې بې‌اساسـه دی ،لهذا فقهای كرامو مذكوره رسم ته مكروه او بدعت ويلي دي .

سوال : ايا د اخترونو په ورځ مصافحه او معانقه كول عيدګاه پورې محدود ده او كـه لـه عيد ګاه نه بهر هم همدا حكم دی ؟

ځواب : مسنونه مصافحه او معانقه عيدګاه او له عيدګاه نه باهر هر چرته جائز ده ، كومـه مصافحه اومعانقه چې د بدعت په حد كې راځي هغه هر چيرته ممنوع ده ، د عيدګاه او مسجد كوم قيد پكې نشته ، د ملاقات په وخت كې مصافحه سنت دی ، د اختـر مبـاركي په ژبې سره وركول مستحب دی . تقبـل الله منـا و مـنكم پـه الفـاظو سـره دی مبـاركي وركړي ، دی لپاره مصافحه شرط نه ده ، ځرنګه چې دا ده روافضـو طريقـه ده نـو ځكـه بايد لدينه احتراز وكړی شي ، خلك يوځای لمونځونه كوي او لـه سـلام نـه وروسـته يـو ځای خطبه هم آوري او كله چې بيا ودريـږي نـو مصـافحه او معانقـه كـوي ، آخـر دا د مصافحې او معانقې كوم ځای دی ؟

جمعې او د اختر لمونځونو نه وروسته د مصافحې كولو حكم :

۱۵۷ سوال : د لوی اختر او وړوكي اختر په مياشتو كې د سپورمی دليـدلو پـه وخـت يـو بل ته مباركي وائي او پخپلو كې مصافصه كوي ، همدغه راز جمعه خصوصاً د اختـر لـه خطبې نه وروسته مصافحه كوي ايا په شريعت كې د دی ثبوت شته او كه نه ؟

ځواب مصافحه في نفسه سنت دی مګر د سپورمی پـه ليـدلو سـره د مباركی وركولو خصوصيت او له جمعې او اخترونو لمونځونو نه وروسته د دی تخصيص بی اساسه او بې دليله دی لهذا فقهای كرامو مذكوره رسم ته مكروه او بدعت ويلي دي . (شامي ج ۵

ص ۳۳٦ کتاب الحظر والاباحة باب الاستبرآء وغیره . شرح سفر السعادة ص ٤٠٦ مجالس الابرار ص ۲۹۸).

هندو ته نمستی ویل :

۱۵۸ سوال : هندوانو ته نمشکار یا نمستی ویل څنګه دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د دی اجازه نشته ځکه چی دا مخصوص مذهبي الفاظ دي ، ومن تشبه بقوم فهو منهم ، البته کوم الفاظ چی مذهبي نه دي بلکې معاشرتي دي لکه اداب او داسی نور نو د داسی الفاظو ویل جائز دي . فقط والله اعلم بالصواب .

نامحرمو ښځو ته سلام اچول او د هغوی سلام ته ځواب ورکول :

۱۵۹ سوال : نامحرمو ښځو ته سلام اچول او د هغوی سلام ته ځواب ورکول صحیح دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : نامحرمو ښځو ته سلام اچول ښه کار نه دی ، او که نامحرمه ښځه سلام واچوي نو په زړه کی دی ځواب ووائي نه په ژبه ، او که ښځه بوډۍ وه نو د هغی سلام ته په ژبه هم ځواب ورکولی شئ . ولا یکلم الاجنبیة الا عجوزاً عطست او سلمت فیشمتها ویرد السلام علیها والالا (قوله والالا) ای وان لا تکن عجوزاً بل شابة لا یشمتها ولا یرد السلام بلسانه (درمختار ولشامی ج ٥ ص ۳۲٤ ایضاً فصل فی البیع) فقط والله اعلم بالصواب . ۱۱ شوال المکرم ۱۴۰۰ ه کال .

مصافحه په دواړو لاسونو سنت ده :

۱۶۰ سوال : مصافحه په دواړو لاسونو سنت ده او که په یو لاس ، غیر مقلدین په یو لاس مصافحه کوي او په دلیل کی دا حدیث وائي چی یو اصحابي فرمائي : وکان یدی بین یدیه صلی الله علیه وسلم ، زما لاس د محمد صلی الله علیه وسلم په دواړو لاسونو کی و په دی حدیث کی اصحابي پخپل یو لاس سره مصافحه بیانوي . بینوا توجروا .

ځواب : مصافحه په دواړو لاسو نو سره سنت ده ، غیر مقلدین چی کوم حدیث پیش کوي له هغه نه څرګندیږي چی محمد صلی الله علیه وسلم په دواړو لاسو مصافحه کړی وه ځکه خو د صحابي لاس دمحمد صلی الله علیه وسلم د دواړو لاسونو تر منځ راغلی

و . دا چې صحابي به په يو لاس مصافحه کړي وي نو دا حديث په دې باره کـې قطعي نه دی ، ځکه چې کله له دواړو طرف نه په دواړو لاسونو مصافحه کيږي نو خامخا به يـو لاس د دوه لاسونو په منځ کې راځي ، دلته صحابي د نعمت د تحـدث پـه توګـه خپـل نيک بختي بيانوي چې زما لاس د محمد صلى الله عليه وسلم د دواړو لاسـونو پـه منځ کې و ، لدينه دا ويل مقصود نه دي چې ما په يو لاس مصافحه وکړه ، او لـه اصـحابو نـه دا تصور هم نشي کيدی چې محمد صلى الله عليه وسلم خو د مصافحې لـه پـاره دواړه لاسونه اوږد کړي او صحابي يو لاس سره مصـافحه وکـړي ، او دی لپـاره دليـل دا دی چې امام بخاري رحمه الله همداسې يو اثـر لـه حضـرت عبـدالله ابـن مسـعود نـه نقـل کړيدی ورسره ورسره د حضرت حماد عمل يې هم پيش کړی دی چې هغه لـه محـدث کبير امير المومنين في الحديث حضرت عبدالله بن مبارک سره په دواړو لاسـونو مصـافحه وکړه ، که چيرته په يو لاس سره مصـافحه وای نـو محـدثينو حضـراتو بـه ضـرور پـه دی باندی نکير کړی و.

امام بخاري رحمه الله فرمـائي : باب المصافحه : قال ابن مسعود رضـــى الله عنـــه علمنى رسول الله صلى الله عليه وسلم لتشهد وكفى بين كفيه .

حضرت عبدالله ابن مسعود رضى الله عنه فرمائي چې ماته محمد صلى الله عليه وسلم د تشهد تعليم وکړ په داسې حالت کې چې زما لاس د هغه صلى الله عليـه وسـلم پـه دواړو لاسونو کې و .

(د دی خبری په طرف دی خيال وکړی شي چـې دا د تعليم اوښـودنې وخـت و لکـه چې د بيعت په وخت کې وي) لدينه وروسته امام بخاري بـاب تـړي چـې بـاب الاخـذ باليدين (په دواړو لاسونو سره مصافحه کول) او د دی په ثبوت کې د ابن مسعود رضى الله عنه همدغه اثر او د حضرت حماد عمل پيش کړی دی ، هغـه فرمـائي : باب الاخذ باليدين : صافح حماد بن زيد المبارك بيديه ، حدثنا ابونعيم قال حدثنا سيف بـن سليمان قال سمعت مجاهداً يقول حدثنى عبدالله بن مخبرة ابومعمر قال سمعت ابـن مسعود يقول علمنى النبى صلى الله عليه وسلم وكفى بين كفيه التشـــهد كمـا يعلمنى السورة (بخارى شريف ج ۲ ص ۹۲٦) .

د امام بخاري لدی طرز او طریق نه څرګندیږي چی مصافحه باید په دواړو لاسونو وشي په شامي کی دي چی : والسنة ان تکون بکلتا یدیه (درمختار والشامی ج ٥ ص ٣٤٦ کتاب الحظر والاباحة باب الاستبرآء وغیره) .

په مجالس الابرار کی دي : والسنة فیها ان تکون بکلتا الیدین د مصافحی مسنونه طریقه دا ده چی په دواړو لاسونو سره وي . مجالس الابرار ص ۲۹۸ مجلس نمبر ۵۰ .

ابوالحسنات علامه عبدالحی لکهنوي رحمه الله لیکي :

الجواب هوالمصوب : جمهور فقها مصافحه رابد و کف دست مسنون می نویسند در مجالس الابرار می نویسد والسنة ان تکون بکلتا الیدیه انتهی وهم چنین است دردرمختار وجامع الرموز وغیره وحدیث ابوامامه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا تصافح المسلمان لم تفرق اکفهما حتی یغفر لهما که درمعجم طبرانی مرویست دلالت برین دراد چه اگر مصافحه بیک کف ازهر کس می شددرین حدیث په جای اکفهما که جمع کف است لفظ کفاهما بصیغه تثنیه وارد می شدوشاهدان تعلیق صحیح بخاری است که درآن درباب الاخذ بالیدین مسطور است وصافح حماد بن زید ابن المبارك بیدیه انتهی ازین تعلیق معلوم شود که مصافحه بهر دو دست دا عهد تابعی متوراث بود وآنچه که در صحیح بخاری درباب مذکور از عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه مرویست علمنی رسول الله صلی الله علیه وسلم وکفی بین کفیه التشهد کما یعلمنی السورة من القرآن التحیات لله والصلوة والطیبات الحدیث پس ظاهر انست که مصافحه متوارثه که بوقت تلاقی مسنون است نبوده بلکه طریقه تعلیمیه بوده که اکابر بوقت اهتمام تعلیم چیز ازهر دو دست یا یک دست اصاغر گرفته تعلیم می سازند برتقدیر تسلیم اینکه این مصافحه متوارثه بوده آن بهر دو دست ازان حضرت صلی الله علیه وسلم ظاهر ست واز جانب ابن مسعود بودن صرف یک کف مابین هر دو کف نبوی قطعی نیست چه گا هی کف بمعنی جنس مستعمل شده هر دو کف ازان مراد گرفته میشوند وهم چنین در استعمال عرب وآیات قرآنیه واحادیث نبویه استعمال ید در جنس ید امده است که بریک ید و دوید متضمن است و دراکثر مقامات بمقام دو ید استعمال یک لفظ آمده است بناء علیه در احادیثی که در آن اخذ بالید وارد است نص

بر بودن مصافحه بيک دست نيست بلکه هر دو امر محتمل است بالجمله درين باب اگر شئ صريح صحيح برآن يافته شود که مصافحه صرف بيک کف مسنون است اقوال فقهاء کذا شتنی لازم خواهد بود تا وقت عدم وجود تصريح صريح بر اقوال فقهاء عمل بايد ساخت والله اعلم ـ حره الراجي عفور به القوی ابوالحسنات محمد عبدالحی تجاوز الله عن ذنبه الجلی والخفی (مجموعه فتاوی قديم ج ۲ ص ۱۵۳ کتاب العلم مطبع يوسفي لکهنو) (محمد عبد الحی ابوالحسنات) (مطبع يوسفي جديد ج ۱ ص ٦٧_٦٨ کتاب العلم) .

يعنی ټول فقهاء په دواړو لاسونو سره مصافحه کولو ته مسنون وائي . په مجالس الابرار کی دي : والسنة ان تكون بكلتا يديه د مصافحی مسنونه طريقه دا ده چی په دواړو لاسونو سره وشي ، انتهی . په درمختار او جامع الرموز کی هم همداسی دي .

له حضرت ابوامامه څخه روايت دی : قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم اذا تصافح المسلمان.......الخ کله چی دوه مسلمانان مصافحه کوي نو د هغوی د لاسونو د جدا کيدو نه وړاندی د هغوی د ګناهونو مغفرت کيږي . دا حديث پدی خبره دلالت کوي چی مصافحه بايد په دواړو لاسونو سره وشي ځکه چی که چيرته مصافحه په يو لاس سره کيدای نو په حديث کی د اکفهما لفظ د کف جمع دی چی معنی ئی ده لاسونه ، نو بيا د دی پر ځای به کفاهما راغلي و او دی لپاره دليل د صحيح بخاري هغه تعليق دی چی په باب الاخذ باليدين) کی دی . وصافح حماد بن زيد ابن المبارك بيديه ، حماد بن زيد په دواړو لاسونو سره مصافحه وکړه ، انتهی . لدينه معلوميږي چی د تابعينو په زمانه کی هم همدغه طريقه مروج وه . او په يو لاس سره د مصافحی کولو يادونه چی په بخاري کی شويده چی حضرت عبدالله بن مسعود فرمائي : ماته نبی کريم صلی الله عليه وسلم د قرآن کريم د سوره پشان تشهد يعنی التحيات لله .... تعليم راکر په داسی حال کی چی زما لاس د هغه صلی الله عليه وسلم په دواړو لاسونو کی و . لدينه معلوميږي چی دغه مصافحه د ملاقات په وخت کيدونکي مصافحه نه وه بلکی دا د تعليم لپاره وه ځکه چی اکابر د کوم خاص څيز د تعليم د اهتمام لپاره د خپلو ورو يو لاس يا دواړه لاسونه پخپلو لاسونو کی نيسي او تعليم ورکوي . او که چيرته دا مصافحه د ملاقات مصافحه ومنل شي نو د دی ثبوت د محمد صلی الله عليه وسلم د

دوارو لاسونو څخه کیږي . او د ابن مسعود رضی الله عنه له طرف نه فقط د یو لاس کیدل یقیني او قطعي نه دي بلکی په دوارو لاسونو سره کیدل امکان لري ځکه چی د کف لفظ واحد لپاره نه دی بلکی د جنس په معنی دی ، او همداسی د ید لفظ استعمال دعربو له محاوری ، قرآني آیتونو او نبوي احادیثو کی د جنس په معنی ثابت دی . نو پدی صورت کی د ید لفظ یو یا دوه لاسونه متضمن او شامل دی . په زیاترو خایونو کی د دوه ید په موقع کی د ید لفظ راغلی دی په دی اعتبار سره په کوم حدیث کي چی اخذ بالید راغلی دی لدینه مراد په یو لاس سره مصافحه کول نه بلکی بلته د دوارو صورتونو احتمال دی چی په یو لاس وي یا په دوارو لاسونو سره ، البته که چیرته په کوم ځای کی له صحیح او صریح حدیث څخه دا خبره معلومه شي چی په یو لاس سره مصافحه مسنون ده نو د فقهاو اقوال به پریښودل کیږي ، او د دغه صریح تصریح نه پرته باید د فقهاو په اقوالو عمل وکړی شي والله اعلم (مجموع الفتاوی مولانا عبدالحی اردو مبوب ص ۱۱۷ مطبوعه پاکستان) .

د دغه حدیث په اړه د حضرت مولانا خلیل احمد مهاجر مدني رحمه الله یوه واقعه په تذکرة الخلیل کی ده :

یو ځل هغه ټونک ته تشریف یوړو زه له هغه سره وم څو اهل حدیث له هغه سره د ملاقات لپاره راغلل او په یو لاس سره ئی مصافحه وکړه ، حضرت د خپل عادت په مطابق دواړه لاسونه اوږد کړل او په خندا سره ئی وویل چی مصافحه باید داسی وکړی شي . هغه وویل چی په حدیث کی صحابي فرمائي :

وکان یدی فی یدیه صلی الله علیه وسلم . زما لاس د محمد صلی الله علیه وسلم په دوارو لاسو کی و ، هغه فوراً وویل : بیا مونږ د نبی‌کریم صلی الله علیه وسلم د سنتو متبع شلو او که تاسی ؟ (تذکرة الخلیل ص ۲۰٤)لهذا مصافحه په دوارو لاسونو سره مسنون ده نه په یو لاس سره . فقط والله اعلم بالصواب .

د دیني تعلیم په وخت سلام کول :

۱٦۱ سوال : په مسجد یا مدرسه کی چی کله سبق ښودل کیږي نو په دی وخت کی سلام اچول څنګه دی ؟ او که څوک سلام واچوي نو ځواب ورکول ورته څنګه دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب په مسئوله صورت کی باید سلام وانچول شي مکروه دی ، او که کوم شخص سلام واچوي، نو صحیح قول او خبره دا ده چی ځواب یی ورنکړي ، په فتاوی عالمګیري کی دي : یکره السلام عند قراءة جهراً وکذا عند مذاکرة العلم وعند الاذان والاقامة والصحیح انه لایرد فی هذه المواضع ایضا کذا فی الغیاثیة . یعنی کوم شخص چی په زوره د قرآن کریم تلاوت کوي نو هغه وخت سلام اچول مکروه دی همدغه راز د علمي مذاکری ، آذان او اقامت د ویلو په وخت کی هم سلام اچول مکره دي صحیح خبره دا ده چی په داسی حالت کی د سلام ځواب دی هم نه ورکوي .

(فتاوی عالمګیري ص ۳۲۵ کتاب الکراهیة باب نمبر ۷) فقط والله اعلم بالصواب .

خور او ورور ته د پښو کیکاږل او د ملاقات په وخت کی مصافحه کول :

۱۶۲ سوال : خور او ورور چی دواړه بالغان دي ایا د ناروغی په وخت کی یو بل ته لاسونو او پښو ته زور ورکولی شي او که نه ؟ همدغه راز د ملاقات په وخت معانقه او مصافحه کول څنګه دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : مسئله ډیره نازکه ده ، فقهای کرامو په دی باندی بحث کړی دی ، نو ځکه لدینه ځان ساتل غوره او بهتر دی ، که چیرته د ناروغی حالت وي او بل څوک خدمت کوونکی نه وي او ډیر سخت ضرورت وي نو په داسی صورت کی له زنګنو نه لاندی پښو او لاسونو ته زور ورکول جائز دي چی یوه غټه کپړه په پښو او لاسونو باندی واچوي تر څو د یو بل د جسم ګرمي محسوس نه کړي ، او که د شهوت ویره کیده نو بیا لدینه ځان ساتل ضروري دي .

په درمختار کی دي : (ومن محرمه) هی من لا یحل له نکاحها ابداً بنسب او سبب ولو بزنا (الی الرأس والوجه والصدر والساق والعضد ان امن شهوته) وشهوتها ایضاً ذکره فی الداریة . الی قوله . (وما حل نظره) مما مر من ذکراو انثی (حل لمسه) اذا امن الشهوة علی نفسه وعلیها لانه ، علیه الصلوة والسلام کان یقبل رأس فاطمة وقال علیه الصلوة والسلام من قبل رجل امه فکانما قبل عتبة الجنة وان لم یأمن ذلك او شك فلا یحل له النظر واللمس (درمختار مع رد المختار ص

۳۲۲ ص ۳۲۳ ج ۵ ، فصل فی النظر واللمس ، کتاب الحظر والاباحة) فقط والله تعالٰی اعلم بالصواب .

اودس کوونکي سړي باندی سلام اچول :

۱٦۳ سوال : که خلک په اودس کی بوخت وي نو ایا په دی وخت کی دی وربانـدی سلام واچول شي او که نه ؟

په اودس کی مشغولو خلکو باندی باید سلام وانچول شي ، ځکه چی اودس هم د عبادت او ثواب کار دی ، په دی کی مصروفیت خاص توجه ته ضرورت لري په هغی کی ځینی اعضاء او اندامونه داسی هم شته چی که چیرته خصوصي توجه ورته ونکړی شي نو وچ پاتی کیږي او اودس یی نه کیږي ، په دی کی ځینی فرائض ځینی سنتونه او ځینی مستحبات دي ، د اودس په ادابو کی دا هم دي چی د هر اندام د وینځلو په وخت کی بسم الله او د شهادت کلمه وویل شي ، لدینه علاوه نور اوراد هم منقول دي ، په اودس کی ځینی مکروهات دي د هغی خیال هم باید وکړی شي ،لهذا په دغه حالت کی باید سلام وانچول شي . او که څوک سلام واچوي نو ځواب ورکول ورته ولی نه دي . فقط والله اعلم بالصواب .

د سلام طریقه او د هغه په اړه مسئلی :

۱٦۴ سوال : که چیرته کوم مسلمان له خپل مسلمان ورور سره مخامخ شي نو د سلام اچولو طریقه څه ده ؟ کوم یوه طریقه چی مسنونه او غوره وي هغه مونږ ته بیان کړئ .

ځواب : د دی پر ځای چی زه پخپله د سوال ځواب ووایم دا بنه ګنم چی په خلاصة التفاسیر کی د سلام په اړه کوم جامع او تفصیلي مضمون دی هغه درته وړاندی کړم .

په خلاصة التفاسیر کی دي : واذا حییتم بتحیة فحیوا باحسن منها او ردوها ان الله علی کل شیئ حسیباً .

کله چی تاسو ته څوک دعا درکړي نو تاسی له هغوی نه بنه دعا ورکړئ یا همغه دعا ورته ورکړئ بیشکه الله تعالی د هر څیز حساب کوونکی دی .

یعنی کله چی څوک تاسی ته سلام واچوي نو غوره دا ده چی له هغه نه بنه ځواب ورکړئ او که همغومره ځواب ورکړئ هم صحیح ده .

یعنی غوره دا ده چی سلام اچوونکی په خواب کی دی ورحمة الله وبرکاته الفاظ زیات ووائي . دا خبره دی په ذهن کی وساتل شي چی په قرآن کریم کی د سلام یادونه په څو ځایونو کی شوی ده ، او دلته مسئله د سلام د خواب ده چی پوره تفصیل ئی درته وړاندی کوم تر څو له هر څه نه خبر شئ .

اول تحیة (یعنی دعا) دا مجمل لفظ دی . د دی تفصیل په آیتونو او احادیثو کی موجود دی . محمد صلی الله علیه وسلم فرمائي : فسلموا علی انفسکم تحیة من عند الله پخپلو منځونو کی سلام واچوئ دا دعا الله مقرر کړی ده . لکه چی فرمائي : تحیتهم یوم یلقونه سلام (بخاری) کله چی الله تعالی آدم علیه السلام جوړ کړ نو ورته ئی وویل چی په ملائکو سلام واچوه ، هغه چی پر ملائکو سلام واچاو نو هغوی په خواب کی وویل السلام علیکم ، لدینه معلوم شو چی دلته له تحیة نه مراد سلام دی نه بله کومه دعا .

دویم د سلام الفاظ : (۱) (مسنون سلام) د سلام یا السلام لفظ دی علیک یا علیکم سره ووائي (۲) (جائز) صرف سلام یا تسلیم ووائي دا ځکه چی دا الفاظ په قرآن کی موجود دي مګر محمد صلی الله علیه وسلم نه ماثور نه دی یواځی په سلام او تسلیم باندی اکتفا کوونکی سړی له سنت نه محروم دی (۳) (حرام) دا هغه لفظ دی چی له هغه ته د ممنوع تعظیم الفاظ ووځي لکه بندګي (۴) (بدعت یا له کفارو سره مشابهت) پس کوم لفظ چی بنفسه د ګناه په معنی کی شامل نه دی ضاله بدعت دی لکه کورنش ، مجرا ، اداب ، صبحک الله ، مساک الله ، لکه چی ابوداؤد له عمران بن حصین نه روایت کړی دی ، او کوم لفظ چی د کفارو د پیروۍ لپاره غوره کړی شي نو دا ګناه لپاسه ګناه او سیئه بدعت دی . په ترمذي کی حدیث دی چی لیس منا من تشبه بغیرنا ...... لاتشبهوا بالیهود ولاالنصاری فان تسلیم الیهود الاشارة بالاصابع وتسلیم النصاری الاشارة بالاکف (ترمذی شریف ص ۹۲ ج ۲ باب ما جاء فی کراهیة اشارة الید فی السلام) څوک چی له مونږ نه علاوه د بل چا مشابهت کوي هغه زمونږ له ډلی څخه نه دی . د یهودانو سلام مه کوئ بیشکه د یهودو سلام د لاس په اشاری سره دي .

مسئله : د سلام او اشاري جمع کول لکه چې زمونږ په وطنونو کې رواج دی که څه هم ښه کار نه دی مګر جائز دی خصوصاً کله چې عرفا دا اشاره د تعظیم او توقیر ښه او علامه ګرځیدلی ده.

مسئله : کله چې د لرې والي او یا د بل کوم وجه سره د سلام آواز نه آوریدل کیږي نو په لاس سره اعلام او اعلان مباح دی ـ ترمذي . ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مر فی المسجد یوماً وعقبة من النساء فاهوی بیده (باب ما جاء فی التسلیم علی النساء ج ۲ ص ۹۹).

محمد صلی الله علیه وسلم مسجد ته لاړ او ورپسې ښځې وې نو هغه صلی الله علیه وسلم په لاس سره اشاره وکړه.

مسئله : د سلام اچولو په وخت کې دومره ټیټیدل چې رکوع ته نژدې وي جائز نه دي.

مسئله : ځینې جاهلان د سلام پر ځای الله ، الله یا والله وائي ، فی نفسه دا الفاظ محبوب او محمود دي لیکن په دی کې د سنت د پاتې کیدو په وجه ګنهګاریږي او په دی نوي ایجاد سره بدعتي او بې ځای استعمالولو سره بې ادبه کیږي ، تاسې وګورئ چې کافر یواځې د الله نوم په اخستلو سره مؤمن او محمد رسول الله په ویلو سره خاروی نه حلالیږي.

له افضل السلام علیکم له ویلو سره ورحمة الله لفظ زیاتول او په ځواب کې وبرکاته زیاتول لکه چې په حدیث کې راغلي دي چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د السلام علیکم په ویلو سره لس او ورحمة الله په ویلو سره شل او وبرکاته په ویلو سره دیرش نیکیانی ورکول کیږي.

دریم د سلام وخت :

(۱) کله چې دوه مسلمانان پخپلو کې مخامخ کیږي او ملاقات کوي (۲) کله چې روانیږي . خکه چې په حدیث کې همداسې روایت شوي دي .

څلورم :

څوک دی سلام مخکې واچوي ! که څه هم په سلام کې سبقت کول هر چاته ښه کار دی په مشکوة کې حدیث دی چې هر څوک په سلام کې سبقت کوي هغه له کبر نه پاک دی

اولی الناس من بدء بالسلام ، هر هغه څوک چی لومړی سلام واچوي هغه له غوره خلکو څخه دی ، لاکن په بخاري کی دي چی سور دی په پیدلو ، تلوونکی دی په ناستو او لږی جماعت ډله دی په ورکوتی ډله سلام واچوي .

مسئله : که چیرته ورکوتی پیدل روان وي او مشر سور وي نو دواړه اختیار لري چی کوم یو مخکی سلام اچول غواړي وادی چوي . له محمد صلی الله علیه وسلم نه دا ثابت دي چی هغه صلی الله علیه وسلم به په ورکوټو باندی د سلام اچولو سبقت کاو . د عزت په خاطر شاګرد دی پر استاد ، مرید دی پر پیر ، زوی دی پر پلار او ملازم دی پر بادار باندی لومړی سلام واچوي .

پنځم : پکار دی چی هر مومن باندی سلام واچول شي (مسلم) .

تقری السلام علی من عرفت او لم تعرف .

که څوک پیژنی یا نه سلام ورباندی واچوه .

طفیل وائي چی مونږ به له عبدالله بن عمر رضی الله عنه سره یو ځای سهار په وخت بازار ته تللو نو هغه به هر چاته سلام اچاو که هغه به مسکین و یا تاجر ، پردی به و که خپل ، پیژندګلو به و یا نه . یوه ورځ زه له هغه سره ملګری وم ، ما ورته وویل تاسی په بازار کی څه کوئ ، نه څه خرڅوئ او نه څه اخلئ او نه هم چیرته کینئ : راشئ چی همدلته کښینو او خبری اتری وکړو ، ابن عمر وویل : زه سلام اچولو لپاره بازار ته راځم . خو کفار لدی عموم نه مستثنی دي ، لکه چی محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : مسلمان دی په یهودو او نصارا باندی سلام وانچوي که چیرته هغوی په لاره کی روان ووینئ نو د لاری په یو طرف باندی په تلو مجبور کړئ . او محمد صلی الله علیه وسلم کفارو ته په خطونو کی لیکل : السلام علی من اتبع الهدی که څه هم په دی مسئله کی لوی اختلاف دی ، ځینو ممنوع او ځینو د ضرورت په اندازه جائز لیکلي دي ، او ځینو ویلي دي چی وعلیک لفظ دی ووائي .

محمد له ابن مسعود رضی الله عنه نه په اثارو کی روایت کړی دی چی ذمي ته دی د سلام ځواب ورکړی شي . مګر احکام د مجبوریت په وجه بدلیږي ، د مغلوبیت ، حاجت او د مجبوریت په زمانه کی د دی ترکول ابتداء یا ځواباً د فتنی موجب دی ، پس بنه دا ده چی پر هغوی د سلام لپاره بل کوم لفظ پیدا کړي لکه اداب لفظ او داسی نور .

شپږم :

د اسلام حکم : فقها حضرات لیکي چې ابتداءً سلام کول موکد سنت دي او ځواب ورکول واجب دي . په حدیث کی راغلي دي چې کله هغه صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته تشریف یوړو نو لومړی حکم د سلام اچولو ورکړ مګر دا کفائي وجوب او سنت دي . یعنې که یو سړی هم سلام واچاو او یا ځواب ورکړ نور تول پاتې بری الذمه شول که نه نو مسئول دي .

مسئله : کوم لفظ چې سلام اچوونکي سړی ووائي همغه لفظ په ځواب کی ویل هم جائز دي لکه چې فرمایلي دي : (او ردوها) او لدینه زیاتی کول افضل دي لکه چې وی فرمایل باحسن منها .

مسئله : سلام اچوونکی دی السلام علیکم ورحمة الله ووائي او ځواب ورکوونکی دی وبرکاته زیات کړي ، لدینه علاوه نور الفاظ له احادیثو نه ثابت نه دي ، مګر په ابوداؤد کی ومغفرته لفظ راغلی دی .

لطیفه : له آیت نه معلومیږي چې که څوک مونږ ته دعا وکړي نو مونږ هم باید هغه ته همغه دعا وکړو یا له دی نه ښه دعا ، او که څوک زمونږ په حق کی د خیر خبره وکړي نو مونږ هم باید د هغه عوض ورکړو .

د سلام فضیلت : په مسلم شریف کی حدیث دی : لاتدخلون الجنة حتی تؤمنوا ، ولاتؤمنوا حتی تحابوا الا ادلکم علی شیئ اذا فعلتموه ، تحاببتم افشوا السلام بینکم.
تر هغه جنت ته نه شئ تللی تر څو چې ایمان راونه وړئ او تر هغه مؤمن نشئ کیدلی تر څو چې پخپلو کی محبت ونه کړئ ، ایا تاسو ته داسی شی ونښایم چې کله پر هغه عمل وکړئ نو پخپلو کی مینه او محبت پیدا شي ، پخپلو منځونو کی د سلام اچولو طریقه پیدا کړئ .
په سلام کی مسخره کول یا دسلام لفظ د دښمنئ په وجه بدلول کبیره ګناه او د کفارو او یهودو طریقه ده .
خلاصة التفاسیر ص ۴۲۳ ، ص ۴۲۴ ، ص ۴۲۵ ج ۱ پاره نمبر ۵ ، سوره النساء فقط والله اعلم بالصواب .

باب الختان وقلم الاظفار وغیره

د ختنې ، د نوکانو او نورو شیانو د اخستلو باب

که ټول ستر ښکاره نشي نو داسې ختنه جائز ده او که نه ؟

۱۶۶ سوال : ما خپل زوی سنت کړ ښه کیدو نه وروسته معلوم شو چې د ستر نیمه حصه ښکاري او نیمه نه ښکاري آیا په دا قسم ختنې سره سنت ادا کیږي او که نه ؟

ځواب : که چیرته په ختنه کې نیم شوفه پرې کړی شوي وي نو سنت ادا شوی دی او که چیرته لدینه کم پرې کړی شوی وي نو دوباره دی سنت کړی شي غلام ختن فلم تقطع الجلدة کلها فان قطع اکثرمن النصف یکون ختانا او دونه فلا (فتاوی عالمکیری ج ۵ ص ۳۵۷ الباب التاسع عشر فی الختان والخصاء الخ)

د نومسلم د ختنې په اړه :

۱۶۷ سوال : ایا د لوی عمر ختنه کول ضروري دي او که نه ؟ نو سړی وائي چې د چه په ستر باندی قصداً نظر اچول حرام دي ، او د ختنې په وخت د ختنه کوونکی سترګې د هغه په شرمګاه باندی لګیږي او لاس ورباندی هم لګوي ، نو په دی کې شریعت څه حکم دی ؟ ختنه هم سنت دي او د سنت په ادا کولو کې د حرامو ارتکاب کول لازمیږي ، نو په دی اړه د مهربانۍ له مخې د فقهې د کتابونو په رڼا کې معلومات راکړئ دا به مو مهرباني وي .

ځواب : کوم سړی چې له ابتدا نه مسلمان وي نو هغه لپاره د ختنې دومره اهمیت نشته څومره چې د نومسلم لپاره دی . د نو مسلم د ستر په مقابله کې د هغه ختنه زیات اهمیت لري . ختنه د اسلام له شعائرو او خصوصیاتو څخه دی .

د دغو شعار موجودیت په نومسلم کې ضروري دي ، په دی کې د هغه صداقت او استقامت دلیل هم دی ، بل دا چې ختنه په اسلامي دین باندی د ثابت قدم پاتې کیدو لپاره مددګار ده نو ځکه د نوي مسلمان شوي سړي لپاره ختنه ضروري ده . د ختنې مخصوص ځای نه علاوه دی بل ځای نه ښکاره کوي ، ختنه کوونکی دی هم تر آخري توان پوری کوشش وکړي چې د هغه ستر عورت ته ونه ګوري .

په مجموع الفتاوی کې دي : هغه کافر چې مسلمان شوی وي د هغه ختنه کول ضروري دي او خزانة الروایات کې دي :

فی الذخیرة ان المسلم یختن مالم یبلغ فاذا بلغ لم یختن لان ستر عورة البالغ فـرض والختان سنة فلایترك الفرض للسنة والکافر اذا اسلم یختن بالاتفاق لمخالفته دیـن الاسلام وهو بالغ ج ۳ ص ۹٦ یعنی د مسلمان ماشوم ختنه دی د بلوغت نه مخکـی وکړی شي او کله چی بالغ شي نو بیا دی ونکړی شي ځکـه چـی د بـالغ عـورت پټـول فرض دي او ختنه سنت ده ، د سنت لپاره فرض نشي پریښودل کیدی .او که کافر سړی مسلمان شي نو هغه لپاره بالاتفاق د ختنـی کولـو حکـم دی ځکـه چـی هغـه د بالغیـدو باوجود د اسلام مخالفت کاو او کله چی مخالفت ختمول غواړي نـو د ده نـه مخالفـت هله منل کیږي چی له اسلام نه خلاف کوم ظاهري نښه په هغه کی ونه موندل شي لکـه چی ځینی یهودانو د اسلام راوړلونه وروسته هم د موسی علیه السلام د شریعت لمنـه نـه پریښودله . مثلاً د هفتی د ورځی تعظیم کول او د اوښ غوښه نه خوړل ، اسلام د هغوی دا کار خوښ نه کړو او الله جل جلاله دا آیت نازل کړ :

یاایها الذین امنوا دخلوا فی السلم کافة .

ای مؤمنانو ! په اسلام کی (په ظاهر او باطن طریقو سره) داخل شـئ . یعنـی پـه تاسـو کی باید د اسلام نه مخالفه کومه خبره ونه موندل شي . (سوره بقره)

خو که چیرته نوي مسلمان شوي ډیر ضعیف او کمزوري وي او د ختنی کولو زور نه لري نو بیا پر هغه ختنه لازم نه ده .

وکذالك المجوسی اذا اسلم وهو شیخ ضعیف اخبر اهل البصر أنه لا یطیق الختـــان یترك (فتاوی قاضی خان ج ٤ ص ۷۸٤ کتاب الحظر والاباحة فصل فی الختان وکذلك شیخ من المجوس او الهند لو اسلم وقال اهل البصر أنه ، لا یطیق الختـــان یترك (فتاوی سراجیه ص ۷۵ کشیخ اسلم وقال اهل النظر لا یطیق الختـــان (درمختار مع شامی ج ٥ ص ٦٥٦ مسائل شتی قبیل کتاب الفرائض) فقـــط والله اعلم بالصواب .

د ښځو ختنه کول څنګه دي ؟

۱٦۸ سوال : د دین علماء څه وائي چی په اسلام کی د ښځو ختنه کول شته او که نـه ؟ په پوره تفصیل او حوالی سره ځواب راکړئ

ځواب : قوي خبره دا ده چی ښځو لپاره ختنه کول سنت نه دي خو جائز دي پدی کی سړو ته ګټه ده ځکه چی په ختنی سره خوند ئی زياتيږي .

وختان المرأة ليس بسنة مكرمة للرجال وقيل سنة (درمختار) (قوله بل مكرمة للرجال) لانه الذفى الجماع زيلعى (قوله وقيل سنة) جزم به البزازى معللاً انه نص على ان الخنثى تختن (الى قوله) ولا يفيد ذلك سنية للمرأة تامل الخ (شامى ج ۵ ص ۶۵۷ مسائل شتى قبيل كتاب الفرائض) فقط والله اعلم بالصواب .

۲۲ رجب المرجب سنه ۱۳۹۹ هه .

وړوکي ماشوم ته د ختنی په وخت کی بنګ ورکول :

۱۶۹ سوال : زما زوی عتيق الرحمان ډير زيات غصه ناک او نازک دی ، عمر ئی دری کاله دی ، کله کله په معمولي غصه هم دومره ژاړي چی تر ډير وخت پوری اواز ئی نه اوځي تول کور ورسره پريشان وي ، له خولی نه اوبه روانيږي او بيا آواز ئی اوځي په داسی حالت کی د هغه د سنتول ډير ګران کار دي او زه وربانـدی ويريږم کـه داسی ماشوم ته ختنه کوونکی له شيرينی سره څه بنګ ورکړي او له نشه کيدو نه وروسته ئی ختنه کړي تر څو څه تکليف محسوس نه کړي او يا هم لږ تکليف محسوس کړي ، په شريعت کی د داسی کار لپاره څه اجازه شته او که نه ؟ بينوا توجروا .

ځواب : دا شرعي عذر دی ، په دی کی د ضرورت په اندازه لږ غونـدی بنګ ورکول چی په هغه کی شراب او بل نجس شی موجود نه وي خير دی .

په شامي کی دي :

(فرع) قد منا فى الحظر والاباحة عن التتار خانية انه لا بأس بشرب ما يذهب بالعقل لقطع نحوا كلة اقول ينبغى تقييده بغير الخمر وظاهره انه لا يتقيد بنحو بنج من غير المائع وقيده به الشافعية والله تعالى اعلم (شامى ج ۵ ص ۴۵۷ آخر كتاب الاشربة) فقط والله اعلم بالصواب .

د یکشنبی (اتوار) او سه شنبی (منګل) په ورځ غسل کول او د نوکانو اخستل څنګه کار دی ؟

۱۷۰ سوال : ددلایل الخیرات په حاشیه کې دي چې هرڅوک دسه شنبې په ورځ نو کان کټ کوي له هغه نه صحت او روغتیا تیښته کوي او د هغه پرځای ناروغي دهغه په وجود کې دننه کیږي ، څوک چې دسه شنبې په ورځ غسل کوي دهغه عمر کمیږي (عقول عشره)

(۲) تاریخ پوهان وایي چې هرڅوک دیکشنبې په ورځ نوکان اخلي له هغه نه غنی او مالداري ختمیږي او غربت وربانديږ راځي، او څوک چې دیکشنبې په ورځ غسل کوي نو هغه ته ناروغي لګیږي . (عقول عشره) .

مهرباني وکړئ د دغو دواړو عبارتونو په باره کې معلومات راکړئ .

(ځواب) (۱ _ ۲) چا چې دا لیکلي دي هغوی به د تجربې له مخې نه لیکلي وي ، په دې خبرو باندې عقیده ساتل او شرعي حکم ګڼل صحیح نه دي او نه هم وربانـدې عمل کول ضروري دي . په امداد الفتاوی کې هم همداسې د یو سوال ځواب ورکـول شوی دی هغه هم ولولئ

(سوال) په پند نامه کې شیخ رحمه الله یوه مصرعه لیکلې ده چې :

شب در آینه نظر کردن خطا است

ایا دا ممانعت شرعي دی او که د کوم مصلحت په وجـه دی ؟ کـه مصـلحت وي نـو پـه دې کې څه راز پټ دی ، همدغه راز هغه وائي چـې د شـپې پـه وخـت جـارو وهـل د خوارئ باعث کرځي ، او په کېړو سره د دیوالونو صفا کول غربت راولي .

ایا دا خبرې رشتیا دي او که نه ؟

ځواب : په شریعت کې د دغو خبرو هیڅ بنیاد نشته ، هسې په خلکو کې مشهورې دي ، د دې اصل لټولو هیڅ ضرورت نشته ، البته کومو بزرګانو په خبرو کـې چـې داسـې څـه موندل کیږي هغه د حکمت او طب له جملې څخه دي ، دا هم ویلی شو چې په ځینو بزرګانو باندې ښه ګمان غالب و نو ځکه به ځینو روایتونو باندې تنقید ونه کړ او صحیح نې وګڼل ، هغوی په دې کار کې معذور دی او د هغوی دا خبرې د دې وړ نه دي چې عمل ورباندې وکړی شي .

تمتـه اولی ص : ۳۰۵ (امـداد الفتـاوی ج ۴ ص ۳۲۴ مسـائل شـتی) فقـط والله اعلـم بالصواب .

باب ما يجوز اكله وما لا يجوز

د هغو ښيزونو خوړل چې جائز دي او د هغو ښيزونو خوړل چې جائز نه دي .

د ګرم ښيز خوړل يا ښکل:

(۱۷۱ سوال) ايا د ګرمو ښيزونو خوړل او ښکل مکروه دي ؟

ځواب : که لږ غوندی ګرم وي نو خير دی خو چې زيات ګرم وي مکروه دی ، مګ
داسې ښيز چې له يخيدو نه وروسته د هغه فائده او خوند ختم شي نو مکروه نه دی
لکه چاى ، کافي او داسې نور [1]

په ګس لاس سره چاى ښکل ښنګه دي ؟

(۱۷۲ سوال) زياتره خلک د چاى ښکلو په وخت کې په ښي لاس فرچ او په ګس لاس
پياله نيسي او چاى په ګس لاس ښښي ايا دا مکروه نه دي ؟

ځواب : هو! په ګس لاس چاى ښکل مکروه دي په ګس لاس شيطان خوراک ښښ
کوي په ښي لاس سره خوراک ښښاک سنت دی . [2] ځينې خو ورته واجب وائي ، په
لاس سره خوراک او ښښاک کوونکي يو سړي باندی محمد صلی الله عليه وسلم لعن
کړی و ، او په دی سره د هغه لاس ته بددعا کړی وه نو هغه د طاعون په ناروغی کی م
شو . فقط والله اعلم بالصواب .

لس مياشتې مخکې د لنګې شوی ميښې شيدی استعمالول ښنګه دي ؟

(۱۷۳ سوال) دلته په خلکو کې دا رواج دی چې کله د ميښې د لنګېدو لس مياشت
پوره شي نو د هغې شيدی نه ښکې . ايا د دی ښکل جائز دي او که نه ؟ بينوا توجرو
ځواب : د لسو مياشتو نه وروسته د لنګې ميښې شيدی د ثقل په وجه نه ښکې
چيرته ځوک دا شيدی هضمولی شي نو ښکل ئې بالکل جائز دي ، لدينه علاوه ب

---

[1] ولا ياكل طعام حارولا يشم الخ فتاوى عالمگيرى كتاب الكراهية الباب الحادى عشر الخ .

[2] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا ياكلن احدكم بشماله ولا يشربن بها فان الشيطان ياكل بشمـ

يهيځ زحه ما ته نه دي معلوم خو دا خاننه خبره ده چې ديته شيدى ونه ويل شي بلكې
پبه يا بل څه وي نو حكم واضح دى فقط والله اعلم بالصواب .

په خوراک څښاک کې احتياط کول له توکل نه خلاف کار دی :

(۱۷۰ سوال) په خوراک څښاک کې داسې احتياط کول چې کوم يو څيز وخوري او
کوم يو څيز ونه خوري ، کوم يو څيز ته ګټه ور او کوم ته نقصاني ووايي ايا دا له توکل
نه مخالفت دی ؟

ځواب نفع او نقصان د الله له طرف نه دی ، په څيزونو کې نفع او نقصان او د مرض او
شفا تاثير الله تعالى ايښی دی ، د هغه جل جلاله له حکم نه پرته هيڅ يو څيز نه نفع
ورکولی شي او نه نقصان ، که په دی عقيده څه نه خوري او پرهيز کوي نو بيا دا له
توکل نه مخالفت نه دی .

ابو صحابي ام منذر بيان دی : دخل على رسول الله صلى الله عليه وسلم ومعه
على ولنا دوال معلقة قالت مجعل رسول الله صلى الله عليه وسلم ياكل ومعه على
ياكل فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لعلى مه مه ياعلى فانك ناقه قال
فجلس على والنبى صلى الله عليه وسلم ياكل قالت فجعلت لهم سلقاً وشعيراً
فقال النبى صلى الله عليه وسلم ياعلى من هذا فاصب فانه او فق لك (ترمذي
شريف ابواب الطب ج۲ص۲٤)

ام منذر بيان دی چې محمدصلى الله عليه وسلم مونږ کره تشريف راوړ ، له هغه سره
حضرت علي رضى الله عنه هم وو . زمونږ په کور کې دکجورو وږې لاندې ځوړندې وې
محمدصلى الله عليه وسلم له هغې نه خوړل شروع کړ ورسره علي رضى الله عنه هم
شروع شو . محمدصلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل اى علي پريږده مه يې خوره ته
سر تازه له ناروغۍ نه پاڅيدلې يې ، که کمزوری يې نو ستاطبيعت نشي زغلمې ، علي
رضى الله عنه له خوراک نه لاس په سر شو ، بيا ما دچقندرو او داوربشو داوړو غذاتياره
کړه ، محمدصلى الله عليه وسلم وفرمايل اى علي ! داوخوره دستادطبيعت مطابق دی
پس دتوکل مدار په دی کې نه دی چې په څيزونو کې تأثير ونه منې ، توکل دادې
چې تاثير ته ونه ګوري بلکې الله تعالى ته وګوري چې ګټه او نقصان دالله په قدرت او
حکم سره دی ، که دهغه حکم نه وي نو هرڅيز بيکاره دی

دغیر مذبوحه څیز غوښه اخستل او پیشوته ورکول :

(۱۷۵) سوال : زمونږ د علاقی په ډیبو کې بنده حرامه غوښه ترلاسه کیږي مسلمان دغه غوښه دپیشو لپاره اخستې شي او که نه ؟ (ریونین)

خواب: دمردار او حرام ځناورو غوښه ناپاک او حرامه ده ، نه دهغه خوړل جائز دی او نه څه ګټه ترینه اوچتول جائز دی ، دهغه خرید او فروخت هم جائز نه دی لهذا دپیشو لپاره دهغې آخستل جائز نه دي ، فقط والله اعلم بالصواب ۱۷ جمادی الثانی ۱۳۹۹ هـ کال .

که دمچانو په کوم جزٔ سره شربت سور کړی شي نو دهغه استعمال څنګه دی ؟

۱۷٦ سوال : دلته په دکانونو کې سورشربت خرڅیږي په هغه کې چی کوم سور والې وي هغه دیو قسم مچانو څخه ویستل کیږي ، ددغو مچانو په میده کولو او پاپه بلې کومې طریقې سره دغه سور والې ویستل کیږي بیا هغه په شربت کې ګډ وي ، دداسې شربت څکل څنګه دي . (ازریونین)

خواب: په میږیو او مچانو کې بهیدونکې وینه نشته نو ځکه پاک دي مګر خوړل يې جائز نه دي ، خارجې استعمال يې صحیح دی خو داخلي استعمال يې جائز نه دی .

لهذا په کوم شربت کې چی دهغوی کوم جزء اچول شوې وي دهغه څکل روانه دی په درمختار کې دي .

ولا يحل ذوناب يصيد بنابه او مخلب سبع ولا الحشرات) هي صغار دواب الارض واحدها حشرة (قوله واحد هاحشرة) بالتحريك فيها كالفارة والوزعة سام ابرص والقنفذ والحية والضفدع والزنبور والبرغوث والقمل والذباب والبعوض والقرا د الخ (درمختار والشامي ج۵ ص۲٦۵ كتاب الذبائح) فقط والله اعلم بالصواب : ۱۷ جمادی الثانی ۱۳۹۹ هـ

له خوراک څښاک نه وړاندې دلاسونو وينځل او دستپاک سره وچول :

۱۷۷ سوال : دډوډۍ له خوړلو نه وړاندی دلاسونو وینځل اوپه دستپاک سره نه وچول سنت دی او که وچول ؟ بینوا توجروا.

خواب: له ډوډی خوړلو نه مخکې دی لاسونه ووينځي خو په دستپاک سره دې نه وچوي دلاسونو له وچولو نه پرته ډوډی خوړل مستحب دی ، بیاکله چې دډوډی له خوړلو نه فارغ شي اولاسونه ووينځي نو په دستپاک سره دې وچ کړي .

په شامي کې دي : (قوله وغسل اليدين قبله) لنفى الفقر ولا يمسح يده بالمنديل ليبقى اثر العسل شامي ج ۵ص۲۹۷ كتاب الحظر والباحة) فتاوی رحیمیه ج۲ص۲۳۳.

ډوډی خوړلو نه وړاندې او وروسته دواړه لاسونه ووينځې او كه يولاس ؟

۱۷۸ سوال : د ډوډی خوړلو نه وروسته دواړه لاسونه دی ووينځي او كه يولاس كافي دی ؟ بينوا تؤجروا.

خواب: سنت دادی چی دواړه لاسونه ووينځي ديولاس په وينځلو سره کامل سنت نه اداکيږي . په فتاوی عالمگیري کې دي :

قال نجم الائمة البخاري وغيره غسل اليدالواحدة او اصابع اليدين لايكفى لسنة غسل اليدين قبل الطعام لان المذكور غسل اليدين قبل الطعام الى الرسغ ، كذافى القنية (عالمگیری ج ۵ ص ۲۳۷ كتاب الكراهية باب نمبر۱۱) فقط والله اعلم بالصواب.

لاس بايد تر بندونو پوری ووينځل شي :

(۱۷۹ سوال) تر کوم ځای پوری د لاسونو وينځل پکار دي ؟ ايا يواځی د گوتو په وينځلو سره سنت ادا كيږي او كه نه ؟ بينوا توجروا .

خواب : دواړه لاسونه بايد تر بندونو پوری ووينځل شي يواځی د گوتو وينځل كافي نه دي . فتاوی عالمگیري ج ۵ ص ۳۳۷ [1] فقط والله اعلم بالصواب .

[1] _ قال نجم الائمة البخارى وغيره غسل اليد الواحدة او اصابع اليدين لا يكفى لسنة غسل اليدين قبل الطعام لأن المذكور غسل اليدين وذلك الى الرسغ كذا فى القنية الباب الحادى عشر .

که چیرته په نباتي غوړو کی د نجس څیزونو یوځای کولو شبهه وي نو د هغه څه حکم دی ؟

(۱۸۰ سوال) نن سبا په خلکو کی دا چرچه ده چي په نباتي غوړو کی د خنزیر چربي یوځای کوي . په دی اړه شرعي حکم څه دی ؟
جناب مفتي صاحب ! له مسنون سلام نه وروسته عرض دی چي زه الحمد الله روغ رمټ يم الله دی وکړي ستاسی طبیعت هم ښه وي ، د نباتي غوړو په باره کی زيات سوالونه راځي تر اوسه پوری خو ما همدا لیکلي دي چي له شرعي دليل نه پرته د حرمت حکم وربانډی نشي لګیدلی ، تاسو ته چي کوم ښو رای عالي وي هغه ولیکئ . (د یو مفتي له خوا) .
ځواب : محترما ! له مسنون سلام نه وروسته د دواړو طرفونو عافیت غواړم .
دا چي په ټوله دنیا کی بناتي غوړي بلا تأمل استعمالیږي نو تر څو پوری چي په هغه کی د نجس څیز د ګډولو شرعي ثبوت نه وي تر لاسه شوی حرام ورته ویل صحیح نه دي . ستاسی رای صحیح ده . فقط والله اعلم بالصواب .

د ډوډی په وخت کی د ګوتو څټل :

(۱۸۱ سوال) د ډوډی له خوړلو نه وروسته خو د ګوتو څټل مستحب دي ، خو یو سړی د ډوډی له خوړلو په وخت کی هم ګوتی څټي ایا دا هم مستحب دي ؟ بينوا توجروا .
ځواب : د ډوډی له خوړلو نه وروسته د ګوتو څټل مستحب دي خو د ډوډی د خوړلو په وخت کی بیا بیا څټل مستحب نه دي بلکی مکروه دي ، په مدارج النبوة کی دی : ولعق اصابع در اثنای اکل مکروه است یعنی د ډوډی د خوړلو په وخت کی د ګوتو څټل مکروه دي (ج ۱ ص ۳٦٦ باب یاز دهم در عبادات طعام و شراب وغیره) فقط والله اعلم بالصواب .

د ډوډی له خوړلو نه مخکی دلاسونو وینځلو ثبوت په حدیث کی دی :

(۱۸۲ سوال) د ډوډی له خوړلو نه مخکی د لاسونو وینځل له حدیث شریف نه ثابت دي او که د فقهی روایت دی ؟
ځواب : د ډوډی له خوړلو نه وړاندی د لاسونو وینځل له حدیث شریف نه ثابت دي ، فقهي روایت د حدیث په مطابق دی . په ترمذي شریف کی دي :

فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم برکة الطعام الوضوء قبله والوضوء بعده ـ د محمد صلی الله علیه وسلم گرامي ارشاد دی چی د ډوډۍ برکت له ډوډۍ نه مخکی او وروسته د لاسونو په وینځلو کی دی . ص ۷ ج ۲ ابواب الاطعمة باب الوضوء قبل الطعام وبعده) فقط والله اعلم بالصواب .

د ډوډۍ له خوړلو نه وروسته د لاسونو وینځل سنت دی :

(۱۸۳ سوال) د ډوډۍ له خوړلو نه مخکی او وروسته دوه لاسونه ووینځل شي او که یو لاس ؟

ځواب : سنت دا دی چی دواړه لاسونه ووینځل شي د یو لاس په وینځلو کامل سنت نه ادا کیږي . فتاوی عالمگیري ج ۵ ص ۳۳۷ الباب الحادی العشر فی الکراهیة فی الاکل الخ) فقط والله اعلم بالصواب .

لاسونه باید تر بندونو پوری ووینځل شي :

(۱۸۴ سوال) لاسونه باید تر کوم ځای پوری ووینځل شي ایا د گوتو په وینځلو سره سنت ادا کیږي او که نه ؟

ځواب : باید چی دواړه لاسونه تر بندونو پوری ووینځل شي ، یواځی د گوتو وینځل کافي نه دي .

د لاسونو له وینځلو نه وروسته په دستمال سره وچول :

(۱۸۵ سوال) هل یمسح یده قبل الطعام بالمندیل اذا غسلها قبل الطعام ؟

الجواب : ولا یمسح یده قبل الطعام بالمندیل لیکون اثر الغسل باقیاً وقت الاکل ویمسحها بعد لیزول اثر الطعام بالکلیة کذا فی خزانة المفتین . الفتاوی العالمگیریة ج ۵ ص ۳۳۷ ایضاً)

په خوراکي ځیزونو باندی عیب لگول ځنگه دي ؟

(۱۸٦ سوال) که چیرته یو چاته خوراکي ځیزونه خوښ نشي ، نو ایا هغه ته بدرد ویل گناه لري ؟ ایا اشپز رټلی شي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : خوراک ښناک د الله تعالی لوی نعمت دی ، دیته باید بدرد ونه ویل شي ، که لی خوښ وي ودی خوري ، که نه نو نه دی خوري . په حدیث شریف کی دي :

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال النبی صلی الله علیه وسلم طعاماً قط ان اشتهاه اکله وان کره ترکه (مشکواة شریف کتاب الاطعمة) .

یعنی محمد صلی الله علیه وسلم به کله هم په طعام عیب نه لګاو ، کوم یو څیز به ئی چی خوښ و خوړل به ئی او کوم یو به چی خوښیده هغه به ئی نه خواړه ، البته که په پخلي کی اشپز خواري نه کوي نو په رټلو او تنبیه کولو کی څه حرج نشته .

خامخا شک او تنبیه کول :

(۱۸۷ سوال) امام او مؤذن ته د محلي له مختلفو ځایونو څخه ډوډی راځي ، له کوم ځای نه چی ډوډی راځي دا نه معلومیږي چی دا د سود خور له کور نه راغلی ده او که د رشوت خور له کور نه ، ایا د داسی ډوډی خوړل جائز دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : له محلي نه چی کومه ډوډی او ترکاري امام او مؤذن ته راځي هغه حلال ده ، تر هغه باید شک پکي ونه کړی شي تر څو پوری چی دا معلوم شي چی د رزق ګټلو غالبه حصه سود یا رشوت دی فقط والله اعلم بالصواب .

په میز او جدا جدا پلیټونو کی خوراک کول :

(۱۸۸ سوال) په میزونو او جدا جدا پلیټونو کی د ډوډی خوړلو رواج عام شوی دی ، دی لپاره دا دلیل ویل کیږي چی په جدا جدا خوړلو کی طعام نه ضائع کیږي ، په دی اړه د شریعت څه حکم دی وضاحت وکړئ .

ځواب : پر زمکه دسترخوان آوارول او وربانـدی ډوډی خوړل سنت دي ، په میزونو باندی ډوډی خوړل له اسلامي تهذیب نه مخالف کار دی ، دا د متکبرینو او فیشن پرستو طریقه ده لهذا دا طریقه باید پریښودی شي ، په ما لا بدمنه کی دي چی له کفارو او فساقو سره مشابهت کول حرام دي (مالا بد منه صفحه ۱۳۱)

همدغه راز په یو کاسه کی یوځای ډوډی خوړل هم سنت او د برکت باعث دي . په جدا جدا پلیټونو کی خوړل اسلامي طریقه نه ده ، دا د کفارو طریقه ده چی ښځی او سړي په یو هال او کور کی ټول په جدا جدا پلیټونو کی ډوډی خوري ، که چیرته مسلمانان هم همدغه طریقه خپل کړي نو بیا د مسلمانانو او کفارو تر منځ به کوم فرق پاتی شي ؟ دا د وهمیانو دلیل دی چی د امراضو د متعدي کیدو عقیده ساتي ، په حدیث کی دي :

عن عمر بن الخطاب قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم كلوا جميعاً ولا تفرقوا فان البركة مع الجماعة .

له حضرت عسر بن الخطاب رضى الله عنه څخه روايت دى چى رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ټول په يوځاى ډوډى وخورئ جدا جدا مه خورئ ، په يوځاى خوراک کى برکت دى . مشکوة شريف ص ۳۷ باب الضيافة .

په يو بل حديث کې دي چى صحابه کرامو د محمد صلى الله عليه وسلم په خدمت کى عرض وکړو چى : مونږ خوراک څنباک کوو خو وربلندى نه مړيږو . محمد صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : فلعلكم تفرقون _ شايد تاسى جدا جدا خورئ ؟ هغوى وويل هو . محمد صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل فاجتمعوا على طعامكم اذكروا اسم الله يبارك لكم فيه رواه ابوداؤد . ټول يوځاى په بسم الله ويلو سره ډوډى وخورئ په دى سره به ستاسى په طعام کى برکت راشي . ابوداؤد شريف ج ۲ ص ۱۷۲ باب فى الاجتماع على الطعام (مشكواة شريف ص ۳٦۹ باب الضيافة) (حصن حصين ص ۱۰۹ منزل نمبر ۳)

همدغه راز په حديث شريف کى دى چى له محمد صلى الله عليه وسلم سره ډيره لويه کاسه وه چى ټولو يوځاى به پکى ډودى خوړله .

عن عبدالله بن بسر رضى الله عنه قال كان للنبي صلى الله عليه وسلم قصعة يحملها اربعة رجال يقال لها الغراء فلما اضحو وسجدوا الضحى اتى بتلك وقد ثرد فيها فالتفوا عليها (اى اجتمعوا حولها) الخ

(باب مشكواة شريف ص ۲٦۹ باب الضيافة جمع الفوائد)

همدغه راز په حديث کى دى چى الله ته غوره طعام هغه دى چى په هغه کى ډير لاسونه وي (جمع الفوائد جلد اول) دا ده اسلامي لاربنودنه او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت او مبارکه طريقه ، د دغى مبارکى طريقى پريښودل او د متکبرو کفارو طريقه خپلول څنګه صحيح کيداى شي ؟

پاتى شو دا سوال چى په يوځاى خوړلو کى طعام برباديږي دا په حقيقت کى يو شيطاني وسوسه ده ، که چيرته په اندازه طعام واچول شي او د ضرورت په وخت کى

نور طعام راوړی شي نو طعام بالکل نه ضائع کیږي ، او که چیرته بیا هم څه طعام پاتی شي نو هغه نه خرابیږي ځکه چی د مؤمن په پس خورده کی شفا ده ،لهذا دغه طعام باید ضائع نه کړی شي .

قرآني آیت لیس علیکم جناحٌ ان تأکلوا جمیعاً او اشتاتا . پاره نمبر ۱۸ سوره نور .
ترجمه : تاسو لپاره په دی کی گناه نشته چی تاسی ټول یوځای طعام وخورئ یا جدا جدا . تاسی باید لدی آیت نه دا مفهوم وانخلئ چی لدی آیت نه خو دا معلومیږي چی جدا جدا خوړل هم جائز دي او هیڅ قسم گناه پکی نشته نو بیا په یوځای خوړلو باندی دومره اصرار ته څه ضرورت دی ؟ د دی ځواب دا دی چی په آیت کی نفس جواز بیان شوی دی چی یوځای او جدا جدا دواړه قسمه خوړلی شئ ، خو په دی کی افضله طریقه دا ده چی ټول یوځای ډوډی وخوري ځکه چی په دی کی برکت دی ، لکه چی له پورتنیو احادیثو څخه ثابت شو . د دی آیت شان نزول دا دی چی د ځینو اصحابو کرامو عادت دا و چی تر څو پوری به له هغوی سره میلمه نه و نو ځانله به ئی ډوډی نه خوړله ، یا له میلمه سره یوځای ډوډی خوړل ضروري گڼله ، نو په دی آیت کی دا ارشاد ورته وشو چی یوځای په گډه ډوډی خورئ او یا جدا جدا ټول جائز دي ، د مشقت کولو ضرورت نشته . په فوائد عثماني کی دي چی لدی آیت نه ځانله د ډوډی خوړلو جواز هم معلومیږي ، ځینی کسان مو داسی لیدلي دي چی تر څو پوری به میلمه ورسره نه و نو ځانله به ئی ډوډی نه خوړله ، معلوم شو چی دا غلو ده ، البته که چیرته کسان گډ وي او ټول یوځای کیني او ډوډی وخوري نو دا د برکت موجب گرځي . کما ورد فی الحدیث (سوره نور پاره نمبر ي۱۸ رکوع نمبر ۱۳)
معارف القران ادریسي کی دي : په ځینو اصحابو باندی د جود او کرم دومره غلبه وه چی له میلمنو نه پرته به ئی ډوډی نه خوړله ، پر خپل ځان به ئی سختي کاوه او د میلمه انتظار به ئی کاو ، د هغوی په باره کی دغه پورتنی آیت نازل شو چی تاسو لپاره هیڅ گناه نشته چی یوځای ډوډی خورئ او که جدا جدا .
جدا جدا ځانله خوراک هم جائز دی او یوځای په گډه هم ، خو په یوځای خوړلو کی زیات برکت دی . (معارف القران ادریسي ج ۸ ص ۲۹۲) تفسیر روح المعاني ج ۱۸ ص ۲۲۱ مطبوعه مصطفائیه دیوبند ، تفسیر مواهب الرحمان ص ۲۴۶ ج ۱۸ ص ۲۴۷ پاره نمبر ۱۸ وتفسیر روح البیان جلد ۱۸ ص ۱۸۱ ، ۱۸۲)

نن سبا ځانله ځانله د خوړلو رواج مخ په زیاتیدو دی ، دا د کفارو او فیشن پرستو خلکو کار دی ،لهذا مسلمانانو ته پکار دي چی لدینه ډډه وکړي ، خصوصاً علماء کرامو ته امام غزالي رحمه الله فرمائي :

مهما صارت، السنة شعار اهل البدعة قلنا بترکها خوفاً من التشبه بهم . یعنی کله چی کوم سنت د مبتدعینو امتیازي شعار وګرځي نو مونږ په دی کی هم د هغوی مشابه کیدو له ویری نه د سنت د پریښودلو فتوی ورکوو .

احیاء العلوم ج ۲ ص ۲۷۰ بحواله التشبه فی الاسلام ج ۱ ص ۱۶۳).

الله تعالی دی د سنت عظمت او پر هغه د عمل کولو توفیق راکړي فقط والله اعلم بالصواب .

د جنابت په حالت کی خوراک څښاک کول څنګه دي ؟

(۱۸۹ سوال) له صحبت یا احتلام نه وروسته له غسل نه وړاندی د جنب سړي لپاره خوراک څښاک کول څنګه دي حلال او که حرام ؟ ځینی خلک حرام وائي ایا په دی مسئله کی د ښځی او سړي لپاره یو حکم دی او که څه فرق پکی شته ؟ بینوا توجروا .

ځواب :که له جماع یا احتلام نه وروسته له غسل نه وړاندی د خوراک څښاک څه ضرورت مخی ته راغی نو اودس کول پکار دي ، که چیرته د اودس وخت پیدا نه کړي نو لږ تر لږه لاسونه دی ووینځي او په خوله کی دی غرغره وکړي ، بیا دی څه خوراک وکړي د لاسونو او خولی له وینځلو نه وړاندی جنب سړي لپاره خوراک څښاک کول مکروه دي د سړي او ښځی لپاره یو حکم دی ، خو حائضه ښځه لدینه مستثنی ده ، هغی لپاره مکروه نه دي . په فتاوی عالمګیري کی دي :

ویکره للجنب رجلاً کان او امرأة یأکل طعاماً او یشرب قبل غسل الیدین والفم ولایکره ذلك للحائض والمستحب تطهیر الفم فی جمیع المواضع ، کذا فی فتاوی قاضی خان (فتاوی عالمگیری ۲۳۷/۵ ، کتاب الکراهیة ، باب نمبر ۱۱) فقط والله اعلم بالصواب .

که حامله ښځه خاوره خوري نو ؟

(۱۹۰ سوال) حاملی ښځی ته د خاوری خوړلو شوق پیدا کیږي ایا هغی ته خاوره خوړل جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب په دومره اندازه کی خاوره خوړل ورته جائز دي چی صحت لپاره مضره نه وي په فتاوی عالمګیري کی دي :

اکل الطين سکروه ذکر فی فتاوی ابی الليث ذکر شمس الائمة الحلوانی فی شرح صومه اذا كان يخاف على نفسه انه لو اكله اورثه ذلك علة او آفة لايباح له التناؤل وكذلك هذا فی كل شیء سوی الطين ، وان كان يتناول منه قليلا او كان يفعل ذلك احياناً لا بأس به كذآ فی المحيط ، الطين الذی يحمل من مكة ويسمی طين احمر هل الكراهية فيه كالكراهة فی اكل الطين على ما جاء فی الحديث قال الكراهية فی الجميع متحدة كذا فی جواهر فتاوی وسئل عن بعض الفقهاء عن اكل الطين البخاری ونحوه قال لابأس بذالك مالم يضرو كراهية اكله لاللحرمة بل لتهيج الداء (فتاوة علمگيری ص ۲۲۷ ج ٦ ، كتاب الكراهية الباب الحادی عشر فی الكراهی فی الاكل وما يتصل بها) فقط والله اعلم بالصواب .

د ډوډۍ ځلور ټکړی کول او بیا ئې خوړل :

(۱۹۱ سوال) که څوک ډوډۍ ځلور ټکړی کوي او خوري دا څنګه دي ؟ بینوا توجروا.

ځواب : د دی هیڅ ضرورت نشته چی ډوډۍ دی ځلور ټوټی کړی شي بلکی په څه کی سهولت وي همغسی دی وکړي ، دا رواج په هغو علاقو کی دی چی هلته شیعه ګان اوسیږي او لدینه اشاره د ځلورو خلفاؤ ده چی مونږ ځلور واړه منو .

فتاوی محمودیه ص ۱۴۷ ج ۵ فقط والله اعلم بالصواب .

باب التصاویر

په کورکی د براق تصویر ایښول څنګه دي ؟

(۱۹۲ سوال) په ځینو کورونو کی د براق تصویر وي ، دا تبرکاً ساتل کیږي او خلک ئی زیارت کوي ، په دی باره کی څه حکم دی ؟

ځواب : ښکاره خبره ده چی د براق دغه تصویر د اصلي براق نه دی ، بلکی له ځانه جوړ شوی خیالي تصویر دی ، دا د اصلي براق تصویر ګڼل غلط دی ، خیالي څیز ته د اصل نوم په ورکولو سره د اصل احکام نه ورکول کیږي ، که چیرته څوک د بیت الله یا د محمد صلی الله علیه وسلم د روضی په شکل کی ښه ښکلی تعمیر جوړ کړي نو ایا هغه مصنوعي ځایونه مقدس او متبرک جوړیدای شي ؟ نه هرګز نه ، که څوک د خپل پلار د لیدلو نه پرته د هغه خیالي تصویر جوړ کړي او خلکو ته ووائي چی دا زما پلار دی نو خلک به ورته څه ووائي ؟ لنډه دا چی له ځانه خیالي جوړ شوی څیز ته اصل نوم ورکول او د برکت لپاره په کوټه کی ایښودل جاهلانه کار دی .

قدوة العارفین حضرت شاه ابوالحسن نصیر آبادي فرمائي : که چیرت مقصد دا وي چی د مبارکو ځایونو تصویرونه جوړول د ثواب کار دی ، یا دغو خیالي تصویرونو سره اصل احکام نافذ کړي نو بیشکه چی دا سیئه بدعت دی ، بلکی شاید ډیرو خبرو کی کفر ته ورسیږي . (عجاله نافعه ص ۱۴) د فقهي مشهور کتاب له نصاب الاحتساب څخه یوه فتوه دلته رانقلوم .

مسئله : بعض السوال یجلسون علی القوارع ویعرضون ثیاباً مصورة بصور قبور بعض المتبرکین وبلادهم ویضربون المزمار . عند ذلك ویجتمع علیه بعض الجهلة والسفهاء فما یصنع بهم .

څه فقیران په لاره کی کیني او د دین د بزرګانو د قبرونو تصویر لرونکی جامی خلکو ته ښکاره کوي او باجه ورسره وهي ، جاهلان او احمقان هلته جمع کیږي ، هغوی سره څنګه سلوک پکاردی ؟

ځواب : له داسی کارونو څخه د هغوی منع کول پکار دي ، او که امام د دغو جامو په څیرلو او شکولو کی څه مصلحت ویني نو څیری دی کړي پر هغه د دغو جامو تاوان نشته . نصاب الاحتساب الباب السادس ص ۱٦ .

په همدغه کتاب کی دا هم دي : روی فی الاخبار انّ قوماً خرجوا علی هیئة الحجاج الی زیارة بیت المقدس فردهم عمر رضی الله عنه وضربهم بالدرة وقال لهم تریدون ان تجعلوا بیت المقدس کالمسجد الحرام .

د بیت المقدس د زیارت لپاره به یو قوم د حاجیانو په شکل کی تلل ، حضرت عمر رضی الله عنه هغه منع کړ او په کوړو ئی ووهل ، ورته ئی وویل ایا تاسی له بیت المقدس نه بیت الله جوړل غواړئ ؟ (باب ۲۴ ص ۶۰) نصاب الاحتساب .

پس کله چی د بیت المقدس په شان پاک ځای سره د مسجد حرام پشان سلوک جائز نه دی نو د مصنوعي تصویر په وړاندی د براق پشان سلوک کول څنګه جائز کیدی شي ؟ بلکی د هغه نیست او نابود کول پکاردي .

په فتاوی ابن تیمیه کی دي : فان کل ما عظم بالباطل مکان او زمان او حجرٍ او شجرٍ او بنیة یجب قصد اهانته کما تهان الاوثان المعبودة (ج ۲ ص ۷۶)

همدغسی هر هغه ځیز چی د هغه په باطلی طریقی سره تعظیم کولی شي ، که هغه ځای وي یا وخت یا کاڼي ، ونه او عمارت ، نو څرنګه چی د بتانو ماتول پکار دي نو همداسی د دغو شیانو ماتول هم ضروري دي . (جلد ۲ ص ۷۶) .

دا فتاوی خو د بی ځان ځیزونو لپاره ده ، مګر براق ځاندار ځیز دی ، د هغه تصویر په هیڅ حالت کی ساتل نه دی پکار ځکه چی د جاندار ځیز تصویر شرعاً حرام دی ، اګر که د براق وي یا د کوم پیغمبر (معاذ الله) .

په بیت الله شریف کي د حضرت ابراهیم او حضرت اسماعیل علیهما السلام تصویرونه وو، هغه د محمد صلی الله علیه وسلم په حکم ختم کړی شول پاتی شو د تبرک تصور نو په حرام کی برکت چیرته وي ، محمد صلی الله علیه وسلم ، اصحابو کرامو او ملائکو به له هغه کور نه نفرت کاو چیرته به چی تصویرونه وو .

حضرت علي کرم الله وجهه فرمائي چی ما محمد صلی الله علیه وسلم ته دعوت ورکړو هغه صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ مګر په کوټه کی د تصویر په لیدلو سره واپس لاړ (کنز العمال جلد ۲ ص ۲۱۹)

همدغه راز حضرت عمر رضی الله عنه په شام کی د تصویر په وجه دعوت مسترد کړ . (کنز العمال ج ۲ ص ۲۱۹) فقط والله اعلم بالصواب .

د تصویر جوړل زده کول او بل چاته ښودل څنګه دي ؟

څواب د ذي روح او غیر ذي روح شیانو چی پرستش ئی کیږي لکه (صلیب) تصویر جوړل جائز نه دي ، په حدیث شریف کی د تصویر جوړونکي سخت مذمت بیان شوی دی ، حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائي :
فعلیك بهذا الشجر وکل شیئ لیس فیه روحٌ یعنی که تصویر جوړل غواړئ نو د ونی او د هر هغه څیز تصویر جوړولی شئ چی روح نه لري (مشکواة شریف ج ۲ ص ۳۸٦ باب التصاویر) .

د یادګار لپاره یا د واده لپاره تصویر ویستل :

(۱۹۴ سوال) په دی مسئله کی علماء کرام څه وائي چی یو تن عکس وویست کله چی هغه ته معلوم شو چی دا ډیره لویه ګناه ده نو هغه پښیمان شو ، اوس لدی ګناه نه د ځان خلاصولو کوم صورت شته او که نه ؟ همدغه راز د یادګار په توګه یا وطن ته د لیږلو ، یا د واده په خاطر هلک یا جلۍ ته د ښودلو لپاره تصویر ویستل جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .
څواب : ضرورت او قانوني شرعي مجبوري نه پرته تصویر ویستل جائز نه دي بلکی د ګناه کار دی ، که چا تصویر ویستلی وي هغه دی ضائع کړي او توبه دی وباسي ، د یادګار لپاره یا وطن ته د لیږلو یا جلۍ ته د ښودلو لپاره د تصویر ویستل شرعاً اجازه نشته ، د چا لیدل چی ضروري وي پخپله دی لاړ شي ، په دی کی د تصویر له ګناه نه علاوه نوی بدیانی هم شته . فقط والله اعلم بالصواب .

د دیوي او دیوتاګانو تصویرونه په فریم کی بندول څنګه دي ؟

(۱۹۵ سوال) زید د نقشو او تصویرونو کار کوي یعنی هغه په شیشو کی بندوي په دی کی د کفارو دیوتاګانو تصویرونه هم راځي . اوس سوال دا دی چی زید ته د داسی تصویرونو لپاره د فریم جوړلو او اجرت اخستلو اجازه شه او که نه ؟ بینوا توجروا .
څواب : د کار او محنت مزدوري خو فی نفسه جائز ده لیکن دا کار له ګناه سره د کومک کولو په وجه مکروه او د پریښودلو وړ دی . فقط والله اعلم بالصواب .

په کور کی د تلویزون ساتل او ورته کتل :

(۱۹٦ سوال) په کور کی د تلویزون ایښودل جائز دي او که نه ؟ دا په لهو لعب کی راځي او که نه ؟ دلته د تلویزون ډیر زیات رواج پیدا شوی دی ، اوس خو ورسره ویډیو

هم عام شوی ده ، په دی باره کی د شریعت څه حکم دی ؟ که چیرته څوک صرف خبرونه واوري نو هغه لپاره څه حکم دی ؟ لیکن خبرویونکی زیاتره ښځی وي ، مدلل او مفصل ځواب راکړئ . (له انګلینډ نه)

ځواب : حامدا ومصليا ومسلما ، ټیلي ویژن دلهو لعب او سندرو آله ده ، په دی کی د خاندارو تصویرونو غوبل وي ، د سړو نظر په نامحرمو ښځو په تصویر باندی او د ښځو نظر د نامحرمو سړو په تصویر باندی لګیږي ، بلکی قصداً او شوقاً ئی ګوري دا کار بلکل ناروا دی ، د خبرو آوریدو لپاره تصویر کتلو ته ضرورت نشته ،لهذا دا غیر ضروري دی ، زیاتره وخت په دی باندی فلمونه هم کتل کیږي چی پکی فحاشي ، بربنډتوب او شهوت پارونکي منظرونه وي ، په کور کی واړه ماشومان ، ښځی او ځوانان هلکان موجود وي هغوی ټول ښه په شوق او ذوق سره ګوري ، دا ډیره بی حیائي او بی غیرتي ده ، د ماشومانو په اخلاقو کی د خراب اثر پیدا کیدو او غلطو عادتونو د پیدا کیدو قوي امکان دی ، د دی ټول مسئولیت د کور په مشرانو او مور پلار باندی دی ، لهذا لدینه مکمل پرهیز کول پکار دی ، ویډیو خو عموماً فلم وي د دی حرمت خو بالکل څرګند دی .

د شریعت مزاج دا دی چی له ضرورت نه پرته نه سړي ښځو ته وګوري او نه ښځی سړو ته وګوري ، په همدی سره د هغوی زړونه پاک او له غلطو شهوایی خیالاتو څخه بچ پاتی کیدی شي ، قرآن کریم کی دي : قل للمؤمنين يغضوا من ابصارهم ويحفظوا فروجهم ذلك ازكى لهم ان الله خبيرٌ بما يصنعون .

ای محمد صلی الله علیه وسلم ! تاسی مومنانو ته ووایئ چی خپلی سترګی ټیتی وساتي او د خپلو شرمګاهونو حفاظت وکړي ، دا د هغوی لپاره د زړونو صفائي او پاکیزګي ذریعه ده ، بیشکه الله تعالی د خپلو بندګانو له کارونو څخه خبردار دی . همدغه راز د ښځو په اړه هم ارشاد دی . وقل للمؤمنات يغضضن من ابصارهن ويحفظن فروجهن.

تاسی مومنو ښځو ته هم ووائي چی خپل نظرونوه ښکته وساتي او د خپلو د شرم ځایونو حفاظت وکړي . (سوره نور پاره نمبر ۱۸)

په حدیث شریف کی دي :

ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لعن الله الناظر والمنظور اليه .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چی دالله لعنت دی پر هغه چا باندی چی پردیو ښځو ته ګوري او پر هغی ښځی چی ورته کتلی شي (مشکواة شریف ص ۲۷۰ باب النظر الی المخطوبة)

همدغه راز په یو بل حدیث کی دی :

عن جریر بن عبدالله رضی الله عنه قال سألت رسول الله صلی الله علیه وسلم عن نظر الفجاءة فامرنی ان اصرف نظری .

حضرت جریر رضی الله عنه وائي چی ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په پردی ښځه باندی د ناڅاپي نظر لګیدو په باره کی پوښتنه وکړه نو هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی فوراً خپل نظر ترینه لری کړه . (مشکواة شریف ص ۲٦۸ باب النظر الی المخطوبة)

همدغه راز په یو بل حدیث کی دی : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم النظر سهم مسهومٌ من سهام ابلیس فمن ترکها خوفاً من الله اعطاء الله ایماناً یجد حلاوتهَ فی قلبه .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چی ښځو ته کتل د ابلیس له غشو څخه یو زهر جنه غشي دی هر څوک چی دا د الله له ویری نه پریږدي نو الله تعالی به داسی ایمان ورته ورکوي چی د هغه خوږوالی به په خپل زړه کی مومي (مشکواة شریف ص ۲٦۸ باب النظر الی المخطوبة)

د ام المؤمنین حضرت ام سلمه رضی الله عنها بیان دی چی زه او حضرت میمونه رضی الله عنها د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر وو په دی وخت کی یو وروند اصحابي حضرت عبدالله ابن مکتوم رضی الله عنه تشریف راوړو ، محمد صلی الله علیه وسلم مونږ ته لدی ځای نه د تللو او پردی کولو حکم وکړ . ما وویل یارسول الله ! دا خو وروند دی هیڅ څه نشي لیدلی ، محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل ایا تاسی دواړه هم ړندی یئ ؟ ایا تاسی هغه نه وینئ ؟

عن ام سلمة رضى الله عنها انها كانت عند رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا قبل ابن مكتوم فدخل عليه فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم احتجبا منه فقلت يا رسول الله ! اليس هو اعمى لا يبصرنا فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم افعميا وان انتما الستما تبصرانه (مشكوة شريف ص ٢٦٩ باب النظر الى المخطوبة)

يعنى تر څو چې ښځې له سړو نه په ستر کې وي د هغوى دين محفوظ پاتى كيږي. محمد صلى الله عليه وسلم خپلى لور سيده فاطمه رضى الله عنها څخه پوښتنه وكړه چې د ښځې لپاره تر ټولو ښه خبره كومه يوه ده ؟ هغې عرض وكړ دا چې پردي سړي ته ونه ګوري او نه كوم نامحرم سړى هغې ته وګوري . محمد صلى الله عليه وسلم د هغې دا ځواب ډير خوښ شو او ويې فرمايل چې د پلار اثر په اولاد كې ضرور راځي . اصحابو كرامو به د ديوالونو سوري او چاودونه ټول بندول چې ښځې سړو ته ونه ګوري (مجالس الابرار م ٥٨ ص ٥٦٣)

د تلويزون په پرده باندى چې كوم تصويرونه ښكاري د هغوى په كتلو سره يقيناً په زړه كې غلط شهواني خيالات راپيدا كيږي ،لهذا د تلويزونه تصويرونو ته كتل روا نه دي . دا خبره ښه ښكاره ده چې نن سبا په تلويزون كې زياتره ښځې وي ، هغوى داسې نازكې او پركشش لباس اوغوندي چې زياتره بدن ئې لوڅ وي ، شرعي حكم دا دى چې كه چيرته يوى ښځې داسې باريک لباس اغوستى وي چې بدن ئې ترينه ښكاري ، او يا داسې تنګ او چست لباس ئې اغوستى وي چې له هغې نه د تن كيفيت معلوميږي نو د هغې لباس ته هم كتل جائز نه دي . په حديث كې ډير سخت وعيد راغلى دى چې كوم سړى د ښځې لباس ته وګوري تر دى چې د ښځې د بدن حجم ښكاره شي نو هغه د جنت له خوشبو نه محروم دى .

په شامي كې دي :

وفى التبيين قالوا ولابأس بالتأمل فى جسدها ثياب مالم يكن ثوب يبين حجمها فلا ينظر اليه جينئذ لقوله عليه الصلوة والسلام من تأمل خلف امرأة ورأى ثيابها حتى يتبين له حجم عظامها لم يرح رأحة الجنة . الى قوله . اقول مفادة ان رويـــةالثوب

بحیث یصف حجم العضو ممنوعة ولو کثیفاً لاتری البشرة منه (شـــامی ج ۵ ص ۳۲۱ کتاب الحظر والاباحة فصل فی النظر واللمس)

او که دا وویل شي چې د تلویزن په پرده کی کوم تصـویرونه ښکـاري هغـه هســی تـش عکس وي لیکن په صورت کی هم شرعاً د هغه قباحت او ممانعت باقي پاتی کیږي ځکه چې د شریعت حکم دا دی چې څرنګه د اجنبی ښځی مخ کتل ناروا دی همدغه راز د هغه عکس ته هم کتل جائز نه دي .

په شـامي کـی دي : الثانی لم ارما لو انظر الی اللجنبیة من المرأة او الماء وقد صرحوا فی حرمة المصاهرة بانها لا تثبت برؤیة فرج من مرأة او ماء لان المرئی مثاله لا عینه بخلاف مالو نظر من زجاج او ماء هی فیه لان البصر ینفذ الزجاج والماء فیری ما فیه ومفاد هذا انه لا یحرم نظر الاجنبیة من المرأة او الماء الا ان یفرق بان حرمـة المصاهرة بالنظر ونحوه مشدد فی شروطها لان الاصل فیها الحل بخلاف النظر لانه انما منع منه خشیة الفتنة والشهوة وذلك موجودهنا ورأیت فی فتاوی ابن حجر من الشافعیة ذکرفیه خلافاً بینهم رجح الحرمة بنحوما قلنا ه والله تعالی اعلم .

یعنی که د پردی ښځی عکس په شیشه یا اوبو باندی وګوری نـو د دی څـه حکـم دی ؟ علامه شامي فرمائي چې ما د دی حکم صـراحتاً چیرتـه نـه دی لیـدلی ، البتـه فقهـاو د حرمت مصاهرت په بحث کی دا تصریح کړی دی چې که د ښځی د شـرمګاه عکس پـه شیشه یا اوبه کی ښکاري او هغـه تـه وګـوري نـو پـه دی سـره د مصاهرت حرمـت نـه ثابتیږي، ځکه چې په دی صورت کی شیشه او اوبو کی نظر نافذیږي ، او کوم څیز چـې تر سترګو کیږي هغه اصل وي . د دی بحث ګته دا ده چې کـه چیرتـه د اجنبـي ښځـی عکس شیشه یا اوبو کی ښکاري نو د هغه کتل حرام نه دي ، مګر په دی دواړه کی فـرق دی هغه دا چې د مصاهرت حرمت په کتلو او لمس کولو سره هلـه ثابتیـږي چـې تـول شرطونه ئی وموندل شي ، ځکه چې اصل څیز په ښځـه کـی د نظـر بـرعکس حـل دی ځکه چې د بد نظري د ممانعت وجه د فتنی او شهوت ویـره ده او دا فتنـه د هغـی پـه عکس کتلوکی موجود دی ، علامه شامي فرمائي چـې مـا د شوافعو کتـاب فتـاوی ابـن حجر ولوست په هغه کی هغوی اختلاف کړی دی خو حرمت ته ئـی راجـح ویلـي دي

لکه چی مونږ بره بیان کړ . والله اعلم (شامي مع در مختار ج ۸ ص ۳۲۷ فصل فی النظر واللمس) .

که دا وویل شي چی کله په تلویزون کی داسی پروګرام پیش کولی شي چی هغه ډیر معلوماتي او ګټور وي نو د دی په ځواب کی دا ویلی شئ له ګټی نه ئی نقصان ډیر دی، او دا واثمهما اکبر من نفعهما مصداق دی .

شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله فرمائي چی که څوک دا ووایي ماته د ناجائز موسیقي او سندرو کی په الهي یاد کی کشش او رغبت راځي نو دا بالکل غلط دی ، ځکه چی شارع علیه السلام په موسیقي او سندرو په نهي کی څه فرق نه دی کړی . که چیرته داسی عذرونه او بهانی د منلو وړ وای نو د ډمانو سندرۍ اوریدل به هغه چا لپاره روا وو چی دا دعوه کوي موسیقي او سندری زما شهواني قوت نه راپاره وي ، همدغه راز هغه چا لپاره به نشه حرامه نه وه چی دا دعوه کوي چی د هغه په څکلو سره نه نشه کیږم او له ډیرو حرامو کارونو څخه بندیږم که څوک دا ووائي چی د ښکلو ښځو په کتلو سره او د هغوی په څنګ کی کیناستلو سره د الله تعالی د قدرت نظاره کوم او د هغی له ښکلا نه عبرت حاصلوم نو د هغه دا خبره بالکل غلط ده او لدینه ځان ساتل ورباندی واجب دي ، په حرامو شیزونو سره نصیحت او پند تر لاسه کول له حرام کار نه بدتر دي او هغه د الله په لاره کی بدکاري او حرام کول غواړي لدینه علاوه بل هیڅ نه کوي ، داسی خلک د خپل خواهش او غوښتنی باندی روانیږي نه په شریعت باندی ، د هغه دا خبری د منلو او اوریدلو وړ نه دي .

وان قال قائل اسمعها علی معان اسلم فیها عند الله تعالی کذبناه لان الشرع لم یفرق بین ذلك ولو جاز لا حد جاز للانبیاء علیهم السلام ولو کان ذلك الاعذار لا جزنا سماع القیان لمن یدعی انه لا یطربه وشرب المسکر لمن ادعی انه لا یسکره فلو قال عادتی انی متی شربت الخمر کففت عن الحرام لم یبح له ولو قال عادتی اذا شهدت الامردو الا جنبیات وخلوت بهم اعتبرت فی حسنهم لم یجز له ذلك واجیب ان الاعتبار بغیر المحرمات اکثر من ذلك وانما هذه طریقة من اراد بطریق

الله عزوجل فیر کب هواه فلا نسلم لا صحابها ولا نلتفت الیهم (غنیة الطـــالبین ص ۲۵)

کله چی دا ثابت شو چی تلویزون دلهو او لعب آله ده نو تلویزون او ویډیو پـه کـور کـی ساتل هم مکروه او ګناه ده اګر چی استعمال نه کړی شـي ، لکـه چـی د فقهـی مشـهور کتاب خلاصة الفتاوی کی دي

ولو امسك فی بیته شیئا من المعازف والملاهی کره ویأثم وان کان لا یستعملها لان امساك هذه الاشیاء یکون لللهو عادةً (خلاصة الفتاوی ج ۱ص ۳۳۸ کتـــاب الکراهیة نوع فی السلام)

وخت د الله لوی نعمت دی د دی چی څومره قدر وکړی شي کـم دی ، د تلـویزون او ویډیو په کتلو سره د اخرت کومه ګټه ترلاسه کیږي ؟ بلکی دا لوی تاوان دی ، د الله لـه ذکر نه غافل کوونکی او د آخرت فکر ختمووونکی څیز دی ، کوم څیز چی د الله له ذکـر او د مرګ له فکر نه غافل کړي هغه منحوس او بیکار دی . په حدیث کی دي :

من حسن سلام المراء ترکه ما لا یعنیه _ د انسـان د اسـلام خـوبي دا ده چـی هغـه بیکاره څیزونه پریږدي ، او په حدیث شریف کی دي : عن ابن عمر رضی الله عنـــهما قال قال اتیت النبی صلی الله علیه وسلم عاشر عشرة مقام رجل من الانصار فقال یانبی الله من اکیس الناس واحزم الناس قال اکثـــرهم ذکراللمـــوت واکثـــرهم استعدادا للموت اولئك الا کیاس ذهبو الشرف الدنیا وکرامة الآخرة .

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائي چی مونږ لس تنان چی یو یکـی زه هـم وم دمحمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر شو . یو انصاري صحابي له محمـد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چی له ټولونه زیات پـوه ، هوښیـار او محتـاط سـړی څوک دی ؟ محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هغه خلک چی مرګ ډیر زیـات یـادوي او هغه لپاره زیات تیاري کوي ، همدغه خلـک دي چـی د دنیـا او د آخـرت عـزت ئـی ترلاسه کړ . (موت کی یاد حضرت شـیخ الحـدیث مولانـا محمـد ذکریـا صاحب مهاجر مدنی ص ۲)

لهذا انسان ته چې کوم وخت پیدا شي هغه باید د مرګ او آخرت په یاد کې ولګوي ، بیکار او لغوه کارونو کې خپل دا قیمتي وخت ضائع نه کړي .
شیخ سعدي رحمه الله فرمائي :

جز یاد دوست هر چه کنی عمر ضائع است
جز سر عشق هر چه بخوابی بطالــت است

له الهي ذکر او یاد نه علاوه په بل څه کې مشغولیدل هسې عمر ضائع کول دي . او له الهي عشق نه علاوه چې هر څه وکړی شي هغه هسې بیکاره دي . الله تعالی دې مونږ ټولو ته له لغو او بیکاره څیز نه څخه د محفوظ پاتی کیدو توفیق راکړي او د وخت قدر راته په نصیب کړي . آمین یارب العلمین . په آخره کې د تلویزون په مضرو اثراتو باندې د یو جرمن ډاکټر تبصره ولولئ .
صدق جدید لکهنو ۲۴ اګست کال ۱۹۸۴ ء په اشاعت کې دي :
یو جرمن ډاکټر خبرداری ورکړی دی چې کوم ماشومان مکتب ته ځي هغوی ته باید د تلویزون کتلو اجازه ورنکړی شي ځکه چې هغه ته د کتلو په صورت کې له ماشومانو نه د علم د ترلاسه کولو جذبه او شوق ختمیږي همدغه راز هغوی خپل معصومیت هم له لاسه ورکوي ، د حقائقو ژور والي ته د رسیدو صلاحیت هم له منځه وړي ، هغه د تلویزون مضرو اثراتو په باره کې لیکي :
له یو ماشوم نه چې تلویزون ګوري دا پوښتنه وشو چې ستا ینکه کله مړ شوی دی ؟ نو هغ فوراً ووېل چې زما نیکه چا ویشتلی و ؟ دا په تلویزون کې د قتلونو او جرائمو د لیدلو وجه وه چې ماشوم دا رنګه پوښتنه وکړه ، لدینه علاوه د ماشومانو سترګو ته هم تلویزون زیات تقصان رسوي . خو ډیر افسوس چې زمونږ په هیواد کې تلویزون ته زیات اهمیت ورکول کیږي او فخریه څیز ګڼلی شي .
نشمین بنګلور ۱۶ ستمبر ۱۹۸۴ ء په شماره کې دي : نن سبا په تلویزون کې داسې ملکي او غیر ملکي فلمونه ښودل کیږي چې په هغه کې ګنده حرکات وي ، ایا په کور کې د داسې مناظرو لیدل چې خوابښی ، خسر ، انګور ، لورګانی او زامن تول یوځای ناست وي ښه کار دی ؟ ایا اخلاق او تهذیب د داسې مناظرو د کتلو اجازه ورکوي ؟ اوس خو وي سي آر هم د دغه بدي په اضافه والي کې کردار ترسره کوي . بحواله کیلنډر دار العلوم سبیل السلام حیدر آباد ۱۴۰۵ ه ۱۹۸۵ ء فقط والله اعلم بالصواب .

د لرګیو په تختو باندې د جوړ شویو مناظرو کې د جاندارو تصویرونو حکم :

(۱۹۷ سوال) زمونږ په علاقه کی د لرګي په یوه تخته باندی د وړو وړو لرګیو په ټکولو سره د غره ، سمندرونو او نور قدرتي مناظر جوړوي ، همدغسی د پیلانو ، اسونو ، غواګانو او نور زنده سرو شیانو تصویرونه هم جوړوي ، ایا د داسی څیزونو خرید او فروخت شرعاً جائز دی او که نه ؟ خلک د دغو شیانو تصویرونه پخپلو کورونو ، دفترونو او نور ځایو کی زوړونده وي ، په کور کی د داسی مناظرو او تصویرونو ځوړند ول څنګه دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د ذي روحو شیانو تصویر جوړول او هغه په کور ، حجره او دفتر کی ځوړندول ، د هغوی خرید او فروخت کول جائز نه دي بلکی کبیره ګناه ده ، البته غیر ذي روح څیزونه لکه ونی ، سمندر ، غرونه او داسی نورو شیانو مناظر په دی شرط چی په هغه کی ذي روح ځناورو تصویرونه نه وي او د هغوی عبادت هم نه کیږي ، جوړل ، په کور کی ساتل او د هغوی خرید او فروخت کول جائز دي . په مشکواة شریف کی د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث نقل شوی دی عن ابن عباس رضی الله عنهما قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول کل مصور فی النار یجعل له بکل صورة صورها نفساً فیعذبه فی جهنم قال ابن عباس رضی الله عنه فان کنت لا بدفا علافا صنع الشجر وما لا روح فیه متفق علیه (مشکواة شریف ص ۳۸۵ ، ص ۳۸٦ ، باب التصاویر)

له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چی ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلي دي چی هر تصویر جوړوونکی سړی په جهنم کی دی ، د هر تصویر په عوض کی چی هغه جوړ کړی دی یو شخص پیدا کولی شي ، بیا هغه دیته په جهنم کی عذاب ورکوي . حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وویل چی که چیرته تاسی خامخا تصویر جوړول غواړئ نو د ونو او داسی نورو شیانو تصویرونه جوړ کړئ چی هغه بی روحه وي (مشکواة شریف)

په شامي کی دي : قال فی البحر وفی الخلاصة وتکره التصاویر علی الثوب صلی فیه او لا انتهی وهذه الکراهیة تحریمیة وظاهر کلام النووی فی شرح مسلم الاجماع علی تحریم تصویر الحیوان وقال وسواء صنعه لما یمتهن او لغیره فصنعه حرام بکل

حال لان فيه مضاهاة لخلق الله تعالى وسواء كان في ثوب او بساط او درهم واناء وحائط وغيرها (شامی ص ٦٠٦ ج ١ مكروهات الصلواة)

په عالمګیري کی دي : اذا كان الرجل يبيع الثياب المصورة او ينسجها لا تقبل شهادته (فتاوی عالمگیری)

په درمختار کی دي : اشتری ثوراً او فرساً من خزف لاجل استئناس الصبی لا يصح ولا قيمة له فلا يضمن متلفه (درمختار مع شامی ج ٤ ص ٢٩٧ كتاب البيوع باب المتفرقات)

په کبیره کـی دي : ويكره التصاوير على الثوب صلى فيه او لم يصل (كبيرى ص ٣٤٦)

فتاوی دار العلوم قدیم کی دي :

ځواب : د کوم ځاندار څيز شکل او صورت جوړل که هغه د مجسمی په شـکل کـی وي یا د نقش او رنګ په صورت کی وي ، یا د قلم په ذریعه نقاشي وکړی شي ، یـا پـه چاپ خانه کی چاپ کړی شي یا د فوټو اوعکس په شکل کی جوړ کړی شي دا ټـول لـه څـه شک او شبهی تنه پرته په تصاویر او تماثیل کی شامل دي . د دوی په حرمت کی دومره صحیح احادیث راغلي دي چی که د تواتر دعوه وکړی شي نو غلط به نه وي .

له مذکوره احادیثو او د فقهاو له اراو څخه دا هم ثابت دي چی فوټـو او مطلـق عکس ويستل یا بل چا ته عکس ويستل د هغه استعمالول او له خپل ځان سره ساتل کبیره ګناه ده او د دی کار کوونکی فاسق دی ، که امام وي نو په هغه صورت کـی وريـسی لمـونځ لوستل مکروه دی چی له هغه نه بل بنه امام موجود وي . كما صرح به في رد المختار وعامة كتب المذهب ، والله سبحانه وتعالى اعلم .

ځواب صحیح دی بنده اصغر حسین عفا الله عنه ، ځواب صحیح دی مسعود احمـد عفا الله عنه مفتي دار العلوم دیوبند ، ځواب صحیح دی محمد اعزاز علي غفـر لـه ، مـدرس دار العلوم دیوبند فتاوی دار العلوم قدیم ، امداد المفتین جلد ۷ ، ۸ ص ۲۵۶ ، ۲۵۷)

په فتاوی محمودیه کی دي :

خواب : د ځاندارو تصویرونه که په دیوالو کی جوړ کړی شي یا کاغذ او ټوټه باندی په قلم سره جوړ کړی شي یا مشین او بل کوم آلی سره ،درختونو له ټوټو نه جوړشوی وي او یا د لرګیو له ټوکړو څخه په هر صورت کی ناجائز او ګناه ده ، پخپله خوښه وي یا د بل چا په فرمائش سره ، د پیسو د لالچ لپاره وي یا هسی د شوق لپاره ، په هیڅ حالت کی اجازه نشته ، کوم کار چی ناروا وي هغه د چا خواهش او یا دهغه د خفګان له ویری نه جائز نه دی . د رښتوني مسلمان د ازمیښت همدغه موقع وي .
یو سړی ناروا کار کوي او ګټه کوي خو بل سړی دالله له ویری نه کوي او نقصان اوچتوي ...... الخ (فتاوی محمودیه ص ۱۴٦ ج ۵)
په یو بل ځای کی لیکي : بی ځان او بی روحو شیانو لکه د ونی او نورو شیانو تصویر ساتل صحیح دی .قال العلماء تصویر صورة الحیوان حرام شدید التحریم وهو من الکبائر لانه متوعد علیه بهذا الوعید (ای اشد الناس عذاباً عند الله المصورون) وسواء صنعه لما یمتهن ام لغیره فصنعه حرام لکل حال وسواء کان فی ثوب او بساط اودرهم اودینار او فلس او اناء او حائط او غیرهما فاما تصویر مالیس فیه ثورة الحیوان فلیس بحرام اه (فتح الباری ص ۳۱۵ ج ۱۰) فتاوی محمودیه ص ۹۰ ، ۹۱ ج ۵ ، فقط والله اعلم بالصواب .

د زینت جامی

د وریښمو جامې او د سرو ، سپینو زروګانه یا ساعت :

(۱۹۸ سوال) که چیرته یو سړی د وریښمو جامې واغوندي او لمونځ پکې وکړي نو د دی څه حکم دی ؟

ځواب : سړو لپاره لمونځ او نورو عبادتونو کې د وریښمو لباس اغوستل حرام دي ، په جبه او نور لباس کې د څلور ګوتو په اندازه د وریښم ټوټه د استر په توګه استعمالول جائز دي [1] فقط والله اعلم بالصواب .

د جانګي اچولو مسئله :

(۱۹۹ سوال) په حنفي مذهب کې د سړي لپاره د زنګنو پټول فرض دي او که نه ؟ که داسې جانګی واچول شي چې زنګون پکی پټ نه وي نو ایا د داسې جانګي اچول شرعاً جائز دي او که نه ؟ له قرآن او حدیث نه ځواب راکړئ .

ځواب : د سړي ستر چې پټول ئې فرض دي له نامه نه تر زنګنو پورې دي . په لمونځ او له لمونځ نه باهر له نامه نه ترزنګنو پورې د بدن پټول فرض دي ، له کوم شرعي عذر نه پرته د دی بربنډ ساتل حرام دي ، (البته د زنګنو او شرمګاه د ښکاره کولو تر منځ په ګناه کې فرق دی) د ستر په متعلق په قرآن شریف کې دي :

یابنی ادم قد انزلنا علیکم لباساً یواری سواتکم وریشاً

یعنی ای د آدم اولاده ! مونږ تاسو لپاره لباس جوړ کړی دی چې ستاسې ستر پټوي او د ښکلا باعث هم دی (پ ۸ سوره اعراف ع ۳)

د دی تفصیل په احادیثو او دفقهې په کتابونو کې موجود دی . د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی : د سړي ستر له نامه نه تر زنګنو پورې دی . په بل حدیث کې دي الرکبة من العورة زنګانه هم په ستر کی داخل دي (زجاجة المصابیح ج ۱ ص ۲۱۹ باب الستر عین شرح هدایه ج ۱ ص ٥٦۴)

---

[1] ــ یجب ان یعلم ان لبس الحریر وهو ما کانت لحمته حریرا و سداه حریرا حرام علی الرجال فی جمیع الاحوال وروی بشر عن ابی یوسف رحمه الله تعالی انه لا باس من الحریر فی الثوب اذا کان اربعة اصابع او دونها ولم الحـك فیه خلافاً . فتاوی عالمگیری کتاب الکراهیة الباب التاسع فی اللبس ج ٥ ص ۳۳۱ ، ۳۳۲ .

په هدایه کی دي : د سړي ستر له نامه نه تـر زنگنـو پـوری دی او زنگانـه پـه سـتر کـی داخل دي يعني د زنګنو پټول فرض دي (ج ۱ ص ۷٦ باب شروط الصلواة الـتی تتقدمها) د داسی جانګي اچول شرعاً جائز نه دي چی زنګنونـه پکـی پـټ نـه وي او ښکاري .

ستاسی د سهولت او زیات اطمنان په خـاطر د هنـد لـوی مفتـي حضـرت مولانـا محمـد کفایت الله صاحب مشهور کتاب د تعلیم الاسلام عبارت دلته رانقلوم .

سوال : د ستر له پټولو نه څه مراد دی ؟

ځواب : سړي لپاره له نامه نه تر زنګنو پوری خپل بدن پټول داسی فـرض دي چـی پـه لمونځ کی دننه هم فرض دی او لمونځ نه باهر هم فرض دی (ج ۳ ص ۴۰)

ایا داسی ساعت سړی استعمالولی شي چی باډي ته ئی د سرو زرو غلاف ورکول شوی وي ؟

(۲۰۰ سوال) دِ پیتلو (مسو) ساعت دی خو ورباندی دسرو زرو پالش خیژول شوی دی ، ا یا داسی ساعت سړی په لاس کی اچولی شي او که نه ؟ همدغـه راز پـه دی سـاعت کی لمونځ کولی شي او که نه ؟

ځواب : هو داسی ساعت نر سړی استعمالولی شي خو نه استعمالول ئی ښه دي ، لمونځ ورسره هم کیږي څه حرج پکی نشته .[1]

حاجیان چی کوم رومالونه (څادرګي) راوړي ایا هغه د پګړي قائم مقام دي ؟

(۲۰۱ سوال) د پګړي طول او عرض څومره ګزه پکار ده ، حاجیان چی لـه ځـان سـره کوم رومالونه راوړي هغه د پګړي قائم مقام کیدی شي او که نه ؟ بینوا توجروا .

حواب : د پګړي د طول او عرض هیڅ حد نه دی مقرر ، په عرف کی چی څه ته عمامـه (پګړي) ویلی شي همغه دی پګړي ومنل شي ،لهذا امام چی کوم رومال په سروي هغه ته عمامه ویلی شي . فقط .

د سرو او سپینو زرو قلم :

---

[1] ـ ولا بأس بالانتفاع بالاوانی المموهة بالذهب والفضة بالاجماع کذا فی الاختیار شرح المختار فتاوی عـالمگیری کتاب الکراهیة الباب العاشر ج ٥ ص ٣٣٥ .

(۲۰۲ سوال) ایا له سوچه سپینو زرو نه جوړ شوی قلم مسلمان استعمالولی شي ؟
په اوسینو ورځو کی مشهور شیفر کمپني خالص د سپینو زرو نه جوړ قلم مارکیټ ته وړاندی کړی دی ،قیمت ئی ۲۵ ډالره دی یعنی تقریباً دوه سوه روپۍ او پرهغه ئی یو خاص نو هم ایښی دی ، زه غواړم چی هغه قلم ځانته راوغواړم زه د ښه قلمونو ډیر شوق لرم ، لیکن د سرو زرو او سپینو زرو څیزونه مسلمان نشي استعمالولی ځکه زه ویره محسوسوم ، بینوا توجروا .
ځواب : له سوچه سرو زرو یا سپینو زرو نه جوړ شوی قلم نه سړي استعمالولی شي او نه ښځی او په کومه اوسپنه کی چی د سپینو یا سرو زرو حصه غالب یا برابر وي نو د هغه حکم د سوچه سپینو او سروزرو دی ، او که چیرته نوک ئی د سرو زرو او یا سپینو زرو وي نو د هغه استعمال هم صحیح نه دی .[1] فقط والله اعلم بالصواب .

سرتور گرځیدل څنګه دي ؟

(۲۰۳ سوال) ځینی فیشني خلک سرتور گرځي خو د لمونځ په وخت کی په سر بانـدی دستمال تړي او یا هم توپۍ په سروي ، کله چی له مسجد نه ووځي توپۍ بیرته جیب کی ږدي په دی باره کی شرعي حکم څه دی ؟ بینوا توجروا .
ځواب : له څه شرعي عذر او وجی نه پرته تور سر گرځیدل له ادب نه خلاف او د فساقو شعار دی ، شرعا مکروه دی ، لدینه ډډه پکار ده ، حضرت شیخ عبدالقادر جیلانـي فرمائي : ویکره کشف رأسه بین الناس وما لیس بعورة مما جرت العادة بســتره د خپل سر او د بدن هغه حصی چی په ستر کی داخل نه دي ، مګر باشریعت او باتهـذیب نیکو خلکو طریقه یا د هغوی عادت دا وي چی هغه پټ ساتي نو د خلکو په وړانـدی د هغوی ښکاره کول مکروه دي (غنیة الطالبین ص ۱۳ ج ۱)
علامه جوزي فرمائي : ولا یخفی علی عاقل ان کشف الرأس مستقبح وفیه اسـقاط مروة وترك ادب وانما یقع فی المناسك تعبداً لله . یعنی له عاقل سړي نه دا خبره پټه نه ده چی د خلکو په مخکی سر ښکاره کول مکروه دي او خلك ورته په کرکه گوري . له شرافت ، مروت ،ادب او شریفانه تهذیب نه خلاف دي . په شریعت کی صرف د حج

[1] _ یکره ان یکتب بالقلم المتخذ من الذهب والفضة او من دواة کذلك الخ فتاوی عالمګیری کتاب الکراهیة الباب العاشر .

په احرام کی د ستر ښکاره کولو حکم دی . چی د هغه مقصـود تعبـد دی ، یعنـی د الله تعالی په وړاندی خپل نیاز مندي او خپل بندګي اظهار لپاره ، دا تعبد بل چا لپاره جـائز نه دی بلکی حرام دی . فقط والله اعلم بالصواب .

ناجائز او مشتبه لباس تیارول :

(۲۰۴ سوال) یو مسلمان درزي (خیاط) بـل مسـلمان تـه د یهـودو او نصـاراو پـه شـان جامی جوړوي نو ایا دغه خیاط حدیث شریف من تشبه بقوم له معاونـت کـوونکي پـه جمله کی راځي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : داسی لباس چی په هغه کی له کفارو او فساقو سره مشابهت راځي مسلمان لپاره د هغه اغوستل حرام دي . په ما لا بد منه کی دي :

مرد را تشبه به زنان ، وزن را تشبه به مردان ، ومسلم راتشبه به کفار وفساق حـرام اسـت . یعنی سړو لپاره د ښځو مشابهت کول او ښځو لپاره د سړو مشابهت کول او مسـلمان لپـاره له کفارو او فساقو سره مشابهت کول حرام دي .

(ما لا بد منه ص ۱۳۰) .

دیندار مسلمان او علماء چی هر یو لباس اغونـدي همغسـی لبـاس دی نـور خلـک هـم واچوي او له کوم لباس څخه چی علماء او نیکان ډډه کوي هغه دی نه په تن کـوي او د داسی لباس چی ګڼډل له کفارو او فساقو سره مشابهت راځي له کراهت نـه خـالي نـه دی . په شامي کی دي :

امره انسان یتخذ له خفاً علی ذی المجوس او الفسقة او خیاطاً امَره ان یتخذ لــه ثوباً علی ذی الفساق یکره له ان یفعل لانه سبب التشبه بالمجوس والفسقة .

یعنی کوم موچي ته چا فرمائش وکړ چی ماته د مجوسیانو او فاسقانو پـه څـیر څپلـی یـا بوټان جوړ کړه ، یا درزي ته ئی وویل چی ما ته د انګریزانو او فاسـقانو پـه شـان جـامی ګنډه نو موچي او خیاط په دی کار کی ګنهګاریږي ځکه چی په دی کـی لـه کفـارو او فساقو سره مشابهت دی (شامي جلد ۵ ص ۳۴۵ کتاب الحظر والاباحة فصل فی اللباس).

سرو زرو بټن (تڼی) استعمالول :

۲ سوال) د سرو زرو بټنو استعمالول څنګه دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د سرو زرو هغه بټن چې له جامو نه نه جدا کيږي جائز دی ، او کـوم بټـن چـې له جامو نه جدا کيږي د هغه دا حکم نه دی .

د سرو زرو نه مصنوعي غاښ جوړول :

(۲۰٦ سوال) د عذر په وخت کی د يو دوه غاښونو جـوړل جـائز دي ، خـو کـه چيرتـه پوره ژامه جوړوي نو ايا په هغه کی د سرو زرو نه يو دوه غاښونـه جـوړل صـحيح دي او که نه ؟ بينوا توجروا .

ځواب : په دی صورت کی کوم شرعي عذر نشته ، هغه مصنوعي غاښونه چې له ژامی نه ويستل کيږي او بيا په اوبو سره وينځلی شي په هغه کی د بدبو د پيدا کيدو ويره نشته لهذا په دی صورت کی د سرو زرو غاښونو جوړولو ته ضرورت نشته په لومړني صورت کی شرعي عذر موجود دی هغه دا چې له بل څيز نه جوړ شوي غاښ نه بدبوی راځي) نو ځکه په هغه صورت کی اجازه ده . فقط والله اعلم بالصواب .

د داسی سپری استعمالول جائز دي او که نه چـی الکوحـل پکـی ګـډ شوي وي :

(۲۰۷ سوال) د داسی سپری چې په هغه کی کله ۹۰٪ فيصده کله ۷۰ فيصـده او کلـه ۴۰ فيصده الکحل وي استعمال ئی جائز دی او که نه ؟ بينوا توجروا .

ځواب : د سپرې په متعلق دا تحقيق دی چې دا د تيز شراب جوهر دی ، لـه هغـه نـه د کيمياء د علم په ذريعه جوهر ويستل کيـږي او د هغـه نـوم الکحـل دی ، کـه چيرتـه لـه انګورو ، کجورو يا منقی نه جوړ شوی وي نو بالاتفاق ناپاک او حرام دی ، د يوی قطری استعمال هم جائز نه دی ، . کوم سپرې چې بير ، آلو ، اوربشه او غنمو نـه جوړيـږي پـه دی کی اختلاف دی ، لمونځ ګذار سړي ته له دی سپرې نه ډېره کـول پکـار دي ، خـو که چا داسی سپری ولګاو او لمونځ ئی ولوست نو څرنګه چې د سپرې مقدار د جواز له مانع نه کم وي نوځکه لمونځ ئی کيږي خو له کراهت نه خالي نه دی . او که چيرتـه د سپری له بوتل نه په بدن باند ی‌سپری وکړه نو د دی مقدار بـه زيـات وي‌لهـذا لمـونځ مشتبه کيږي ،لهذا لدينه ډېره پکار ده ، فقط والله اعلم بالصواب .

د ساعت د ترلو لپاره د اوسپنی یا د سټیل بند استعمالول :

(۲۰۸ سوال) نن سبا چی کوم ساعتونه په لاسو کی ترل کیږي په هغه کی بند د سټیلو او اوسپنی نه وي ، ځینی علماء وائي چی د لمونځ په وخت کی د دی استعمال جائز نه دی ، تاسی مهرباني وکړئ د دی جواز او عدم جواز په متعلق معلومات راکړئ .

ځواب : د ساعت د ترلو لپاره چرمي پټی موجودی دي ، د نورو شیانو په مقابله کی زیات موزون هم دي ،لهذا احتیاط په دی کی دی چی چرمی پټی استعمال کړی شي . فقط والله اعلم بالصواب .

د اوسپنو ، مسو او پیتلو نه جوړ شویو ګوتو استعمالول :

(۲۰۹ سوال) ایا سړو لپاره له سپینو زرو نه علاوه د اوسپنو او نورو شیانو څخه د جوړ شوي ګوتی اچول جائز دي ؟

ځواب : د سړو لپاره د سپینو زرو نه علاوه د بل څیز نه جوړی شوی ګوتی په ګوته کی اچول جائز نه دي ، همدغه راز د ښځو لپاره هم د سرو زرو او سپینو زرو نه علاه د نورو دهاتو څخه جوړی شوی ګوتی اچول مکروه دي .

په شامي کی دي :

وفی الجوهرة والتختم بالحدید والصفر والنحاس والرصاص مکروه للرجال والنساء (شامی ج ۵ ص ۳۱۵ کتاب الحظر والاباحة فصل فی اللبس)

په مالا بد منه کی دي : مسئله : انګشتری از آهن و سنګ وروئین جائز نیست (ما لا بد منه ص ۱۱۰ فصل در لباس) البته هغه ګوته چی د سپینو زرو اوبه ورکول شوي وي نو د هغه په لاس کولو کی څه حرج او بدی نشته .

په عالمګیري کی دي : ولا بأس بان یتخذ خاتم حدید قد لوی علیه فضة او لبس بفضة حتی لا یری کذا فی المحیط ج ٦ ص ٢٢٤ ایضاً (شامي ج ٥ ص ٣١٦) فقط والله اعلم بالصواب .

له شریعت نه خلاف جامی ګنډل او پاتی شوی کپړه له ځان سره ساتل:

(۲۱۰ سوال) کوم خیاط (درزي) چی د شریعت نه مخالف جامی ګنډي نو د هغه دا کار څنګه دی ؟

ځواب : داسې جامې ګنډل چې له شریعت نه مخالف وي له کراهت نـه خـالي نـه دي ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان (د ګناه او تیري په کارونو کـې تعـاون مـه کـوئ) تر عنوان لاندې راځي او دا قسم جامې باید ونه ګنډل شي .

په شامي کې دي : وان کان اسکافاً امره انسان ان یتخذ له خفاً علی ذی المجــوس او الفسقة او خیاطاً امره ان یتخذ له ثوباً علی ذی الفساق یکره له ان یفعل لانه سبب التشبه بالمجوس والفسقة .

که موچي ته چا وویل چې د مجوسیانو او یا فساقو د څپلو پشان ماته څپلې جـوړې کـړه یا خیاط ته ئې وویل چې د فاسقانو پـه شـان ماتـه جـامې وګنـډه نـو د هـغ د حکـم او فرمائش په مطابق د څپلـو او جـامو جـوړول مکـروه دي ، ځکـه چـې پـه دې کـې لـه مجوسیانو او فساقو سره مشابهت دی (شامي ص ۳۴۵ ج ۵ کتاب الحظر والاباحة فصل في البیع)

په بهشتي زیور کې مسئله نمبر اوولسم کې دي چې د ناجائز لباس ګنډل جـائز نـه دي ، مثلاً که خاوند داسې لباس په خیاط جوړ کړي چې اغوستل ئې جـائز نـه وي نـه ښځـه دی له اخستلو نه عذر وکړي همدغه راز خیاط دی هم داسې جامې نـه ګنـډي چـې د هغو اغوستل جائز نه وي (بهشتي زیور ص ۸۰ دریم حصه متفرقات)

له درزي (خیاط) سره چې کوم زیاتي ټوټه پاتې شي که هغـه داسـې معمـولي غونـدې ټرانګه وي چې د جامو خاوند پخپله خوښه نـه اخلـي نـو کـه خیـاط دا معمـولي ټوټـه استعمال کړي نو هیڅ حرج او بدي پکې نشته ځکه چې دا حکماً اجازت دی په فتـاوی دارالعلوم کې دي چې که د ټوټې خاوند معمولي غوندې ټرانګه پخپله پریـږدي نـو کـه خیاط له هغه نه کومه ګټه اخلي نو ورتـه جـائز دي .(فتـاوی دار العلـوم دیوبنـد قـدیم صفحه ۲۸۴ ، ج ۷ ، ۸) (امداد المفتین)

لیکن که چېرته پاتې شـوې ټوټـه لـوی اودکـار وړ وي او مالـک عمومـاً داسـې ټوټـه نـه پرېږدي ، نو که خیاط دمالک په اجازې سره داله ځان سره کیږدي نو هغـه لپـاره لدینـه ګټه پورته کول جائز دي ، خوکه دمالک اجازه نه وي یاله هغه نه پـه پټـه لـه ځـان سـره کیږدي نودایو قسم علاوه او استعمال یې ورته جائز نه دي . فقط والله اعلم بالصواب

په هغه بټنه باندې چې دسروزرو پالش شوې وي دهغه استعمال څنګه دی ؟

۲۱۱: سوال: سرو لپاره دداسې بتن استعمالول چې وربانديې دسرو زرو پالش شوې وي څنګه دی په شریعت کی ورته اجازه شته اوکه نه ؟ بینوا توجروا.
خواب: دداسې بتن په استعمالولو کې هیڅ حرج نشته . په درمختار کې دي :
اما المطلي فلابأس به بالاجماع بلا فرق بين لجام وركـاب وغيرهمـا لان الطـلاء مستهلك فلا عبرة للونه عيني وغيره وفي رد المختار (قوله والخلاف فى المفضض) ارادبه مافيه قطعة فضة فيشمل المضبب والا ظهر عبارة العيني وغيره وهى وهـذا الاختلاف فيما يخلص وامام التموية الذى لايخلص فلابأس به بـالا جمـاع لانـه مستهلك فلا عبرة ببقائه لونا اه. (درمختار ورد المحتـار ص ۳۰۱ ج ٥ كتـاب الحظر والاباحة فصل فى اللبس .)
غايته الافطار ترجمه درمختار کې دي :
په کوم څیز کې چی سره او سپین زر جدا کیدای شي ، اوپه کوم څیز باندی چی دسـرو زرو او سپینو زرو اوبه پالش شوی وي هغه په اجماع سره صحیح او جائز دی ، څکه چی دطلا او سپینو زرو اوبه مستهلک دی او یواځې درنګ هیڅ اعتبار نشـته . کذافی العـینی وغیره (غاية الاوطار ص ۹۸ج۴ په آخري هدایه کې دي :) وهذا الاختلاف فيمـا يخلص فاما التمويه الذى لايخلص فلابأس به بالاجماع (هدايه اخيرين ص ٤٣٧ ج ٤ كتاب الكراهية فصل فى لمبس .)
په عين الهدايه کې دي په داسې صورت کې دی چی سره زر جداکیـدی شـي نودهغـه په استعمال کې بالاجماع ګناه نشته دامام ابو حنیفه ابو یوسف او محمد په نـزد دپـالش شوې څیز استعمال جائز دی خو دامام شافعي په نزد جـائز نـه دی . (عـين لهدايـه ص ۲۱۷ ج۴) فقط والله اعلم بالصواب.

په بیوټي پالر کې دښځو مخ وینځل:

۲۱۳: سوال: نن سبا دبیوټي پالر په دکانو کې دمخ وینځلو فیشن عام شوی دی .
ښځې دزیب او زینت لپاره هلته ورځي، که دښځو په مخ باندی تور داغونه وي ، یـارنګ یې تور وي نو دکریم په لګولو سره دهغوی مخونه صـفاکوي اوپـدې سـره دځـه وخـت لپاره دښځې رنګ ښکلې او سپینیږي ، ایا داسی کول جائز دي ؟ که ښځه دخپل خاونـد

په خاطر دښکلا او حسن په خاطر هلته لاړه شي نو هغی لپاره څه حکم دی ، په یاد دی وي چی په بیوټي پالر کی ټول کاربنځې کوي . بینوا توجروا.
ځواب: داهسې فضول خرچې او چټي کار دی ، بلکې دوکه هم ده ، خپل اصلي رنګ پټول اودمصنوعي حسن نمائش دی ، لدې قسم کارونو نه باید ځان وساتل شي . ښځه کولې شي چې خپل خاوند ته دزینت لپاره داسې شیان استعمال کړي چې په فیشن کې داخل نه وي اوله فجارو سره مشابهت نه راځي.
فقط والله اعلم بالصواب.

په پتلون کې دقمیص ددننه کولو حکم :

۲۱۴ سوال : ایاقمیس په پتلون کې دننه کولې شوو او که نه ؟ بینوا توجروا.
ځواب: حامداً ومصلیا ومسلماً : دمحمدصلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی :
لتتبعن من کان قبلکم شبرا بشبرٍ وذراعآ بذراع (مسلم شریف ج۲ صفحه ۳۳٤).
تاسې به ضرور دمخکینو امتونو (یهود او نصاراو) په نقش قدم باندی روانیږئ.
لیا تین علی امتی کما اتی علی بني اسرائیل خذو النعل بالنعل حتی ان کان منهم من اتی امه علانیة لکان فی امتی من یصنع ذلك (مشکوة شریف ص۳۰ باب الاعتصام)
ترجمه : خامخا به زماپرامت داسې یوه زمانه راځي لکه چی په اسرائیلو باندی راغلې و. تاسې به دهغوی په نقش قدم باندی دومره ورپورې روانیږئ چی که له هغو نه له خپلې مورسره ښکاره زناکړی وي ، نو زما په امت کی به هم داسې یو سړې پیداکیږي چی له خپل مورسره زناوکړي . مشکواة صفحه ۳۰ الاعتصام .
لباس خولاځه کوي چی په عبادت کې هم دکفارو مشابهت کول جائز نه دی .
حضرت موسی علیه السلام له خپل قومِ سره یو ځای له فرعون نه دنجات دترلاسه کولو په شکریه کې عاشوری (لسم محرم) کی دروژې نیولو اهتمام وکړ چی دیهودو علماو هغه تر آخره پورې جاري وساتلهِ . محمدصلی الله علیه وسلم چی لدینه خبر شو نو وې فرمایل : ددغه یادګار په باقي ساتلو کې مونږ دیهودانو په نسبت زیات حقدار یو ، ځکه چی حضرت موسی علیه السلام نه مونږ زیات قریب یو نو ځکه هغه صلی الله علیه وسلم دعاشورې روژه وینوله او اصحابو ته هم دروژې نیولو حکم وکړ، لیکن په نهم تاریخ هم دروژې نیولو هدایت وکړ، ترڅو له یهودو سره مشابهت رانشي.

دروژی ماتولو لپاره دلمر پریوتو باندی دیقین باوجود یهودانو او نصاراو به تـاخیر کـاو او دایې ثواب ګاڼه ، محمدصلی‌الله علیه وسلم په روژه ماته کې له هغوی سره دمشابهت نـه دبچ کیدو په خاطر حکم وکړ چی زماپه نزد دالله محبوب بنـده هغـه دی چـی پـه روژه ماته کې عجلت وکړي او ویي فرمایـل ترڅـو پـورې چـی زمـا امـت دروژه مـاتې لپـاره دستورو دوتلو انتظارنه کوي نو زماپه طریقه باندی به قائم پاتې وي.

هغه صلی الله علیه وسلم داهم وفرمایل : ترڅو پورې چی په روژه مـاتې کـې عجلـت او تلوسه کولې شي نو زما دادین بـه همیشـه غالـب وي ، همدغـه راز ویـې فرمایـل ترڅـو پورې انسان په روژه ماته کې عجلـت کـوي نـو پـه ګټـه کـې دی تاسـې وګـورئ چـی محمدصلی الله علیه وسلم له کفارو سره دمشـابهت نـه دډوډی کولـو څـومره اهتمـام او تاکید کړی دی ، په پتلون کې دقمیص ددننه کولو طریقه هم دیهودو اونصـاراو ده چـی فاسقانو خپله کړیده ، دمحمدصلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی چی لـه دریـو قسـمو خلکو څخه الله پاک ډیر زیات ناراض دی . له هغوی نه یو هغه څوک دی چې په اسـلام کې دجاهلیت طریقه لټوي.

مشکوات شریف ص۲۷.

پتلون تنګ او چست وي که پرهغه قمیص یاکوټ نه وي نودشرمګاه وروستي او مخکینـي حصه ښکاره کیږي ، دستر ټول نشیب او فرازصفا معلومي پرهغه دخلکو سترګې لګیږي ، په داسې لباس کې دخویندو په وړاندی تیریدل او ګرځیدل څومره له شرم نـه ډک کـار دی . شامي (۵/ ۳۲۱)

په لمونځ کې درکوع او سجدې په حالـت کـې دکونـاتې ټـول سـرونه ښکـاره کیـږي . دوروستي خلکو نظر په هغه لګیږي اودلمونځ دمکروه کیدو سبب ګرځي.

همدغه راز ورکوټې قمیص هم دشریعت په نظر کې مکروه دی ، زیاتره وخت پـه رکـوع او سجده کې له پتلون نه بیرون اوځي او دکوناتو بدني حصه ښکاره کیـږي . فقـط والله اعلم بالصواب.

هلکانو او جنوکیانو لپاره دپتلون داغوستلوڅه حکم دی ؟:

۳۱۴: سوال : په شریعت کې هلکانو او جنوکیانو ته دپتلـون داغوسـتلو څـه حکـم دی ؟ مهرباني وکړئ وضاحت سره ځواب راکړئ.

ځواب: پتلـون دفاسـقانو لبـاس دی ، دینـدارو خلکـو لپـاره د بزرګـي لبـاس پریښـودل اودفاسقانو لباس اغوستل ناروا او ګناه ده .

په لامابد منه کی دي مسلمان ته له کفارو او فساقو سره مشابهت کول حرام دی ص۱۳۱.
څومره اندازه چې دکفارو او فاسقانو لـه لبـاس سـره مشـابهت کیږي دهمغـې درجـې دممانعت حکم ورباندې لاګو کیږي . په کوم لباس کې چې پوره مشـابهت وي هغـه پـه حرام او ناجائز کې راځي ، اوپه کوم لباس کې چې لږ غوندې مشابهت وي هغـه مکـروه شمارل کیږي . دډیر افسوس خبره ده چې جنوکیانی هم دهلکانو پشان پتلـون آچـوي ، تردی چې هلکان او جنوکیانی دیوبل پتلونو نه اغوندي او داکمال ګمـي . داداخلاقـي کمزوري اودذهنیتونو دخرابیدو نښې نښانې دي.
پرښځو لازم دي چې دسړو پشان جامې وانه غوندي اوډېره ترینه وکـړي همدغـه راز پـه سړو هم لازم دي چې دښځو پشان جامونه ځانونه وساتي ځکـه چـې دادلعنـت موجـب دی . په حدیث کې دي :
لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم الرجل یلبس لبسة المرأة والمرأة تلبس لبســة الرجل.
یعنې محمدصلی‌الله علیه وسلم په هغه سړي باندې لعنت کړی دی چـې دښځـو جـامې اغوندي ، او په هغې ښځې هم لعنت کړی دی چې دسړو لباس اغونـدي . (مشــکواة شریف ص۳۸۳ باب الرجل)
په حدیث کې دي چې یو سړي عائشه رضی الله عنها ته خبر ورکړ چې یـوه ښځـه دسړو څپلې په پښو کوي نوعائشه رضی الله عنهـا وفرمایـل: رسـول الله صـلی الله علیـه وسلم پرهغې ښځې لعنت کړی دی چې له سړو سره مشابهت کوي . مشکوات ص ۲۸۳.
پرمسلمانانو لازم دي چې له دغیر مسلمو له طریقو او لباس نه ډډه وکـړي، دمحمدصـلی الله علیه وسلم فرمان د ی‌چی "من تشبه بقوم فهو منهم" یعنې کـوم سـړی چې دیـو قوم (دصورت) مشابهت وکړ نو هغه په عقید او صورت کې دهغوی پشان کیږي.
(مشکواة شریف ص ۳۷۵ کتاب اللباس)
نو څکه کله چې محمدصلی الله علیه وسلم عبدالله بن عمر رضی الله عنه په زعفرانـوکې رنګ شویو سره جامو ولید نو ورته یې وفرمایل : ((ان هذه من لبــاس الکفــار فـلا تلبسها))
یعنې داسرې جامې دکفارو لباس دی ته یې مه اغونده .

په حدیث کې دي چې دمحمدصلی الله علیه وسلم په لاس کې عربي کمان و . اودیوبل شخص (اصحابي) په لاس کې فارسي کمان و ، محمدصلی الله علیه وسلم هغه ته امر وکړ چې داکمان وغورځوه او عربي کمان واخله . (مشـــکواة شــریف ص۳۳۸ قبیل باب اداب السفر)

ددی حدیث مطلب دادی چې له تاسره لدینه ښه کمان موجود دی نوله بل ځانه ولې سوال کوې ، یعنې دفارسي کمان داخستلو پرځای عربي کمان واخله .

ددین بزرګان مونږ ته لار ښودنه کوي چې :

فتشبهوا ان لم یکونوا مثلهم

ان التشبه بالکرام فلاح

دنیکانو اوپاکو خلکو مشابهت خپل کړی که څه هم دهغوی په شان نه یئ بیشکه چې دنیکانو اوپاکو خلکو مشابهت کولو کې ددین اودنیاګټه ده .

دمحمدصلی الله علیه وسلم حدیث شریف دی :

خیر شبا بکم من تشبه لکهو لکم وشر کهلو لکم من تشبه بشبابکم .

په تاسو کې له ټولو نه غوره ځوان هغه دی چې دبزرګانو مشابهت خپل کړي . او ستاسې په بوډاګانو کې له ټولو نه بدتر بوډا هغه دی چې دځوانانو مشابهت کوي (کنز العمال ج ۸ص۱۲۹.

علامه ابن حجر هیثمي متوفی ۹۷۳ هجري پخپل کتاب الزواجر عن القراف الکبائر. کې له محدث مالک بن دینار په روایت دیو نبي وحی نقلوي .

اوحی الله الی نبی من الانبیاء ان قل لقومك لایدخل مداخل اعدائي ولایلبس ملابس اعدائي ولایرکب مراکب اعدائی ولا یطعم مطاعم اعـــدائی فیکـــون اعدائی کما هم اعدائی.

الله تعالی له خپلو انبیاو څخه یو نبي ته وحې ولیږه چې ای نبي! خپل قوم ته ووایه چې هغوی زماددښمن دداخلیدو له ځای نه داخل نشي ، زماددښمنانو په څیر دی جامې نه اغوندي ، زماددښمنانو په سورلی دی نه سوریږي اوزما ددښمنانو په څیر دی خوراک نه کوي ، (یعنې ستاسې اودهغوی ترمنځ فرق ضروري) دی . که نه نو تاسو قوم به هم زماددښمانو په قطار کې حساب شي .

(كتاب الزواجر عن اقتراف الكبائر ص ١١ ج١) فقط والله اعلم بالصواب.

دراډيو اخستل ، خرڅول او جوړول :

٢١٥ سوال : زيد درېډيو كار خانه لري په هغه كې پخپله هم رېډيو ګانې جوړوي او نورو كمپنيو نه هم وركوي ايا دهغه داكار صحيح دى ؟ بكر په دى نيت راډيو آخلي چې دقرانكريم تلاوت، دعلماو تقريرونه او خبرونه پكې واوري ، خودبكر كورنى دغه راډيو دسندرو دآوريدو لپاره هم استعمالوي ، ايا بكر لپاره دداسې راډيو ساتل جائز دي او كه نه ؟ بينوا توجروا.

ځواب: په اصل كې راډيو دخبرونو او تقريرونو دآوريدو لپاره جوړه شوې ده . خو اوس زياتره دسندرولهو لعب او نورو چټياتو كې استعماليږي ، ډير خلك داسې هم شته چې راډيو صرف دخبرولو او نورو جايزو شيانو دآوريدو لپاره استعمالوي لهذا داطهو لعب اودموسيقي په آلاتو كې داخل نه د ى. هغه خوك ګنهګار دى چې داناچيز چيز لپاره استعمالوي ،لهذا ددى جوړول او خرڅول په دې نيت سره چې خلك ترينه جائزه ګټه او چته كړي في نفسه مباح دى ، همدغه حكم دراډيو آخستل ، جوړول اودراډيوګانو په كارخانه كې دكار كولو هم د ى، خو دتقوى او احتياط لاره داده چې ځان ترينه وساتل شي . فقط والله اعلم بالصواب.

كه سركاري ملازم ته هديه وركړې شي دهغه آخستل څنګه ده ؟

٢١٦سوال: زه سركاري ملازم يم او نن سبا رشوت اخستل عام دي ، ليكن الحمد لله زه له چانه رشوت نه اخلم ، خپل مسئوليت په ښه طريقې سره اداكوم ، كله چې څوك ماته دڅه هديې راكولو پيشكش كوي نو زه ترينه صفا انكار كوم ، خو هغه په زوره زما په جيب كې آچوي اوراته واي چې تاخو دپيسو اخستو خبره نه وه كړې ، زمونږ كار وشو نو څكه دهغه په خوشالي كې مونږ تاته دركوو ، هغوى پيسې زماپه جيب كې ږدي او رانه په منډه تښتي ، دداسې پيسو اخستل مالپاره څنګه دي ؟ بينوا توجروا.

ځواب: تاسې چې كوم كار كوئ دهغه تنخوا له حكومت نه آخلئ تاسې په همدومره تنخواه كار كول قبول كړى دى ، كوم خلك چې تاته دهغو دكار كولو نه مخكې ياوروسته هديه دركوي هغه صرف ستادعهدې او وظيفې په وجه دركوي ، كه چېرته تاسې په دې وظيفه مقرر نه واى نو آياتاته به چاداهديه دركوله ؟لهذا تاته چې څوك

دهدیه په نوم څه درکوي هغه په حقیقت کې رشوت دی او درشوت اخستل جائز نه دي خو که څوک ستانژدې خپلوان یادوستان وي اوله وړاندې نه یوبل تـه دهـدیې او تحفې ورکولو عادت وي نو که داسې خلک دعـادتیـپه مطـابق تاتـه څـه تحفـه درکړي نو دهغه په قبلولو کې څه بدي نشته ، لیکن پـه دې صـورت کـې چـې تاتـه دهغه کوم کار بندوي نو له هغه نه هم په دی وخت کې هدیه اخستل نه دي پکـار ، که نه نو پرتاسو درشوت تهمت لګیدلې شي چې په رشوت کار کوي .

په یو حدیث شریف کې دي :

عن عروة قال خبرنا ابو حميد الساعدى قال استعمل النبى صلى الله عليه وسلم رجلاً من بنى اسد يقال له ابن اللتبيه على صدقة فلما قدم قال هذالكم وهــذا اهدى لى فقام النبى صلى الله عليه وسلم على المنبر قال سفين ايضاً فصعد المنبر فحمد الله واثنى عليه ثم قال ما بال العامل نبعثه فياتى فيقول هذالك وهــذا لى فهلا جلس فى بيت ابيه او امه فينظر اهدى لــه ام لا الخ (بخـاري شـريف ص١٠٦٤ ج ٢ ، كتاب الاحكام باب هدايا العمال)

یعنی ابو حمید الساعدي رضی الله عنه فرمائي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بني اسد یو شخص ابن اللتبیه د صدقی د تر لاسه کولو لپاره عامل (مامور) مقرر کړ ، کله چې هغه واپس راغی نو وئی ویل : دومره اندازه زما ده او دومـره ستا ســی ، محمد صلی الله علیه وسلم په منبر باندی کیناست او د الله تعالی له حمـد او ثنا نـه وروسته وفرمایل :

د عاملینو عجیب حالت دی مونږ هغوی د صدقی د راغونډولو لپاره لیږو خو هغوی د واپس راتلو نه رووسته وائی چې دومره زمونږ دی او دومره ستاسی دی ، هغوی دی د خپل مور او پلار په کورو کی کینـي او بیـا دی وګـوري چـې څـوک ورتـه هدیـه ورکوي او که نه ؟ الخ)

(بخاري شریف ص ۱۰۶۴ ج ۱۲ کتاب الاحکام باب هدایا العمال)

په آخري هدایه کی دي :

ولا يقبل هدية الا من ذى رجم محرم اوممن جرت عادته قبل القضاء بمهاداته لان الاول صلة الرحم والثانى ليس للقضاء بل جرى على العادة وفيما وراء ذلــك

یصیر کلاً بقضائه حتی لو کانت للقریب خصومة لا یقبل هدیته وکذا اذا زاد المهدی علی المعتاد او کانا له خصومة لانه لا جل القضاء فیخا مــاه (هدایــه اخیرین ص ۱۱۹ ج ۳ ص ۱۲۰ ، کتاب ادب القاضـــی) (در مختـــار ورد المختار ص ۴۳۰ ، ص ۴۳۱ ج ٤ ، کتاب القضاء مطلب فی هدیة القاضی)

البته که چیرته په کوم وخت کی یو تن د خپل کار له پوره کیدو نه وروسـته ، پخپله خوښه هدیه ورکړي او هغه ته د بیا بیا راتلو چانس نه وي هسی اتفاقاً د کوم کار په وجه راغلی وي ، بیا له پاره د هغه د راتلـو امیـد هـم نـه وي ، لـه کـار نـه وړانـدی صراحتاً یا اشارتاً او کنایتاً د رشوت ورکولو خبره ئی هم نه وي کړی ، نـه پـر هغـه د هدیو قبلولو څه بندیز وي او پوره دیانت داریٔ سره ستا زړه ګواهي ورکړي چـی دا هدیه ده نه رشوت ، همدغه راز د تحفی په قبلولو کی د بدنامی اندیښنه هم نـه وي نو په داسی صورت کی د تحفی قبلولو ګنجائش شته ، د بخاري شریف په حاشیه کی دي :

وفیه ان ما اهدی الی العمال خدمة السلطان بسبب السلطنة انه لبیت المال ، الآ ان الا مام اذا اباح له قبول الهدیة لنفسه فهو یطیب له کما قال صلی الله علیه وسلم لمعاذ رضی الله عنه وقد طیبت لك ا لهدیة فقبلها معاذ واتی بما اهدی الیه رسول لله صلی الله علیه وسلم فوجده ، قد توفی فاخبر بذلك الصدیق فاجازه ، (بخاری شریف ص ۱۰٦٤ ج ۲ حاشیه کتب الاحکام باب هدایا العمال)

فقط والله اعلم بالصواب .

د قیمتي هیرو کارخانه دار اصلي هیری په کم اصلو هیرو سره بدلوي

(۲۱۷ سوال) له عثمان سره د قیمتي کانو کارخانه ده ، پـه دی کـی قیمتـي کـاني پالش کیږي ، د دی طریقه دا ده چی عثمان د قیمتي کـانو لـه مالـک نـه څـه مـال راوړي او پخپل کارخانه کی پالشوي د یوی هیری په عوض کی شل روپی مـزدوري اخلي .

عثمان مزدور ته اتلس روپۍ ورکـوي او دری روپۍ د بجلـي پـاوړ او نـور مصـرف وربـاندی کیږي ، په دی حساب سره عثمان په یـوه هـیره ۲۱ روپۍ لګـوي ، عثمـان خپل نقصان داسی تلافي کوي چی څه اصلي هیری له هغه نه راوباسي او د هغوی پر ځای د کم قیمت هیری ورسره ګډه وي په دی طریقـه د هغـه کارخانـه روانـه ده اوس پوښتنه دا ده چی د عثمان دغه طریقه صحیح ده او که غلطه ؟

ځواب : دا طریقه غلطه او په دروغو مبني ده په شرع کی د دی هـیڅ جـواز نشـته ، کومی پیسی چی ګټي هغه هم حرامی دي ، عثمان دی تاجر ته ووائي چی مونږ تاته اصلي هیری درکوو او د دوی د پالش مزدوري درنه زیات اخلو په دغه مزدوري سره زمونږ کارخانی ته تاوان دی ، که چیرته عثمان ته لدینه علاوه د آمدني کومه حلالـه ذریعه وي ، یا ورسره لدینه علاوه حلال مال موجود وي ، او عثمان خپل ټول آمدني پخپلو کی ګډ وي نو د خلطیت په وجه عثمان د ټول مال مالک دی او هغه مال ئی چی په حرامی طریقی سره ګټیلی دي د هغـه بـه تـاوان ورکـوي ، حـج او زکـات وربـاندی هم واجب دی ، البته حج لپاره ورته دا مناسبه طریقه ده چی له کـوم غـیر مسلم نه قرض واخلي او حج دی وکړي او بیا پخپلو پیسو دی هغه قرض ادا کړي . (فتاوی محمودیه ص ۲۸٦ ج ۹ معلم الحجاج ص ۳۳ سفر حج کے مصارف) فقـط والله اعلم بالصواب .

د شراب خانی د څوکیدار ګټه او له هغه سره د خپلوانو سلوک :

(۲۱۸ سوال) له سلام دعا نه وروسته عرض دی چی د لاندیې مسئلی پـه بـاره کـی علماء کرام څه وائي مدلل او واضح ځواب راکړئ .

یو سړی د شراب خانی څوکیدار دی ، ایا د هغه آمدني حلال دی او که حرام ؟ که حرام وي نو مونږ ته له هغه سره څنګه سلوک کول پکار دي ؟ ایـا د هغـه دعـوت ومنو او که مسترد ئی کړو ؟ خپلولي پالل ورسره څنګه دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : وبالله التوفیق ، د کوم سړي آمدنی چی خالص حرام وي او تنخواه هم لـه حرامی آمدنی څخه اخلي له هغه سره څوکیداري اومزدوري کول روا نه ده .

کومه تنخواه چی اخلي هغه هم حلاله نه ده ،لهذا د کوم سړي چی شراب خانـه ده که د هغه د آمدني ذریعه صرف همدغه شرابخانه ده او له همدغی آمدني نه تنخواه هم ورکوي نو له هغه سره ملازمت او مزدوري کول هم حرام دي ، او کـوم آمـدني

چې د هغه دی هغه هم حرام دی ، همدغه راز په دی کی په معصیت کـی تعـاون هم دی . په قرآن کریم کی دي : ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان .
د گناه او ظلم په کارونو کي له چا سره مرسـته مـه کـوئ ، نـو ځکـه دا ملازمـت او څوکیداري د غندنی او مذمت وړ دی .
په امداد الفتاوی کی هم همداسی د یو سوال ځواب دی هغه هم ولولئ .
(۳۰۹ سوال)

څه وائي د ین علماء او مفتیان په دی لاندینی مسئله کی :

که یو سړی له داسی چا سره نوکري کوي چې هغه سودخور ، شراب خرڅوونکی یـا بل حرام کاروبار کوي ایا له هغه نه چې کوم تنخواه اخلي هغـه ورتـه حرامـه ده او که نه ؟

ځواب : د چا آمدنی چې بالکل حـرام وي لکـه د سـودخور او شـراب خرڅـوونکي آمدني ، له هغه سره نوکري کول بالکل حرام دي او کـوم معـاش چـې لـه هغـه نـه اخلي هغه هم حرام دی ، الله تعالی فرمائي : ولا تتبدلو ا الخبیث بالطیب _ تاسی خبیث شی په پاک ځیزونو سره مه بدلوئ .
او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي :
له یحل ثمن الکلب ولا حلوان الکاهن ولا مهر البغی (ص ۱۳۶) وقال علیه الصلوة والسلام ان الله حرم الخمر و ثمنها (ص ۱۳۷) وعن ابن عباس رضی الله عنه قال رأیت رسول لله صلی الله علیه وسلم جالساً عند الرکن قال فرفع بصره الی السماء وضحك فقال لعن الله الیهود ثلاثاً ، ان الله حرم الشـــحوم فباعوها واکلوا ثمانها ان الله اذا حرم علی قوم اکل شئ حرم علیه ثمنـــه (ص ۱۳۷) لعن رسول الله صلی علیه وسلم الربوا ومو کله (ص ۱۲۷) سنن ابی داؤد جلد ثانی وغیر ذلك من الایات والاحادیث (کتاب البیوع) .
البته که د چا آمدني ګډه وډه او مختلط وي یا حلال آمدني ئی د حرامو پـه نسبت زیات وي مثلاً سود خواره او شراب خرڅونکي بل حلال کاروبار هم کوي نو په دی

وخت کی له هغوی سره کار کول جائز دي په دی شرط چی لـه حـلال آمـدني نـه درته تنخواه درکوي .
حديث شريف کی دي :
نهانا رسول الله صلى الله عليه وسلم عن كسب الامة الا ما عملت بيدها وقال هكذا نحو الخبز والغزل والنقش (ابوداؤد جلد دويم ص ۱۳۰ کتاب البيوع) .
د دی وجه دا ده چی له مشتبه نه ځان ساتل ډير ګران او متعذر دي نو د ضرورت په خاطر جائز دي ځکه چی ضرورت مخظورات مباح کـوي . لان الضـرر تبـيحُ المحظورات،ولا يكلف الله نفساً الا وسعها .
که څه هم له تقوی نه خلاف دی ، ځکه چی حکم دا دی چی دع ما يريبـك الى مالا يريبك ، وهو الموفق ۱۳ محرم ۱۳۰۱ ه (امداد الفتاوی جلد ۳ صفحه ۳۱۱ کتاب الاجاره) .
کله چی دا ثابت شي چی د شراب خانی د مالک د آمـدني ذريعـه يـوازی همدغـه شراب خانه ده او له همدغی حرام آمدني څخـه تنخـواه ورکـوي نـو لـه هغـه سره نوکري کول حلال نه دي او نه هم دا روا دي چی د داسی سړي د ډوډۍ دعـوت قبول کړی شي ، او که چيرته د حلال آمدني بل کوم مـدارک لـري او دا لـه حـرام آمدني نه زيات هم وي نو بيا د داسی سړي د ډوډۍ په خوړلو کی څـه حـرج نشـته پدی شرط چی دا خبره يقيني وي چی له حرام آمدني نه ډوډۍ نه ورکوي .
په فتاوی عالمګيري کی دي :
اهدى الى رجل شيئاً او اضافه ان كان غالب مال من الحلال فلا بـأس الا ان يعلم بانه حرام فان كان الغالب هو الحرام ينبغى ان لا يقبل الهدية ولا يأكـل الطعام الا ان يخبره بانه حلال ورثته او استقرضته من رجل كذا فى الينا بيع (فتاری عالمگيری ج ٥ ص ٣٤٣ ، باب نمبر ١٢ فى الهدايا)
په مالا بد منه کی دي :

قبول ضیافت وهدیه امرائے ظالم. وزن رقاصه ومغنیه ونائحه که اکثر مال او حرام باشند جائز نیست واگر داند که اکثر مال اواز حلال است جائز است (مالابدمنه ص ۱۰۹ فصل درخوردن)

یعنی د ظالمانو حاکمانو ، رقص کوونکو ، سندرغاړو او نیاحت کوونکو ښځو چی زیاتره آمدني ئی حرام وي د دوړی دعوت قبلول جائز نه دی ، خو که پدی پوه شي چی زیاتره مال ئی حلال دی بیا جائز دي .

که چیرته مذکوره شخص د هغی د اصلاح په خاطر له هغی سره اړیکي ساتل غواړي نو ورته تللی شي . خو که بالکل ترینه مایوس وي نو زجراً او توبیخاً چی نورو ته هم عبرت وشي او ورته لاړ نشي نو دا هم بغض فی الله کی شامل دی او د اجر باعث گرځي .

فقط والله اعلم بالصواب .

علاج او معالجه

د کولرا (هیضی) ناروغی لپاره پیچکاري (انجکشن) اخستل څنګه دي ؟

(۲۱۹ سوال) که د هیضی د ناروغی لپاره د وبا په زمانه کی حکومت انجکشنی چاته ورکړي نو ایا په اخستلو کی څه حرج شته او که نه ؟

ځواب : هیڅ حرج او بدي پکي نشته ، د حفظ ما تقدم په توګه علاج کولی شي ، خو کیږي به هغه چی الله ته څه منظور وي ۔

په غیر مسلم باندی سحر او ناپاک کار کول :

(۲۲۰ سوال) څه وائي د دین علماء او مفتیان د دغه لاندیني سوال په باره کی : زمونږ په علاقه ګجرات کی نن سبا د سحر ډیر زیات زور دی ، که لږ غونـدی هـم د دوه کسانو تر منځ خفګان پیدا شي نو د خپل مخـالف د پریشـانه کولـو لپـاره پـه غـیر مسـلم باندی سحر کوي ، ددی د دفع لپاره مونږ دمونه او تعویذونه وکـړل خـو څـه زړه پـوری نتیجه ئی ورنه کړه . د عالمانو وینا ده چی سحر یو ناپاک او سفلی عمل دی نـو ځکـه د دی دفع هم ناپاک عاملان کولی شي خو مشرک عامل او سحر ګران هم د تعلق پـه وجـه د عمل کولو لپاره تیار دي خو د شریعت د احترام او د ګناه له ویری نه تر ننه پـوری نـه پخپله دغو عاملانو ته تللی یم او نه می بل چاته د ورتلـو اجـازه ورکـړی ده خلـک ډیـر زیات پریشانه دي او خو کسان د سحر او جادو په وجه مړ شوی هم دي .

ایا په داسی حالت کی غیر مسلمو ته د سحر د دفع لپاره تلل او پـر هغـوی لـه سـحر نـه تعویذونه او نوری ټوټکی کول جائز دي او که نه ؟ که په دی کی مونږ څه ونه خـورو او نه هم څه وڅکو او نه څه به غاړه کی واچوو بلکی عامل پخپله سحر دفع کړي ، او مونږ کوم تعویذ یا تار په غاړه نه کړو ایا په داسی صورت کی عامل ته تللی شو او که نـه ؟ ایـا د دی په عوض کی ورته مزدوري ورکول جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : کله چی د ځان خطره وي او بل جائز علاج یی نـه وي ، نـاروغ یـا مسـحور تـه کوم ناروا خیز خوړلو ته نه ورکوي ، نه هم شرکیه او کفریه کلمی وائي بلکی غـیر مسـلم پخپل عمل سره د سحر مضر اثرات ختمـوي نـو د مجبوریـت پـه وجـه داسـی کـول او مزدوري ورته ورکول جائز دي .

وفى حاشية الايضاح لبيرى زاده قال الشمنى تعلمه وتعليه حرام اقـــول مقتضـــى الاطلاق ولو تعلم لدفع الضرر عن المسلمين وفى ذخيرة الناظر تعلمه فرض لـــرد ساحر أهل الحرب و حرام ليفرق به بين المرأة وزوجها و جائز ليوافق بينـــهما اه (الى قوله) وللسحرة فصول كثيرة فى كتبهم فليس كل ما يسمى سحراً كفراً الخ (شامى ص ٤١ ، ٤٢ ج ١ مقدمه شامى مطلب فى التنجيم والرمـــل) فقط والله اعلم بالصواب .

بل چاته د سترګی ورکولو وصیت او هغه په وینه ورکولو باندی قیاس کول :

(۲۲۱ سوال) نن سبا د سترګو بینکونه او مرکزونـه جـوړ شـوی دي ، خلـک دا وصـیت کوي چې له مرګ نه وروسته دغه مرکز یا بینـک تـه ورکـړئ ، بینـک والا د هغـوی دغـه سترګی کوم وړوند سړي ته لګوي او پدی سره هغه رڼا ویني ایا د انسان له سترګی نـه دا قسم ګته اچتول او د خپلی سترګی د ورکولو وصیت کول جائز دي او که نـه ؟ د انسـان وینه د ضرورت په وخت کی بل انسان ته ورکول جـائز دی ایـا سترګه پـه وینـه بانـدی قیاسولی شو ؟ بینوا توجروا .

ځواب : له مرګ نه د بچ کولو لپاره د انسان وینه بل انسان ته ورکـول جـائز دي ، پـدی باندی د سترګو قیاسول صحیح نه دي ، د وینی په ویستلو کی هغه تکلیف نـه دی چـی د سترګو د ویستلو په وخت کی وي . د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی :

کسر عظم الميت لكسر عظم الحـــى ــ د مړي هډوکی ماتول د ژونـدي سـړي د هډوکی ماتولو په شان دی (ابوداؤد شريف ج ۲ ص ۱۰۲ كتاب الجنائز) (موطـــأ امام مالک ص ۹۰) (شرح سير كبير ج ۱ ص ۹۰)

بل دا چی د مړي له کوم اندام او جزء نه ګټه اوچتول جائز نه دي د هغه د احترام پـه وجـه . لايجوز تداوى بشئ من الآدمى الحى كذلك لايجوز تداوى بعظـــم الميـــت اكراماً له قال عليه السلام كسر عظم الميت ككسر عظم الحى (شرح سير كبير ج ۱ ص ۹۱ فى الحفار يجد العظم الخ)

همدغه راز له بدن نه د وينى په ويستلو انسان نه مثله کيږي او نه هم په دى سره د هغه په بدن کى کوم ظاهري عيب پيدا کيږي ، خو برعکس د سترګو په ويستلو سره ظاهري عيب پيدا کيږي ، د سترګو ويستل مثله ده او مثله حرامه ده ، لهذا په ژوند او يا له مرګ نه وروسته د بيع اوهبى په توګه چاته د ورکولو وصيت کول او وروند ته د هغى استعمالول جائز نه دي ، له ګتى نه انکار نشته . د الله تعالى قول : واثمهما اکبر من نفعهما د اصولو په مطابق دا حرام دي ځکه چى نقصان له ګتى نه زيات دى ، او پدى کى د انسان توهين او سپکاوى هم دى . والله اعلم بالصواب .

د بل چا سترګه ځانته لګول :

(۲۲۲ سوال) د يو سړي دواړه سترګى يا يوه سترګه خرابيدو ته نږدى ده ، د ډاکټر د رپوټ په مطابق سترګه بالکل له کاره ولويدلى ده ، کله چى په هسپتال کى څوک مري نو د هغه سترګه راوباسي او په يو خاص ځاى کى ساتي ، که چيرته د کوم مړي سترګه چى دغه سړي ته ولګول شي نو د هغه د سترګو رڼا بيرته راتلى شي ، په داسى حالت کى د مړ سړي سترګه لګول د شريعت په نظر کى څنګه دي ؟ بينوا توجروا .

ځواب : د کوم وړوند سړي د سترګو د بينايئ لپاره د ژوندي يا د مړ سړي سترګه لګول شرعاً صحيح نه دي ځکه چى دا د انساني اعضاو د تکريم او د احترام نه منافي کار دى . الانتفاع باجزاء الادمى لم يجز قيل للنجاسة وقيل للكرامة هو الصـــحيح كــذا فى جواهر الاخلاطى فتاوى عالمگيرى ج ٦ ص ۲۳٦ مطبوعــه کـانپور کتـاب الكراهية الباب الثامن عشر فى التداوى) فقط والله اعلم بالصواب .

د بل چا ګرده (پختورګى) استعمالول :

(۲۲۴ سوال) زما زوى د ګردو ناروغ دى دواړه ګردى ئى خرابى شوى دي ډير زيات پريشان دى . د ډاکټرانو خيال دى چى که چيرته د يو بل سړي ګرده ديته واچولى شي نو اميد دى چى روغ رمټ به شي ، زه تيار يم چى خپل يو ګرده ورته ورکړم په شريعت کى د دى څه حکم دى ؟ جائز دى او که ناجائز ؟ مدلل او مفصل ځواب راته راکړئ .

ځواب : انسان د خپل بدن او يا د کوم عضو مالک نه دى چى په هغه کى ازادانه تصرف وکړي نو ځکه تا لپاره جائز نه دي چى خپله ګرده خپل زوى يا بل چاته د پيسو

په بدل کی یا همداسی په هدیه کی ورکړی . د فقهي په کتابونو کـی د دی ډیـر زیـات مثالونه موجود دي په فتاوی قاضي خان کی دي : مضطر لم يجد ميتة وخاف الهــلاك فقال له رجلٌ اقطع يدى وكلها او قال اقطع منى قطعة فكلها لايســـعه ان يفعــل ذلك ولا يصح امره به كما لايسع للمضطر ان يقطع قطعة من لحم نفسه فيأكل .
یعنی که کوم سړی په اضطراري حالت کی وي او د لوږی پـه وجـه د هغـه د مـړ کیـدو ویره وي ، داسی کوم مردار څناور هم نه وي چی د هغه غوښــه وخــوري او خپـل ژونـد وربانـدی بچ کړي په داسی حالت کی یو سړي پیشکش وکړي چی ته زما لاس غوخ کړه او وخوره یا داسی ورته ووایي چی زما له بدن نه غوښه پریکړه او وخوره نو مضطر لپـاره جائز نه دي چی د هغ لاس یا دبدن غوښه غوخـه کـړي او وخــوري همدغـه راز چاتـه داسی پیشکش کول هم جائز نه دي ، ځکه چی هغه پخپله د خپل بدن د غوښی مالـک او واکدار نه دی ، بالکل داسی لکه پخپله مضطر لپاره جائز نـه دي چـی د خپـل بـدن غوښه وخوري او خپل ژوند وربانـدی بچ کړي .
(فتاوی قاضي خان ص ۳٦٥ کتاب الحظر والاباحة)
همدغه وجه ده چی په اسلام کی خودکشي حرامه ده ځکه چی هیڅوک د خپل نفس مالک نه دی چی هغه ضائع کړي لهذا د کوم ژوندی یا د مړ انسان ګـرده ویسـتل او بـل چا ته ورکول جائز کار نه دی . په ا لاشباه والنظائر کی دي :
الضرر لا يزال بالضرر . ضرر دی په ضرر سره دفع نه کړی شــي . (الاشـباه ص ۱۰۹)
فتاوی عالمګیري کی دي :
الانتفاع باجزاء الادمى لم يجز قيل للنجاسة وقيل للكرامة هو الصــحيح كــذا ف جواهر الاخلاطى كتاب الكراهية الباب الثامن عشر .
یعنی د انسان له جزء نه انتفاع جائز نه ده د دی د عدم جواز علت یا د هغه د نجاسـت په وجه دی او یا هم د هغه د کرامت په وجه . خو کرامـت ئـی صـحیح وجـه ده . لکـه چی الله تعالی فرمائي : ولقد كرمنا بنى آدم ــ بیشکه چی مونږ د ادم اولاد ته کرامت ورکړی د ی (پاره نمبر ۱۵ رکوع نمبر ٦) فتاوی عالمګیري ج ٦ ص ۲۳٦ مطبوعه کانپور)
په حدیث شریف کی خو رسول الله صلی الله علیه وسلم تر دې فرمائلي دي چی واصله او متوصله ښځی باندی د الله لعنت دی ، واصله ښځی هغی ښځی ته ویل کیږي چـی د

نورو ښځو ویښتان بلی ښځی ته لګوي تر څو د سر ویښتـان زیـات معلـوم شـي . متوصـله هغی ښځی ته ویل کیږي چی له خپلو ویښتانو سره د نورو ویښتـان لګـوي . پـه مشـکوی شریف کی د بخاري او مسلم په حواله حدیث دی :

عن ابن عمر رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم قال لعن الله الواصـــلة والمستوصلة . الخ (مشکواة شریف ص ۳۸۱ باب الترجل) پـه شـامي کـی دي : وفی الاختیار و وصل الشعر بشعر الآدمی حرم سواء کان شعرها او شعر غیرهـــا لقوله صلی الله علیه وسلم لعن الله الواصلة والمستوصلة الخ . یعنی د ښځی ویښتـان له خپلو ویښتانو سره لګول حرام دي برابره خبره ده چی خپل ویښتان ئی وي یا د بلـی ښځی ، ځکه چی الله تعالی په داسی ښځو بانـدی لعنـت کـړی دی لکـه چـی حـدیث شـریف دی : لعن الله الواصلة والمستوصلة (شامی ج ۵ ص ۳۲۸ کتاب الحظـــر والاباحة فصل فی النظر واللمس) .

لهذا په مسئوله صورت کی تا لپاره شرعاً جائز نه دي چی خپله ګرده وباسی او خپـل زوی ته ولګوي

د نن سبا د تحقیق په مطابق د یو سړي ګرده بل سړي ته لګـول ګـټـور ثابتیږي او هغـه ژوندی پاتی کیدای شي خو د اثمهما اکبر من نفعهما د اصولو په مطابق ناجائز دی ، پـه دی کی د انسانیت توهین هـم دی ، کـه چیرتـه دا طریقـه روانـه شـي نـو د انسانانو اندامونه د چیلکو د اندامونو پشان خرڅیږي ، دا خبره دی هـم پـه ذهـن کـی وسـاتل شي چی له کوم سړي نه ګرده اخستل کیږي د هغه صحت او ژوند هـم پـه خطـره کـی غورځیږي او چا ته چی ګرده ورکول کیږي د هغه صحت هم یقیني نه دی ، یـوازی لـه یو الله نه د شفا امید وساتئ . له دوایانو سره د دعاګـانو اهتمـام هـم وکـړئ ، صـدقه او خیرات هم د الله د رضا لپاره ورکړئ ځکه چی صدقه بلاګانی ختموي ، په الهـي قضـاء باندی راضي اوسئ او په هر حالت کی د هغه شکر ادا کوئ . فقط والله اعلم بالصواب.

په ډاکټري طریقی سره علاج کول څنګه دي ؟

(۲۲۴ سوال) نن سبا زیات خلک ایلوپې (ډاکټري) علاج کوي ، په دغو دوایانو کی لـږ غوندی الکحل موجود وي ، زمونږ په دی زمانه کی له یو دوه نه علاوه صحیح حکیمـان

نشته‌لهذا د مجبوریت له کبله خلک ډاکټري علاج کوي ، اوس سوال دا دی چې دا قسم علاج او معالجه جائزه ده او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : اسپرټ د شرابو جوهر دی او لدینه د کیمیاء د علم په ذریعه خاص اجزا ویستل کیږي چې الکحل ورته ویل کیږي ګویا الکحل د اسپرټ روح دی ، د یو روایت له مخې دا د ضرورت په وخت کې په دوایانو کې استعمالول جائز دي خو ځان ترینه ساتل ښه او غوره کار دی .

د حضرت تهانوي معتمد خلیفه او حاذق طبیب حکیم محمد مصطفی صاحب بجنوري پخپل کتاب طبی جوهر کې لیکي چې مونږ دلته صرف د هغه شراب حکم لیکو چې له هغه نه ځان ساتل مشکل شوی دي ، هغه اسپرټ دي . دا په زیاتره انګریزي دوایانو کې شامل دي ، د دی حکم دا دی چې د یو روایت له مخې دا ناجائز او حرام دي او د یو روایت په مطابق پاک دي ، په دوا کې د ضرورت په اندازه استعمالولی شي ، که څه هم د یو سلیم الطبع مسلمان طبیعت چې د هغه په پاکي او حرمت کې اختلاف وي نه شي قبلولی لیکن عموم بلوی داسی یو څیز دی چې په فتوه کې په داسی وختونو کې ضرور وسعت راځي ،لهذا په داسی دوایانو کې باید سختي ونکړی شي ، خو که څوک کولی شي نو ځان دی ترینه ضرور وساتي ښه خبره ده .

حکیم الامت تهانوي رحمه الله فرمائي چې سپرټ د شرابو له جملې څخه نه دی . د شیخینو په نزد د داسی اسپرټ استعمالول جائز دي ، لیکن فتوه د امام محمد صاحب په قول دی تر څو د عامو خلکو جرئت زیات نشي ، ځرنګه چې فتوه د فتنی د مخنیوي لپاره ده‌لهذا ضرورت من لپاره د استعمالولو ګنجائش موجود دی ، متقیان دی ترینه ځانونه وساتي خو په عوامو دی سختي نه کوي . همدغه راز په امداد الفتاوی کې یو سوال او د هغه ځواب په لاندی ډول دی :

سوال : هغه انګریزي دوا چې د څکلو لپاره ده په هغی کې عموماً اسپرټ ګډ شوي وي سپرټ د اعلی قسم له شرابو څخه دي، یعنی د شرابو ست دی ، کله چې دا خبره یقیني ده چې سپرټ د شرابو جوهر او ست، دی نو د انګریزي دوا څکل څنګه دي جائز او که نا جائز ؟

ځواب : که چیرته سپرټ له انګورو ، ممیزو او خرما نه نه وي ویستل شوي نو په دی کې ګنجائش شته للاختلاف او که نه نو بیا پکی ګنجائش نشته للاتفاق . ۲۱ محرم ۱۳۳۴ ه .

د ډاکټري کتاب له مطالعې نه وروسته معلوم شو چې سپرټ يو تيز قسم شراب دی چې د شرابو له مقطر کولو نه حاصليږي او ليکلې ئې دي چې په هندوستان کې خراب شراب تياريږي مثلاً له آلو ، بيری ، اوربشی ، غنمو او نورو شيانو څخه جوړيږي ، په اروپا کې له انګورو ، منو ، انار ، مميز او د دی پشان نورو شيانو څخه جوړيږي ، د سپرټ دری قسمونه دي جې يو ته ميتهولټډ سپرټ وائي ، بل ته پروف سپرټ او دريم قسم ته ريکټې فائډ سپرټ وائي ، په دوايانو کې چې کوم سپرټ استعماليږي هغه ريکټې فائډ سپرټ دی . دا په قيمت کې هم له نورو نه ګران دی ، دا قسم سپرټ حرام او ناجائز دی ، په کومه يوه دوا کې چې دا ګډ کړی شي هغه دوا هم نجس او حرامه ده ، خو فتوی د عدم جواز نشي ورکول کيدای البته دومره ضرور ويلی شي چې ځان ساتل ترينه ښه او غوره کار دی او له شديد ضرورت نه پرته استعمال نه کړی شي . لدينه د هوميو پيتک دوايانو حکم معلوم شو چې غوره دا ده بلا ضرورته استعمال نه کړی شي .

مګر دا سپرټ او الکحل په شبه کې د هر يو ډاکټري دوا په باره کې د ناجائز او ناپاک کيدو فتوی نشي ورکول کيدای ، ځکه چې په شريعت کې د شک اعتبار نشته البته ځان ترينه ساتل بهتر دي له ضرورت نه پرته دی نه استعمالوی د ابوالحسنات مولانا عبدالحی لکهنوي رحمه الله فتوی هم ولولئ .

استفتاء : زياتره دوايانې خصوصاً عرقيات له انګلستان نه تياری راځي .

هو الصواب : کله چې يقين يا ګمان په دی خبره راشي چې په دغو دوايانو کې شراب يوځای شوي دي نو په دی صورت کې د هغه استعمال ممنوع ده ، که يقين او غالب ګمان هم نه وي نو د جواز فتوه ورکولی شي خو ځان ترينه ساتل د تقوی غوښتنه ده (مجموعه فتاوی ج ۲ ص ۲۲۹ طبع قديم) والله اعلم بالصواب .

د شيخ الاسلام مولانا حسين احمد مدني رحمه الله فتوی هم ولولئ :

په ډاکټري علاج کې هيڅ حرج او بدي نشته ، خو که چيرته د کوم دوا په باره کې يقين يا غالب ګمان راشي چې په دی کې سپرټ يا شراب ګډ شوي دي نو د هغه استعمال ناجائز دی ، مطلق ډاکټري علاج کې څه حرج نشته . مکتوبات شيخ الاسلام ج ۱ ص ۳۹۷ مکتوب نمبر ۱۴۳ .

د کومو دوايانو په متعلق چې د حرام او ناپاک کيدو يقين وي د هغه استعمال حرام دی ليکن که چيرته له هغه نه علاوه بل علاج نه وي نو دا د حاذق حکيم د وينا او هدايت په مطابق د ضرورت په اندازه استعمالول جائز دي .

قوله : اختلف فی التداوی بالمحرم ، ففی النهاية عن الذخيرة يجوز ان علم فيه شفاء ولم يعلم دواءً اخر .

یعنی د حرامو دوا په اړه د ډیرو فقهاو رای دا ده چې لدینه د شفا د تر لاسه کیدو امید او یقین وي او بل کوم جائز علاج نه وي نو استعمالولی شي مګر ځان ترینه ساتل بهتر او افضل دی . درمختار مع الشامي ج ۱ ص ۱۹۴ قبیل فصل فی البشر فتاوی عالمګیري ج ۵ ص ۳۰۵ کتاب الکرهیة الباب الثامن عشر فی التداوي) فقط والله اعلم بالصواب .

د وینی جمع کول ځنګه دي ؟

(۲۲۵ سوال) ایا په اسلام کی د وینی ورکول او اخستل مباح دي او که نه ؟ زیاتره وخت زمونږ مخی ته دا مسئله راځي چې کله کوم ناروغ مسلمان ورور ته د وینی ضرورت مخی ته راځي نو مونږ د وینی بانک ته منډه وهو ، هلته هغوی مونږ ته وائي چې مسلمان وینه نه ورکوي خو اخستلو ته بیا په منډه منډه راځي ، د وینی د بانک مامورین غیر مسلم وي ، مونږ مجبوریږو چې له شخصي بانک نه وینه واخلو ، خو ډاکټر د شخصي بلډ بانک وینه نه خیژوي ځکه چې هغه وینه د ناروغو او نشه یانو خلکو وي ، نو ځکه مونږ خو مسلمان ځوانان غواړو چې د وینی یو کیمپ ولګوو او مسلمان ځوانان خپله وینه ورکړي او مونږ هغه په یو محفوظ ځای کی جمع کړو او د ضرورت په وخت کی مسلمان ناروغ ته ورکړو ، ایا مونږ دا کار کولی شو او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : کله چې د انسان وینه د بدن نه وویستل شي نو هغه نجس ګرځي ، دا د انسان د بدن جزء هم دی لهذا واجب التکریم دی ، لهذا په عامو حالاتو کی د دی استعمال جائز نه ده البته کله چې د کوم مریض د هلاکت ویره وي او د وینی په خیژولو سره له مرګ نه بچ پاتی کیږي یا تجربه کار ډاکټر په نظر کی د وینی له خیژولو نه بغیر د روغیدو امکان نه وي نو په داسی حالت کی د وینی خیژول جائز دي . جواهر الفقه ص ۳۸ ج ۲ .

خپله وینه چاته ورکولی شي یا نه ؟ په دی باره کی حکم دا دی چې وینه د انسان جزء دی او انسان د خپل بدن یا د هغه د کوم جزء مالک نه دی چې په هغه کی ازادانه تصرف وکړي ،لهذا هغه ته جائز نه دي چې خپل د بدن څه حصه بل چاته په پیسو او یا مفت ورکړي ، د دی مثالونه د فقهی په کتابونو کی موجود دي .

لهذا د شرعي اصولو په اعتبار سره اصل حکم همدا دی چې خپله وینه چا ته ورکول جائز نه دي ، البته د ضرورت په وخت کی چې یادونه ئی بره وشوه بلا قیمته د وینی

ورکول جائز دي ،لهذا د ضرورت په وخت کی خپل خپلوان او دوستان کولی شي چـی له قیمت نه بغیر وینه ورکړي ، او کله چی ضرورت نه وي نو بیا وینه ورکول جائز نـه دي ، لدینه معلوم شو چی تاسی ته د وینی د جمع کولو لپاره دکمپ لګولو اجازه نشته .
البته په سوال کی چی کوم پریشاني لیکل شوی دی د دی حـل دا کیـدای شـي چـی کوم څوانان خپله وینه ورکول غواړي د هغه نوم او د وینی د ګروپ نوم که ولیکل شـي نو څه بدي پکی نشته تر څو کله د وینی ضرورت پیدا شي په همغه وخت دی خپله وینه خپلوان یا دوست ته ورکړي .

فقط والله اعلم بالصواب .

مریض ته په کوم حالت کی وینه ورکول کیدای شي ؟ که چیرته مفته وینه پیدا نشي نو په پیسو اخستل ئی څنګه دي ؟ که چیرته یوی ښځی ته د سړي وینه ورکړی شوه وروسته له هغی سره نکاح کولی شي او که نه ؟

(۲۲٦ سوال) (۱) مریض ته د چا وینه ورکول څنګـه دي ؟ پـه کومـو حـالاتو کـی وینـه ورکول جائز دي ؟ که چیرته د مریض کـوم خپلـوان یـا دوسـت وینـه ورکـول وغـواړي ورکولی شي او که نه ؟
(۲) که چیرته مریض ته څوک وینه ورکوونکی نه وي نو په پیسو وینه اخستل جـائز دي او که نه ؟
(۳) که یو سړي کومی ښځی ته وینه ورکړه نو وروسته له هغی ښځـی سـره نکـاح کـولی شي او که نه ؟ بینوا توجروا .
ځواب : د انسان وینه د بل چا په بدن کی داخلول د دوه وجوهاتو لـه کبلـه حرامـه ده (۱) وینه د انسان د بدن جزء دی نو ځکه واجب التکریم دی (۲) د انسان وینـه چـی لـه بدن نه ووځي نو هغه پلیتیږي لهذا په عامو حـالاتو کـی چـی اضـطراري حالـت نـه وي استعمالول ئی د قرآني آیت حرمت علیکم المیتة والدم په رڼا کی حرامه ده ، البته کله چی اضطراري حالت وي او د ناروغ د مړ کیدو خطره وي نـو پـه دی صـورت کـی یـو مسلمان کولی شي خپل بل مسلمان ورور ته وینه ورکړي په دی شرط چـی پخپلـه د دی د هلاکت ویره نه وي ، که چیرته څوک صرف د خپل قوت زیاتولو لپاره وینه خیـژوي نـو هغه ته د وینی ورکول او ورته خیژول حرام او ناروا دي .

حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب ليکي :
ناروغ سړي ته د بل سړي د وينې ورکولو مسئله :
د دی مسئلی تحقيق دا دی چې انساني وينه د انسان جزء دی کله چې هغه له بدن نه وويستل شي نو هغه نجس دی ، د دی اصل تقاضی دا ده چې د يو انسان وينه د بل چا په بدن کی داخلول په دوه وجوهاتو حرام دي لومړی دا چې د انساني اعضاو احترام واجب دی ، دويم دا چې وينه غليظه نجاست دی او د نجس څيز استعمال ناجائز دی .
ليکن په اضطراري حالت کی چې اسلامي شريعت کوم سهولت ورکړی دی په هغه باندی له غور کولو نه وروسته دا ثابتيږي :
لومړی که څه هم وينه د انسان جزء دی مګر د بل انسان په بدن کی د داخلولو لپاره د انساني اعضاء د پری کولو ضرورت مخی ته نه راځي بلکې د ستنی او پيچکاري په ذريعه ئی وينه ويستل کيدای او د بل انسان په بدن کی دننه کولی شي ،لهذا د دی مثال د شيدو پشان شو چې د انسان له بدن نه پخپله اوځي او د بل انسان جزء جوړيږي ، اسلامي شريعت د ماشوم د ضرورت په خاطر شيدی د هغه غذا ګرځولی ده ...لنډه دا چې د دی باوجود چې شيدی د ضرورت لپاره هم ذي لکه چې په عالمګيري کی دي : ولا بأس بان يسعط الرجل بلبن المرأة ويشربه للدواء .
په دی کی هيڅ بدي نشته چې دوا لپاره د کوم سړي په غوږ يا پوزه کی د ښځی شيدی واچولی شي او يا ورباندی وڅکلی شي . عالمګيري .
په مغني ابن قدامه کی د دی مسئلی نور تفصيل هم موجود دی (مغني کتاب الصيد ص ٦٠٢ جلد ٨) .
که چيرته وينه په شودو باندی قياس کړی شي نو له قياس نه لری نه ده ځکه چې شيدی هم د وينی يو بدل شوی صورت دی او د انسان په جزء کيدو کی مشترک دی ، فرق يکې يوازی دا دی چې شيدی پاکی دي او وينه ناپاکه ده ، نو د حرمت لومړنی وجه يعني د انسان جزء کيدل خو دلته د ممانعت وجه پاتی نه شوه صرف د نجاست معامله پاتی شوه ، د دوا په خطر ځينو فقهاو د وينی د استعمال اجازه هم ورکړی ده ، نو ځکه د انسان وينه د بل انسان بدن ته د ځيژلو شرعي حکم دا معلوميږي چې په عمومي حالاتو کی خو جائز نه دي لاکن د علاج او دوا په خاطر په اضطراري حالت کی بلاشبه جائز ده ، په دی شرط چې بله کومه دوا د ناروغ د بچ کيدو لپاره نه وي

موجود او د وینی په خیژلو سره د هغه د ځان بچ کیدو غالب گمان وي ، په دغو شرطونو سره د وینی ورکول د قرآن کریم د دغه نص له کبله جائز دي چې مضطر سړي لپاه د مردار خاروي د غوښی خوړلو او د خپل ژوند د بچولو اجازه په صریحو الفاظو سره ورکول شوی ده که چیرته اضطراري حالت نه وي یا د وینی پرځای نوری دوایانی هم موجود وي نو په داسی حالت کی مسئله مختلف فیها ده چې د هغه تفصیل د فقهی په کتابونو کی تداوي بالمحرم په بحث کی بیان شوی دی . والله سبحانه وتعالی اعلم .
(معارف القران ص ۴۱۹ ، ص ۴۲۱ ، جلد اول سوره بقره پاره ۲) .

(۲) که چیرته ناروغ ته وړیا وینه پیدا نشي نـو د هغه لپاره د مجبوریـت لـه کبلـه وینـه اخستل جائز دي ، خو د وینی ورکونکي لپاره قیمـت اخسـتل جـائز نـه دي . حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله لیکي :

د وینی خرخول جائز نه دي البته په هغه صورت کی چې ناروغ ته وینه ورکول شریعت جائز کړي وي ، که چیرته په داسی حالت کی وړیا وینه پیدا نشي نو بیا د پیسو پـه بـدل کی وینه اخستل جائز دي ، خو د وینی خرخوونکي ته د پیسو اخستل جـائز نـه دي . د فقهاو تصریحات په دی مسئله کی په لاندی توگه دي : (یوه جزئیه رانقلـولی شـي) ولا یجوز بیع شعر الخنزیر لانه نجس العین فلا یجوز بیعه اهانة له ویجوز الانتفـاع بـه للخرز للضرورة (الی قوله) یوجد مباح الاصل فلا ضرورة الی البیع (هدایه ص ۵۵ ج ۲) قوله فلا ضرورة قال الفقیه ابو اللیث ان کانت الا ساکفة لایجـدون شعر الخنـزیر الا بالشراء ینبغی ان یجوز لهم الشراء للضرورة (نهایه) ان شـعر الخنـزیر یو جد مباح الاصل فلا ضرورة الی بیعه وعلی هذا قیـل اذا کـان لا یوجد الا بالبیع جاز بیعه لکن الثمن لا یطیب للبـائع (عـینی ...... الی قولـه .... ونجس العین لا یجوز بیعه اهانة ویجوز لانتفاع به للخرز للضرورة لان غیره لایعمل عمله فان قیل اذا کان کذلك وجب ان یجوز بیعه اجاب بانه یوجد مباح الاصل فلا ضرورة الی بیعه . وعلی هذا قیل اذا کان لا یوجد الا بالبیع جاز بیعه لکن الثمن لا یطیب للبائع وقال ابو اللیث ان کانت الاساکفة لایجـدون شـعر

الخـــنزير الا بالشراء ينبغي ان يجوز لهم (عناية على هامش الفتح ص ۲۰۲ ج ۵) جواهر الفقه ص ۳۸ ، ص ۳۹ ، ص ٤٠ ج ۲) .

(۳) که چيرته کوم سړي خپله وينه يوی ښځی ته ورکړی وي که بيا وروسته له هغی سره نکاح کول وغواړي نو نکاح کولی شي د وينی په ورکولو سره حرمت نه ثابتيږي حضرت مفتي محمد شفيع صاحب رحمه الله ليکي : د خاوند وينه د خپلی ښځی بـدن تـه يـا د ښځی وينه د خپل خاوند بدن ته په خيژلو سره په نکاح باندی شـرعاً کـوم اثـر نـه پـری اوځي . نکاح په خپل حالت کی پاتی کيږي ، ځکه چی اسـلامي شـريعت محرميت لـه نسب ، مصاهرت او رضاعت سره مخصوص کړی دی له هغه نه تجاوز کول جائز نه دي ، په رضاعت سره د محرميت هم له رضاعت سره خاص دی . د رضاعت موده يعنـی د يـو نيم کال عمر نه وروسته د شيدو څکل د رضاعت حرمت نـه ثـابتوي لکـه څنګـه چـی د فقهي په کتابونو کی د دی صراحت موجود دی . والله اعلم . بنده محمد شفيع عفـا الله عنه دار العلوم کراچي نمبر ۱۴ .

د مجلس د شرکاو تصديقات

رشيد احمد عفی عنه ، مفتي اشرف المدارس کراچي ، محمد عاشق الهـي بلنـد شـهري مدارس دارالعلوم ، ولي حسن ټونکي غفر لـه ، مفتـي مدرسـه عربيـه اسـلاميه نيـو ټـاون کراچي ، محمد رفيع عفا الله عنه مدرس و نـاظم مدرسـه ابتدائيـه دارالعلـوم کراچـي ، محمد يوسف عفا الله عنه بنوري باني مدرسه عربيه (بحواله جـواهر الفقـه ص ۴۰ جلـد نمبر ۲ رساله انساني اعضاء کی پيوند کاری) والله اعلم بالصواب .

د ډاکټر د غفلت په وجـه نـاروغ تـه د رسـيدلي نقصـان تـاوان اخستل :

(۲۲۷ سوال) د دريو کالو راهسی زيد نومي يو شخص دلته په شـفا خانـه کـی د خپلی کيډی علاج کوي ، د ډاکټر د وينا په مطابق د ده ناروغي د لاعلاجه کيـدو پـه وجـه پـه دوا سره لږ غوندی کنټروليدای شي خو د مکمـل شـفا امکـان او اميـد ډيـر کـم دی . د تکليف په وخت کی زيد ته يو قسم دوا ورکړه چی د هغی د ضمني اثر پـه وجـه ورتـه د ذيابيطس (شکر) ناروغي پيښ شوی ده ، کله چی ډاکټر ته د دی اطلاع ورکړی شو نو هغه وويل چی دا د دوا ضمني اثر دی ، لدينه وروسته هغه دا دوا په تـدريج سره کمه کړه او بالاخر بنده ئی کړه ، د هغی پرځای ئی بله دوا ورکړه د مخکيني دوا پـه مقابله

کی زود اثر او کم ضرره وه ، ایا له ډاکټر نه د دی د دغه غفلت په وجه چی د ښـه دوا د موجودګي باوجود ورته بدء او نقصاني دوائي ورکړیده او هغه ئی په شکر نـاروغي کـی اخته کړی دی ، تاوان اخستل جائز دي او که نه ؟

د ډاکټرانو په وینا د شکر (شوګر) ناروغي د ټولو ناروغیو مور ده ، د هغـوی پـه وینـا پـه دی ناروغی سره د جوړونو درد ، د نظـر کمـي ، د زخمونـو نـه جوړیـدل ، د وینـی پـه ګردش کی بندش ، د جګر او ګردو متاثر کیدل او د زړه ودریدل هم پکـی شـامل دي ، لدینه علاوه مریض همیشه له ډیرو غذا ګـانو څخـه پرهیـز کـوي او تـول عمر دوایـانی خوري ، ایا د دی ټولو تاوان له ډاکټر نه اخستل جـائز دي او کـه نـه ؟ پـه عـام ډول دا تاوان د ډاکټرانو انشورنس کمپني ادا کوي (له انګلینډ نه) .

ځواب : کله چی ډاکټر دا کار قصداً نه وي کړی او غفلت ئی هم نه وي کـړی نـو هغـه مجرم نه دی ، له هغه نه تاوان اخستل جائز نه دي ، پـه دوایـانو سـره نقصـان رسـیدل قدرتي څیز دیی لکه چی په مثنوي کی دي :

چون قضا آید طبیب ابله شود

که چیرته د ډاکټر جرم ثابت شي او د هغه د جرم په وجه کوم تاوان تر لاسه کیږي هغـه تاسی اخستلی شئ ، که چیرته تاسی ته څه شک او شبه وي نو په غریبـانو ئـی وویشـئ ، فقط والله اعلم بالصواب . ۱۵ رجب المرجب ۱۴۱۳ ه .

د پلاسټک سرجري حکم :

(۲۲۸ سوال) له ډیرې مودی نه ډاکټران په اور کی د سوځیدلي خلکو علاج په داسـی طریقه کوي چی په سوځیدلی ځای باندی د دوا له لګولونه نه وروسته له بل ځای مـثلاً له کوناټو نه د اپریشن په ذریعه څه غرمن غوښوي او په دغـه سـوځیدلي ځـای بانـدی لګوي ، څرنګه چی کله کله په سوځیدلی ځای کی هم ژور زخم جوړیږي نو د زخـم د ښه کیدو لپاره د دغه سړي د بدن خصوصاً د کوناټو نه چی هغه د خلکـو نـه پـټ وي د ضرورت په اندازه غرمن راوباسي او د سوځیدلي ځای بانـدی لګـوي پـه داسـی کولـو سره هغه سوځیدلی ځای ډیر ژر ښه کیږي ، اوس اوس ډاکټرانـو یـو بـل تحقیـق روان کړی دی ، که څه هم تر اوسه پـوری د عـلاج دغـه طریقـه نـه ده شـروع شـوی خـو د ازمینښت په توګه په څو کسانو باندی د دی کار روان دی ، د دی تفصیل څه داسی دی چی د ښځی په رحم کی دننه کومه پرده ده ، او په هغی کی حمل پاتی کیږي همدغـه پرده له ولادت نه وروسته ډاکټر راوباسي ، په مختلفو دوایـانو او مسـالو سره دغـه پـرده

يوځاى كوي تر دى چې يو سرينناكه ماده تياريږي اوس كه څوك په اور كې وسوځيږي نو دغه ماده استعمالوي ، پـه دى سـره سـوځيدلى ځـاى ډيـر ژر جوړيـږي او څـرمن د مخكيني پشان خپل اصل حالت ته راځي په دى علاج سره د كوناټو او يا لـه بـل ځـاى څخه د څرمنو د غوڅولو ضرورت نه پاتي كيږي ، اوس سـوال دا دى چـې د عـلاج پـه دغو دواړو طريقو كې كوم يوه طريقه شرعي ده ، دا خبره دى پـه يـاد وي چـې پـه دى علاج سره د انسان ژوند ته كومه خطره نشته بلكـې لـه سـخت تكليـف نـه نجـات دى ، ستاسى له حضور نه هيله ده چې د فقهي له كتابونو څخه د حوالو په وركولو سره واضـح دلائل او ځواب راكړئ . اجركم على الله وهو خير الموجرين .

ځواب : حامداً و مصلياً ومسلماً ! په صورت مسئوله كې دواړه قسـمه عـلاج د ضـرورت پـه حالت كې صحيح دى ، د رحم په پرده كې چې ماشوم تاو شوى وي او بيـا ترينـه بـاهر اوځي ، د هغى په استعمالولو كې څه حرج نشته ځكـه چـې فضـول او ناكـاره شـي لـه هغى نه مرهم جوړول او بيـا د سـوځيدلو لپـاره اسـتعمالول جـائز دي ، خـو بـرعكس د آپريشن په ذريعه د څرمن غوڅول جائز نه دي ، تاترياق ازعرق اورده شـود مـار گزيـده مرده شود .

د ښځې شيدى چې د انسان جزء د ى فقهاو د دوا لپاره استعمال جائز گرځولى دي .

ولابأس بان يسعط الرجل بلبن المرأة ويشربه للدواء :

(فتاوى هنديه ج ٦ ص ٢٣٦ كتاب الكراهية الباب الثامن عشر فى التـــداوى)

فقط والله اعلم بالصواب .

جائز او ناجائز فعل

د ښځې شرمګاه ښکلولو او د ښځې په خوله کې خپل مخصوص اندام ورکول :

۲۲۹ سوال) د ښځې او سړي شرمګاهونه چې کله وينځـل شـوی وي پـاک وي او کـه ناپاک ؟ که چيرته د هم بستری په وخت کې ښځه د سړي ذکر په خولـه کـې ونيسـي يـا سړی پخپله د هغې په خوله کـې ورکـړي ، همدغـه شـان کـه سـړی د خپلـې ښځـې د شرمګاه ظاهري حصه ښکل کړي ا يا په شريعت کې دغه کار جائز دی اوکه نه ؟ که څـه هم له داسې خبرو نه مې حيا راځي خو د ضرورت په وجه مې درنـه پوښتنـه کـړی ده ، مهرباني وکړئ ما معاف کړئ . بينوا توجروا .

ځواب : د ديني مسائلو د زده کولو لپاره شرم او حيا نه ده پکار ، که چيرته شـرم او حيـا وکړی شي نو بيا يو مسلمان څنګه کولی شي چې له دينيْ مسـائلو نـه خپـل ځـان خبـر کړي ، الله تعالی فرمائي : والله لا يستحی من الحق ، الله تعالی د حقې خبرې کولو نـه حياء نه کوي ،لهذا په مسائلو باندې د پوهيدو لپاره بايد شرم او حيا ونه کړی شي .

بې له شکه د سړي او ښځې د شرمګاهونو ظاهري حصې پاکې دي ، لـيکن ضـروري نـه ده چې هر پاک څيز دې خوله کې ونيول شي او يا هم وڅټل شي د پوزې رطوبت پـاک دی ايا د دې په خوله کې نيول او يـا څټـل ښـه کـار کيـدلی شـي ؟ همدغـه راز مقعـد ظاهري حصه هم پاکه ده ايا د هغه څټل او ښکلول ښه عمل کېدای شي ؟ نه هر ګز نـه ، همدغه راز د ښځې شرمګاه ښکلول يا څټل څنګـه جـائز کيـدای شـي؟ بلکـې دا کـار سخت مکروه او ګناه ده ، دا د سپيانو او نورو حيوانانو سره مشابهت دی ، کـه د شـهوت غلبه وي نو په صحبت او جماع سره دې ختم کړی شي البته ښځه فاعل نه بلکې مفعوله ده جماع د هغې په اختيار کې نشته که چيرته هغه د سړي ذکر په خوله کې ونيسـي نـو دا د هغې يو قسم معذوري ده او ورته جائز دي خو د دې عادت ګرځـول مکـروه دي .

په فتاوی عالمګيري کې دي :

فى النوازل اذا دخل الرجل ذكره فى فم امرأته قد قيل يكره وقد قيل بخلافه كـــذا فى الذخيرة (عالمگيرى ج ٦ ص ٢٤٦ كتـــاب الكراهيـــة البـــاب لثلثـــون فى المتفرقات).

تاسی پخپله غور او فکر وکړئ چې په کومه خوله کلمه ویل کیږي ، دقرآن کـریم تـلاوت ورباندې کیږي ، درود شریف ورباندې ویل کیږي نو هغه د یو داسې خسیس کـار لپـاره څنګه استعمالیدای شي .

هزار بار بشویم دهن زمشک و گلاب
هنور نام تو گفتن کمال بی ادبی است

که خپل خوله په مشکو او ګلابو سره ووینځم بیا هم ستا پاک نوم اخستل بی ادبي دی .

د خاندانی عزت په خاطر د حمل غورځول :

(۲۳۰ سوال) د یو باعزت کورنی جلۍ له کوم مسلمان ځوان سره وتښتیدله ، لـه تحقیـق نه وروسته معلوم شو چې له وړاندې نه ورسره ناجـائزې اړیکـي ورسـره درلـودلې ، خـو جلۍ وائي چې مونږ واده کړی دی ، څکه مو د هغه له خاوند نه طلاق نامه اخستی ده . او شک دا دی چې هسې نه چیرته بلاربه شوې نه وي ، که چیرته لـه ټیسـټ نـه ثابت شي چې حمل ئې پاتې شوی دی نو په داسې صورت کې چې په ماشـوم کـې سـاه نـه وي لویدلې خپل حمل غورځولی شي او که نه : او بـل دا چـې لـه اسـقاط نـه وروسـته عدت تیرول ورباندې ضروری دی او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که د نکاح د محقق کیدو په صورت کې مو طلاق نامه جبراً او کراهاً لیکلـې وي . نو طلاق ئې معتبر نه دی ، په داسې حالت کې زباني طلاق معتبر دی ، که له نکاح نـه وروسته صحبت هم شوی وي نو د طلاق عدت هم لازم دی خو که چیرته لـه نکـاح نـه بغیر صحبت ئې کړی وي نو عدت ورباندې نشته [1] کـه چیرتـه د عـدت لـه لازمیـدو پـه صورت کې حمل په ابتدائي درجه کې وي نو د اسقاط ګنجائش پکې شته لـیکن عـدت به ئې پوره نه وي ، البته که د ماشوم اندامونه جـوړ شـوی وي نـو د عـدت د ختمیـدو حکم ورکول کیدای شي لیکن د انـدامو د جوړیـدو او د ساه د غورځیـدو نـه وروسـته اسقاط حمل حرام دی . که له نکاح نه شپږ میاشتې وروسته ماشوم پیدا شـي نـو هغـه ثابت النسب او حلالي دي نو د بیا د اسقاط حمل څـه ضـرورت دی [2] همدغـه راز کلـه

---

[1] _ خلوت یعنی د ښځې او خاوند په یوځای کیدو سره هم عدت واجبیږي سعید احمد .

[2] _ په مذکوره صورت کې د حمل د ضائع کولو اجازه نشته اګر چې حمل په ابتدائي مرحله کـې وي ، مـذکوره عذر له هغه عذرونو څخه نه دی د هغه په وجه د حمل ضائع کول جائز دي .

چې د جلي د تښتيدو له واقعې نه خلک خبر شوي وي نو په اسقاط حمل کې عزت څنګه بچ کيدای شي ؟ فقط والله اعلم بالصواب . ۲۹ ربيع الثاني ۱۴۰۱ ه .

د پيچکاري يا انجکشن په ذريعه د مور رحم ته منويه ماده رسول :

(۲۳۱ سوال) زما د واده درې نيم کاله کيږي خو له اولاد نه محروم يم ، له دعا سره سره دوا هم جاري ده ، مونږ چې له کوم ډاکټر نه علاج کوو هغه عيسوي دی ، هغه په پوره غور سره زما علاج کوي ، په دې علاج کې زما د ښځې اپريشن هم شوی دی هغه چې مونږ ته کوم هدايت او لار ښوونه کړيده پر هغه مو عمل کړيدی ليکن مونږ تر اوسه پورې د اولاد له نعمت نه محروم يو ، اوس ډاکټر صاحب مونږ ته يو مصنوعي طريقه ښودلې ده چې د هغې په باره کې ماته فتوه په کار ده تاسې په دې باره کې مونږ ته لار ښوونه وکړئ ، هغه طريقه څه داسې ده :

ډاکټر صاحب زما مني چې زه د موټک وهلو په ذريعه راوباسم زما په مخکې زما د ښځې په رحم کې د آلې په ذريعه دننه کوي ، په دې طريقې سره قوي اميد دی چې د الله په حکم سره به ماشوم پيدا کيږي ، دا خبره دې په ياده وي چې دغه مني به زما وي او په دې کې بل څيز نه وي ګډ شوی ، مهرباني وکړئ ځواب راکړئ (له کينيډا څخه) .

ځواب : د موټک وهلو خو اجازه نشته د صحبت په وخت کې د عزل په کولو سره مني محفوظ کولې شي ، کوم ماشوم چې د خپل پلار له نطفې نه پيدا کيږي هغه ثابت النسب دی ، لاکن دا طريقه غير فطري او مکروه ده هله چې خاوند پخپله دا کار وکړي او که د ډاکټر په ذريعه دا کار وکړی شي نو قطعاً حرام او ناروا دی ، د ښځې د شرمګاه ستر فرض دی ، دا غليظ عورت دی ، د ښځې پورتنی حصې ته کتل له شرعي عذر نه پر ته جائز نه دي نو د ښځې دننه حصې ته کتل او په هغه کې لاس وهل په هيڅ صورت

وفى الذخيرة لو أرادت القاء الماء بعد وثوله الى الرحم قالوا ان مضت مدة ينفخ فيه الروح لا يباح وقبله اختلف المشائخ فيه والنفخ مقدر بمائة وعشرين يوماً بالحديث اه قال فى الخانية ولا اقول به لضمان المحرم بيض الصيد لأنه اصل الصيد فلا أقل ان يلحقها اثم وهذا لو بلا عذر شامى كتاب الحظر والاباحة ج ٦ ص ٣٧٦ قبيل باب الاستبرآء وغيره ، وجاز بعذر كالمرضعة اذا ظهر بها الحبل وانقع لبنها وليس لأبى الصبى ما يستأجر به الظئر و يخاف هلاك الولد قالوا يباح لها ان تعالج فى استنزال الدم ما دام الحمل مضغة او علقة الخ شامى آخر كتاب الحظر والاباحة ج ٦ ص ٤٦٩ .

کی نشي جائز کیدلی ، ښځه او خاوند دواړه سخت ګنهګاریږي ، او خاوند د شریعت پـه نظر کی دیوث دي او د جنت له خوشبو نه محروم پاتی کیږي ،لهذا لـدی کـار نـه دی قطعاً ډډه وکړي ، که د اولاد شوق لري نـو بـل واده کـولی شـي ، د جـائز صـورت پـه موجودګی کی ناجائز عمل کول سخته ګناه لري ، لکه حدیث شریف کـی دی : ومـن سن سنة سیئة فله وزرها ووزر من عمل بها الی یوم القیامة مشکوة کتاب العلـم ص ۳۳ او کما قال رسول الله صلی الله علیه وسلم . فقط والله اعلم بالصواب .

۲۰ ذیقعده ۱۴۰۲ ه .

بیرغ ته سلامي وهل :

(۲۳۲ سوال) د اګست په ۱۵ تاریخ د بیرغ اوچتولو په وخت کی خلک هغه ته ودریـږي او سلامي ورته وهي ، په اسلام کی د دی څه حکم دی ؟ که چیرته کوم سړی سـرکاري معلم یا بل کوم مامور وي هغه څه وکړي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : دا محض یو سیاسي ځیز او د حکومتونو طریقه ده ، په اسلامي حکومتونو کـی هم داسی کیږي ، لدینه ځان ساتل ښه کار دی ، خو که چیرته د فتنی ویره وي نو بیـا د مجبوریت له کبله بیرغ ته سلامي وهلو سره نه نیول کیږي انشاء الله .

د دی په متعلق د مفتي کفایت الله صاحب رحمه الله فتوه هم ولولئ .

بیرغ (جهنډی) ته سلامي مسلم لیګیان هم کوي او په نـورو اسـلامي ملکونـو کـی هم همداسی کیږي ، دا یو پوځي عمل دی ، پـه دی کـی اصـلاح کیـدای شـي ، مګـر پـه مطلق ډول دیته مشرکانه عمل ویل صحیح نه دی ازنقیب جلد نمبـر ۷ پهلـواري شـریف پټنه ۲۶ جمادی الاول ۱۴۰۸_ ۹ جولائي ۱۹۳۹یکشنبه .

فقط والله اعلم بالصواب.

له ظالم خاوند نه دطلاق اخستلو لپاره پاک عمل کول:

۲۳۳_ سوال: دهنده نومي پیغلی له حامدسره اړیکې او تعلقات درلودل ، لـه هغـه سـره یې واده کول غوښتل لیکن دهغې مور اوپـلار خالـد تـه پـه نکـاح ورکـړه ، لـه واده نـه وروسته ددواړو ترمنځ جنګ جګړې وشـوې اوس ددوه کلـو راهیسـې دخپـل پـلار کـره ناسته ده ، خالد نه ورته نان او نفقه ورکوي اونه له خپل ځان سره وړي ، بلکې اوس بـل واده کوي او وائي چی زه به هندې ته تول عمر سزا ورکوم ، نه به ښځـه کـوم اونـه بـه

طلاق ورته ورکوم ، هنده غواړي چې له خالد نه طـلاق واخلـي اولـه حامـد سـره واده وکړي،
په داسې حالت کې که چېرته کوم عامل داسې کوم عمل وکـړي چـې خالـد هنـده تـه طلاق ورکړي نوداجائز دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا.
ځواب: هنده هم ګنهګاره ده چې هغې له بل چاسره ناروا تعلقات قائم کړي وو .
اوس خاوند ورسره هم ظلم او زیاتې کوي چې نه خپل کورته وړي او نـه یـې طلاقـوي بلکې ټول عمر ورته سزا ورکوي ، په داسې حالت کې ددی ویره هـم شـته چـې هنـده ګناه ته مجبوره شيلهذا داسې کوم پاک عمل کول چې دهغه په وجه خاوندورته طـلاق ورکړي شرعاً جائز دی.
فقط والله اعلم بالصواب ۲۹ رجب المرجب ۱۴۰۴ ه .

دسودله پیسو نه ټیکس ورکول:

۲۳۴ _ سوال : داسلام ددین علماء په دی باره کې څه فرمايي چې په اسلام کی دونـیم فیصد زکات فرض ذی ، لدینه علاوه سرکاري ټیکس چې ډیر زیات وي هم حکومـت لـه مونږ نه آخلي ایا په دی صورت کې دبانک له سودي پیسو نه ټیکس ورکـول پـه شـریعت کې جائز دی او که نه ؟ بینوا توجروا.
ځواب: زکات ورکول عبادت دی ، دډیره بلاګـانو او مصـیبتونو څخـه دنجـات دترلاسـه کولو ذریعه ده ، په دی کې باید خفګان ونکړې شي، له بانک نه چې کـوم سـود ترلاسـه شوې وي دهغه حقدار یواځې غریبان دي، سرکاري ټیکس ناقابـل برداشـت دی بانـک هم سرکاري دی ،لهذا دبانک له سودنه دسرکاري ټیکس داداکولـو ګنجـائش موجـود د ی، خو پکار دادي چې دبچ کیدو پوره کوشش وکړې شـي څکـه چـی پـدې کـی هـم پخپل کار کې دسود داستعمالولو مرادف دی. فقط والله اعلم بالصواب .

درشوت په ذریعه دټیکس کمول :

۲۳۵مونږ درخت او کپړودوکان لرو ، مونږ له باهر نه مالونه راوړو ، دحکـومتي قـانون لـه مخې دسلو روپو په مال کې یو نیم سـل روپـی دټـیکس پـه طـور حکومـت تـه ورکـول ضروري دی ، ډیر خلک درشوت ورکولو په ذریعه دغه ټیکس کموي ، آیـا داسـې کـول خائز دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا.

خواب: دی بپاره چې کم ټیکس ورکړي افسرانو اوپولیسوته رشـوت ورکـول بنـه کـار نـه دی ، لدینه کار نه درښه دی چې ټیکس پوره ورکړې شي ، په نه ورکولـو کـې کلـه کلـه دسرې بې عزتي کیږي په شریعت کې دخپل ځان ذلیلول جائز نه دی .
فقط والله اعلم بالصواب.

ایادحمل غورځول جائز دي او که نه ؟

۲۳٦ _ سوال : یوه پیغله دخپلې غلطۍ پـه وجـه حامله شـوی ده اوس دهغـې دحمـل څلور میاشتې تیرې شوي دي ، که هغه ماشوم ونه غورځوي نو پخپله هغې او دهغې مور او پلار ته لوی شرم رسیږي ایا په داسې صورت کې دحمل غورځول جائز دی او که نـه؟ ینوا توجروا.

خواب: کله چې دماشوم وینښتان ، ګوتې ، لاسونه پښې اونور اعضاء جوړ شـوي وي اوپـه ماشوم کې ساه غورځیدلې وي چې دهغه موده ۱۲۰ یعنې څلور میاشتې دي نوپه داسـې صورت کې دهیچاپه نزد دحمل غورځول جائز نه دی ، بلکې حرام او ګناه ده .
ماشوم هم ضائع کیږي او دمور ژوند ته هم خطره ده‌لهذا دحمل غورځول جائز نه دی.
وفی الذخیرة لو ارادت القاء الماء بعد وصوله الی الرحم قالوا ان مضت بمدة ینفخ فیه الروح لایباح لها وقبله اختلف المشائخ فیه والنفخ مقدر بمائة وعشرین یومـــاً بالحدیث آه .(شامی جلد۵ص۳۲۹ کتاب الحظر والاباحة ، آخر فصل فی النظر والمس) فقط والله اعلم بالصواب . ۲۵ربیع الاول ۱٤۰۰ آه .

دسختې ناروغۍ په وجه دی ماشومان بند کړي او که نه ؟

۲۳۸_ سوال : زمانبځه له ډیر وخت نه ناروغه ده ، ډیره کمزورې او کم طاقته شوی ده ، دډیر علاج باوجود هم څه فرق پکې نه دی راغلې ، که حامله شـي نوطبیعـت یـې نـور هم خرابیږي او کمزوري یې زیاتیږي ، ایا په داسې حالـت کـې دماشـومانو دبنـدولو پـه خاطراپریشن کول جائز دی او که نه ؟ ډاکټر او حکیم وایي چې که ته آپریشن نـه کـوې نو طبیعت به یې همداسې واي ، بینوا توجروا .

خواب : کله چې دکمزورې او دطبیعت دخرابـي پـه وجـه بلاربـه کیـدل ورتـه نقصان رسوي او حمل نشي برداشت کولې نو لومړې دی داسې موقتي علاج وکړې شـي چـې حمل یې پاتې نشي که بیا داموٌقتي تدبیر مفید ثابت نشي نو بیا دکوم مسلمان اودینـدار

حاذق حكيم ياډاكټر دمشورې په مطابق اپريشن كول جائز دى ، په دى باره كې دغير مسلم ډاكټر او حكيم مشوره معتبره نه ده . فقط والله اعلم بالصواب.

دضبط توليد شرعي حكم څه دى ؟

۲۳۹_ سوال : داپريشن په ذريعه دبچه داني ويستل څنګه دى ؟ په مرض او صحت كې ددى څه حكم دى ، ځينې خلك دمفلسي په وجه داكار كوي اياداورته جائز دى ؟ بينوا توجروا.

ځواب: كه چېرته ضرورت محسوس شي نودعذر په حالت كې دځو ورځو لپاره دضبط حمل تدبير او علاج كولې شئ ، ليكن له شرعي عذر نه پرته دښځې بچه داني ويستل اوداولاد له نعمت نه محروم كيدل دنعمت كفران دى . دمحمدصلى الله عليه وسلم ارشاد دى .

عن معقل بن يسار قال قال رسول الله صلىا لله عليه وسلم تزو جوا الودود الولود فانى مكا ثربكم الا مم رواه ابو داود مشكواة شريف كتاب النكاح ص۲٦۷ .

يعنې له داسې ښځو سره نكاح وكړئ چې زيات محبت كوونكى او زيات اولاد زيږوونكې وي چې دقيامت په ورځ ستاسې دكثرت له كبله زه په نورو امتونو فخر وكړم . (مشكواة)

رزق وركوونكې الله دى هغه ستاسې اولادوته هم وركوي او تاسې ته هم ، داولاد رازق زه اوته نه يو بلكې الله تعالى دى ، كوم ذات چې دمور په ګيډه كې رزق وركړى دى له پيداكيدونه وروسته هم وركوي اولاد دمور له ګيډى نه له رزق نامې سره راځي دهمغې په مطابق ورته رزق رسيږي .

الله تعالى فرمايي :

﴿ وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ﴾ الانعام : ۱۵۱.

يعنې خپل اولادونه دمفلسي له ويرې نه مه وژنئ ، تاسو ته هم مونږ رزق دركوو او هغوى ته هم.

په بل آيت كې دي :

﴿ ولاتقتلوا اولادكم من خشية املاق نحن نوزقكم واياكم ﴾ بنى اسرائيل.

خپل اولادونه دناداری له خوف نه مه وژنئ مونږ تاسو او هغوی دواړو ته رزق درکوو.
لهذا په معمولي عذر کې ددی اجازه نشته ، البته که چېرته ښځه دصحت دخرابي په وجه حمل نسي برداشت کولې اودمړکیدو خطره وي ، له اپریشن نه پرته بله چاره یې نه وي کوم دیندار او متقي حکیم یاډاکټیر مشوره ورکړي نو اپریشن کولې شي.

که څوک دضبط تولید لپاره مجبور کړی شي نو هغه دی څه وکړي :

(۲۴۰ سوال) هغه کسان چی په ریل ګاړیو کې نوکري کوي حکومت هغوی دیته مجبور وي چی ماشومان پیدانه کړي ، له ښځو یاسړو نه کوم یو ته داپریشن کولو جواز شته ، په سړو باندی خصوصي زور آچول کیږي چې هغوی اپریشن وکړي که چیرته مونږ لدینه انکار کوو نو حکومت ډیر زیات فشار پرمونږ اچوي او ډول ډول تکلیفونه راکوي ، مونږ ته چی کوم سهولتونه مهیا دي هغه پر مونږ باندی بندوي ، ځینی خوله مجبوریت نه اپریشن کوي خو څوک چی لدینه انکار وکړي نو له نوکري نه یې وباسي، په داسې حالت کې مونږ ته څه کول پکار دي ، ایا مذکوره حالت ته مجبوریت ویلې شوو او که نه آیا ددغه عذر په وجه مونږ ته داپریشن کولو جواز شته او که نه ؟ بینوا توجروا.
کله چی هغوی ته وایو چې ضبط تولید زمونږ له مذهب نه مخالفت دی نو هغوی په ځواب کې وایي چې په دی کی مذهب مه راولئ ، مونږ څه وکړو په تفصیل سره مونږ پوه کړئ .

ځواب: بیشکه اولاد دالله تعالی لوی نعمت د ی، دمحمدصلی الله علیه وسلم ارشاددی.

تزوجوا الودودالود فانی مکاثربکم الامم.

له داسې ښځو سره نکاح وکړئ چی ډیر زیات محبت کوونکې او زیات ماشومان زیږوونکي وي ځکه چی زه ستاې دکثرت په وجه په نورو امتونو باندی فخر کوم .
مشکواة کتاب النکاح ص۳۶۷.

دملازمت په خاطر او یادنورو سهولتونو دترلاسه کولو په وجه دخپل ځان خصي کول یادښځي پچه داني لرې کول دنعمت لوی کفران دی ، داشرعاً حرام او ناجائز دی ، په حدیث کې دي چې اصحابو کرامو له ګناهونو څخه دبچ کیدو اوله دنیاوي کارونو څخه دبې فکره کیدو اوپه ډاډ سره دالله تعالی په عبادت کې دمشغولیدو په مقصد دخپلو

ښځانونو دخصي کولو خواهش وکړ خو محمدصلی‌الله علیه وسلم ورتـه اجـازه ورنکـړه او دقرآن کريم دغه آيت يې ورته تلاوت کړ.

يا ايها الذين امنوا لاتحرموا طيبت ما احل الله لكــم ولا تعتـــدوا ان الله لايحـــب المعتدين.

ای ایماندارو الله تعالی چی ستاسې لپاره کوم څیزونه حـلال کـړي دي هغـه پـاکیزه او خونده وريشان پخپلو ځانو مه حراموئ اوله حـدودو نـه وړانـدې مـه ځـئ ، بیشـکه الله تعالی له حد نه تجاوز کوونکي خلک نه خوښوي، بخاري شريف جلد۲ص ۷۵۹ باب مايكره من تبتل والخصاء.

له دینه معلوم شو چی خصي یعنې دنسل دقطع کولو عمل په قراني نص سره هم حـرام دی او له حدودالله نه په تجاوز کې شامل دی‌لهذا دنسـل دقطـع کولـو عمـل بالاتفـاق حرام دی . عمدة القاري شرح صحيح بخاري جلد ۲۰ ص ۷۲.

فقهاو ليكلي دي : اما خصا الادمي حرام ، دانسان خصي کيدل حرام دی . درمختـــار مع الشامی ج۵ ص ۳٤۲ كتاب الحضر والاباحة فصل فی البيع .

په حديث شريف کی دي : لا طاعة للمخلوق فی معصية الخالق .

دخالق په نافرماني کولو سره دمخلوق اطاعت جائز نه دی .

تاسو ته پکار دي چې هغوی ته ټول په يو اتفاق داځواب ورکـړئ چـی لومړې مـذهب بیانوکري، رزق ورکوونکې خو يوازې يو الله دی ، په قران کريم کی الله تعالی فرمايي :

ومامن دابة فی الارض الا علی الله رزقها.

ځمکې په سر داسې کوم جاندار نشـته چـی دهغـه درزق ذمـه واري الله تعـالی نـه وي اخستې .

په بل ځای کې ارشاد دی :

وكاين من دابة لا تحمل رزقها الله يرزقها واياكم:

يعنې ډير جاندار داسې دي چې سبا لپاره خپل روزي نه ذخـيره کـوي ، الله هغـوی تـه هم رزق رسوي او تاسو ته هم ، سوره عنکبوت.

په بل آیت کې دي : ومن یتق الله یجعل له مخرجا ویرزقه من حیث سلا یحتسب ومن یوتکل علی الله فهو حسبه .
کوم سړی چی له الله ویریږي الله دهغه لپاره له مشکلات نه دخلاصون لاره پیداکوي او هغه ته له داسې ځا ی نه رزق ورکوي چې دهغه په زړه کې وهم او گمان قدرې هم نه وي تیرشوی ، څوک چی په الله بروسه کوي نو الله تعالی د هغه د مشکلاتو د لری کولو لپاره کافي دی . (سوره طلاق)
د قرآن کریم په یو بل آیت کې داسی راغلي دي : ولا تقتلو اولادکم من املاق نحن نرزقکم ایاهم ـــ خپل اولادونه د مفلسی په وجه مه وژنئ مونږ تاسو ته هم رزق درکوو او هغوی ته هم . (سوره انعام)
همدغه راز بل آیت دی : ولا تقتلوا اولادکم خشیة املاق نحن نرزقهم وایـــاکم . خپل اولادونه د ناداری په وجه مه مړه کوئ مونږ هغوی ته هم رزق ورکـــوو او تاسو ته هم . (بني اسرائیل)
حضرت عمر رضی الله عنه وائي چی ما له محمد صلی الله علیه وسلم نــه اوریدلي دي چی بیشکه که تاسی په الله تعالی باندی داسی بروسه وساتئ څنګه چـی حـق ئـی دی نو هغه تاسو ته په داسی طریقی رزق درکوي لکه چـی مارغـانو تـه روزي ورکـوي چې هغوی سهار په خالي گیډه له خپلی ځالې نه روانیږي او مابنام په مړه گیډه واپس راځي . مشکوة باب التوکل والبصر ص ۳۵۲ .
شیخ سعدي فرمائي :
ای کریمــــــــــی کــــــــــه از خزانــــــــــه غیـــــــــــ
گبـــــــــر و ترســــــــــا وظیفـــــــــــه خـــــــــــور داری
دوســــــــــتان را کجــــــــــا کنـــــــــی محـــــــــروم
تـــــــو کــــــــه بـــــــا دشــــــــمنان نظـــــــــر داری
ای داسی کریم ذاته چی یهود ، نصارا ، اتش پرست او بت پرستانو تـه لـه خپلی غیبي خزانی نه رزق ورکوی ، کله چی په دشمنانو باندی داسی د رحم او کرم نظر کوی نو خپل دوستان چی ستا بندگي کوي څنګه به محروم کړی ؟

نقل د ی چی، کله د کارغی بچی له هګۍ نه بیرون شي او د هغه د بـدن ویښتـان سپین شي نو نر و ماده ګمان کوي چی دا زمونږ بچی نه دی که زمونږ بچـی وای نـو ویښتـان به ئی تور وو نو ځکه ورته خوراک ځښاک نه راوړي ، لیکن کله چی د هغـه ویښتـان تـور شي نو خپل بچی ګڼي او خوراکونه ورته راوړي ، دا چی ویښتان ئی له سپین والي نـه تور والي ته مائلیږي په دغه ورځو کی الله تعالی هغـه تـه پـه داسـی طریقـی سـره رزق رسوي چی کله د کارغه بچی خپله خوله خلاصوي نو د ژمکی حشرات او جراثیم د هوا له لاری نه د هغی خولی ته دننه کوي او د هغه غذا جوړیږي ، ایا داسی ذات بـه خپلـو صالحو بنده ګانو ته رزق نه ورکوي ؟ ایا هغه به تاسی له لوږی نه مړ کړي ؟ نه هر ګـز نـه !! یو شاعر وائي :

غم روزي مخور برهم مزن اوراق دفتررا
که پیش از طفل ایزد پرکند پستان مادررا

د رزق په غم کی د پریشانه کیدو ضرورت نشته ، د الله خو داسی اوچت شـان دی چـی په دنیا کی د ماشوم د قدم لګیدو نه وړاندی الله تعالی د مور تي له شیدو نه ډکی کـړی وي . فقط والله اعلم بالصواب .

د ضبط ولادت په اړه څه حکم دی ؟

(۲۴۱ سوال) ایا د اپریشن په ذریعه ضبط ولادت جائز دی او که نه ؟

ځواب : د موقت او خاص وخت لپاره چی د حمل د بندلو ضرورت وي اجازه شته مګـر همیشه لپاره ضبط ولادت د کوم شدید او انتهائي مجبوریت په وجـه جـائز کیـدای شـي خو په معمولي مجبوري کی اجازه نشته ، نن سبا عیاشانو دا یـو فیشـن ګرځـولي دی د دی اجازه نشته .

که دښځې په ګیډه کې ماشـوم مړشـي نـو هغـه دی وباسـي اوکه نه ؟

۲۴۲_ سوال: که چیرته دحاملې ښځې په ګیډه کې ماشوم مړشي نو دښځـې دبـچ کولـو لپاره دماشوم غوخول اودمور له ګیډې نه ویستل جائز دی اوکه نه ؟

ځواب : کله چی دا یقین وي چی ماشوم مړ شوی دی نـو د هغـه د مـور د ژونـد د بـچ کولو په خاطر د ماشوم غوځول او د مـور ګیـډی نـه ویسـتل جـائز د ي، او کـه ماشـوم

ژوندی وي نو جائز نـه دي . درمختـار مـع الشـامي ج ۱ ص ۴۸۰ بـاب الصـلوٰة الجنـائز مطلب فی دفن المیت) .

که ماشوم نه پیدا کیږي نو د هغه شکول او ویستل ئی څنګه دي ؟

(۲۴۳ سوال) ښځه بلاربه ده ماشوم ئی نه کیږي ، ډاکټر وائي چی که چیرته د مـور لـه ګیډی نه ماشوم ټکړی ټکړی کړی شي او ترینه وویستل شي نو د مـور ژونـد وربانـد بـچ کیدلی شي ، ایا په داسی حالت کی دی ماشوم ټکړی ټکړی کړی شي او که نه ؟

ځواب : که ماشوم ژوندی وي نو د هغه ټوټی ټـوټی کـول شـرعاً جـائز نـه دي ، د دی خبری ضمانت څوک ورکولی شي چی په دی سره د مور ژوند بچ کیږي ،لهذا د آپریشن په ذریعه دی د مور له ګیډی نه وویستل شي او د دواړو د ژونـد بـچ کولـو کوشـش دی وکړی شي ، ژوند او مرګ د الله په قبضه کی دي په درمختار کی دي :

(حامل ماتت وولدها حی) یضطرب (شق بطنها) من الایسر (ویخرج ولدها) ولو بالعکس وخیف علی الام قطع اخرج لو میتا والا لا کما فی کراهیة الاختیار (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۸٤٠ باب صلوة الجنائز مطلب فی دفن المیت) .

یعنی حامله ښځه مړه شوه او ماشوم د هغې په ګیډه کي ژوندی دی نو په داسی حالـت کی دی د مور ګیډه څیره کړی شي او ماشوم دی ترینه وباسي ، که چیرته ماشوم د مـور په ګیډه کی مړ شو او مور ئی ژوندی وي خو د مور ژوند ورسره په خطره کی دی نـو د ماشوم ټوټی کول او له هغی نه ویستل جائز دي او که ماشوم ژوندی وي نـو بیـا د هغه ټوټی ټوټی کول او ترینه ویستل جائز نـه دی ځکـه چـی د مـور مـرګ یقینـي نـه بلکـی احتمالي دي ،لهذا د شک په وجه د ماشوم د مړ کولو اجازه نشته .

ای ولو کان حیاً لا یجوز تقطیعه لان موت الام به موهوم فلا یجوز قتل ادمی حیّ لأمر موهوم (شامی ج ۱ ص ۸٤٠ باب صلوة الجنائز مطلب فی دفن المیت) .

د غنې مړ کول او د هغه جالی پاکول ، همدغه راز د چرمخکی وژله ؛

(۲۴۴ سوال) خلک وائي چی غنه باید ونـه وژل شـي ځکـه چـی هغـی د غـارِ ثـور په مخکی د جالي په جوړولو سره د محمد صلی الله علیه وسلم حفاظت کړی و ، کلـه کلـه هغه په کورونو کی هم زیاتی جالی جوړوي او خلک هغـه شـوم او نحوسـت ګڼـي ، په

شریعت کی د هغوی وژل جائز دي او که نه ؟ همدغه راز د چرمخکـی د وژلـو پـه بـاره کی په شریعت کی څه ممانعت شته او که نه ؟ بینوا توجروا .
خواب د غڼو څو ډولونه دي یو هغه قسم دی چی په زمکه کی کور جوړوي هغه مضره ده د هغی د مړکولو اجازه ده . په روح المعاني کی دي :
النوع الاخر الذی یحتفر بیته فی الارض ویخرج فی اللیل کسائر الهوام وهی علی ما ذکره غیر واحد من دوات السموم فیسن قتلها (روح المعـانی ج ۲۰ ص ۱۶۱ سورة عنکبوت) .
کوم یوه غڼه چی په زمکه کی جالی جوړوي هغه موذي ځانور نه دی ، لـه ضـرورت نـه بغیر د هغی له وژلو نه باید ډډه وکړی شي خصوصاً چی پورتنی واقعـه د هغـی پـه بـاره کی مشهوره ده نو ځکه د هغه له وژلو نه باید احتراز وکړی شي . پـه روح المعـاني کـی دي : وقیل لایسن قتلها فقد اخرج الخطیب عن علی کرم الله وجهه قـال قـال رسول الله صلی الله علیه وسلم دخلت انا وابوبکر الغار فاجتمعـت العنکبـوت فنسجت الباب فلا تقتلوهن ذکر هذا الخبر جلال الدین السیوطی فی الدر المنثور ، والله اعلم بصحته وکونه مما یصلح للاحتجاج بـه (روح المعـانی ج ۲۰ ص ۱۶۱ سورة عنکبوت) .
یعنی پکار دی چی غڼه (جولاگی) ونه وژل شـي . خطیـب لـه حضرت علـی کـرم الله وجهه نه نقل کړی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسـلم وفرمایـل : زه او ابـوبکر پـه غار کی داخل شو نو غڼی راغونډی شوی او فوراً ئی د غار په خوله کی ځـالی جـوړی کړی نو ځکه تاسی هغه مه وژنئ .
که چیرته په کورونو کی د غڼو ځالی وي نو هغه صفا کولی شئ .
وذکر انه یحسن ازالة بیتها من البیوت ، لما اسند الثعلبی وابن عطیة وغیرهما عـن علی کرم الله وجهه انه قال طهروا بیوتکم من نسج ا لعنکبوت فـان ترکـه فی البیت یورث الفقر وهذا ان صح عن الامام کرم الله وجهه فـذاك والافحسـن الازالة لما فیها من النظافة ولا شك بندبها .

یعنی ثعلبي او ابن عطیه له حضرت علی کرم الله وجهه نه نقل کړی دی چې د غمو له خالو نه خپل کورونه پاک کړئ ځکه چې د دوی په پریښودلو سره فقر پیدا کیږي ، که چیرته له حضرت علی کرم الله وجهه نه د دی اثر ثبوت موجود وي نو همدا دلیل دی ، که ثابت نه وي نو بیا د خالو پاکول او له منځه وړل مستحب دي ځکه چې په دی کی نظافت دی (روح المعاني ج ۲ ص ۱٦۱) .

چرمخکی موذي او مضر خیز دی کله کله هغه د خوراک او څښاک په څیزونو کی د خپلې خولی لاړی اچوي او په دی سره زهریلي اثرات پاتی کیږي او هر څوک ئی چې وخوري نو د هغه پر طبیعت ډیر خراب اثر اچوي ، مونږ ته داسی کیسی معلومی دي چې د داسی مسموم شوي خوراک په وجه ټوله کورنی شفا خانی ته تللی دي ، او په حدیث کی د چرمخکی د وژلو حکم دی . (مسلم جلد ۲ ص ۲۳۵ باب في قتل الوزغ) (ترمذي ج ۱ ص ۱۷۹ باب في قتل الوزغ) وزغ د وزغة جمع دی او د وزغ مصداق کربوړی او چرمخکی دواړه دي ، مصباح اللغات او منجد په اردو کی معنی چرمخکی کړی دی لکه چې په مصباح اللغات کي دي :

الوزغة : چرمخکی وز ووزاغ واوزاغ وزغان (مصباح اللغات) او په منجد کی دي :

الوزغة : چرمخکی ج وزغ ووزاغ واوزاغ ووزغان (المنجد) فقط والله اعلم .

دی لپاره چې د دین په خدمت کی خنډ رانشي د څو کلو لپاره د ماشومانو بندول :

(۵۰۳ سوال) په اوسنی زمانه کی د علم زده کول او بل چاته ښودل ډیر ضروري دي ، زه پخپله دا احساس لرم چې د دین تبلیغ باید وشي ، الله تعالی چې ماته کوم علم راکړی دی د هغه د تدریس لپا ره مصروف یم لاکن اولادونه می زما د دغه کار په ړ ندی خنډ دي ، في الحال دوه اولادونه لرم ، دی لپاره چې راتلونکي وخت لپاره ډېر مشکلات او خنډان زما مخی ته رانشي نو ایا د څو کلو لپاره اولادونه بندولی شم او که نه شریعت په دی باره کی څه وائي ؟ امید دی چې تسلي بخش ځواب راته راکړی شي فقط . بینوا توجروا .

ځواب : د نکاح مقصد توالد او تناسل دی او زیات اولادونه د محمد صلی الله علیه وسلم لپاره د فخر سبب دی ، کومی ښځی چې زیات اولادونه زیږوي له هغوی سره د نکاح کولو ترغیب شوی دی ، په حدیث کی دي :

عن معقل بن يسار رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم تزوجوا الودود الولود فانى مكاثر بكم الامم (رواه ابوداؤد والنسائي) .
له حضرت معقل بن يسار څخه روايت دی چی محمد صلی الله علیـه وسـلم وفرمایـل : تاسی له داسی ښځی سره نکاح وکړئ چی زیات محبت کـوونکی او زیـات ماشـومان زیږوونکي وي زه ستاسی د کثرت په وجه په نورو امتونو باندی فخر کوم (مشکوة شریف ص ۲٦٧ کتاب النکاح) . همدغه راز په حدیث کی دی :
عبدالرازق ..... عن سعيد بن ابى حلال .... ان النبى صلى الله عليه وســـلم قال تناكحوا تكثرو فانى اباهى بكم الامم يوم القيامة ...... الخ .
محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایـل : نکـاح وکـړئ او نسـل زیـات کـړئ ، زه د قیامت په ورځ ستاسـی د کثـرت پـه وجـه پـه نـورو امتونـو بانـدی فخـر کـوم . مصـنف عبدالرازق جلد ٦ صفحه ۱۷۳ باب وجوب النکاح و فضلها) جامع الصغیر حــرف التاء للعلامة السیوطی ص ۱۱۱) .
همدغه راز په بل حدیث کی دي : عن عائشة رضى الله عنها قالت قال رســـول الله صلى الله عليه وسلم النكاح من سنتى فمن لم يعمل بسنتى فليس منى وتزوجـــوا (وفى نسخة ، فتزوجها) فانى مكاثربكم الامم .... الخ .
حضرت عائشه رضی الله عنهما فرمائي چی رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایـل : نکاح کول زما سنت دی ، کوم سړی چی زما په سنت عمل ونه کـړي هغـه زمـا لـه ډلی څخه نه دی ، تاسی نکاح وکړئ زه ستاسی د کثرت په وجه په نورو امتونو فخر کوم .
(ابن ماجه شریف ص ۱۳۴ باب ما جاء فی فضل النکاح) .
د حمل تکلیـف همدغـه راز د ولادت او بیـا د رضـاعت تکلیـف لـه هغـه نـه وروسـته د ماشومانو د روزلو خومره تکلیفونه چی زغمل کیږي هغه ټول په عبادت کـی حسـابیږي ، لهذا په مسئوله صورت کی چی د څه وخت لپاره د ماشومانو د بندلو کومه پوښتنـه شـوی ده هغه په شرعي عذر کی نه شمار کیږي ، د دین خدمت کول هم زیات ثـواب لـري او د ماشومانو لویول هم د اجر او ثواب موجـب دی ، داسـی هـم کیـدای شـي چـی پـه اولادو کی کوم یو ښه عالم او ولي جوړ شي ، هغه نـه یـوازی د خپلـو والـدینو بلکـی د

نولی علاقی د خلکو لپاره د هدایت او نجات ذریعه وګرځي ،لهذا د اولاد په مسئله کـې ناـ ـ ـ ـک نه کړی شي او ځومره تکلیفونه چې مخی ته راشي هغـه پـه پراخـه تنـدې وزغمل ـي

لدی سره سره زمونږ ایمان دا دی چـې د اولاد شـته والي یـا نشـتوالي د الله تعـالی پـه مشیت باندی موقوف دی ، که الله ته منظوره وي نو که ځومره د حمل مخه ونیول شي نو بیا هم اولاد کیدلی شي او د هغه مخه هیڅوک نشي نیولی او که الله تـه منظـوره نـه وي نو که ځومره د حمل پاتی کیدو لپاره کوشش وکړی شي نو نه حمل پـاتی کیـږي او نه اولاد . د الله تعالی ارشاد دی :

لله ملك السموت والارض يخلق ما يشاء يهب لمن يشآء اناثاً ويهب لمـــن يشـــاء الذكور او يزوجهم ذكراناً واناثاً ويجعل من يشاء عقيماً انه عليم قدير .

د اسمان او زمکی باچاهی الله لپاره دي ، هغه چې څه وغواړي پیدا کوي ، چاته چـې وغواړي لورګانی ورکوي او چاته ئې چې وغـواړي نارینـه اولادونـه ورکـوي ، یـا دواړه یوځای ورکوي ، او چاته چې وغواړي اولادونه نه ورکوي ، بیشکه هغه په هر څه پـوه او قادر دی (سوره شوری پاره نمبر ۲۵ رکوع نمبر ۵) .

په حدیث کـی دي : عن ابی سعید رضی الله عنه قال سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم عن العزل فقال ما من کل لماء یکون الولد واذ اراد الله خلق شیئ لم یمنعه (رواه مسلم) .

له حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چې له محمد صلی الله علیه وسلم نه د عزل په باره کی پوښتنه وکړی شوه ، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

داسی نه دی چې د مني له هری قطری څخه ماشوم پیدا شي ، او کله چـې الله تعـالی د کوم څیز د پیدا کولو اراده وکړي نو د هغه مخه هیڅوک نشي نیولی (مشـکوة شـریف ص ۲۷۵ ص ۲۷٦ باب المباشرة) .

لهذا دغه مسئله دی الهي مشیت ته پرېښودلی شي ، مونږ خـو محـض بنـده ګـان یـو الله چې په کوم حال کی مونږ پرېښودل غواړی پر هغه رضا پـاتی کیـدل زمونـږ د ایمـان او عقیدی غوښتنه ده ، له تاسره چې د دین د خدمت کوم نیـت او جذبـه ده ، انشـاء الله تعالی ستا د نیت په مطابق به درته ثواب او اجر ورسیږي ، که چیرته په ظاهره د دی پـه

وړاندی کوم موانع او خنډونه مخی ته راشي نو دا هم د الله تعالی لـه لـوري وګڼـه کـه الله وغواړي نو بيماري او بل کوم ممانعت هم مخی ته راتلی شي نو بيا هغه وخت څـه کولي شي ؟ فقط والله اعلم بالصواب .۲۷ ذی القعده ۱۴۰۹ ه .

د شديد تکليف په وجه اپريشن کول او بچه داني ويستل څنګه دي ؟

(۲۴٦ سوال) له کوم وخت نه چی زما د ښځی حمل پاتی شي نو له همغه وخـت نـه د ولادت تکليف شروع کيږي ، په سر ئی چکر راځي ، کله چی چيرتـه ځـي نـو ځـای پـر ځای کيني او آرام کوي زما د ښځی يوه پښه هم معذوره ده او ماشوم هم همغـی پښـی طرف ته وي چی د هغی په وجه تکليف ئی نور هم زياتيـږي او کلـه چـی ماشـوم پيـدا کيږي نو هغه سر چپه وي ، ډاکټر وبلي دي چی لدينه وروسته کوم حمل پـاتی شـي نـو ستا د ښځی ځان په خطره کی دی ، ايا پـه داسـی حالـت کـی د اپريشـن پـه ذريعـه د ښځی بچه داني ويستل جائز دي او که نه ؟ بينوا توجروا .

ځواب : د نکاح مقصد توالد او تناسل دی او زيـات اولادونـه د محمـد صـلی الله عليـه وسلم لپاره د فخر باعث دي ، کومی ښځی چی زيات اولادونه پيدا کوي له همغـی سـره د نکاح کولو ترغيب شوی دی . په حديث کی دي :

عن معقل بن يسار قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم تزوجوا الودود الولود فأنى مكاثر بكم الامم .

د رسول الله صلی الله عليه وسلم مبارک ارشاد دی چی تاسي له داسی ښځی سره نکاح وکړئ چی زيات محبت کوونکی او زيات ماشومان پيدا کوونکی وي ، چی د قيامت پـه ورځ ستاسی د کثرت په وجه په نورو امتونو فخر وکـړم (مشـکواة شـريف ص ۲٦۷ کتـاب النکاح) .

همداغه راز په بل حديث کی دی :

عن الرازق عن معمر عن عبدالملك بن عمير وعاصم ابن بهدلة ان رجلاً اتى النبى صلى الله عايه وسلم فقال ابنة عم لى ذات ميسم ومال وهى عاقر افاتزوجهـا ؟ فنهاه عنها مرتين او ثلاثاً قال لامرأة سوداء ولود احب الى منها ، اما علمـت انى مكاثر بكم الامم .

یو سړی د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر شو او عرض ئی وکړ چی زما تره لور ده هغه ډیره ښکلی او مالداره ده خو هغه شنډه ده ایا زه لـه هغـی سـره نکـاح وکړم ؟ محمد صلی الله علیه وسلم دوه یـا دری کرتـه لـه هغـی نـه منـع کـړ او بیـا ئـی وفرمایل :

ماشوم پیدا کوونکی توره ښځه ستاه له هغی ښکلی او مالـداری شـنډی ښځـی نـه زیاتـه غوره ده ، د دی وجه دا ده چی زه ستاسی د زیات والي له کبله په نورو امتونـو بانـدی فخر کوم (مصنف عبدالرازق ص ۱٦۰ ، ۱٦۱ ج ٦ باب النکاح الابکار والمرأة العقیم) .

په شامي کی دي : فی الحدیث سوداء ولود خیر من حسناء عقیم . په حدیث کـی د ماشوم د پیدا کولو وړ توره ښځه د ښکلی شنډی ښځی نه ښه ښودل شوی ده .

همدغه راز په بل حدیث کی دي :

"عن الرزاق عن معمر عن عبد الملك بن عمیر وعاصم ابن بهدلة ان رجـــلاً اتـــی النبی صلی الله علیه وسلم فقال ابنة عم لی ذات میسم ومال وهی عاقر افاتزوجها ؟ فنهاه عنها مرتین او ثلاثاً قال لامرأة سوداء ولود احب الی منها ، اما علمت انی مکاثر بکم الامم" .

د حدیث ترجمه :

یعنی یو سړی د محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر شـو او عـرض یی وکـړ چی زما د تره یوه لور ده چی ډیره ښکلی او مالداره ده ایا زه له هغی سره واده وکړم ؟ محمد صلی الله علیه وسلم هغـه د ده دری کرتـه منـع کـړ او بیـا یی ورتـه وفرمایـل : د ماشومانو زیږوونکی توره ښځه ماته له هغی ښکلی او مالداری شنډی ښځه زیـات خوښـه ده ، د دی وجه دا ده چی ستاسی په زیـاتوالي بـه پـه نـورو امتونـو بانـدی فخـر کـوم (مصنف عبدالرازق ص ۱۷۳ ج ٦ باب وجوب النکاح وفضـــلها) (جـــامع الصغیرة للعلامة الیسوطی ص ۱۱۱ حرف التاء) .

همدغه راز په حدیث کی دي :

عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم النکاح مــن سنتی فمن لم یعمل بسنتی فلیس منی وتزوجوا) (وفی نسخة فتزوجوا) فانی مکاثر بکم الامم

ام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله عنها فرمـائي : چــی محمـد صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل : نکاح کول زما سنت دي کوم سړی چی زما په سنت عمل ونه کـړي هغـه زما له امت څخه نه دی ، تاسی نکاح وکړئ زه ستاسی د کثرت په وجه په نورو امتونو فخـر کوم (ابن ماجه شریف ص ۱۴۴ باب ما جاء فی فضل النکاح) .

د حمل په ورځو کی تکلیف بیا د ولادت په وخت کی زحمتونه ، لـه هغـه نـه وروسـته د ماشوم دلویولو او داسی نور تکالیف چی زغملی شي دا ټول د اجر او ثواب باعث دي .

حمل او د ولادت ورځی عموماً سختی وي او په هری ښځی باندی دا تکلیف تیریـږي ، په قرآن کریم کی آیت دی : حملته امه کرها ووضعته کرهاً . سورة احقاف پاره ۲٦ .

د هغه مور په ډیر تکلیف سره په ګیډه کی وساته او په ډیر مشـقت سـره ئـی وزیږولـه . د محمد صلی الله علیه وسلم له دغو پورتینو ارشاداتو په رڼا کی دغه مسئله ډیـره نازکـه ده او په دی سلسله کی د غیرمسلم رای د عمل وړ نـه ده . پـه عـلاج او تـدبیر سـره د څـه وخت لپاره حمل ځنډولی شي مګر د بچه داني ویستل او همیشه لپـاره د الله تعـالیٰ لـه نعمت نه د محروم کیدو کوشش کول د نعمت کفران دی ، په دی لـړکی د یـو مسـلمان حکیم یا تجربه کار ډاکټر رای او فیصله د منلو وړ ده . خپله ښځه پـه سـورت کـی مولانـا حکیم سعد رشید اجمیري صاحب مدظله ته وښایئ او له هغه نه علاج وکـړئ نـو د هغـه په فیصله باندی عمل کیدای شي . فقط والله اعلم بالصواب .

که سني عالِم د شیعه ګانو نکاح وتړي نو د دی څه حکم دی ؟

(۲۴۷ سوال) که د شیعه ګانو نکـاح سـني امـام وتـړي نـو د دی څـه حکـم دی ؟ بینـوا توجروا .

خواب : د شیعه ګانو نکاح دِی پخپله همغوی ته وسپارل شي ، له هغو نه د ځینـو عقائـد د کفر تر حده رسیدلی دي ، د تفصیل لپاره وګـورئ ، د مولانـا منظـور نعمـاني صـاحب تصنیف " ایراني انقلاب " او ماهنامه الفرقان خصوصي نمبر خمیني او اثناعشریه پـه بـاره کی د علمای کرامو متفقه فیصله ـ لومړی حصه اکتوبر ، دسمبر ۱۹۸۷ء شماره نمبـر ۱۰ ـ ۱۱ ، ج ۱۲ ـ ۲ ، حصه دوم مئ ، جولائي ۱۹۸۸ء شماره ۵ ، ۱۷ فتاوی رحیمیه .

د جدید ترتیب په مطابق کتاب النکاح کی له شیعه گـانو سـره د سـني هلـک نکـاح تـر عنوان لاندی ، تقیه د شیعه گانو شعار دی‌لهذا د هغوی د صحیح عقیـدی معلومـول هـم ډیر گران کار دی‌لهذا له هغو نه ځان ساتل پکار دي . فقط والله اعلم بالصواب .

د دوه نیمو میاشتو حمل غورځول :

(۲۴۸ سوال) ما واده کړیدی دری زامن لرم زما د آخري ماشـوم عمـر ۸ میاشـتی دی ، زما د ښځی طبیعت هر وخت خراب وي ، ډاکټرانو ته می چی یوړلـه نـو هغـوی وویـل چی ستا د ښځی حمل پاتی شوی دی چی تقریباً د دوه نیمو میاشـتو دی ، د هغـی پـه رحم کی پړسوب دی او د ماشوم پرورش پکی په صحیح توگه نـه کیـږي‌لهـذا د ماشـوم مور ته خطره ده ، ښځه می کمزوری هم ده ، ډاکټران د حمل غورځولو توصیه کـوي او وائي چی د اپریشن په ذریعه بچه داني ترینه وباسئ تاسی مهرباني وکړئ د شـریعت پـه رڼا کی ځواب راکړئ جزاکم الله .

ځواب : کله چی د ماشوم گوتی ، ویښتان ، پښی او نور اندامونـه جـوړ شـوي وي او پـه ماشوم کی ساه هـم غورځیـدلي وي او د دی مـوده څلـور میاشـتی ده یعنـی حمـل د څلورو میاشتو وي نو په دی صورت کی د هیچا په نزد د ماشوم غورځـول جـائز نـه دي بلکی حرام او گناه ده ، خو که له دی نه وړانـدی د څـه شرعي عـذر پـه وجـه حمـل وغورځول شي ، مثلاً وړوکی تی رودونکی ماشوم یی وي او دحمل د پاتی کیدو په وجه د ښځی شودی وچی شي او مور پلار خپل ماشوم ته د شیدو انتظام نشي کـولی ، او پـه دی وجه د ماشوم ژوند ته خطره وي نو د حمل د غورځولو گنجائش شته ، که داسی نه وي نو بیا گناه ده ، په شامي کی دي :

وفی الذخیرة لو ارادت القاء الماء بعد وصوله الی الرحم قالوا ان مضت مدة ینفخ فیه الروح لایباح لها وقبله اختلف المشائخ فیه والنفخ مقدر بمائة وعشرین یومـاً بالحدیث اه قال فی الخانیة ولا اقول به لضمان المحرم بیض الصید لانه اصل الصید فلا اقل من ان یلحقها اثم وهذا لو بلا عذر اه (شـــامی ص ۳۲۹ ج ۵ ، قبیـــل باب الاستبراء) (فتاوی رحیمیه ص ۲۵۵ ، ۲۵۶ ج ۶) .

د جدید ترتیب په مطابق په همدی باب کی اسقاط حمل جائز دي یـا نـه تـر عنـوان لاندی وگورئ .

همدغه راز په درمختار کی دي : ويكره ان تسعى لاسقاط حملها وجاز لعذر حيث لايتصور په شامي کی دي : (قوله ويكره الخ) اى مطلقا قبل التصور وبعد على ما اختاره فى الخانية كما قد مناه قبيل الاستبراء وقال الا انها لا تاثم اثم القتل (قوله وجاز لعذر) كالمرضعة اذا ظهر به الحبل وانقطع لبنها وليس لاب الصبى ما يستأجر به الظئر و فى هلاك الولد قالوا يباح لها ان تعالج فى استنزال الدم ما دام الحمل مضغة او علقة ولم يخلق له عضو وقدروا تلك المدة بمائة وعشرين يوماً وجاز لانه ليس بآدمی وفيه صيانة الادمى خانية (درمختار و شامی ج ۵ ص ۳۷۹ قبيل كتاب احياء الموات) .

په مسئوله صورت کی حمل د دوه نیمو میاشتو دی ، ستا ښځه دی د کوم تجربه کار مسلمان حکیم نه علاج وکړي ، که د هغی رای دا وي چی د ښځی حالت ډیر نازک دی په علاج سره حالت ئی نشي ښه کیدلی آینده لپاره ورته خطره ده نو په داسی صورت کی حمل ساقطول جائز دي ، په دی باره کی د غیر مسلم ډاکټر رای د منلو وړ نه دی ، د بچه داني ویستل او همیشه لپاره د اولاد له نعمت نه محروم کیدل د نعمت کفران کول دي ، د شریعت په نظر کی دا کار د نکاح له مقصد او منشاَ نه خلاف دی ، که د کوم دیندار مسلمان حکیم یا د ډاکټر په مشوره وي نو د څه وخت لپاره حمل وروسته کول جائز دي ، لیکن د بچه داني ویستل او همیشه لپاره د ولادت صلاحیت ختمول شرعاً جائز نه دي ، البته که کوم دیندار او تجربه کار ډاکټر یا حکیم د دی مشوره ورکړي چی له عملیات نه علاوه بله چاره نشته او د ښځی ژوند ته سخته خطره ده نو په داسی حالت کی د دی جواز شته خو د غیرمسلم رای د منلو وړ نه ده . فقط والله اعلم بالصواب .

د لائسنس د جوړولو لپاره افسر ته رشوت ورکول :

(۲۳۹ سوال) زید له غیر مسلم نه یو مشین اخستی دی ، د اخستلو په وخت کچه لائسنس درلود ، د پوخ لائسنس د جوړولو لپاره مو کاغذونه دفتر ته ولیږل مګر د رشوت نه ورکولو له کبله هغه کچه او عارضي لائسنس هم ضبط کړ ، اوس له رشوت ورکولو نه پرته پوخ لائسنس نه جوړیږي که چیرته لائسنس جوړ نه کړو نو زید د مشین د خرڅولو

په وخت کی دوه لکه تاوان کوي ، زید ډیر پریشان دی ، قرضه داره هم دی ، د آمـدنـي مستقله ذریعه هم نه لري ، په داسی حالت کی د رشوت ورکولو له لاری لائسنس جوړول څنګه دي جائز او که ناجائز ؟ دا صورت هم کیدی شي چی کوم غیر مسلم پخپلـو پیسـو د رشوت ورکولو له لاری پوخ لائسنس جوړ کړي او دغه مشین په ښه قیمـت واخلـي ، د دواړو صورتونو ځواب راکړئ .

ځواب : په مسئوله صورت کی چی له دواړو صورتونو څخه کوم یو صورت ښه وي او بـی عزتي پکی نه وي همغه صورت خپل کړئ ، د فقهي قاعده ده :

من ابتلی ببلیتین فلیختر اهو نهما ، فقط والله اعلم بالصواب .

په کمپنۍ کی د ښځی ملازمت کول :

(۲۵۰ سوال) یو سړي په یو کمپنی کی ملازمت کاو ، هغه مړ شـو د هغـه یـوه ښځـه او څلور لورګانی دي د هغوی خوراک څښاک لپاره ډیره پریشانه ده ، د کمپنی مالکان دیته چمتو دي چی دغی کونډی ښځی ته په کمپنی کی ملازمت ورکړي ، ټک او راتـګ بـه دکمپنی په بس کی کوي ایا په مذکوره صورت کی د ښځی لپاره ملازمـت قبلـول جـائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ښځه چی په کمپنی کی ملازمت کوي نو دځو ممنوعاتو به مرتکب کیـږي ، یـو دا چـی بی ستره کیږي به ، له پردو سړو سره به اخـتلاط او ځینـو وختونـو کـی بـه خلـوت هـم راځي . له هغی سره د پردو سړو خبری اتری او په بس کی ورسـره تـګ راتـګ بـه هـم کیږيلهذا شرعاً د داسی ملازمت اجازه نشي ورکول کیدی .

که ښځه پریشان حاله وي نو د رزق د پیدا کولو لپاره دی بل کوم جائز تدبیر وکړی شـي او له ټولو نه ښه صورت یی دادی چی په مناسب ځای کی دی دوهم واده وکړي ، کـه داسی هم نشي کولی یا بل کوم جائز صورت ورته نه پیدا کیږي نو بیا دی پـه کـور کـی ماشومانو ته سبق ووائي او یا هم په کور کی بـل څـه جـائز کـار او کسـب وکـړي او پـه همدی سره خپل رزق پیدا کړي ، که چیرته داسی هم نه کیږي نو د ښځی او د هغی د ماشومانو خپلوانو باندی د هغوی نان او نفقه ورکول لازم دي ، که هغوی هم دا انتظام نه شي کولی نو د محلی پر خلکو او نور عـامو مسـلمانانو بانـدی د هغـوی نـان او نفقـه فرض دي ، والله اعلم بالصواب .

ډاکټران وائي چې د پنځو میاشتو حمل دی وغورځول شي ایا داسې کول جائز دي ؟

(۲۵۱ سوال) د دین علماء په دی مسئله کی څه وائي چې یوه ښځه د پنځو میاشتو حامله ده ، لیکن صورت حال دا دی چې ډاکټر څو څو کرته په الټراساؤنډ باندی د ماشوم معائنه کړی ده هغه وائي چې د ماشوم حالت صحیح نه دی ، د مور ځان هم په خطره کی کیدی شي ، ځکه چې په ماشوم کی څو قسمه نقصانونه دي ، لومړی دا چې د کټ اړخ پر ځای ښي اړخ ته دی . په زړه کی د یو منفذ پرځای څلور منفذونه دي دریم دا چې د ماشوم په زړه کی د وینی اختلاط دی ، د اکسیجن او اکسیجن نه بغیر د وینی له کبله که ماشوم د پیدا کیدو په وخت کی ژوندی هم پیدا شي نو رنګ به یې اسماني وي ، څلورم دا چې له پیدا کیدو سره سم به هغه عملیات کیږي ، خو بیا هم د ماشوم ژوند یقیني نه دی ، د ولادت په وخت کی به مور ته ډیر زیات تکلیف هم کیږي ، کیدی شي په مور یې خراب اثرات مرتب شي د دغو خیزنو په وجه د څه ډاکټرانو اصرار دی چې ماشوم دی وغورځولی شي . یو عالم طبیب او یو حاذق حکیم هم همدغه رای ورکړی ده ، په داسې حالت کی د حمل د ساقطولو څه حکم دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : حمل د پنځو میاشتو دی د ماشوم ټول اعضاء جوړ شوي دي او روح پکې هم غورځیدلی دی نو په داسې حالت کی د حمل ساقطول جائز نه دي ، ډاکټر چې څه وائي د هغه سل فیصده صحیح کیدل ضروري نه دي ، څه وخت وړاندی د یو ماشوم په اړه د ډاکټرانو رای دا وه چې د ماشوم صرف یوه پښه ده ، لیکن ماشاء الله ماشوم روغ رمټ او سالم پیدا شو ، دواړه پښې یې صحیح او سلامتی دي ،لهذا پر الله اعتماد وکړئ او پخپل حالت کی یې پریږدئ ، د دعا سلسله جاري وساتئ ، انشاء الله چې ولادت به اسانه شي بل دا چې د ولادت کومی مجربی طریقی دي پر هغوی هم عمل وکړئ .

په شامي کی دي : وفی الذخیرة لو ارادت القاء الماء بعد وصوله الی الرحم قالوا ان مضت مدة ینفخ فیه الروح لایباح لها وقبله اختلف المشائخ فیه والنفخ مقدر بمائة وعشرین یو ماً بالحدیث اه قال فی الخانیة ولااقول به لضمان المحرم بیض الصـــید

لانه ا صل الصيد فلا اقل من ان يلحقها اثم وهذا لو بلا عــذر اه (شــامی ٥/ ٣٢٩ قبيل باب الاستبراء) .

همدغه راز په درمختار کی دي : ويكره ان تسعى لاسقاط حملها وجاز لعذر حيــث لايتصور . په شامي کی دي : (قوله ويكره الخ) ای مطلقاً قبل التصور وبعده على ما اختاره فی الخانية كما قبيل الاستبراء وقال الا انها لاتأثم اثم القتل (قوله وجــاز لعذر) كالمرضعة اذا ظهر به الحبل وانقطع لبنها وليس لاب الصبی مايستأ جربه الظئر ويخاف هلاك ا لولد قالوا يباح لها ان تعالج فی استنــزال الدم ما دام الحمل مضغة او علقة ولم يخلق له عضو وقدروا تلك المدة بمائة وعشرين يوماً وجاز لانــه ليس بادمی وفيه صيانة الآدمی خانية (قوله حيث لاتصور)فيه لقوله وجاز لعذر والتصور كما فی القنية ان يظهر له شعر او اصبع او رجل و نحو ذلك (درمختــار وشامی ص ٣٧٩ ج ٥ ، قبيل كتاب احياء الموات) :

په غاية الاوطار کــی دي : ويكره ان تسعى لاسقاط حملها وجــاز بعــذر حيــث لايتصور .

د حمل د غورځولو لپاره دوا څکل مکروه دي خو د عــذر پــه وجــه د ماشــوم غورځــول جائز دي خو په دی شرط چی د ماشوم شکل او صورت لا نه وي جوړ شوی . له عذر نه پرته د حمل غورځول جائز نه دي خو د عذر په صورت کی هله جائز دي چی د ماشوم شکل او صورت یی نه وي جوړ شوی . عذر دا دی چی که ښځه خپل ماشوم تــه شــيدی ورکوي او د حمل د پاتی کيدو په وجه د هغی شيدی وچيږي ، د دائي د ســاتلو طاقــت هم نه لري چی ماشوم ته شــيدی ورکــړي ، د ماشــوم د هلاکيــدو ويــره وي نــو پــه دی صورت کی ښځه کولی شي چی خپل حمل وغورځوي خو پــدی شــرط چــی د ماشــوم شکل او اندامونه نه وي جوړ شوي .

(غاية الاوطار ٢٤٩/٤ باب الاستبراء) فقط والله اعلم بالصواب .

د حمل د تکلیف په وجه د ماشوم غورځول :

(۲۵۲ سوال) په دی مسئله کی د دین مفتیان او علماء کرام څه وائي چي زما د ښځـی دری میاشتی حمل دی ، هغی ته په هر حمل کی ډیر تکلیـف وي ، د ډاکټری رای ده چي حمل دی وغورځولی شي ایا د ډاکټری دا رای د منلو او د عمل وړ ده او کـه نـه ؟ بینوا توجروا

ځواب : په سورت کی مولانا حکیم سعد رشید اجمیري صاحب موجود دی هغه ډیر ښـه او حاذق حکیم دی ، هغه ته یا بل کوم دیندار حکیم ته لاړ شئ او ورته وښایئ ، هغـوی چي کومه مشوره درکړه پر هغه عمـل وکـړئ ، یـواځی د ډاکټری پـه مشـوره د حمـل غورځول نه دي پکار ، په حمل کی خو مور ته تکلیف وي مګر د دی اجر او ثـواب هـم ډیر زیات دی ، په قرآن کریم کی لهي ارشاد دی :

ووصینا الانسان بوالدیه احسانا ط حملته امه کرها ووضعته کرهاً وحمله وفصـــاله ثلثون شهراً (سورة احقاف ایت نمبر ۱۵) .

مونږ انسان ته له خپل مور او پلار سره د نیک سلوک کولو حکم کـړی دی (خصوصـاً لـه مور سره د زیاتی نیکی کولو) ځکه چي د هغه مور هغه ډیر په تکلیف سره په ګیډه کـی ساتلی دی . او بیا په ډیر تکلیف سره یی هغه وزیږاوه ، د هغه په ګیډه کـی سـاتل او لـه شیدو نه جدا کول په دیرشو میاشتو کی کیږي .

په تفسیر مواهب الرحمان کی دي " حملته امه کرهاً ووضعته کرهاً "

په تکلیف سره یی په ګیډه کی ساتي او په تکلیف سره یی زیږوي .

فایده :یعنی د ماشوم د حمل په وخت کی مور ته التیانی راځي او بیا بیا التیـانی کـوي د غذا د نه هضمیدو په وجه رنګ یی زیړ وي ، کله چي ماشوم په ګیډه کی غټیږي نو پـه تکلیف سره د هغه بوج او بار اوچتوي غرض دا چي تر خو پوری ماشوم د مور پـه ګیـډه کی وي مور یی په تکلیف او پریشانی کی وي ، کله چي بیا د ماشوم د پیدا کیدو وخـت راځي نو ماشوم په دومره تکلیف او درد سره زیږوي چي د مور د مـرګ ویـره پکـی هـم وي ، خو د دومره تکلیف باوجود بیا هم مور دا ټول تکالیف زغمي او نه غواړي چـی د هغی ماشوم ته تکلیف ورسیږي ، بیا له پیدا کیدو نه وروسته هم نه غواړي چي ماشوم تـه تکلیف ورسیږي ، هغه له خپلی سینی سره جوختوي او د خپل بدن وینه ورتـه ورکـوي ،

کله چی ماشوم یې لږ غوندی ناروغ شي نو وروباندی خفه کیږي او د هغه د صحت لپاره هر قسم قربانی ته تیاریږي (تفسیر مواهب الرحمان) .
له پورتني آیت او تفسیر څخه معلوم شو چی د حمل له پاتی کیدو نــه تــر زیــږولو پــوری ښځی ته تکلیف وي له تکلیف نه پرته دا مرحلی سرته نه رسیږي خو ښځــی تــه پــه دغــو تکلیفونو لوی اجر او ثواب ورکول کیږي . حضرت شیخ عبد القــادر جیلانــي رحمــه الله پخپل کتاب غنیة الطالبین کی یو روایت بیان کړی دی چی محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :
وما من امرأة حملت من زوجها حین تحمل الا کان لها من الاجر مثل القائم لیلــة والصائم نهاراً والغازی فی سبیل الله وما من امرأة یأتیها طلق الا کان لهـــا بکـــل طلقة عتق نسمة وبکل رضعة عتق رقبة فاذا فطمت ولدها نادها مناد من السماء ایتها
المرأة قد کفیت العمل فیما مضی واستأنفی العمل فیمـــا بقـــی .... (غنیـــة الطالبین ص ۹۳ فصل فی اداب النکاح) .
کومه ښځه چی د خپل خاوند نه حامله کیږي نو هغــی تــه دومــره اجــر ورکــول کیــږي څومره چی د شپی عبادت کوونکي ، د ورځی روژه نیوونکي او د الله په لاره کی جهاد کوونکي ته ورکول کیږي ، کله چی هغی ته دماشوم د پیدا کیدو په وخت دا تکلیــف او درد کیږي نو د هر یو درد په بدله کی د یو غلام د آزادولو ثواب ورته ورکول کیــږي ، او کله چی ماشوم دمور له سینی نه شیدی څکي نو په هر یو کش سره ښځی ته د یو غــلام د آزادلو اجر ورکول کیږي او کله چی ماشوم خپل رضاعت مــوده پــوره کــوي نــو لــه اسمان نه یو آواز ورکوونکی آواز کوي چی ای ښځی ! تا د تیری زمانی عمــل پــوره کــړ اوس چی کومه زمانه پاتی ده په دی کی خپل عمل شروع کړه (غنیة الطالبین) .
که الله مکړه ښځه د نفاس او یا د ماشوم د پیدا کیدو په وخت کی مړه شي نو هغــی تــه د شهادت ثواب ورکول کیږي په شامي کی دي : (قوله والنفساء) ظـــاهره ســـواء ماتت وقت الوضع او بعده قبل انقضاء مدة النفاس (قوله قد عدهم الســـیوطی الخ).الی فی التثبیت نحو الثلاثین فقال : الی قوله . او بالجمع بالضم بمعنی المجموع

کالذخر بمعنی المذخور . والمعنی انها ماتت من شیئ مجموع فیها غیر منفصل عـنـــها من حمل او بکارة وقد تفتح الجیم ایضاً ع لی قلة قال صلی الله علیه وســـلم ایمــا امرأة ماتت بجمع فهی شهیدة الخ (شامی ج ۱ ص ۸۵۳ باب الشهید) .

د یتیم خانی پیسی په ډرامه کی استعمالول :

(۲۵۳ سوال) د یتیم خانی پیسی په ډرامه کی او نورو شیانو کی استعمالول څنګـه دي؟ بینو توجروا .

ځواب : د یتیم خانی پیسی په ډرامو او نورو شـیانوکی اسـتعمالول جـائز نـه دي بلکـی حرام او نـاروا دي . ان الذین یأکلون اموال الیتمی ظلماً انما یأکلون فی بطونهم ناراً وسیصلون سعیراً .

کوم خلک چی د یتیمانو مال په ظلم سره خـوري هغـوی بیشـکه پخپلـو ګیـډو کـی اور اچوي او ډیر ژر دغه خلک جهنم ته داخلیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

بسم الله الرحمن الرحیم

حامداً ومصلیاً ومسلماً ، زمونږ یو پخوانی دوست مفتي مرغوب احمد لاجپوري رحمه الله هم و نوموړی جید عالم او تجربه کار مفتي و ، په رنګون کی کلونو کلونو پـوری د افتـاء وظیفه تر سره کړی ، د هغهؒ یو لمسی د خپل نیکه نوم وراندی ایښودل شـوی دی ، پـه دی وخت د برطانیی په ټبوز کی مقیم دی ، ماشاء الله د دین په خدمت کی لګیـا دی ، د خپل نیکه د فتوو په ترتیب کی مشغول دی ، ډیر ښـه او سـتره علمـي ذوق لـري ، د فتاوی رحیمیه سره ډیره مینه لري ، د فتاوی رحیمیه د مطالعی په وخت کـی چـی کـوم عقلیه دلائل د هغه له نظره تیر شوي دي د هغوی تاثرات څه داسی دي :

په فتاوی رحیمیه کی د سائل په دی سوال چی " داسـی ولی دي ؟ " د مفتـي صـاحب مد ظلهم په قلم چی کوم ځواب ورکول شوی دی هغه نه یوازی دا چی راقم یی متـاثر کړی دی بلکی د هغه په زړه کی دا داعیه راپیدا کړه چی داسی ځوابونه ټول راجمـع کړی شي دغهٔ څو صفحی د همدغی داعیی نتیجه ده چی د لوستونکو په خـدمت کـی وړاندی کوو . امید دی چی لوستونکي حضرات د دغو صفحو په لوستلو خوند واخلي .

په حسن اتفاق سره په دیوبندکی د فتاوی رحیمیه نهم جلد کتاب جاري دي او له هغـه ځای نه یو خط راغی چی که چیرته نور زیات څیز شاملول ضروري وي نو ژر دی ولیږل

شي ، زما خیال راغی چی د موصوف دغه مضمون فتاوی رحیمیه نهم جلـد کـی شـامل کړم پدی سره به د موصوف حوصله افزائي وشي او انشاء الله لوستونکي حضرات به هم کټه ا وچتوي . الله پاک دی موصوف ته د دغه علمي کاوش پخپل دربار کی قبول کـړي او د علم د حدمت لپاره نور توفیق هم ورکړي آمین .

بحرمة النبی صلی الله علیه وسلم احقر سید عبد الرحیم لاَجپوري غفر له ولوالدیه

۲۷ رجب المرجب ۱٤۱۷ ھ .

فتاوی رحیمیه او عقلي دلائل

وینزه د خپل مالک لپاره له نکاح نه پرته ولی حلاله ده ؟

د یو چا پدی سوال چی وینزه له نکاح نه پرته د خپل مالک لپاره ولی حلاله ده او پدی کی څه حکمت دی ؟

حضرت مفتي صاحب د دی سوال په ځواب کی ولیکل :

که چیرته شارع علیه السلام د وینزو د حلت لپاره نکاح لازم وګرځوي نو پخپله وینـزو تـه لوی مشکل پیدا کیږي ، په قرآن کریم کی دي چی الله تعالی ستاسـی لپـاره د اسـانی اراده کړی ده او تاسی په تکلیف کی اچول نه غواړي .

یرید الله بکم الیسر (سورة بقرة) دا خبره دی په ذهن کـی وسـاتل شـي چـی پـه شریعت کی مالک لپاره د وینزی د حلت حکم د کوم خراب منشاء او غلط مقصد لپاره نه دی ، بلکی سراسر تولنیز او تهذیبي مصلحت او د وینزو خیر خواهي ده .

د وینزی لپاره د نکاح حاجت ځکه نشته چی شریعت د وینزي ملکیت د وطـی د جـواز لپاره د نکاح قائم مقام ګرځول دی ، څرنګه چی په ایجاب او قبول سره د نکاح انعقـاد او د بضعی ملکیت ترلاسه کیږي ، یعنی له منکوحی سره د وطی کولو حق محض شرعي اعتبار دی ، همدغسی کله چی وینزه په ملکیت کی راشي نـو د تمتـع د ترلاسـه کیـدو هم شرعي اعتبار دی ، نو د دی په جواز کی شرعاً او عقلاً د هـیڅ قسـم شـک او شـبهی ځای نشته .

دا واضح کول هم مناسب دي چی د اعتبار صورتونه هم مختلف دي ، مثلاً د حیوانـاتو ، حلالیدو لپاره ذبح کول ، بسم الله الله اکبـر ویـل او د هغـه مـری غوخـول شـرط او ضروري دي ، له ذبحی نه پرته نشي حلالیدلی ، خو د ماهي (کب) د حلت لپاره ذبـح

شرط نه دی . له ذبحی نه پرته هم خوړلی شو کله چې کب ونیول شي او د هغه مالک وګرځي نو هسده ملکیت د ذبح قائم مقام دی . حال دا چې دواړه حیوانات جانداره او روح لروونکي دي . لیکن د یو لپاره ذبح شرط او بل لپاره شرط نه ده . نو د ازادی ښځی د حلت لپاره نکاح شرط شو او د وینزی د حلت لپاره نکاح شرط نه شو که چیرته د هغی ملکیت د نکاح قائم مقام وګرځول شي نو په دی کی څه شی له عقل نه مخالف دی ؟ اوس دا خبره چې د مملوکه وینزه له نکاح نه پرته ولی حلاله ده ؟ دلته د ایجاب ، قبول او د نکاح شرط ولی نشته ؟ نو په دی کی لومړی خبره دا ده چې د دی څه ضرورت نشته . یعنی په نکاح کی ایجاب او قبول ځکه کیږي چې یو خاص قسم فایده چې تا ته حق نشته شرعاً تا ته د هغی حق حاصلیږي ، دلته کله چې د وینزی د خریداري او ملکیت له کبله د ټولو حقوقو مالک شولی نو د هغی فائدی هم مالک شوی چې د نکاح په ذریعه حاصلیږي نو له هغی سره نکاح کول تحصیل حاصل او هسی فضول کار دی .

دویمه خبره دا ده چې د نکاح په باره کی الهي ارشاد دی چې : "ان تبتغوا باموالکم" د ښځو د حرمت په نظر کی نیولو سره الهي کلام دا شرط ګرځولی دی چې څه مال دی ورکړی شي چې مهر ورته ویل کیږي ، اوس که چیرته د وینزی نکاح له بل چاسره وکړی شي نو دا مهر د وینزی مالک اخلي . لیکن که چیرته دوینزې نکاح پخپله له مالک سره وشي نو سوال دادی چې مهر به څوک ورکوي او څوک به آخلي ؟ ترڅو پورې چې وینزه وینزه ده دملکیت له حق نه محرمه ده هغه دهیڅ قسم مال مالکه نشي کیدلې ، له هغی سره چې هرڅه دي هغه دهغې دمالک دي . اوس ایا له مالک نه په اخستلو سره دی بیرته مالک ته ورکړي ، مالک دی پخپله غوښتونکی هم وي او پخپله اداکوونکی هم ، دایو هسی مسخره ده شرعي حکم او قانون نشي کیدای .

په دی کی نور مشکلات هم شته ، په کومه وجه چې دنکاح قید له حکمت نه خلاف و مثلاً داچې کله وینزه دازاد کفوه نه ده نوهغی ته خاوند پیداکول ګران کار دی او دهغه دا اثر کیدای شي چې جنسي اوراګی پیداشي او دیته دالله تعالی په کتاب کی فاحشه او فحشا ویل شوي دي چې دالله په نزد ډیر بدکار دی .

نو ځکه شریعت دا صورت تجویز کړی دی که څه هم فی الحال دنکاح صورت پکې نشته مګر دنیتجې په لحاظ سره دنکاح شان پیداکوي ځکه چې له وینزې نه دماشوم له

پيدا کيدو نه وروسته دمالک مالکيت ناقص کيږي ، يعني دهغه خرڅول جائز نه دي .
هغه نه په دې کور کې دماشوم دمور او دخپل مالک دښځې په خير اوسيږي ، اودمالک
له انتقال نه وروسته ازاديږي وارثانوته نشي ورکول کيدی . ص ۵۴ . ۵۵ . ۵۶ جلد اول
دجديد ترتيب په مطابق صحفه ۲۰۷ جلد اسم کې وئولئ .

دحيض په حالت کې دصحبت په باره کې :

۲ يو سړی دا سوال وکړ چې زما له نظر نه يو حديث تير شو چې محمدصلی الله عليه
وسلم فرمايلي دي چې کله له حائضي ښځې سره جماع وکړي نو نيم دينار په خيرات
کې ورکړه (مشکوات) لدينه داثابتيږي چې که دحيض په حالت کې صحبت کول
غواړي نو نيم دينار په خيرات کې ورکړه ، تاسې مهرباني وکړئ پدی باره کې په تفصيل
سره معلومات راکړئ .

خواب : تاچې دحديث کوم مطلب اخستی دی چې دحيض په حالت کې دنيم دينار په
خيراتولو سره جماع کونی شي دا بالکل غلط دی ، دلته دنيم دينار خيراتول دفيس په
توګه نه دی بلکې دجرمانی اودالله تعالی له غضب نه دخلاصون لپاره دی ، دفقهې په
کتابونو کې دي چې که څوک دروژی په ورځو کې له ښځې سره جماع وکړي نو کفاره
لازميږي . ددی مطلب دانه دی چې که دروژې په حالت کې دی جماع کول غواړي
نو دکفارې په ورکولو سره جماع کولې شي . ص۴۸ جلد څلورم .

له لمونځ نه وروسته دجهری دعاحکم

۳ـ يو سړي پوښتنه وکړه چې باجماعت فرض لمونځ نه وروسته دی دعاپه قراره
وغواړي او که په جهر سره ؟ که چېرته په قراره دغوښتو حکم وي نو څومره په قراره ، او
که چېرته په زوره سره ددعاکولو حکم وي نو دجهر حد څومره دی ؟ په دواړه کې کوم
يو بهتر دی په حديث کې له لمونځ نه وروسته څومره دعاغوښتل راغلي دي؟ هغه له
آوريدو نه بغير څنګه روايت شوی دئ ، مهرباني وکړئ په دی کې معلومات راکړئ چې
کوم يو يکې افضل دی ؟

خواب : سري او پته دعا افضله ده ، که چېرته لمونځ ګذارانو ته تکليف نه وي نو په
جهري آواز هم سره دعا جائز ده . هميشه دجهري دعا عادت ګرځول مکروه دی . په
احاديثو کې چې ددعاګانو په متعلق دارواياتونه دي چې محمدصلی الله عليه وسلم دا
دعاولوست . همداسې داهم روايت شوی دئ چې محمدصلی الله عليه وسلم په

رکوع کی سبحن ربی العظیم اوبه سجده کې سبحن ربی الاعلی ولوست لیکن څرنګه
چی درکوع او سجدی دتسبیحاتو له روایت نه جهر نه ثابتیږي
ددعاله روایتونو نه هم جهر نه ثابتیږي . ص ۱۸۲ جلد اول دجدید ترتیب په مطابق ص
۵۵۵ جلد شپږم اردو

په جامع مسجد کی دجمعې لمونځ داداکولو سره دمحلی دمسجد بی حرمتي

۴ـ دیو سړي په دی استدلال باندی چی که چیرته په جامع مسجد کې دجمعې لمونځ ولوستل شي نو دمحلی مسجد وران او ویجاړ پاتې کیږي اوپه دی سره دمسجد بی حرمتي کیږي داخواب ولیکل :
څرنګه چی داختر لمونځ داداکولو لپاره دجامع مسجد په بندولواوپه عیدګاه کی داخترونو لمونځونو په لوستلو سره دجامع مسجد بی احترامي نه کیږي بلکې په دی سره اسلامي شان اوشوکت کې زیات والي راځي، همدغسې دمحلی مسجد، په بندولو اوپه جامع مسجد کې دجمعې لمونځ لوستلو سره دهغه بی حرمتي نه کیږي .

څرنګه چی مخاطب په عربي نه پوهیږي نودی لپاره له عربي نه پرته پخپله ژبه خطبه لوستل څنګه دی.

۵ـ دجمعې اوداخترونو خطبې دی په خپلو ژبو ولوستل شي ځکه چی ډیر خلک دا مشکل لري چې په عربي ژبه نه پوهیږي
ځواب: که چیرته په عربي خطبه باندی نه پوهیږي نو په لمونځ کې چې کوم تلاوت کیږي پرهغه چیرته پوهیږي ؟ ایا داټول دی پخپلو ژبو کی ولوستل شي ؟ ددی مرض اصل علاج دادی چی عربي دی دومره زده کړی شي چی دخطیب دخطبې په مطلب پوه شي ، دعبادت صورت مسخ کول ددی علاج نه دی .

دروژی غلطي معاف دی لیکن دلمونځ او حج غلطي ولې معاف نه دی؟

۲۵۴ سوال په حدیث کې دي چې هرچادروژی په حالت کی سهواً څه وحوړل نو هغه دی خپله روژه پوره کړي ځکه چې هغه ته الله تعالی داخوراک ورکړی دی، خو برعکس په لمونځ او حج کې سهوه نه معاف کیږي.

خواب ددی وجه داده چې په روژه کې دننه داسې کوم هئیت نشته چې روژه ورپه یادکړي نو ځکه په روژه کې غلطي او سهوه معاف شوی دی، خود لمونځ په حالت کې قبلې ته مخ کول سرې ته دلمونځ دیادولو هئیت دی اوپه حج کې احرام یعنې له ګنډل شویو جامونه علاوه توره کپړه اغوستل وغیره مذکوره هئیت او شکل دی، نو ځکه په حج او لمونځ کی معذور نه ګڼل کیږي.

دسود په مسئله کې دیو مضمون نګار تعاقب

۲۵۵سوال: یو مضمون نګار دسود په اړه بکواس کولو سره لیکي: که ظلم نه وي نو سود حرام نه دی، دمضمون نګار دادعوه ده چې له غریب نه سود اخستل حرام دی خوله مالدار نه سود اخستل حرام نه دی، او قران حکم: (وان تصدقو اخیر لکم) نه دحپلې پوهې په مطابق دغه نوی تفسیر کړی دی. دمضمون نګار دنظر خلاصه څه داسې دی

په قران کریم کی دسود لنډیز دابیان شویدی چې سود آخستل او ورکول حرام دی، هغه دا و ددی چې دزکات، خیرات اودنورو مرستو حقدار وي اوله داسې غریبانونه دسود په اخستلو سره ظلم وکړی شي. ددغې باطلې نظریې کوم رد چې حضرت مفتي صاحب کړیدی هغه دلیدلو وړ دی.

دلته مضمون نګار دصدقې له لفظ نه دااجتهاد کړی دی چې له مالدارو خلکو نه سود اخستل حرام نه دی، صرف له هغو غریبو خلکو نه سود اخستل حرام دی چې پخپله دصدقې او خیرات حقدار وي.

مقاله نګار دقران کریم یو لفظ ته اختراعي او مصنوعي معنی په ورآغوستلو سره په هغو ټولو آیتونو باندی دتنسیخ خط راکش کړی دی چې لدینه مخکې راغلې دي، که

دمضمون نګار همدغه اجتهاد پاتې شي نو سونږ امید لرو چې په غریبو خلکو بـه لمـونځ هم ختم کړي . ځکه چې په قران کـريم کـی خـای پرخـای دا الفـاظ دي ((اقیمـــوا الصلواة واتوالزكاة)) لمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ . نو مضمون نګـار صـاحب بـه دنته هم دافیصـله کـوي چـې لمـونځ پرهغـه چـافرض دی چـی پرجازکـات فـرض وي اوپرچاچې زکات فرض نه وي په هغه لمونځ هم فرض نه د ی، شاید هغه قیمـار تـه هـم جواز ورکړي بلکې ممکن دی چی فرض ورته ووایي . ځکه چې په بخاري شـریف کـې دي چی محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : کوم سړی چی بل کـس تـه ووایـي چـې راځه قیمار وکړو نو پرهغه ضروري ده چی صدقه وکړي . مقاله نګار تـه داویـل پکـار دي چې قمار هغه چا لپاره حرام دی چی صدقه کولې شي او کوم غریب چـی صـدقه نشـي ورکولې نو هغه لپاره قمار حرام نه دی ، معاذ الله که چیرته ددی نوم تحقیق وي نـو بیـا په کوم لغت کی کتل پکار دي ، معاذ الله دقران کریم تـوهین اوپـه آیتونـو او احـادیثو باندی استهزانور څنګه وي ؟

له یو حدیث نه دقرباني دسنت کیدو استدلال صحیح دی؟

۲۵٦سوال : دیو غیر مقلد قول دی چی قرباني واجب نه محض سنت دی . دهغه دلیـل دادی چی دمحمدصلی الله علیه وسلم فرمان دی : هرڅوک چې دذی الحجه سپوږمی وګوري او دهغه اراده دقرباني کولو وي نو هغه دی خپل ویښتان نوکان ترهغه غـوڅ نـه کړي ترڅو پورې چی قرباني یې نه وي کړی .
لدې لفظ نه معلومیږي چی قرباني واجب نه دی بلکې سنت دی : ایـا دادلیـل صـحیح دی ؟
خواب: قرباني محض سنت نه بلکې واجب دی دمحمدصلی الله علیه وسلم ارشاددی: کوم سړی چی دنصاب خاوندٔ وي اودقرباني کولو قدرت لري او قرباني ونه کـړي هغـه دی زمونږ عیدګاه ته نـه راځـي . ((عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال من کان له سعة ولم یضح فلا یقربن مصـــلانا))(ابـن ماجـه ص ۲۳۲) یعنی کوم سړی چی دومره مال لري چی قرباني وربانـدی وکـړي او قربـاني ونـه

کړي نو زموږ عیدګاه نه دی نه راځي. لدې نه ثابتیږي چې قرباني واجب دی. سل داځې په حدیث شریف کې د اراد لفظ راغلې دی دایوه محاوره او عامه وینا ده داد وجوب په خلاف نه دی. دحج لپاره هم دالفظ راغلی دی په حدیث کې دي من اراد الحج فلیتعجل یعنی څوک چې دحج اراده وکړي نو تلوار دی وکړي (مشکوات شریف ص۲۲۳) نو ایا حج هم سنت دی؟ لدې داځې قرباني واجب دی نه محض سنت.

دحفاظو دعزت لپاره دګلونو امیلونو اچول

۲۵۷ سوال: په تراویح کې د قرآن کریم له ختم نه وروسته د حافظ د عزت لپاره هغه ته دګلونو امیلونه اچول څنګه دي؟

جواب: د قرآن کریم د ختم په شپه چې حافظانو ته د ګلونو کوم امیلونه اچول کیږي دا یو غلط او بد رواج دی. په دې کې اسراف هم دی. که چیرته د حافظ عزت مقصود وي نو هغه ته عربي رومال یا شال ولې نه ورکوی؟

که له غروب نه مخکې سپوږمی ولیدل شي نو د افطار څه حکم دی؟

۲۵۸ سوال: که چیرته د اختر سپوږمی د لمر له پریوتو نه مخکې ولیدل شي نو افطار کولی شو او که نه؟

جواب: روژه نشي ماتولی. او د مولانا امر تسري فتوه دا ده چې که یوې ښځې ته د دغې ورځې په آخره کې حیض راشي نو هغې ته د روژې ماتولو حکم دی، په همدې باندې قیاس کولو سره په مذکوره حالت کې هم همداسې کولی شي یعنی روژه ماتول ورته پکار دي. یو شخص د دغو دوارو فتوو په صحت کې سوال وکړ نو هغه په جواب کې وفرمایل: الحمد الله د فتاوی رحیمیه فتوه صحیح ده الی قوله. تا چې کومه فتوه نقل کړی ده هغه صحیح نه دی او نه پر هغې عمل جائز دی. په حائضه ښځه باندې قیاس کولو سره روژه نشي ماتولی ځکه چې د حیض په راتلو سره پخپله روژه ماتیږي او پر هغې یې قضاء لازم دی. د حیض په حالت کې روژه نیول حرام ده که چیرته د سپوږمی په لیدلو سره د روژې ماتول صحیح وي نو بیا د ماښام لمونځ لوستل هم جائز کیدل پکار دي حال دا چې دا هیڅوک نه مني

د طلاقې شوې ښځې د نفقې په شرعي حیثیت باندې عجیب استدلال

(۲۵۹ سوال) د طلاقې شوې ښځې نفقه په خاوند باندې تر کوم وخت پورې لازمه ده؟ د شرعي فیصلې په نظر انداز کولو سره د حکومتي قانون باندې د عمل کولو په ترڅ کې تر دویمې نکاح پورې د نفقې غوښتنه کول څنګه دي؟

د دې تفصیلي ځواب خو په فتاوی کې موجود دی خو پدې کې یو عجیب استدلال سره د خپلې مدعی ثبوت د لوستلو وړ دی

په شرعي اصطلاح کې له نفقې نه مراد خوراک، پوشاک او د اوسیدو کور دی په سرې باندې د ښځې د نفقې د وجوب سبب د ازدواجي اړیکو موجود والی دی. لهذا له نکاح نه وروسته په خاوند باندې د ښځې نفقه لازمیږي او تر خو پورې چې دغه ازدواجي اړیکې قائمې وي په خاوند باندې د هغې نفقه واجبه ده، او کله چې دغه اړیکې ختمې شي نو د سبب د فوت کیدو له کبله د نفقې لزوم هم نه پاتې کیږي لکه چې د نوکرې او حکومتي ملازمت د قائم کیدو په وجه د تنخوا ورکول لازمیږي او د ملازم د بدعهدۍ او نافرماني په سبب د ملازمت د تعلق له ختمیدو نه وروسته د تنخواه ورکول هم موقوف کیږي، لدینه وروسته چې ملازم تر بل ملازمت پورې د تنخواه مستحق نشي کیدلی نو دا به څه کوي او له کوم ځای نه به خوري؟ ایا غلا به کوي او که د جوارۍ له لارې به پیسې تر لاسه کوي؟ د نو خبرو ته خو د چا خیال هم نه کیږي مګر کومه ښځه چې د خپل بداخلاقي، بدزباني او نافرماني له کبله له نکاح نه ویستل شوې وي په دې خیال سره چې هغه به له کوم ځای نه خوراک څښاک پیدا کوي، چیرته به خې پدې سره خو به بدچلنه شي، په دغه مفروضې سره په خاوند باندې د ښځې تر بلې نکاح پورې نفقه لازمول د کوم ځای عقل مندي دی.

په قبر باندې آذان کوونکو په یو استدلال باندې یوه زړه پورې رد

(۲۶۰ سوال) په قبر باندې چې کوم خلک اذان کوي او دی لپاره دا دلیل وړاندې کوي چې د آذان په آوریدو سره شیطان تښتي نو پدې سره مړي د هغه له شر نه محفوظ پاتې کیږي. د هغوی د دغه استدلال په ځواب کې لیکي داهم ضروري نه دی چې ته شیطان شرارت وکړي هلته دې آذان وکړی شي. په حدیث شریف کې

دي " ان الشيطان يجری من الانسان مجری الدم " متفق عليه شيطان د انسان په بدن کی داخليږي او د وينی پشان پکی گرځي . مشکواة شريف ص ۱۸ باب فی الوسوسه بدعتيان دی خواب ووائي چی آيا په دی وخت هم آذان کول سنت دي . همدغه راز په حديث کی دي چی کله ښځه او خاوند جماع کوي نـو شيطان شرارت کوي او په هغو کی د شامليدو کوشش کوي نو ځکه محمد صلی الله عليـه وسلم امت ته هدايت کړی دی چي له صحبت نه مخکی دا دعـا ولـولئ : بسم الله اللهم جنبنـا الشيطان وجنب الشيطان ما رزقتنا

ای الله ! مونږ له شيطان نه لری وساته او هغه اولاد چی ته يی مونږ ته راکوی .
او د انزال په وخت کی په زړه کی د دغی دعا لوستلو هدايت کړی دی .
اللهم لاتجعل للشيطان فی ما رزقتنی نصيباً . ای الله ! هر څه چی ته مونږ تـه راکـوی په هغه کی د شيطان حصه مه پيدا کوه . (حصن حصين ص ۱۲۰) .
ايا بدعتيان له خپلو ښځو سره دمصاحبت په وخت کی اذان کوي ، که نه کوي نو بيـا د دی څه وجه ده ؟ همدغه راز په حديث کی دي چی په بيت الخلا کـی خبيـث پيريـان اوسيږي چی د انسان له شرمگاهو سره لوبی کوي ، نو ځکه محمد صلی الله عليه وسـلم امت ته هدايت کړی دی چی بيت الخلا ته له تللو نـه وړانـدی اللهم انی اعوذبك من الخبث والخبائث " ووايئ ايا بدعتيان بيت الخلا ته د تللو په وخـت کـی د شـيطان لـه شرارت نه دمحفوظ کيدو په خاطر اذان کوي ؟ که اذان نه کوي نو په څه وجـه ؟ اهـل سنت والجماعت وائي چی په دغو ځايونو کې اذان کول ثابت نه دي نو ځکه اذان نـه کوي ، همدغسی په قبر باندی اذان کول ثابت نه دي نو ځکه هلته اذان نه کوي او نـه ورته مسنون وائي .

د ښځی او خاوند د شرمگاهونو ظاهري حصی پاکی دي نو ځکه د ښکلولو اجازت دی

(۲۶۱ سوال) د سړي او ښځی د شرمگاهونو ظاهري حصی پاکی دي او که ناپاک ؟ کـه چيرته د همبستری په وخت کی ښځه د خپل خاوند ذکر په خوله کی ونيسي يا سـړی د ښځی د شرمگاه ظاهري حصه ښکل کړي نو دا کارونه جائز دي او که نه ؟

خواب :بيشكه چې د شرمګاه ظاهري حصه پاكه ده ليكن دا ضروري نه ده چې هر پـاك څيز دې په خوله كې ونيول شي او يا ښكل كړى شي او وختل شي .
د پوزى رطوبت پاك دى ايا د پوزى دننه حصه څټل او رطوبت تـه ژبـه وړانـدى كـول ښه كار كيداى شي ؟ ايا د دغه كار اجازه وركول كيداى شي ؟
د مقعد ظاهري حصه هم ناپاكه نه ده ايا د هغه څټل او يا ښكلول جائز كيداى شي ؟ نـه هرګز نه ، همدغسى د ښځى شرمګاه څټل يا ښكلول جائز نه دي ، مكروه او ګنـاه ده دا له سپيانو سره مشابهت دى .

خصي سړى كلمه ګو دى نو بيا د هغه امامت ولى صحيح نه دى ؟

(۲٦۲ سوال) يو شخص د مفتي صاحب د دغه فتوه په ځواب كې چې خصي او ايجـړه پسى لمونځ نه كيږي دغه استدلال وړاندى كوي چې كوم سړى خصـى وي هغـه كلمـه ګو او صحيح ايمان واله خو دى نو هغـه پسـى لمـونځ ولى نـه صـحيح كيـږي ؟ د دغـه شخص په ځواب كى ليكي :
كه چيرته د هر كلمه ګو امامت صحيح وي نو بيا خو ښځه هم كلمه ګو ده ليكن د هغـى امامت جائز نه دى . نابالغ هم كلمه ګو دى ليكن هغه پسى لمونځ نـه كيـږي ، همدغـه راز كوم سړى چې پخپله خوښه ځان خصي كوي د هغه امامت هم صحيح نه دى ځكـه چې ځان خصي كول حرام دي او داسى سړي ته د امامت په شان اوچته مرتبه وركـول ښه كار نه دى .

په طلاق كې سړى ولى مختار دى ؟

(۲٦۳ سوال) په طلاق وركولو كى سړى ولى مختـار دى پـه داسـى حـال كـى چـى د نكاح په وخت د ښځى رضا معلومولى شي نو د طلاق په وخت كى د ښځى رضا تـه ولى نه كتل كيږي ؟
خواب : كله چې آقا ملازم ساتي نو د دواړو په رضا سره دا كـار كيـږي لـيكن كلـه چـې ملازم د آقا د كار جوګه پاتى نشيَ او يا د دواړو تر منځ بى اتفاقي راشي نو آقا هغه لـرى كوي برابره خبره ده چې ملازم خوشال وي او كه نه ؟ همدغه راز كله چې د ملازم زړه له ملازمت نه تنګ راشي نو هغه له خپل كار نه په استعفى وروكولو سره ځان خلاصوي ،

دا یو دنیاوي قاعده ده چې خلک یې قبلوي نو د شرعي قانون په منلو کې څه حـرج او ندی دی ؟

د حجر اسود په ښکلولو د هغه د عبادت شک پیدا کیږي

۲٦۴ سوال) غیر مسلم اعتراض کوي چې مسلمانان د حجـر اسـود پـه ښکلولـو سـره د. هغه عبادت کوي . هغوی ته څنګه ځواب ورکړی شي ؟

ځواب حجر اسود د محبت لـه کبلـه ښکلـولی شـي ، سـړی خپـل اولاد او ښځـه هـم ښکلوي ایا هغوی خپل معبود ګڼي ؟ نه هرګز نه .

لمونځ ګذارانو ته د آواز رسیدو لپاره د لاسپیکر استعمالول

(۲٦۵ سوال) د امام تکبیرونه خو د آوازونـو د انتقـال پـه وجـه شـاته ولاړ مقتـدیانو تـه رسیږي مګر د امام د قرائت آواز نه رسیږي لهذا د اختـر پـه لمونځونـو کـې د لاسـپیکر استعمال څنګه دی ؟

ځواب : د لمونځ د صحت لپاره د امام قرئت اوریدل ضروري نه دي ، پـه ظهـر او عصر کې د امام قرئت چیرته اوریدل کیږي ، همدغه راز د ماښام دریم رکعـت او د ماسـختن دریم او څلورم رکعت کې قرئت نه لوریدل کیږي مګـر د دی بـاوجود لمـونځ صـحیح کیږي .

له محرم نه پرته د ښځې حج کول

(۲٦٦ سوال) څو ښځې له خپلو محرمو نه پرته د قافلې په شکل کې حج ته تللـی شـي او که نه ؟

ځواب : یوازې ښځې د ښځې کیدو په صورت کې د فتنې ویره نور هم زیاتیږي په سـړک کې چې د یو ماشوم لپاره دمـوټرو او ټـانګو څـومره خطـره وي کـه لـه هغـه سـره نـور ماشومان هم ملګري شي نو په دی سره دا خطره کمیږي نه بلکې زیاتیږي .

د تقلید په باره کې

(۲٦۷ سوال) د دین اصل دعوت دا دی چې یوازې د الله اطاعت وکړی شي ، تـردی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت هم په دی خـاطر واجـب دی چـې هغـه پخپل قول او فعل سره د الهي احکامو ترجمانی کړی دی چې کوم یو څیـز حـلال دی او کوم یو حرام دی ؟ په دی ټولو کارونو کې اطاعـت خـو یـوازې د الله کـولي شـي مګـر

محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت کوو او د هغه صلی الله علیه وسلم اطاعت په حقیقت کی د الله تعالی اطاعت دی . الهي ارشاد دی . من یطع الرسول فقد اطاع الله لهذا د شریعت په ټولو معاملات کی صرف د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت ضروری دی . کوم سړی چی د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم نه علاوه د بل چا د اطاعت کولو قائل وي او هغه مستقل بالذات مطاع گڼي نو یقینا چی بیخي مذموم کار دی . لهذا هر مسلمان لپاره ضروري دي چی په قرآن کریم او حدیث کی ځینی احکام داسی دي چی قرآني آیتونو او صحیحو احادیثو څخه صراحتاً ثابت دی او هیڅ قسم تعارض پکی نشته دغه قسم احکام او مسائلو ته (منصوصه) وائي لیکن ځینی احکام داسی دي چی په هغه ابهام او اجمال وي . ځینی ځینی مشترک دي او ځینی مؤول . او څه احکام داسی دي چی په ظاهره د قرآن کریم د کوم آیت یا حدیث سره متعارض معلومیږي د هغوی د څو مثالونو له بیانولو نه وروسته لیکي : -

په داسی مسائلو کی له اجتهاد او استنباط نه کار اخستل پکار دي . په داسی ځایونو کی عمل کوونکو لپاره مشکل او پریشاني پیدا کیږي چی څنګه عمل وکړي ؟ پخپله اجتهاد وکړي او که د اسلافو په فهم او بصیرت باندی اعتماد وکړي . په داسی وختونو کی عقل خبره دا ده چی څرنګه مونږ پخپلو دنیاوي کارونو کی د فن د ماهرینو په مشورو باندی عمل کوو لکه د بیماری په وخت کی د ډاکټر مشوره منو د کور جوړولو په وخت کی د انجنیر خبره منو او هغوی چی څه وائي ورسره منو . همداسی به د دیني معاملاتو کی د هغو مقدسو حضراتو په فهم او بصیرت باندی اعتماد کولو په ترڅ د مجتهدو ائمه و څخه دیو مجتهد په قول او وینا باندی عمل کوو نو دیته په اصطلاح کی تقلید ویل کیږي . دتقلید حیثیت صرف دادی چی تقلید کوونکی دخپل امام تقلید په دی فکر کوي چی هغه په قرآن او حدیث باندی عمل کوي او دشریعت دخاوند پیروي کوي . هغه داتصور کوي چی امام دشریعت دخاوند او ددی ترمنځ یوه واسطه ده . دمثال په ډول که چیرته په جمع ډیر خلک ولاړ وي او دامام آواز شاته مقتدي نه آوري نو په دی وخت کی یو مکبر تکبیر ویونکي مقرریږي هغه مکبر دامام پسی اقتداکوي اوبه اوچت اواز سره الله اکبر په ویلو سره دامام نقل او حرکت ، رکوع او دسجدو اطلاع شاته ولاړه صفونو ته رسوي دصفونو خلک دافکر کوي چی مونږ دامام اقتداء او اتباع کوو پخپله مکبر هم داگڼي چی زه پخپله امام نه یم بلکې زما اودټولو خلکو امام

يو دى . تول دهمدغه يو امام پسې اقتداكوي زه خو يوازې دامام دنقل او حركت خبر دركوم

دتقليد مثال هم همداسې دى مقلد فكر كوي چې زه دالله اودهغه درسول صلى الله عليه وسلم اطاعت او اتباع كوم.

له دغه مهم مثال نه دتقليد حيثيت پخپله واضح شو اودغير مقليدينو اعتراض او اشكال له منځه لاړ ، هسې بى ځاى اعتراض كول له ضدنه علاوه بـل څـه نشـې كيـدلى . والله المستعان على ماتصفون .

په يو بل ځاى كى دتقليد دضرورت په اړه واېي :

كه چيرته په پراخه زړه غور وكړى شي نو واضح كيږي چې تقليد يو طبعى او فطري كار دى او يو قدرتي ضرورت دى چې له انسان سره دهغه دسورى پشان ملګـرى دى ، غير مقلدين هم لدينه بى نيازه نه دي ، دهغوى واړه ماشومان خپلو مشرانو ته په كتلـو سره دهغوى پشان لمونځونه كوي ، دهغوى دكور ښځې عالمانې اوپه حديثو پـوه نـه وي لـه سرو نه پوښتنې كوي او بيا پرهغه عمل كوي ، پخپلـه غير مقلـدين هـم تـول عالمـان او محدثين نه وي هغوى هم له خپلو مشرانو نه پوښتنى كوي او دهغـه پـه رنـا كـې عمل كوي .

دهغوى داكار بد نه ګڼل كيږي ، شـرک بـدعت او ګنـاه ورتـه نـه ويـل كيـږي معمـولي غوندى صفت او حرفت هم له تقليد نه پرته نه كيږي، دطب كتابونو پـه كتلـو او لوستلو سره څوک حكيم او ډاكتر نشي جوړيدلى ، كه داسې سړى دواخانـه وباسـي او دخلكـو علاج شروع كړي نو هغه ته مجرم ويل كيږي او څوک چې پرهغه علاج كوي هغـه لـوى كم عقل وي ، مشهور متل دى نيم حكيم خطره جان ونيم ملاخطره ايمان ، په هـر حـال په دنيا كې دهر كار لپاره دتقليد ضرورت دى ليكن ددين پـه معاملـه كـې دځـو حـديثو كتابونو دترجمو په مطالعى سره خپل ځانتـه دعلومـو مـاهر ويـل اودهـدايت پراماما نو بدګماني كول ، دهغوى په شان كى ګستخاني كول اودهغوى تقليد ته شـرک او بـدعت ويل ، په خپل ناقص فهم باندى اعتماد كول اوخپل نفساني غوښتنـه عـين توحيـد ګڼـل دكوم ځاى انصاف كيداى شي ؟ په داسې عقل او پوهې باندى بايدژر او كړى شي ، كه زمونږ غير مقلدين ورونه خپل ضد پريږدي اوپه پراخه تندہ غور وكړي نو هيڅ وجه نشته چې په عدم تقليد باندى ځان كلک كړي او پخپل سلوک او روښن بانـدى نـدامت ونـه كړي.

په یو مثال سره دبدعت دقباحت بیانول

۲٦۸ سوال: حضرت مفتي صاحب مد ظلهم العالي پخپل یوه رساله " اسلام کی دسنت عظمت او بدعت قباحت " کی دبدعت مذمت اوپه بدعت سره په سنت باندی څه اثر پری اوځي دایي په یو داسې مثال سره بیان کړی دی چی سیده زړه ته نه ننوځي ، دبدعت پرینبودل لازم او ضروري دی ترڅو امت دسنت په رڼا کې خپل اعمال روښانه کړي او سنت ته د پراخیدو او مضبوطیدو موقع پیداشي ، هغه لیکي:

دبدعت په وجه سنت ته ډیر لوی نقصان رسیږي اوبدعت دسنت ځای نیسي ، بالا خر نیست او نابود کیږي ، دمثال په توګه دغنمو شولو باجره او نورو فصلونو کی ګیا او نور فضول وابنه شنه کیږي هغه چی څومره غټیږي همغومره فصل ته نقصان رسیږي ، له دې نقصان نه دبچ کیدو په خاطر دهقان ګنده بوټي او ګیاه له سخه باسي په دی سره فصل قوي کیږي او ښه پیدا وار ورکړي ، که چیرته هغه ګنده بوټي او ګیا پاک نه کړی شي نو فصل ته سخت نقصان رسوي همدا دبدعت حال هم دی بدعت د ګنده بوټو او ګیاه په شان دی چی سنت خوریدو او قوي کیدو ته نه پریږي که چیرته ابتداء نه دبدعت جرړی ونه ویستل شي او امت لدینه ونه ساتل شي نو بالاخر بدعت غالبیږي اودسنت ځای په نیولو سره سنت له منځه وړي .(اسلام مین سنت کی عظمت اور بدعت کی قباحت صفحه ٦) فقط مرغوب احمد لاجپوري غفرله ، خ (ډیوزیری)

برطانیې ته دسفر په وخت دجمیعت علماء اودرویت هلال کمیټي په دعوت زما ترصدارت لاندی دغونډی مختصر احوال او دمتفقه فیصلی نقل :

مخدومنا لمکرم حضرت مولانا مفتي سید عبدالرحیم لاجپوري صاحب مدظلهم العالي دامت برکاتم وفیوضبهم اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته؟

امید دی چی ستاسې مزاج شریف به ښه وي ، مونږ ټول دوستان شپې ورځې ستاپاره دعاکوو ، عرض دادی چی تاسې په ۱۹۷۸ ع کال کی برطانیې ته تشریف راوړی و، معلومه شوی ده چی په هغه وخت دجمیعت علماء برطانیه درویت هلال کمیټي ممبرانو او مسئولینو ستا ترصدارت لاندی یوه غونډه شوی وه اوپه برطانیاکې دهلال دثبوت دمسئلې په مختلفو اړخونو غور شوی و او فیصله هم شوی وه .

ستاسی محترم حضورته عرض دی چی ددغې غونډی دلنډ معلومات یو کافي مونږ ته ولیږئ . جزا کم الله .

بسم الله الرحمن الرحیم

حامدا ومصلیا ومسلما امابعد

مکرمی السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته : ددواړو لورو عافیت له الله نه غواړم . ستاسې خط راورسید . تاسې دغوندی دمختصری فیصلې نقل او کافي غوښتی دی . کیسه څه داسې وه چې ۱۹۷۸ دجولايي دمیاشتې په ۱٦ تاریخ زما ترصدارت لاندی یوه غونډه وشوه په هغه کې رویت هلال په مسله کې له غـور او فکـر نـه وروسـته دغونډی برخه والو په دی فیصله باندی لاسلیکونه وکړل .

په لومړی سر کی حضرت مولانا مفتی عبدالباقي صاحب دامـت برکـاتهم خبـرې وکـړی چی مفهوم یې څه دارنګه و : دلته په برطانیا کی تول کـال پـه اسـمان کـی وریځـی او خړه وي ، نو څکه ۲۹ مه سپوږمی په نظر نه راځي دیـر کـم وخـت داسـې راځـي چـی ولیدل شي نو څکه دیوبل اسلامي ملک اطلاع او خبر ته ضرورت دی ، دلتـه دمختلفو مسلکونو خلک اوسیږي .

دسعودي عربستان اوسیدونکی او جماعت اسلامي دسعودي حکومت په سپوږمی باندی داختر کولو اصرار کوي خو دپاکستان اوسیدونکي وايي چې له پاکستان سره دی رابطه وکړی شي . هندوستاني وکړي وايي له مراکش سره دی رابطه وکړی شي . په هغه کې هم دوه فرقی دي (دیو بندي او بریلوي) چی یو بل باندی اعتمـاد نـه کـوي ، نتیجه داکیږي چی تردوه دریو ورځو پـورې جـلا جـلا اخترونـه کیـږي، پـه دی صـورت کـې داتحاد اوتفاق دوه صورتونه ترسترګو کیږي .

۱ـ دمختلفو مکتبه فکر افراد دی د هوائي جهاز پـه ذریعـه لـه وریـځ نـه بـره لاړشـي او داختر سپوږمی دی وګوري . ترڅو متفقه فیصله وشي . ایا په دی بانـدی عمـل کیـدای شي ؟

۲ـ له اسلامي ممالکو نه چی هر یو خبر نوموړی دموجب پـه طریقـه ورسـیږي هغـه دی ومنل شي په دی کی دیو ملک ترجیح هم نه لازمیږي په دی کی هم تول متفق کیدای شي ، ایا دسعودي عرب خبر قبلولی شي ؟ په دی کی هم دمطلع مختلـف والی خـو نـه مانع کیږي ؟

دلومړی صورت په متعلق ماعرض کړی و چی په برطانیه کی ددغـه پیچیـده حـالاتو پـه وجه په دی باندی دعمل کولو ګنجائش شته ، اګر چی داطریقه غیر متحسـن او ګرانـه

دد نو ځکه ددی عام اجازه نشي کيدای له اختلاف او فتنې څخه دبچ کيدو لپاره يوازې په برطانيه کې ددی ګنجائش موجود دی ځکه چې قانون دادی چې الضرورات تبيح المحظورات
ددويم صورت په متعلق احقر عرض کړی و چې برطانيه سراکش ته نژدی دی که له هغه هيواد سره اختر ياروژه وکړی شي نو دابه ده ، خو په خواب کی راته وويل شول چې دعرب اوسيدونکيی مراکش ته ترجيح ورکول نه خوښوي ، بيا ماوويل که دسعودي عرب خبر په شرعي طريقې سره ترلاسه شي او خبر ددی خای په اعتبار سره ۲۹_۳۰ تاريخ ترمنځ وي نو دمنلو وړ دی دمطلع اختلاف مانع نه د ی.
په فتاوی عالمګيري کې دي : ((ولا عبرة لا ختلاف المطالع فی ظاهر الرواية كذا فی فتاوی قاضي خان وعليه فتوی الفقيه ابی الليث وبه كان يفتی شمس الائمة الحلوانی قال لورأی اهل مغرب هلال رمضان يجب الصوم اهل مشرق كذا فی الخلاصة))
(عالمګيري ج۱ص۲۱۱)
علامه شبر احمد عثماني رحمه الله فرمايي :
((نعم فينبغی ان يعتبر اختلافها ان لزم منه التفاوت بين البلدتين باكثر من يوم واحد لان النصوص مصرحة بكون الشهر تسعة وعشرين أو ثلاثين فلا تقبل الشهادة ولايعمل بما فيما دون اقل العدد ولا ازيد من اكثره .)).
(فتح الملهم شرح مسلم ج ۲ ص۱۳۳)
دفقهی په کتابونو کی دي کله چې ديو ښار خلک سپوږمی وګوري نو دنورو ښارونو خلکو لپاره هم حجت دی ، برابره خبره ده چې ددواړو ښارونو ترمنځ څومره ډيره فاصله ولې نه وي ان تردی چې که په مغرب کې سپوږمی وليدل شي او دهغه خبر له معتبرې طريقې نه دمشرق اوسيدونکو ته ورسيږي نوپرهغوی ددغې ورځې روژه ضروري دی .
(در مختار رد المختار وغيره) علم الفه ج ۳ ص ۱۸/ ۱۷

مفتی اعظم حضرت مولانا مفتي محمد کفایت الله قدس سره لیکي

سوال که چېرته له کوم لرې ښارنه دسپوږمې دلیدو خبر راشي ایا هغه معتبر دی او که نه ؟

ځواب که له ځومره لرې ښار نه خبر راشي هغه معتبر دی ، مثلاً دبرما اوسیدونکو سپوږمۍ نه ده لیدلې او دبمبۍ اوسیدونکي دهغوی په وړاندې ګواهي ورکړه نو پرهغوی دیو روژې قضا لازمه ده ، خو شرط دادی چې خبر په داسې طریقه راشي چې په شریعت کې معتبر وي . دټلیفون خبر صحیح نه دی . (تعلیم الاسلام ص۵٦ حصه چهارم)

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله علیه فرمایي :

دانبیاء علیهم السلام شان او طریقه ډېره آسانه ده دهغوی په کلام کې څه کمې او کسر نشته نو ځکه امام صاحب رحمه الله علیه اختلاف مطالعې ته معتبر نه دي ویلي که چېرته له مکه یامدینې څخه په شرعي ثبوت سره خبر راشي چې هلته سپوږمۍ لیدل شویده نو دهندوستان پرخلکو دهغه په وجه دروژې نیول فرض دی . الی قوله .

امام ابو حنیفه رحمه الله دمطالعو اختلاف ته اعتبار نه د یورکړی ، دهغه وینا نقل او عقل سره مطابق دی ، دنقل ځکه مطابق دی چې له حدیث نه معلوم شوی چې ((نحن امة امیة لا نکتب ولانحسب)) لدینه معلوم شو چې دشرعي احکامو مدار داسې دقیق قواعد ، حساب او هئیت باندی نه دی چې په هغه کې دفن مهارت ته ضرورت وي ، لهذا درياضي په دقیق حساب باندې چې هرڅوک وربادی نه پوهیږي په شریعت کې معتبر ونه ګڼل شي . او له عقل سره ځکه مطابق دی چې شرعي احکام دټولو عاملو لپاره عام دی چې په هغه کې عالم او جاهل ، فلسفي او غبي محاسب او غیر محاسب ټول شامل دي ،لهذا په شرعي احکامو کې باید داسې خبره نه وي چې یوازې فلسفي او محاسب یې معلوم کړی شي او نور یې معلوم نه کړی شي ښکاره خبره ده چې دمطالعو اختلاف ته یو خاص فاصلې پورې وي ، داسې نه دی چې لدی ځای نه ترډهلي پورې دمطالعو اختلاف وشي بلکې دی لپاره یو خاص مقدار معلوم دی چې یوازې ریاضي دانان ورباندی پوهیږي ، دسپوږمۍ لیدل او ګواهي داسې څیز دی چې هرڅوک ورباندې ښه پوهیږي ، پس دهلال مقدار دی په رویت او شهادت باندی وکړی

شي نه دمطالعو په اختلاف باندی ، نو ځکه دامام ابو حنيفه قول له شرعي اصولو سره هم موافق دی او دعقل له اصولو سره هم (وعظ العشر ص ۸۰۷) لدینا، وروسته لاندینی فیصلی باندی مجلس حاضرینو دستخطونه وکړل . دفیصلې فوټو کافي لدی سره منسلک دی . فقط والسلام .

متفقه فیصله

اسلام کلچر سنټر لندن .

مورخه ۱۵ جولایي ۱۹۷۸ ع .

دبرطانیي مسلمانان په دی خبره اتفاق کوي چی دروژې او اخترونو لپاره درویت هلال همغه طریقه اختیار کړی شي چی په نبوي سنت کی بنودل شوی دی . او ددی طریقه به داسې وي .

(الف) په برطانيه کې دسپوږمی دلیدلو کوشش دی دجغرافیایي امکان په رنا کی وکړی شي او دعلماو یوه کمیټي به دجهاز په ذریعه دلیدلو کوشش کوي .

(ب) که چیرته په برطانیا کی په مذکوره طریقه سپوږمی ونه لیدل شي نو له کوم اسلامي ملک نه دی درویت هلال په شرعي ډول د ثابت شوي شهادت په خبر باندی انحصار وکړی شي .

(ج) رویت هلال کمیټي به د "الف" یا "ب" په روشني کې دسپوږمی دلیدو اعلان کوي او ددی به پراخه پیمانه دتشهیر اهتمام کولی شي ترڅو دبرطانیه پوره جزائر کی په یوه ورځ دروژې اغاز او اختتام وکړی شي . دشریکانو دستخطونه .

نوټ : لږ غوندی فاصله ددستخطونو دچاپ لپاره پریږده .

دجمیعت علماء برطانیه رویت هلال کمیټي ۱٦ جولائي ۱۹۷۸ ع کال دماسپښین دو بجی دحضرت مولانا مفتی سید عبدالرحیم صاحب لاجپوري ترصدارت لاندی چی کومه متفقه فیصله لیکل شوی وه هغه ټول یې دحاضرینو په وړاندی ولوست او هغه ته یی صحیح وویل : دکمیټي له ارکانو نه علاوه چی کوم علماو په دی میټنګ کی موجود وو هغوی هم پوره توافق ورسره وکړه .

باب المسکرات

دیخنـي دمقـابلې لپـاره برانـدي او نـورو مسـکراتو اسـتعمال څنګه دی ؟

۲٦٩ سوال : انګلینډ (یوکی) کی ډیره زیاته یخنـي ده هندوستاني او سیدونکي هغه نشي زغملې لهذا په جسم کې دحرارت دپیداکولو پـه غـرض دبرانـدي دڅکلـو شـرعاً اجازه شته او که نه ؟

ځواب: دبراندي او نورو مسکراتو استعمال حرام او ناجائز دی ، په مسئوله صـورت کـی هم په شریعت کی دبراندي او نورو مسکراتو استعمال جائز نه د ی.

په حدیث شریف کـی دي : عن دیلم الحمیري قال قلت لرسول الله صلی الله علیـــه وسلم یارسول الله ! انا بارضٍ باردة عملاً شدیداً وانا نتخذ شراباً من هذا لقمـــح نتقوی به علی اعمالنا وعلی برد بلادنا قال هل یسکر قلت نعم قـــال فـــاجتنبوه قلت ان الناس غیر تارکیه قال ان لم یترکوه قاتلوهم (رواه ابوداؤد) مشکواة ج ۲ ص ۳۱۸ باب بیان الخمر ووعید شاربها . یعنـی دیلـم حمـیري بیـان کـوي چـی ما محمد صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ چی مونږ پـه یخـه علاقـه کـې اوسیږو ، ډیـر سخت سخت کارونه کوو ، له غنمو نه جوړشوي شـراب پـه څکلـو سـره قـوت او انـرژي ترلاسه کوو اوپه دی سره دیخنی مقابله کوو . محمدصلی الله علیه وسلم ورتـه وفرمایـل : ایا هغه نشه راولي ؟ ما وویل هو ، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل : لدینه ډډه او ځـان ساتل ضروري دی ، ماوویل خلک یې نه پریږدي ، محمد صلی الله علیـه وسـلم وفرمایـل که نه پریږدي نو له هغوی سره جنګ وکړئ.

دګرمی دپیدا کولو لپاره له شرابو او مسکراتو نه علاوه نور پاک څیزونه هم ترلاسـه کیـږي لکه مشک، عنبر ، دسرو زرو کشته او داسې نور شیان ،لهذا له یخني نه دځان سـاتلو لپـاره فقط دغه شیان استعمالولې شي . والله اعلم بالصواب .

دچلم سګرټ څکل څنګه دي ؟

۲۷۰ سوال : دمجالس الابرار په دیرشم مجلس کی لیکـل شـوي دی چـی چلـم څکـل حرام دی او دی لپاره یې عقلي او نقلي دلائل پیش کـړی دي ، لـیکن داوسـنی زمانـه

علماء چلم او سکرټ څکي ايا اوس دجواز کوم صورت پيداشوی دی او که څنګـه ؟ پـه تفصيل سره ځواب وليکئ : بينوا توجروا .

ځواب : په کوم حقه او چلم کی چی ناپاک او نشه راوړونکي څيزونه څکـل کيـږي هغـه بالاتفاق حرام دي په دی کی د هيڅا اختلاف نشته ليکن په کـوم چلـم او سـګرټ کـی چی صرف تمباکو څکل کيږي د دی حرمت اتفاقي نه دی ، د زياترو فقهي علماو رای د جواز ده . په شـامي کـی دي : فيفهم حكم التنباك وهو اباحة على المختار والتوقف دفنه اشارة الى عد تسليم اسكاره وتفتيره واضـــراره (ج ٥ ص ٤٠٧ كتـــاب الاشربة).

په شيانو کی اصل اباحت يا توقـف دی د دغـه قـانون پـه مطـابق د تمبـاکو پـه حکـم پوهيدلی شوو هغه دا چی د مختار قول په مطابق په دی کي يا اباحت دی او يا توقـف ، او پـه دی کـنی دی خبـری پـه طـرف اشـاره ده چـی دا نشـه راوړونکـی ، سسـتي پيداکوونکی او ضرر رسوونکی نه دی .

په تمباکو نوشي سره په خوله کی بدبوئي پيدا کيږيلهذا د صحيح ضرورت نه بغير حقـه نوشي او نور شيان له کراهت نه خالي نه دي ، تمباکو بنفسه مبـاح دی ، پـه دی کـی د بدبوی په وجه کراهت عارضي دی ، کراهت تحريمي وي يا تنزيهي په هـر حـال قابـل ترک دی د دی عادت جوړول نه دي ښکار ، د دی زيات څکل اسراف او د ګناه موجـب دی .کوم خلک چی د تمباکو څکلو عادي دي د هغوی له خـولی نـه هميشـه بـدبوئی خي، او رسول الله صلی الله عليه وسلم به لدی بوی نه ډيره کرکه کوله . په حديث کي دي : عن ابى سعيد الخدرى ان رسول الله صلى الله عليه وسلم مر علـــى زراعـــة بصل هو واصحابه فنـــزل ناس منهم فاكلوا منه ولم ياكل ا خرون فرحنا اليه فدعا الذين لم ياكلوا البصل واخر ا لاخرون حتى يذهب ريحها .

يعنی له حضرت ابو سعيد خدري رضی الله عنه څخه روايـت دی چـی يـو ځـل محمـد صلی الله عليه وسلم او د هغه اصحاب کرام رضی الله عنهم د پياز له پټي نـه تـير شـول ، ځينی اصحاب هلته پاتی شول ، له هغو نه ځينو پياز وخوړ او ځينو ونـه خـوړ ، بيـا تـول محمد صلی الله عليه وسلم خوا ته راغلل ، محمد صلی الله عليه وسلم هغـه خلـک چـی

پیاز یې نه و خوړلي خوا ته راوبلل او هغه کسانو چې پیاز یې خوړلي و لـه ځانـه لـرې کیښنول (صحیح مسلم ج ۱ ص ۲۰۹ باب نهی عن اکل سوم او بصل الخ) .
په شریعت کې د خولې دصفایي لپاره زیات تاکید او فضیلت راغلی دی .
د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : السواك مطهرة للفم ومرضاة للرب .
مسواک د خولې د پاکي او د رب د رضا سبب دی (مشکواة شریف ص ۴۴ باب السواک) .
له حضرت عائشی رضی الله عنها نه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم بـه کلـه له باهر نه تشریف راوړ نو لومړی به یې مسواک کاو (مسلم شریف ج ۱ ص ۱۲۸) .
زیاتره تمباو څکونکي حضرات د خولې د صفایي خیال نه کوي ، هر وخت چـې ګـوری په خوله کې سګرټ او حقه وي ، د مسجد تر دروازې پورې سګرټ یې په خوله کـې وي کله چې مسجد ته دننه شي نو بیا نه په خوله کې مسواک وهي اونه هـم څـه مـنجن او پاوډر ، بلکې په غړغړه باندی اکتفا کوي او په لمونځ ودرېږي ، له دوی سـره نـژدی ولاړ خلک ډیر په تکلیف کې وي . د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې هر څوک لـه دغه بدبوداره ونی (پیاز) نه څه وخوري نو هغه دې زمونږ مسجد تـه نـه راځـي ، ځکـه چې له کوم څیز د بدبوی نه سړي ته تکلیف رسیږي پرښتو تـه هـم لـه هغـه نـه تکلیـف رسیږي (مسلم شریف ج ۱ ص ۲۰۹ باب السواک) .
فقهای کرام لیکي : د بدبو لرونکي څیز له خوړلو نه وروسته د خولې د صفا کولو نه پرتـه مسجد ، مدرسه ، عیدګاه ، د جنـازی لمـونځ ځـای ، دینـي او تعلیمـي مجلسـونو کـې شریکیدل مکروه دي ، نووي شرح مسلم جلد ۱ ص ۲۰۹ ایضاً .
داسی کوم وخت به وي چې مسلمان پکې د الله او رسول صلی الله علیه وسلم ذکر ونـه کړي . ګام په ګام بسم الله ، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ، درود او دعا ، سبحان الله ، الحمـد الله ، الله اکبـر ، ماشـاء الله ، لاحـول ولاقـوة الا بـالله ، اسـتغفرالله ، انـا لله ، دمصافحې په وخت کې یغفرالله ، د پرنجـې پـه وخـت کـې الحمـد الله یرحمـک الله ، یهدیکم الله او نور الفاظ په خوله ا دا کوي ،لهذا تر آخري توان پورې د خـولې صـفایي ضروري دي . د الله تعالی ډیر زیات احسانونه دي چې هغه مونږ ته د خپل رسول صلی الله علیه وسلم د مبارک نوم په خوله اخستلو اجازه راکړې ده که نه نو چې نسبت خـاک رابا عالم پاک .

هزار بار بشویم دهن زمشک و گلاب
هنوز نام تو گفتن کمال بی ادبي است

مولانا روم فرمائي :

این قبول ذکر تو ز رحمت است
چونماز مستحاضه رخصت است

لنډه يې دا چې حقه ، چلم او سگرټ حرام نه دي ، ليکن بلا ضرورت د هغه عادت جوړول مکروه دي خو د ضرورت په وخت کې جائز دي ، ليکن د صفايي خيال هم ضروري دی . په دی باره کی دځینو محققینو فتاوی په لاندی ډول دي :

(۱)د قطب عالِم حضرت مولانا رشید احمد گنگوهي فتاوی :

ځواب : د حقې په باره کی زياتي فتوی او رسائل چاپ شوي دي ليکن زما په نزد راجح او حقه خبره دا ده چې دا تنزيهي مکروه دي او په دی وخت کی د بلغم لپاره علاج او دوا هم ده که چیرته د خولی د بدبو مخنیوی وشي او هر وخت صفا کړی شي نو بلا کراهت مباح دی او نور هسی تکلفات دي (تذکرت الرشید ج ۱ص ۱٦٨ ، ١٦٩)

(۲) د ابوالحسنات حضرت مولانا عبدالحی لکهنوي رحمه الله فتوی هم وګورئ

وانچه که بعد تنقیح دلائل طرفین واضح شد این است که قبول حرمت لا یعبأ به ست چې حرمت موقوف بر دلیل قطعي تحریم ست وحاکمین بحرمت دلیلے قطعی برآن قائم نساخته اند بلکه جمله دلائل ظنیه شان هم مخدوش اند چنانچه بر مطالع ترویح الجنان مخفی نخواهد ماند و قول اباحت بلا کراهت هم خالی از خدشات نیست البته قول کراهت قابل اعتبار است این همه گفتگو درحقه کشی ست فاما خوردن تمباکو و استعمال آن دربینی پس دلیلے معتبر بر کراهتش هم قائم نیست (مجموعه فتاوی ج ۱ ص ۲۲۹ طبع قدیم) .

(۳) د حکیم الامت حضرت مولانا تهانوي فتوی :

له ضرورت نه پرته مکروه گنم خو د ضرورت په وخت کی په خوله کی اچول او څکل يې دواړه جائز دي د ضرورت په وخت کی نفس عین مکروه نه دی ، که څه هم له نورو

خارجي عوارضو سره مکروه کيږي ، او د عوارضو په خفت او شدت سره د کراهت په خفت او شدت کې به فرق وي ، په تمباکو کې نشه صرف حدت دی او له همدینه پریشاني پیدا کیږي ، لیکن عقل نه خرابوي ، د خارجي عوارضو په لحاظ سره يې د تمباکو په خوله کې اچول د څکلو په نسبت اخف دي کما هو شاهد امداد الفتاوی جلد ۴ ص ۱۱۳

(۴) شیخ الاسلام حضرت مولانا حسین احمد مدني فرمائي :

د دیو بند علماء د تمباکو د استعمال په باره کې له تنزیهي کراهت او خلاف اولی نه علاوه بل حکم نه کوي . الشهاب الثاقب ص ۸۲ .

(۵) د مفتي اعظم حضرت مولانا عزیز الرحمن صاحب د دیوبند مفتي فتوی :

په حقیقت کی تمباکو هم یو قسم نباتات دی . او په شامي کی صحیح قول دا نقل شوی دی چی د تمباکو څکل مباح دي البته له ضرورت نه پرته غیر اولی او د تحریم قول بلا دلیل دی فتاوی دار العلوم عزیز الفتاوی ج ۷ ص ۲۱۴ .

(٦) د مفتي عزيز الرحمان بله فتوه :

د تمباکو څکل ، خوله کی اچول او پوزه کی کشول مباح دي خو غیر اولی دي ، حاصل دا چی مکروه تنزیهي دي او د تمباکو خرخول او اخستل جائز دي . فتاوی دار العلوم دیوبند (ج ۷ ، ۸ ص ۲۳٦) .

(۷) د حضرت مفتي شفیع صاحب فتوه :

البته که له ضرورت نه بغیر تمباکو وڅکل شي نو تنزیهي مکروه دي او د ضرورت په وخت کی هیڅ قسم کراهت پکی نشته خوله بدبوی نه د خولی صفا کول په هر حالت کی ضروري دي . (فتاوی دار العلوم دیوبند ج ۷ ، ۸ ص ۲۹۲) .

د شرابو د حرمت ثبوت :

(۲۷۱ سوال) یو سړی خلکو ته وائي چی شراب حرام نه دي ، په قرآن کریم کی د دی په حرمت باندی کوم لفظ نه دی راغلی ، څه خلک د هغه په دی خبره تیروتلی دي ، هغه ته دی څه خواب ورکړی شي، چی خلک د هغه په خبره عمل ونه کړي ؟ بینوا توجروا

خواب : شراب د ډیر و خرابیو منبع او سرچشمه دی نو ځکه الله تعالی په ډیر تاکید سره دیته حرام ویلي دي . په قرآن کریم کې دي : یاأیها الذین امنوا انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون ○
ای مومنانو ! شراب ، جواري او د پال غشي ګنده او شیطاني کار دی ، لدینه ځانونه وساتئ تر څو فلاح ومومئ . د دغه آیت په تفسیر کې تفسیر حقانيْ داسې لیکي . په تفسیر کشاف کې راغلي دي چې الله تعالی په دی آیت کې د شراب حرمت په څو طریقو موکد کړی، دی اول دا چې په جمله کې " انما " راوړیدی بل دا چې دا یې د بت پرستي سره یوځای کړی . دریم دا چې دیته رجس یعنی ناپاک ویلي دي ، څلورم دا چې د شیطان عمل ورته ویلي دي چې د ټولو خرابیو سرچشمه دی ، پنځم دا چې لدینه د بچ کیدو حکم ورکړی دی ، شپږم دا چې لدینه بچ کیدو ته کامیابي ویلي دي ، نو د شراب په څکلو کې فلاح له کوم ځای نه راغی ؟ اووم دا چې د دی د تحریم علت د انسان خپل حواس خرابیدل دي چې د هغه معاش او کاروبار خرابوي . له خلکو سره عداوت او رنجش پیدا کوي او په عبادت کې امونځ او ذکر نه پاتی کوي . لدینه وروسته له اطیعو الله څخه نیولی تر المبین پوری نور هم د دی حکم تاکید لدینه زیات د حرام د لفظ اطلاق د دی د حرمت لپاره ضروري نه و .
(تفسیر حقاني جلد ۴ ص ۵۴ سوره مائده پاره نمبر ۷) .

(۱) په حدیث شریف کې دي عن ابن عمر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کل مسکر خمر وکل مسکر حرام هر نشه لرونکی څیز شراب دي او هر نشه لرونکی څیز حرام دی (مشکوة شریف ص ۳۱۷ باب بیان الخمر الخ) .

(۲) قال صلی الله علیه وسلم کل شراب اسکر فهو حرام . هر شراب چې نشه پیدا کړي هغه حرام دی (مشکواة شریف ص ۳۱۷ باب بیان ا لخمر الخ) .

(۳) عن ابن عباس رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان الله حرم الخمر والمیسر والکوبة .... الخ عبدالله ابن عباس رضی الله عنه، له محمد صلی الله علیه وسلم څخه روایت، کوي چې الله تعالی شراب ، جواري او ډول وهل حرام ګرځولی دی (مشکواة شریف ص ۳۸٦ باب التصاویر) .

(٤) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال خطب عمر رضی الله عنه علی منبر رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال انه قد نزل تحریم الخمر ....رواه بخاری .

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وائي چی حضرت عمر رضـی الله عنـه د رسـول الله صلی الله علیه وسلم په منبر باندی د خطبـی پـه وخـت کـی وویـل : یقیناً چی د شراب د حرمت حکم نازل شوی دی . (مشکواة شریف ص ۳۱۷ باب بیان الخمر) .

له پورتني نصوصو څخه د شراب حرمت په قطعـي ډول ثابتیـږي ، د فتنـو زمانـه ده الله تعالی دی مسلمانان له دی فتنو څخه وساتي . فقط والله اعلم بالصواب .

متفرقات حظر والاباحة

ایا له گناه نه وروسته د توبې په کولو سره گناه پاتې کیږي او که نه ؟

(۲۷۲ سوال) که چیرته گنهگار توبه وباسي نو گناه یې بخښل کیږي او که نه ؟ له توبې نه وروسته هغه ته گنهکار ویل څنګه دي ؟

ځواب : که څوک د لمر پرې واته له لورې د لمر ختلو نه مخکې او د ځنکدن نه وراندې د زړه له کومې توبه وباسي نو الله تعالی پخپل فضل او کرم سره د هغه گناه چې توبه ترینه کړی ده ورته معافوي الله تعالی خپل اخري نبي صلی الله علیه وسلم په معرفت اعلان کړی دی چې :

یا عبادی الذین اسرفوا علی انفسهم لاتقنطوا من رحمة الله ان الله یغفر الذنوب جمیعاً انه هو الغفور الرحیم ○ (زمر پاره نمبر ۲۴) .

ای زما هغه بندګانو چې پخپلو ځانو مو اسراف کړی دی د الله له رحمت نه مه مایوسه کیږئ ، الله ټول ګناهونه بخښي ، بیشکه هغه بخښونکی او مهربان دی .

په قدسي حدیث کی دي چې الله فرمائي :

یا ابن ادم لو بلغت ذنو بك عنان السَّماءِ ثم استغفرتنی غفرت لك .

ترجمه : ای د آدم زویه ! که چېرته ستا ګناهونه اسمانو ته هم ورسیږي او بیا هم له مانه بخښنه وغواړی نو زه تا معاف کوم (مشکواة شریف ص ۳۰۴ باب الاستغفار) .

مګر د کاملې توبې لپاره دا هم ضروري ده چې کوم لمونځونه او روژې قضا شوی دی دهغوی قضا راوړي او کومه کفاره چې ورباندی لازمه شویده هغه ادا کړي همدغه راز کوم حقوق العباد چې د هغه په سر دي هغه ادا کړي یعنې د چا چې ورباندی کوم حق پاتې وي هغه دی ورته ورکړي او یا دی ترینه بخښنه وغواړي .

که اصلي حقدار پیدا نه کړي نو د هغه وارثانو ته دی ورکړي ، که داسی هم نه وي نو د حقدار له طرف نه دی د هغه لپاره خیرات کړي چې له الله سره امانت پاتې شي او د قیامت په ورځ حقدار ته ورسیږي . که چیرته د غربت په وجه حق ادا نکړی شي نو هغه ته پکار دي چې د نیکې ډیر ډیر کارونه وکړي ، او له چا سره یې چې ظلم کړیدی د

هغه لپاره د مغفرت دعا وغواړي ، امید دی چې د قیامت په ورځ به الله تعالی حقداران له هغه نه خوشاله او راضي کړي . په مجالس الابرار کې دي :

فان الشرع لا يكتفى فيه بمجرد التوبة بل اضاف الى ذلك فى البعض قضاء كالصلوة والصوم وغيرهما وفى البعض كفارة ايضاً . واما حقوق الادميين فلا بد من ايصالها الى مستحقيها فان لم يوجدوا يلزم تصدقها عنهم بنية ان تكون وديعة عند الله تعالى يوصلها الى اصحابها يوم القيامة فمن لم يجد السبيل لخروجه عما عليه لاعساره فعليه ان يكثر من اعمال الصالحات ويستعفف لمن ظلمه من المؤمنين والمؤمنات فى اكثر الاوقات فان اذا فعل كذلك يرجى من فضل الله تعالى ان يرضى خصمائه يوم القيامة (مجالس الابرار م ٦٦ ص ٣٨٤) .

سړی ته پکار دي چې ژر توبه وباسي او د توبې په امید دې د ګناه جرئت نه کوي ممکن دی چې توبه یې په نصیب شي ، یا د زړه له اخلاص نه د توبې ویستلو فرصت پیدا نکړي . حضرت یحیی ابن معاذ رضي الله عنه وفرمایل : زما په نزد تولو نه لویه دوکه دا ده چې ګناهونه یې زیات شي خو پر هغه ندامت او حسرت ونکړي او بیا دی د معافي امید وساتي . بیشکه یو ګناه ګار چې توبه ویستل غواړي هغه دی دا عقیده وساتي چې الله تعالی غفار او ارحم الراحمین دی ، ټول ګناهونه معافولی شي د هغه مخه هیڅوک نشي نیولی . فقط والله اعلم بالصواب .

د غلامانو او وینزو په متعلق پوښتنه

(۲۷۳ سوال) د غلام او وینزو جوړولو رواج د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له تشریف راوړلو نه مخکې و او که وروسته پیدا شو ، د دې تاریخ مختصتر باندې رڼا واچوئ . (۲) وینزه له خپل مالک لپاره له نکاح نه پرته ولې جائز ده او په دې کې څه حکمت دی ؟ (۳) په اوسني زمانه کې وینزه ساتلی شو او که نه ؟ که کوم مسلمان وینزه ساتل غواړي ایا د هغې مسلمانیدل ضروري دي او که غیر مسلم هم وینزه ساتلي شي ؟ په پخوا زمانه کې د خومره وینزو ساتل جائز و او په اوسنی زمانه کې د خومره وینزو ساتل جائز دي ؟ (۴) د وینزې لپاره پرده ضروري ده او که نه ؟ که ضروري ده نو د دې څه وجه ده ؟ (۵) د وینزې اولاد آزاد وي او که غلام ؟ (٦) د مالک په مال کې د وینزې او د هغې د اولاد حق شته او که نه ؟

خواب : د غلام او وینزی رواج له اسلام نه ډیر وړاندی دی ، زیاتره به د جنګ په وجه غلامان او وینزی ساتل کیدلی ، یعنی له کوم وخت نه چی جنګ او جدل شروع شوی له همغه وخت نه د دی رواج بنا شوی دی . دا رواج تقریباً د دنیا په ټولو قومونو او ملکونو کی و ، کله به چی په دشمن باندی غلبه حاصله شوه نو هغوی به وژل کیدل بیا وروسته چی څه اصلاح راغی نو دا رواج جوړ شو چی کوم قیدي به خطرناک و هغه به وژل کیدو . کمزوري قیدیان ، ښځی او ماشومان به بخښل کیدل ، مګر د خدمت لپاره هغوی غلامان او وینزی ګرځول کیدلی . اسلام د دغه قدیم مروجه رسم مخالفت ونکړ ، که مخالفت یی کړی هم وای نو ګټه یی نه وه ځکه چی د هغی زمانی سیاسي او معاشرتي حالت له مخی داسی کول بی ګټی او له مصلحت نه مخالف و . بین الاقوامي رابطی داسی مربوطی نه وی چی د یو ملک قانون په بل ملک باندی اثر واچوي . که چیرته د غلامی دغه رواج زمونږ دین په یو حکم منسوخ کړی وای نو یقیناً به داسی شوی و چی د اسلام دښمنانو په اطمنان سره زمونږ مسلمانان غلام او وینزی کول ، هغوی په دی مطمئن وو چی د هغوی بندیان او قیدیان به مسلمانان نه غلاموي . ترکومه حده چی د انسانیت د احترام خبره ده اسلام د دغی جذبی قدر کړی دی او داسی تجویزونه یی وړاندی کړی دي چی د هغی پر نتیجه کی دا په کلاره کلاره پخپله ختم شي .

د دی ټولو باوجود ډیری خرابیانی او غلط مفادات چی د غلامی په سلسله تر لاسه کولی شوي هغه ټول یی ختم کړل . مثلاً مالکانو به له وینزو سره د زنا له لاری پیسی ګټلی نو قرآن کریم حکم وکړ :

ولاتکرهوا فتیاتك علی البغاء (سوره نور) تاسی خپلی وینزی د زنا لپاره مه مجبوروئ . د کارونو او د خپل راحت په خاطر غلام او وینزو ته د نکاح اجازه نه ورکاو . په دی باندی الهي ارشاد نازل شو (وانکحوا الایامی منکم) (سوره نور) .

ترجمه : تاسو خپلو ناواده کړو ښځو او او خپل نیک غلامانو او وینزو ته نکاح وکړئ .

(۳) لومړی له غلام او وینزی سره به د څناورو پشان سلوک کیدو لیکن اسلام دا تعلیم ورکړ چی دا ستاسی ورونه او خویندې دي چی الله تعالی ستاسی لاس لاندی کړي دي لهذا پر تاسو لازم دي چی دمساوات نه کار واخلئ ، څه چی تاسی خورئ هغوی ته هم ورکړئ او څه چی تاسی اغوندئ هغوی ته هم واغوندوئ ، له هغوی نه د هغوی د

قوت په مطابق کار واخلئ ، داسی کوم کار ورباندی مه کوئ چی د هغوی له طاقت نه پوره نه وي او دا یی هم وفرمایل چی هر څوک له غلامانو سره سختي وکړي هغه جنت ته نه ځي دا یی هم وفرمایل چی هر څوک خپل غلام بی گناه ووهي نو دهغه کفاره دا ده چی آزاد یی کړي . یو سړی تپوس وکړ چی زه د خپل غلام څومره غلطیانی او خطا گانی معاف کړم ؟ محمد صلی الله علیه وسلم ورته ځواب ورنکړ . د دریم یا څلورم ځل په ځواب کی یی ورته وفرمایل چی هره ورځ اویا کرته د هغه له خطاگانو نه تیر شه . مطلب دا چی له سزا اورکولو نه ډډه وکړه . محمد صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت کی دا وصیت وکړ چی لمونځ په پابندی سره ادا کړئ ، له غلام او وینزی سره ښه سلوک کوئ د دی تعلیم دا اثر وشو چی حضرت عثمان رضی الله عنه دخپل غلام په قصور د هغه غوږ تاو کړه . بیا پښیمان شو ،توبه یی وکړه او غلام ته یی وویل ته هم ما ته سزا راکړه هغه انکار وکړ بالاخر د زیات اصرار په وجه غلام د خپل بادار غوږ تاو کړ ، عثمان رضی الله عنه وفرمایل : ښه په زور سره تاو کړه زه د قیامت د ورځی له سزا نه ویریږم . داسی ډیر واقعات نور هم شته چی دلته یی راجمع کول گران کار دی .

(۴) اسلام د غلام او وینزی ازادول د لوی اجر موجب گرځولي دي . محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : هر چا چی کوم غلام یا وینزه ازاده کړه نو الله تعالی دهغه د هر اندام په بدل کی د هغه ټول اندامونه د جهنم له اور نه نجات ورکوي . حتی چی د شرمگاه پر ځای شرمگاه هم . د غیر مسلم غلام او وینزی په آزادولو کی هم لوی فضیلت بیان شوی دی ، ارشاد دی چی هر څوک خپل وینزی ته ادب وښائي او د ښه اخلاق تعلیم ورکړئ بیا یی ازاده کړي او ورسره نکاح وکړي نو هغه لپاره دو چند ثواب دی . دا قسم نور ارشادات او هدایات هم دي . د دی اثر او فائده دا وشوه چی د زرگونو په تعداد کی غلامان او وینزی آزادی شوی .

پخپله محمد صلی الله علیه وسلم ٦٣ غلامان آزاد کړي دي ، ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم ٦٣ ، حضرت عبدالرحمان دیرش زره (۳۰۰۰۰) ، حکیم بن حزم رضی الله عنه سل ،حضرت عباس رضی الله عنه ۷۰ غلامان آزاد کړل ،حضرت عثمان رضی الله عنه به هره جمعه یوه یوه وینزه او غلام آزادول ، او فرمایل به یی چی کوم یو غلام په خشوع او خضوع سره لمونځ ولولي هغه زه آزادوم ، حضرت عائشه رضی الله عنها ٦٩ غلامان آزاد کړي وو . حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما زر غلامان آزاد کړي وو ، حضرت ذوا الکلاح حمیري په یوه ورځ کی ۸۰۰۰ غلامان آزاد کړي وو .

الرق فی الاسلام ج ۱ ص ۱۳۱ (سلسله ندوة المصطفی دحلی) .

(۵) د دغو اصولي ارشاداتو نه علاوه جزنیاتو او تفصیلي احکامو کی ډیر صورتونه داسی هم شته چی غلام پخپله آزادیږي . مثلاً (۱) غلام د بوداسی چا په ملکیت کی راغی چی د هغه قریبي خپلوان (ذی محرم) و مثلاً ، پلار ، ورور ، تره ، زوی ، مور او داسی نور (۲) کوم حربي کافر مسلمان غلام له دار الاسلام نه خریداري کړ او دار الحرب ته یی یووړه نو دا غلام هلته له رسیدو سره سم آزادیږي (۳) له مالک نه چی د کومی وینزی اولاد پیدا شي نو دمالک دمړ کیدو نه وروسته هغه وینزه آزاده ده .

(٦) څو صورتونه داسی دي چی هلته قانوني یا اخلاقي مطالبه کیږي چی غلام دی آزاد کړی شي مثلاً (۱) د قتل خطاء په کفاره کی دی غلام آزاد کړی شي (۲) د ظهار په کفاره کی (۳) د کفاری قسم (۴) د روژی په کفاره کی دی غلام آزاد کړی شي (۵) که څوک خپل غلام په څپیړه ووهي نو دهغه کفاره د غلام آزادول دي (٦) د لمر د کسوف په وخت کی د ی غلام آزاد کړي (۷) د سپوږمی دخسوف په وخت کی دی غلام آزاد کړي (۸) د ایصال ثواب لپاره دی غلام آزاد کړي ،همدغسی په قدم قدم د غلام او وینزی د آزادولو ترغیب ورکول شوی دی تر څو په دی سره د غلامی رسم ختم کړی شي .

فاروقي فرمان :

له محمد صلی الله علیه وسلم نه وروسته حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه د خلافت پخپل زمانه کی څو احکامات صادر کړل چی په نتیجه کی نه یوازی بی حسابه غلامان آزاد شول بلکی په بنیادي توګه د آزادی څو صورتونه مخی ته راغلل ، مثلاً دا فرمان جاري کړی شو .

(۱) د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت په زمانه چی د مرتدو قبائلو کوم کسان غلامان او وینزی ګرځولی شوی وو هغه دی ټول آزاد کړی شي .

(۲) دا اصول یی قائم کړل چی د عرب اوسیدونکي کله هم غلامان نشي ګرځول کیدی. د هغه قول دی : (لا یسترق عربی) یعنی د عرب هیڅوک غلام نشي ګرځول کیدای . (الفاروق حصه دوم ص ۷۸ بحواله (فتوح البلدان ص ۱۳۱٦) .

(۳) ذمي هم غلام نشي جوړولی (۴) د جاهلیت په زمانه کی چی کوم خلک غلام کړی شوی دي او بیا هغوی بیا د اسلام دور هم لیدلی دی نو هغوی دی خپل قیمت په ورکولو سره آزادي تر لاسه کړي ،برابره خبره چی مالک یې خوشاله وي یا نه .

(الرق فی الاسلام ، فتح الباري، نهایه وغیره) .

مسلمانانو باندی لازم دي چی د شریعت په هر یو کار باندی ځان پوه کړي ، دهغه په حکمت او مصلحت باندی د هر چا پوهیدل څه اسان کار نه دی چی هر کس او ناکس دی په دی پوه شي .لهذا په هره یوه معامله کی حکمت لټول غلط او په حکمت باندی له پوهیدو نه وروسته خپل عمل موقوف کول بغاوت او گمراهي دی . که چیرته په کوم کار کی حکمت تر لاسه نشي نو دا دی دخپلی پوهی قصور وګڼل شي ، ځکه چی شرعي حکم له حکمت نه مخالف نه وي بلکی د خپل فهم قصور وي . یو ځل باران وشو نو یو بزرگ وویل : ای الله ! دا د کوم وخت باران دی وکړ ؟ له غیبو نه آواز راغی دا راته وواېه چی ما لابی وخته کله باران کړی دی ، هغه بیهوشه شو او پر زمکه وغورځید ، مطلب دا چی شرعي حکم له مصلحت نه خالي نه وي .

دا چی وینزه له نکاح نه بغیر خپل مالک لپاره حلاله ده ، په هغه کی هم لوی حکمت او مصلحت دی خو مونږ په دی نه پوهیږو ، الله تعالی مونږ لپاره په قرآن کریم کی ارشاد فرمایلی دی : وما اوتیتم من العلم الا قلیلاً . یعنی تاسی ته دیر لږ علم ورکول شوی دی (سوره بنی اسرائیل) که چیرته شارع علیه السلام د وینزو د حلت لپاره نکاح لازموي نو پخپله وینزو لپاره مشکل پیدا کیږي . په قرآن کریم کی دي چی الله تعالی ستاسی لپاره د اسانی اراده کړی ده او تاسی په مشکل کی اچول نه غواړي . یرید الله بکم الیسر ــــ الایه (بقره) دا خبره دی یې ذهن کی وساتل شي چی په شریعت کی مالک لپاره د وینزی د حلت حکم د کوم حراب منشا او مقصد لپاره نه دي بلکی هغه سراسر معاشرتي او تهذیبي مصلحت او د وینزو خیر خواهي دی .

د وینزی لپاره دنکاح حاجت ځکه نشته چی شریعت د وینزی ملکیت د وطی د جواز لپاره د نکاح قائم مقام گرخولی دی . څرنگه په ایجاب او قبول سره د نکاح انعقاد او د بضعی ملکیت تر لاسه کیدل یعنی له منکوحی سره د وطی کولو حق محض شرعي اعتبار دی همدغسی په ملکیت کی د وینزی په راتلو سره د تمتع حق تر لاسه کیدل هم شرعي اعتبار دی نو د دی په جواز کی شرعاً او عقلاً د هیڅ قسم شک او شبهی ځای

نشته . دا واضح کیدل هم ضروري دي چې د اعتبار صورتونه مختلف دي ، مثلاً د پرندو او نورو حیواناتو د حلالیدو لپاره ذبح کول او بسم الله ویل شرط او ضروري دي ، له ذبحې نه پرته نشي حلالیدلی . خو د دې برعکس د کبانو دحلت لپاره ذبح شرط نه دی . له ذبحې نه پرته هم حلال دی . د کب نیول او د هغه مالک کیدل د ذبحې قائم مقام دی حال دا چې دواړه جانداره دي ، لیکن یو لپاره ذبح شرط دئ او بل لپاره شرط نه دی ، نو د آزادې ښځې د حلت لپاره نکاح شرط کیدل او د وینزې دحلت لپاره نکاح شرط نه کیدل له عقل نه خلاف نه دی . اوس دا سوال چې مملوکه وینزه له نکاح نه پرته ولې حلاله ده دلته د ایجاب او قبول او نکاح قید ولې نشته نو په دې کې لومړی خبره دا ده چې په دې کې د دې ضرورت نشته ، په نکاح کې ایجاب او قبول څکه کیږي چې د یوخاص قسم فائده چې ستا پر هغه حق نشته شرعاً د هغه حق تاته حاصل شي . دلته کله چې د خریداري او ملکیت له کبله تاسې د پوره وینزې او د هغې د جمله حقوق مالک شوئ نو دهغې فائدې هم مالک شوئ چې دنکاح په ذریعه حاصلیږي نو څکه له وینزې سره نکاح حاصل او فضول دی . دویمه خبره دا ده چې د نکاح په سلسله کې الهي ارشاد دئ : ((ان تبتغوا باموالکم)) د ښځو د حقوقو لحاظ کولو سره لهي کلام دا شرط ګرځولی دی چې څه مال دې په مهر کې ورکړې شي ، که چیرته د وینزې نکاح له بل چاسره وکړې شي نو دا مهر د وینزې د مالک کیږي . لیکن که چیرته د وینزې نکاح پخپله له مالک سره وشي نو سوال دا دی چې دا مهر به څوک ورکوي او څوک به یې اخلي ؟ وینزه چې تر څو پورې وینزه وي هغه د ملکیت له حق نه محروم دی هغه د هیڅ شیز مالکه نشي جوړیدلی . له هغې سره چې څه وي هغه هم د مالک وي ، ایا له مالک نه دې واخلي او بیرته مالک ته دې ورکړي ، مالک پخپله مطالبه کوونکی هم شي او ورکوونکی هم ؟ دا نو هسې یو مذاق دی شرعي حکم او قانوي نشي جوړیدلی . په دې کې نور هم مشکلات دي چې د نکاح قید له حکمت نه خلاف دی ، مثلاً دا چې کله وینزه د آزاد سړی کفوه نشي کیدلی نو هغې ته خاوند پیدا کیدل ګران کار دی او د دې دا اثر راوځي چې جنسي آوارګي را پیدا کیږي او په شریعت کې دا ډیره لویه ګناه او فحش ورته ویل شوی دي او د الله په نزد ډیر بد او مذموم کار دی ،لهذا شریعت دا صورت تجویز کړی چې که څه هم فی الحال د نکاح صورت یې نه دی مقرر کړی مګر د نتیجې په لحاظ سره یې دنکاح یوشکل او شان یې

یعنی د هغی خرخول ورته جائز نه گرځي .له هغه سره به د ماشومانو مور ، د کور میرمن او دخپل مالک د بنځی پشان به اوسیږي او دمالک له انتقال نـه وروستـه ازادیـږي ، نـه وارثانو ته ورکول کیدای شي او نه یی هم څوک خرخولی شي .
په اوسنی زمانه کی وینزی تر لاسه کیدل گران کار دی . د شرعي وینزو لپاره چـی کـوم شرائط دي هغه په دی زمانه کی نشي تر لاسه کیـدای .لهـذا وینـزه نشـي سـاتلی . کـه چیرته په کوم ځای کی د وینزی رواج وي نو هغه له شرعي تحقیق نه بغیر اعتبار نه لـري لوله نکاح نه پرته له هغی سره صحبت او جماع کول جائز نه دي . علامه شامي لیکي :
ولا سیما السراری اللّاتی یٔخذن غنیمة فی زماننا للتیقن بعدم قسمة الغنیمة فیبقی فیهن حق اصحب الخمس وبقیة الغانمین (شامی جلد ۲ ص ۳۹۶ کتاب النکاح مطلب مهم فی الوطی السراری الخ) .
یعنی زمونږ په زمانه کی چی کومی وینزی د غنیمت په توگه تر لاسه کیـږي هغـه شـرعي وینزی نه دي او له هغوی سره صحبت جائز نه دی ، ځکه چی دهغه یقـین دی چـی د غنیمت د مال څرنگه ویشل پکار دي هغسی نه ویشل کیږي . پس کوم خلک چـی د دی مستحق دي یعنی (اصحاب خمس او نور مجاهدین) دهغوی حقوق پاتی کیږي نوځکه په کومی وینزی باندی په پوره توگه جائز ملکیت نه ثابتیږي. شرعي وینزي دا دي چـی په جهاد کی ونیول او د غنیمت په مال کی شامل کړی شي . بیا امیر یعنـی د مسلمانانو خلیفه یا دهغه نائب هغه له دار الحرب نـه دار الاسـلام تـه راوړي او هلتـه د شـریعت د اصولو په مطابق تقسیم کړي .دارالاسلام تـه لـه راوړلـو او د خلیفـه پـه نگرانـی کـی لـه تقسیمیدونه مخکی وینزه دهیچا لپاره نه حلالیږي . آن تر دی چی کـه امـام دا اعـلان هم کړی وي چی د چا په لاس کی وینزه راغله دا به د همغه وي نو بیا هـم دارالاسـلام ته له راوړلو نه وړاندی هغه لپاره دغه وینزه حلاله نه ده چی ورسره صحبت وکـړي، پـه دی زمانه کی دا قوانین چیرته دي ؟ د اسلامي جهاد په رڼا کی قـانون او قاعـده دا ده چی له دشمن نه کوم مال د غنیمت په توگه حاصل کړی شي د هغه پنځمه حصـه بیـت المال ته علیحده کړی شي او پاتی څلورو حصی دي په غازیانو باندی وویشل شـي . تـر څو پوری چی د غنیمت خپل مالک یعنی دارالاسلام تـه رانـه وړی شـي تـر هغـه وختـه پوری تقسیم صحیح نه دی او ترڅو پوری چی تقسیم شوی نه وي هغه مشترک دی ، پـه هغه کی د ټولو حق دی ، البته کله چی امیر یا خلیفه تقسیم کړي نو دچا پـه برخـه کـی

چی راشي نو هغه د هغه لپاره حلالیږي ، لکه د جلی ولي چی هر چا ته په نکاح ورکړي هغه لپاره حلالیږي او لدینه مخکی نه حلالیږي . همدغسی امیر یا خلیفه د وینزی ولی دی څوک چی دهغه مالک وګرځوي نو هغه لپاره په خو شرطونو حلالیږي ، بیا د هغه مالک ته دا حق تر لاسه کیږي چی هغه په چا خرڅ کړي او یا هم په تحفه کی ورکړي ، همغسی که چیرته اوس هم کومه وینزه په وراثت کی منتقل کیږي نو هغه اوس هم شرعي وینزه ده او د هغه مالک هغه ساتلی شي ، هغه لپاره حلاله ده لیکن داسی وینزه په دی زمانه کی چیرته په لاس راتلی شي ؟ لږ تر لږه په هندوستان کی د داسی وینزی پیدا کول ناممکن کار دی ، که وینزه دهر مذهب او هر نسل وي مملوک جوړیدی شي لیکن مجامعت صرف له هغی وینزی سره جائز کیدی شي چی مسلمانه یا اهل کتاب وي ، له بت پرستی وینزی سره مجامعت جائز نه دی . د خپل د طاقت په اندازه شرعي وینزی چیخومره ساتل غواړی ساتلی شي کوم شمار یکی نه دی منحصر لیکن د وینزی لپاره چی کوم قواعد موجود دي هغه ډیر نازک دي ، هغه په نظر کی نیول ضروري دي . مثلاً له کومی وینزی سره چی وطی وکړه دهغی له قریبی خپلوانو لکه خور ، خاله ، ترور ، خورزه او وریری سره وطی کول جائز نه دي ، اګر چی دهغه په ملکیت کی ولی نه وي ، لکه چی د نکاح په صورت جائز نه دي . د وینزی لپاره د آزادو ښځو پشان سخته پرده نشته ځکه چی د هغی په غاړه د آقا خدمت ضروري دی ، په کور او له کور نه د باندی کارونه اجرا کوي په همدی وجه د پردی په معامله کی شریعت وینزی د آزادو ښځو پشان نه دي مکلف کړي . کوم اولاد چی له وینزی نه پیدا شي هغه آزاد وي : وولد الامة من مولاها حر (الجوهرة النيرة ج ۲ ص ۱۸۸ اخر كتاب العتاق) .

د مالک په مال کی وینزه وارث نه ګرځي خو د مالک اولاد چی ددغی وینزی له ګیدی نه پیدا شوی وي ، وارث دی . فقط والله اعلم بالصواب .

په یوه پښه باندی د بلی پښی آړول او ویده کیدل :

(۲۷۴ سوال) یو مولوی صاحب وائي چی د ترمذي شریف د حدیث په مطابق یوه پښه په بله پښه باندی اړول په داسی حال کی چی پښه یی ودرولی وي ویده کیدل ممنوع دي ،لهذا دا قسم ویده کیدو سره سړی ګنهکاریږي ایا د مولوي صاحب دا خبره صحیح ده ؟

خواب : بیشکه داقسم ویده کیدل بنه کار نه دی اوپه حدیث کی د دی منع راغلی ده .
ابواب الاداب باب ما جاء فی وضع احد الرجلین علی الاخری مستلقیاً .
مګر د دی اصلي وجه دا ده چې په هغه زمانه کی د لنګ وهلو رواج و . په داسی طریقی سره د ویده کیدو په حالت کی د ستر ښکاره کیدو ویره وه نو ځکه د دی ممانعت و که چیرته چا پرتوګ اغوستی وي یا هم لنګ یی وهلی وي خو په احتیاط سره خملي او د ستر د ښکاره کیدو چانس نه وي نو بیا څه حرج پکی نشته . اصحابو کرامو رضی الله عنهما محمد صلی الله علیه وسلم په داسی حالت کی لیدلی دی چې یوه پښه یی د بلی پښی په زنګون باندی اړولی وه او ویده شوی و . (حجة الله البالغه) فقط والله اعلم بالصواب .

فصل محفوظ نه پاتی کیږي دی لپاره څه وکړی شي ؟

(۲۷۵ سوال) د ځوکلونو راهسی زما فصل خرابیږي کله پکی تخم خوسا کیږي او کله آسماني آفت ورباندی راځي مهرباني وکړئ داسی څه طریقه وښایئ چې فصل له نقصان نه محفوظ پاتی شي .
ځواب : لدینه مخکی چې په پټي کی تخم واچوی لومړی اودس وکړه بیا د پټي په یو طرف کی دوه رکعته لمونځ ادا کړه ، بیا درود شریف ولوله او د الله په دربار کی نهایته په عاجزی سره داسی دعا وغواړه : اللهم انی عبدٌ ضعیفٌ سلمت الیك فسلمه لی وبارك لی فیه) ای الله ! زه ستا ضعیف بنده یم دغه کار زه تاته سپارم ، دا صحیح سلامت وګرځوه او ماته یی راوسپاره او مالپاره په دی کی برکت واچوه . لدینه وروسته بیا درود شریف ووایه . امید دی چې د دی دعا په برکت سره به الله پاک ټول زراعت له آفتونو څخه محفوظ وساتي او برکت پکی واچوي . کله چې ستا فصل پوخ شي او ګورته راولی نو د دی پیمانه کوونکی دی اودس وکړي او مخ په قبله دی کیني ، لدینه دی د غریبانانو حق ادا کړي او دوه رکعته لمونځ دی ولولي ، لدینه پس دی دا دعا ولولي : یارب انی القیت بذراً قلیلاً واعطیتنی شیئاً کثیراً فاجعلها قوت طاعة ولاتجعلها قوت معصیة واجعلنی من الشاکرین . ای الله ! ما لږ غوندی تخم وشیندله او تا ماته ډیر څه ترینه راکړل ، دا د اطاعت خوراک وګرځوه او د نافرمانی خوراک مه ګرځوه او ما د شکر ګزارو بندګانو څخه وګرځوه .

په حديث شريف کې دي چې بنده د ګناهونو په وجه له رزق نه محروم ساتل کيږئ (احمد).
لهذا هر سړي ته پکاردي چې د الله له نافرمانی نه ځان وساتي او دهغه د خوښې کارونه وکړي او پر هغه توکل وکړي ، الله تعالی به د هغه په هر کار کی مدد او مرسته کوي او خپل فضل او کرم به ورسره شاملوي . لکه چې فرمائي : ((ومن يتق الله يجعل له مخرجاً الخ ويرزقه من حيث لا يحتسب ومن يتوكل على الله فهو حسبه)) او هر څوک چې له الله نه ويريږي هغه لپاره له مشکلاتو نه د نجات لاره پیدا کوي او داسې رزق ورته ورکوي چې د هغه په وهم او ګمان کې هم نه وي . او څوک چې په الله باندی توکل کوي الله د هغه لپاره کافي دی . فقط والله اعلم بالصواب .

ايا د شوق په خاطر د سپي ساتل جائز دي او که نه ؟

(۲۷٦ سوال) يو سړی وائي چې د سپي ساتل او له ځان سره د هغه يوځای کيښول جائز دي او وائي چې دا له قرآن کريم نه ثابت دي . له اصحاب کهف سره سپی و هغه لدینه استدلال کوي . مونږ د هغه خبره صحيح نه ګڼو ليکن ځينی کسان د هغه دا خبره صحيح ګڼي ، مهرباني وکړئ د دی ځواب راکړئ . بينوا توجروا .

ځواب : د سپی ساتل او په کور کی دهغه تړل او خوشي کول صحيح نه دي ، ګناه ده البته د ځارويو يا د فصل د ساتلو او حفاظت لپاره ساتل جائز دي ، يا هم سپي ته تعليم ورکړي او د ښکار لپاره وساتي نو دا هم جائز دي ، له حديث نه د دی اجازت دليل تر لاسه کيږي ، له دغو ضرورتونو نه علاوه چې هر څوک د شوق لپاره سپی په کور کی ساتي هغه بالاتفاق ناجائز او ګناه ده . په حديث شريف کی دي :
(۱) عن ابی طلحة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لاتدخل الملائكة بيعاً فيه كلب ولاتصاوير (بخاری مسلم) له ابو طلحه رضی الله عنه نه روايت دی هغه واي چې محمد صلى الله عليه وسلم وفرمايل : ملائکی په داسی کور کی نه داخليږي چې هلته سپي يا تصويرونه وي (مشکواة شريف ص ۳۸۰ باب التصاوير) .

(۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من اقتنى كلباً الا كلب ماشية اوضار نقص من عمله كل يومٍ قيراطان متفق عليه (بخاری مسلم) .

حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما فرمائي چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هر څوک چې د څارویو د محافظ او ښکاري سپو نه علاوه بل سپی ساتي نو د هغه له اجر نه هره ورځ دوه قیراطه ثواب کمیږي (مشکواة شریف ص ۳۵۹ باب ذکر الکلب) او د حضرت ابو هریره رضی الله په روایت کی د هغه سپي لپاره هم استثنی ده چې د فصلونو د حفاظت لپاره ساتل شوی وي .

له اصحاب کهف سره سپی و څو له هغه نه د سپی د ساتلو په جواز استدلال نشي کیدلی ، ځکه چې کیدای شي د سپي د ساتلو د ممانعت حکم په محمدي شریعت کی شوی وي . کیدای شي د عیسی علیه السلام په دین کی د دی حرمت نه و . بل دا چې دا هم قیاس ته نژدی ده چې اصحاب کهف به مالداره وو او هغوی به مال ساتلی وو او دهغوی د حفاظت په خاطر یی داسپی ساتلي وي ، څرنګه چې سپی ډیر وفادار وي نو ځکه کله چې هغوی ښار نه اطراف ته لاړل نو سپی به هم ورسره تللی وي (معارف القران ص ۵۵۵ ، ج ۵ ص ۵۵٦ سوره کهف) والله اعلم بالصواب .

د غلو له ویری نه د سپي ساتل :

(۲۷۷ سوال) څه فرمايي د دین علماء او مفتیان په دی مسئله کی چې زما په کور کی څلور کرته غلا شوی ده نو ځکه خیال می ده چې د حفاظت او چوکیدارۍ په نسبت سپی وساتم په دی باره کی د شریعت څه حکم دی ؟ د ځینو کتابونو د مطالعی نه دومره راته معلوم شوي چې د ښکار او فصلونو د حفاظت لپاره د سپي ساتلو جواز موجود دی ، څرنګه چې زمونږ په کورکی څلور کرته د غلا کیدو په وجه دماشومانو او ښځو په زړونو کی ویره ده نو په دی حالت کی زما لپاره د سپي ساتلو لپاره د جواز ګنجائش شته او که نه ؟ بینوا توجروا .

خواب : په مسئوله صورت کی چې کله د غلو دومره ویره ده او د هغوی د دفع کولو لپاره بل کوم علاج نشته نو د داسی مجبورۍ په صورت کی د حفاظت په غرض د سپي ساتل صحیح دي . وفی الاجناس لاينبغي ان يتخذ كلباً الا ان يخف من اللصوص او

غیرهم ی قوله . ویجب ان یعلم بان اقتناء الکلب لا جل الحرس جائز شرعاً وکذا اقتناء للاصطیاد مباح وکذالك اقتناء لحفظ ذرع والماشیة جائز کذا فی الذخیرة (فتوی عالمگیری ج ٦ ص ٢٤٠ کتاب الکراهیة الباب الحادی والعشرون) وفی فتح القدیر والانتفاع بالکلب للحراسة والاصطیاد جائز اجماعاً لکن لا ینبغی ان یتخذ فی داره الا ان خاف اللصوص او عدواً . الخ (البحر الرائق ج ٦ ص ١٧٣ کتاب البیوع باب المتفرقات) فقط والله اعلم بالصواب .

خانداني منصوبه بندي او قرآن کریم :

(۲۷۸ سوال . د پاکستان صحت وزیر قاضي انوار الحق په پارلیمان کی د یو سوال په خواب کی وویل چی خانداني منصوبه بندي د قرآن کریم له حکم نه مخالف دی . خو زه د هغه یدی خیال سره متفق نه یم د خانداني منصوبه بندي مطلب نسل کشي نه دی . شاه عزیز الرحمن د قرآن کریم دا آیت : ((ولاتقتلوا اولادکم خشیة املاق)) پیش کړ او بیا یی پوښتنه وکړه چی د قرآن کریم په رڼا کی دخانداني منصوبه بندي گنجائش موجود دی ؟ ایا د صحت وزیر خبره صحیح ده ؟

جواب : د صحت وزیر خبره صحیح نه ده ، اصحابو کرامو رضی الله عنهم له محمد صلی‌الله علیه وسلم نه دعزل په باره کی پوښتنه وکړه نو هغه ورته په خواب کی وفرمایل : ((ذالك الواد الخفی)) یعنی دا خفي واد دی (یعنی د ماشوم ژوندی خښولو سره مترادف دی) او دا هغه ده چی د هغه بیان قرآني آیت ((واذ الموءدة سئلت)) کی دی ، یعنی کله چی د ژوندی ښخ شویو جنوکیانو څخه پوښتنه وشي چی په کومه گناه کی وژل شوی وئ . ((ثم سالوا عن العزل فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم ذالك الواد الخفی وهو واذ المؤدة سئلت)) مسلم شریف ص ٤٦٦ جلد ۱ باب جواز الغیلة الخ (مشکواة شریف ص ۲۷٦ باب المباشرة) .

فتح الملهم شرح صحیح مسلم کی علامه شبیر احمد عثماني نقل کوي چی قاضي لیکلي دي :

محمد صلی الله علیه وسلم عزل ته واد خفي ویلي دي ، یعنی کومه نطفه چی الله دی لپاره پیدا کړی وه چی ماشوم ترینه پیدا شي د هغه ختمول او بربادول . په دی کی فرق صرف دومره دی چی په دی کی ښکاره په خاورو کی نه دننه کوي نو ځکه ورته خفي واد ویل شویدی (ج ۳ ص ۵۱۸ باب جواز الغیلة) .

په بخاري شریف کی حدیث دی چی اصحابو کرامو له ګناه نه د بچ کیدو او د دنیاوي تعلقاتو نه د لری کیدو او د الله په عبادت کی د لګیدو په شوق د خصي کیدو خواهش وکړ خو محمد صلی الله علیه وسلم د دی اجازه ورنکړه او په دلیل کی دا آیت یی پیش کړ ((یاایها الذین امنوا لاتحرموا طیبات ما احل الله لکم ولاتعتدوا ان الله لا یحب المعتدین)) (بخاري شریف ص ۷۵۹ ج ۲ باب ما یکره من التبتل والخصاء) .

د خوب لیدو حقیقت څه شی دی ؟ او خوب څه ته وائي :

(۲۷۹ سوال) دخوب لیدو حقیقت څه شی دی ؟ او خوب څه ته ویل کیږي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په خلاصة التفاسیر کی دي : خوب لیدل دا دی چی روح له جسم نه اوځي او په سفلي او علوی عالم کی سیل کوي . کوم ځایونه چی د بیداري په حالت کی نه لیدل کیږي هغه په خوب کی ویني ، دیته روحي حس ویلي شي . جسماني حس صرف په حاضر باندی حاوي کیدای شي خو روحاني حس په حاضر او غائب دواړو مدرک دی . د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث شریف دی چی خوب په دری ډوله دی . لومړی صالح خوب دا دالله له طرف نه بشارت دی ، دوېم ملول او پریشانوونکی خوب دا شیطاني وسوسه ده . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : الرؤیا من ا لله والحلم من الشیطان . خوب د الله له طرف نه دی او حلم د شیطان وسوسه ده . صالحه رویا ، عالم ملکوت ، جبروت او فیضان حضرت لاهوت له طرف نه دی له عالم خیال او مثال سره تعلق نه لري . دانیال علیه السلام فرماېلي دي چی روحونه اووم آسمان ته خیژول کیږي ، د الله په حضور کی په ادب سره ودریږي ، د سجده کولو اجازه ورته کیږي ، نول په سجده ولوېږي . په حدیث کی دي :

رٔیا المؤمن جزء من ستة واربعین جزء من النبوة . د مؤمن خوب د نبوت شلویښتمه حصه ده ، په ځینو روایتونو کی پنځه شلویښتمه حصه هم روایت شوی دی . نو خوب د

الوهیت له فیضان او د نبوت له برکاتو خخه دی . د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم حدیث شریف دی : ذهبت النبوة وبقیت المبشرات (ابن ماجه) .

نبوت ختم شوی او بشارتونه باقي پاتی دي : او د آیت شریف ((لهم البشری)) په تفسیر کی ویل شویدي چی لدینه رویا صالحه مراد دي . د رسول الله صلي الله علیه وسلم حدیث شریف دی : من تحلم بحلم لم یر کلف ان یعقد بین شعیرتین ولم یفعل (بخاری شریف) یعنی چا چی داسی خوب بیان کړ چی لیدلی یی نه ي نو هغه دیته مجبورولی شي چی پخپل وجود کی غوټه واچوي خو هغه به نشي لګولی . یعنی د قیامت په ورځ به په سخت عذاب کی اخته کیږي . همدغه شان د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی : ان افری الفری ان یری عینیه مالم تریا (بخاری شریف) نهایت لویه افتراء دا ده چی خوب یی نه وي لیدلی خو ووایي چی ما خوب لیدلی دی، یعنی د دروغو خوب بیان کړي . په حدیث شریف کی دي : اصدقکم رؤیا اصدقکم حدیثاً (مسلم شریف) څوک چی څومره رښتونی وي همغومره خوب یی رښتونی وي . اخلاصة التفاسیر ص ۴۲۰ ، ۴۲۱ سوره یوسف ، تحت الایة ((اذ قال یوسف لابیه یاابت انی رأیتُ الخ)) فقط والله اعلم بالصواب .

که چیرته حکومت د مرستی په توګه پیسی ورکړي نو اخستل یی څنګه دي ؟

(۲۸۰ سوال) یو سړی په لندن کی اوسیږي ، د هغه په کور کی جلی پیدا شوی وه ، څو ورځی وروسته هغه مړه شوه ، د هغه ځای حکومت په داسی حالاتو کی د امداد او مرستی په توګه پخپله خوښه د ماشومی مور او پلار ته څه پیسی ورکوي ، نو د دغو پیسو اخستل څنګه دي ؟ پخپله یی استعمالولی شي او که بل کوم غریب ته ورکړي ؟ فقط والله اعلم بالصواب .

ځواب : کله چی حکومت پخپله خوښه له غوښتنی او سوال نه پرته د امداد په توګه پیسی ورکوي نو ددغو پیسو اخستلو کی هیڅ قسم مضائقه نشته . پخپله هم استعمالولی شي او بل کوم حاجت‌مند ته هم ورکولی شي . فقط والله اعلم بالصواب .

شاعر ته د فني معلوماتو په وجه د مفتي سخن خطاب ورکول :

(۲۸۱ سوال) کوم مسلمان شاعر ته د هغه د فني معلوماتو په وجه د مفتي سخن خطاب ورکولی شو او که نه ؟ د مذهبي معاملاتو فیصله کوونکی د دین مفتي وایولهذا کوم سړی چی په خبرو کی ماهر وي هغه ته د خبرو مفتي په ویلو کی باید څه بدي نه وي بینوا توجروا .

ځواب : مسلمان شاعر ته د هغه د فني معلوماتو په وجه د مفتي سخن خطاب ورکول فی نفسه مباح کار دی ، خو کله چی شاعر د دین عالم نه وي نو د مفتي سخن په خطاب ورکولو سره د تلبیس احتمال دی ، عوام پر هغه د دین عالِم او مفتي ګمان کوي ، او له هغه نه د دین پوښتنی کوي ، او د ضلوا فاضلوا مصداق ګرځي .لهذا غیر عالم سړي ته باید دا قسم خطاب ورکولو نه ډېره وکړی شي تر څو عالِم خلک دوکه نشي . فقط والله اعلم بالصواب .

له کوژدن کیدو نه وروسته یو د بل کور ته اخترانه لیږل :

(۲۸۲ سوال) نن سبا د کوژدن له رسم نه وروسته د دواړو له طرف نه د یو بل کور ته د اختر په ورځو کی عیدي یا اخترانه لیږي ایا دا جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د اخترانه په توګه څه څیز لیږل منع نه دي ، خو دا باید رسم ونه ګرځولی شي . فقط والله اعلم بالصواب .

د ماشومانو سالګره نمانځل :

(۲۸۳ سوال) ایا د ماشومانو سالګره نمانځل ضروري دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د سالګره د نمانځلو چی کومه طریقه رائجه ده (مثلاً کیک پکی کټ کوي) نو دا ضروري نه دي ، بلکی قابل ترک دی ، له کفارو سره تشبه لازمیږي ، البته د خوښی اظهار کول او د الله شکر ادا کول منع نه دي . فقط والله اعلم بالصواب .

په نیلام کی د رشوت یو صورت :

(۲۸۴ سوال) زموږ د علاقی په سرکاري ځنګلونو کی کنډ پیدا کیږي . سرکار چی هغه راوباسي نو نیلاموي یی . په دغه نیلام کی د بولي لګولو لپاره له وړاندی نه څه پیسی ورکول کیږي ، ما هم د دغو پیسو په ورکولو سره د بولي لګولو حق ترلاسه کړی دی . د نیلامي په وخت کی یو سړي نورو خریدارانو ته د خو پیسو په ورکولو سره په دی رضا

کوي چې هغوی بولي ونه لګوي تر څو تول مال زه واخلم څه پیسی ماته هم راکړي دي ایا د هغوی اخستل جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا .
ځواب : هر چا چې دا پیسی ورکړي دي هغه باید بیرته ورکړی شي ، دهغه استعمال جائز نه دی . فقط والله اعلم بالصواب .

د شوق له کبله د کونترو خوړل څنګه دي ؟

(۲۸۵ سوال) زمونږ په علاقه کی داسی خلک شته چې هیڅ قسم ناروغي نه لري مګر بیا هم د شپی په وخت کی کونتری نیسي او د هغوی غوښه ښه په شوق سره خوري . ایا د هغوی دا کار صحیح دی ؟ ایا دا خلک ګنهګاریږي او که نه ؟
ځواب : د کونترو خوړل حلال دي برابره خبره چې د دوا لپاره خوري یا هسی شوق او خوند لپاره . په دی کی هیڅ حرج نشته . فقط والله اعلم بالصواب .
(۲۸٦ سوال) یو رضاخانی مولوي اشتهار لیکلی دی چې مولانا تهانوي رحمه الله ویلي دي چې څوک ام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله عنها په خوب کی ووینی نو د هغه تعبیر دا ورکړی دی چې دی به واده کوي .لهذا په دی سره د عائشه رضی الله عنها سخت توهین شوی دی . لدینه به بل غټ بی ایماني څه وي چې د عائشه رضی الله عنها په خوب کی لیدل له ښځی نه تعبیر کړی شي . دغه اشتهار په خلکو کی ډیر لوی پریشاني او غلط فهمي پیدا کړی دی .لهذا ستاسی د ځواب سخت ضرورت دی .
ځواب : د خوب تعبیر کول یو مقدس علم او خاص فن دی ، د دی خپل اصول او ضوابط دي ، په دی باندی د پوهیدو لپاره د خداداد عقل ، فهم او بصیرت ضرورت دی ، د تعبیر د فن اصول او ضوابط معلوموولو نه پرته صرف پخپل ناقص عقل سره په دی کی مداخله کول او تعبیر کوونکو باندی اعتراض کول د جهالت او ناپوهي دلیل دی .
دا چې په خوب کی ازواج مطهرات ولیدل شي اود هغه تعبیر د یوی نیکی ښځی سره واده وکړی شي نو دا تعبیر صحیح دی . په دې کی د بی‌حرمتی او توهین هیڅ خبره نشته ، په دی تعبیر باندی هغه څوک پوهیدای شي چې د نبوت له رڼا نه څه حصه ورته په نصیب شوی وي ، کوم خلک چې د بدعتونو او ظلمونو په ناپاکی کی اخته وي ، د الله تعالی د هغه ملائکی او انسان په لعنت کی ککړ وي هغه خلک له دغه نعمت نه څنګه ګټه ترلاسه کولی شي ؟

من احدث حدیثا او اوی محدثا فعلیه لعنة الله والملائکة والناس اجمعین . یعنی چا چې کوم بدعت ایجاد کړ یا بدعتي ته پناه ورکړه نو پر هغه د الله ، د هغه د ملائکو او د ټولو انسانانو لعنت دی . (مشکواة شریف)

په یو بل حدیث کی دي هر څوک چې د بدعتي په مجلس کی کیني هغه ته حکمت یعنی دیني معرفت نشي ورکول کیدای (تلبیس ابلیس ص ۱۴) .

عن فضیل من احب صاحب بدعة احبط الله تعالی عمله واخرج نور الاسلام من قلبه.

له حضرت فضیل بن عیاض څخه روایت دی چې هر چا بدعتي دوست ونیوه الله تعالی د هغه اعمال ضائع کوي او د اسلام نور د هغه له زړه نه راوباسي . مجالس الابرار ج ۸۸ ص ۵۱۲ .

حضرت سهیل رحمه الله فرمائي :

ومن ضحك فی وجه مبتدع ینـزع الله تعالی نور الایمان من قلبه .

یعنی کوم سړی چې د بدعتي په لیدلو سره وخاندي یعنی خوشاله شي نو الله تعالی دهغه له زړه نه ایمان لرې کوي (مجالس الابرار ج ۸۸ ص ۵۱۲) .

حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمائي :

عمل بدعت ازدیار آن ظلمت می نماید وتقلیل نور سنت می سازد و عمل سنت باعث تقلیل آن ظلمت است وتکثیر آن نور (مکتوبات امام رباني ج ۲ ص ۳۸ فارسي) .

یعنی د بدعت په کارونو سره په تیارو کی زیاتي او په نورانیت کی کمي راځي . د سنت په اتباع کولو سره په ظلمات کی کمي او نورانیت کی زیات والی راځي . لنده دا چې په تعبیر کی هیڅ قسم توهین او بی ادبی نشته . وګورئ (علامه شیخ عبدالغني نابلسي) چې مولوي احمد خان یې هم خپل مذهبي پیشوا مني . هغه هم پخپل کتاب کی دا لیکلي دي چې هر چا له ازواج مطهرانو څخه کوم یوه بي بي په خوب کی ولید نو هغه به له یوی نیکی ښځی سره واده وکړي . عربي عبارت یې دا دی :

من رای من الرجال احداً من ازواج النبی صلی الله علیه وسلم وکان اعجب تزوج امراة صالحة (ج ۱ ص ۱۷) .

ایا علامه عبدالغني نابلسي نعوذ بالله د ازواج مطرالو توهین کړی دی ؟ معاذ الله . ایا هغه ذلیل و ؟ ایا هغه بی ایمانه او بی غیرته و ؟ نه هرگز نه نو بیا په حضرت تهانوي باندی د داسی خوب په تعبیر باندی څه قسم تهمت لګول څنګه جائز کیدای شي ؟ فقط .

د بدعتیانو یو ناجائز کوشش :

(۲۸۷ سوال) د نعره حق نومي کتابچه کی یو رضاخانی مولوي تذکرة الرشید ج ۲ ص ۲۸۹ په حواله کی د مولانا ګنګوهي خوب نقل کړی دی .
ما یو ځل خوب ولید چی مولوي قاسم نانوتوي صاحب دنلوی په جامو کـی دی او زما له هغه سره واده شوی ده څرنګه چی د ښځي او خاوند تـر مـنځ لـه یـو بـل نـه فائـده رسیږي همغسی مونږ ته هم فائده رسیدله . حکیم محمد صدیق کاندهلوي وویل :
الرجال قوامون علی النساء _ نو حضرت ګنګوهي وویل آخر د هغه د ماشومانو تربیت خو کوم . لدینه وروسته بکواس اولا یعنی خبره لیکي : چی ای بی ایمانو ا داسی غلط او ګنده خوب خو وینئ مګر پخپل کتاب کی له لیکلو نه شرم نه کوئ .
لدینه وروسته لیکي : ای مسلمانانو! دمذکوره پورتني خوب په معنی خان پوه کړئ ، ددی خوب عبارت داسی دی چی مولانا رشید احمد ګنګوهي په خوب کی له مولا نا قاسم نانوتوي سره واده وکړه اونانوتوي دناوی پشان شو . خبره خو دکولو ده چی هغه اقرار هم کوي چی له نکاح نه وروسته څرنګه ښځه او خاوند له یوبل نه خوند اوچتوي همدغسي خوند دغو دوارو هم اوچت کر ، مسلمانانو! تاسو فکر وکړئ چی ښځه او خاوند له یوبل نه څنګه ګټه اوچتوي په دی خوښه پوهیږئ (نعره حق صفحه ۷_۸) .
خواب : د مذکوره خوب او دهغه د تعبیر عبارت په نقلولو او د هغه دمطلب په بیانولو کی له زبردست خیانت او بی ایمانی څخه کار اخستل شوی دی .

په تذکرة الرشید کی دخوب او د هغه د تعبیر عبارت په لاندی دول دی :
ما یو ځل خوب لیدلی و چی مولوي محمد قاسم صاحب د شا په صورت کی دی او زما له هغه سره نکاح شویده . د خوب الفاظ صرف همدومره دي لدینه وروسته د دی تعبیر بیان شوی دی .
څرنګه چی له ښځی او خاوند نه یو بل ته ګټه رسیږي همداسی لـه مانـه هغـه تـه او لـه هغه نه ماته ګټه رسیږي . هغه د حضرت رحمه الله تعریف کړی دی او ویلي یی دي

چې زه یې مرید کړم او مونږ حضرت ته په سفارش کولو سره هغه مرید کړ حکیم محمد صدیق کاندهلوي ووېل : الرجال قوامون علی النساء هغه ووېل : د هغه د ماشومانو تربیت خو کوم .

د نعره حق مصنف په مذکوره عبارت کې یو خیانت خو دا کړی دی چې د تعبیر الفاظ یې خوب وګڼل او بیا د ورپسې کربنې چې د تعبیر تفسیر و په خلکو کې د غلط فهمي د پیدا کولو لپاره بالکل لرې کړ او پرځای یې دا ولیکل چې ښځه او خاوند څنګه له یو بل. نه خوند آخلي پر هغه تاسی ښه پوهیږئ . په دغه خیانت سره هغه د خپل جهالت او بې ایماني صریح ثبوت ورکړ .

پاتې شوه په خوب کې د یو سړي له بل سړي سره واده کول نو په هغه کې هیڅ خرابي نشته د تعبیر د فن امام محمد بن سیرین مشهور کتاب تعبیر الرؤیا کې دي چې که چا په خوب کې ولیدل چې له کوم سړي سره واده کوي ، که چیرته هغه معروف او معلوم وي د دواړو تر منځ څه قسم دښمني هم نه وي نو هغه مفعول له خپل فاعل یا د فاعل له همنام څخه خیر او ښګنه رسیږي . (باب دهم) وګورئ چې د مولانا ګنګوهي او مذکوره خوب تر منځ هیڅ قسم فرق نشته .

دا د خوب خبرې دي شرعي احکام نه جاري کیږي په خوب کې طلاق ورکولو سره طلاق نه واقع کیږي ، په خوب کې زنا کولو سره حد نه جاري کیږي او نه هم ورته فاسق او فاجر ویل کیدای شي ، په خوب کې دکفر کلمې په ویلو سره څوکم نه کافر کیږي او دا هم ضروري نه دي چې کوم خوب په ظاهره معلومیږي د هغه تعبیر هم خراب وي .

په کتاب الثعبیر الرویا کې دي : چې که چا دا خوب ولید چې هغه له خپل مور یا خور او یا هم له خپلوانو سره نکاح کړې دی او دا خوب یې ذی قعده ، ذي الحجه ، محرم او رجب کې یې لیدلی وي نو د دی تعبیر دا دی چې دا سړی به د حرم پر ځمکه ګرځي . یعنی د بیت الله شریف زیارت به کوي . (باب دهم ص ۸۱)

مشهور روایت دی چې خلیفه هارون الرشید ښځې زبیده په خوب کې ولیدل چې د دنیا خلک هغې سره صحبت ګوي ، هغه ډیره خفه شوه ، مګر د.خوبونو د تعبیر امام حضرت ابن سیرین د دی دا تعبیر وکړ چې الله پاک به په زبیده باندې داسې کارونه کوي چې ټول مخلوق ته به یې ګټه رسیږي ، نو نهر زبیده د هغې د دغه خوب تعبیر دی . وګورئ چې دغه ټول خوب ظاهراً څومره له شرم نه ډک دی لیکن د دی تعبیر

ځومره خوږ دی که د نعره حق مصنف په هغه کی واک نو پېز هغه به ضرور د سنګسار فتوه ورکړی وه .

ګر همین مفتي وهمین فتوی
کار ایمان تمام خواهد شد

لنډه دا چی خوب ګنده او بد نه وي نو د هغه تعبیر هم ګنده او بد نه وي ، پخپله د ګنده ویونکي ذهنیت ګنده وي . په خوب کی د سړی واده له بل سړي سره د ګټور کیدو تعبیر کول څه د تعجب خبره نه ده . (تعبیر الرویا باب دهم ص ۸۱)
مولانا ګنګوهي رحمه الله وائي چی موږ ته څه فائده وشوه ؟ هغه د دی تعبیر او تفسیر پخپله کوي . هغه یعنی مولانا قاسم د حضرت حاجي صاحب رحمه الله په تعریف کولو سره زه مریدکړم او موږ حاجي صاحب ته سفارش کولو سره هغه مو د مولانا محمد قاسم صاحب مرید کړ . حکیم صاحب الرجال قوامون علی النساء آیت په لوستلو سر اشارةً وویل : هو زه د هغه د ماشومانو تربیت خو کوم . تاسی او س پخپله په انصاف سره ووایئ چی په دی کی څه خرابي دی ؟ فقط والله اعلم بالصواب .

اپریل فول (د اپریل په لومړی تاریخ دوکه ورکول) څنګه دي؟

(۲۸۸ سوال) اپریل فول نمانځل یعنی خلکو ته د دروا‌غو په ویلو سره فریب ورکول او د خندا فضاء جوړول څنګه دي ؟
ځواب : دا د نصاراو سنت دی اسلامي طریقه نه ده ، درواغ ویل حرام دي . په حدیث شریف کی دي : ویل للذی یحدث فیکذب لیضحك به القوم ویل له ، ویل له (ابوداؤد ج ۲ ص ۲۳۳ باب التشدید فی الکذب) .
هغه سړي لپاره هلاکت دی چی د خلکو د خندولو لپاره درواغ وائي .
په حدیث کی دي : لایؤمن العبد الایمان کله حتی یترك الکذب فی المزاحة والمراء وان کان صادقاً (مسند احمد) .
یو سړی تر هغه د پوره ایمان خاوند نشي کیدای تر څو پوری چی درواغ په پوره توګه پری نږدي ، برابره خبره ده چی دا په ټوقو ټقالو کی وي یا په جنګ جګړه کی . (یا هم اندازیی د درواغو وي اګر که په حقیقت کی رښتیا وي) .

حقیقت دا دی چی دروغ ویل لوی خیانت دی ، ځکه چی انسان د الله او د خلکو امین دی هغه ته هر وخت رښتیا ویل پکار دي . دروغ ویل د امانت منافي دي . په حدیث کی دي : کبرت خیانة ان تحدث اخاك حدیثاً هو لك مصدق وانت له کاذبٌ (ابوداؤد) دا ډیر لوی خیانت دی چی ته خپل ورور ته داسی خبره وکړی چی هغه تا رښتونی ګڼي په داسی حال کی چی ته دروغ وایی .

د صالح عمل توفیق ولی کیږي او ولی نه کیږي ؟

(۲۸۹ سوال) زه د تهجد لمونځ پابندوم کله هم رانه نه قضا کیدل ، له څه مودی راهسی رانه د تهجد لمونځ پاتی دی ، غواړم چی وی لولم خو د پاڅیدو توفیق یی نشم پیدا کولی نه پوهیږم چی څه وجه ده ؟ ډیر زیات پریشانه یم .

جواب : د دی اصل وجه ګناه او له الله نه نافرماني ده ،لهذا له خپلو ګناهونو نه د زړه له کومی توبه وباسه او د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړه . حضرت حسن بصري فرمائي : کله چی یو سړی ګنهکار شي نو هغه ته د تهجد لمونځونو توفیق نه پیدا کیږي . حضرت سفیان ثوري رحمه الله فرمائي : زه د یوی ګناه په وجه تر پنځو میاشتو پوری له تهجد نه محروم پاتی شوی وم . تپوس ترینه وشو چی هغه کومه ګناه وه ؟ نو هغه وویل : ما یو سړی د ژړا په حالت کی لیدلی و خو په زړه کی می ویلي وو چی دا هسی له مکر نه ژاړي . په حرام رزق سره هم په نیکو کارونو کی سستي پیدا کیږي او د بدو اعمالو لپاره شوق زیاتیږي . له حرام روزي نه هم په کلکه ډډه کول پکار دي . فقط .

ایا زرعي الات منحوس دي ؟

(۲۹۰ سوال) شیخ الهند مولانا محمود الحسن او حکیم الامت مولانا تهانوی په اردو تفسیر کی د بقری د سورت په یو شپیتم آیت : واذ قلتم یاموسی د تفسیر په حاشیه کی د لومړی فائده تر عنوان لاندی یو حدیث لیکل شوی دی . په هغه کی ویل شوی دي چی له ابو امامهؓ څخه روایت دی چی په کوم کور کی د زراعت آلات داخل شي په هغه کی غربت داخلیږ ي ، زمیندار په غربت او مفلسی کی اخته کیږي اوس سوال دا دی چی مونږ غونډی دهقانان او زمینداران څو په کورونو کی د زراعت آلات او سامانونه ږدو ، که داسی وي نو بیا مونږ دا آلات چیرته کیږدو ؟

خواب : کوم ځیز چی انسان د الله له ذکر او عبادت نه غافل کړي او د هغه جل جلاله د احکام له منلو نه منع کړي هغه ځیز د هغه لپار منحوس او د ذلت سبب دی ، برابره خبره ده چی دا ځیزونه د زراعت آلات وي یا نور آلات او جائز کسب الهي ارشاد دی :
من اعرض عن ذکری فان له معیشة ضنکا .
هر څوک چی زمونږ له یاد نه غافل شو نو هغه ته د تنګی ژوند په نصیب کېږي (طـه) .
همدغه راز الله تعالی فرمائي : انما اموالکم واولادکم فتنة .
ستاسی مال او اولاد د ستاسو لپاره امتحان دی . که چیرته مال او اولاد د الهي رضا د لر لاسه کولو لپاره مددګار وي نو بیا داسی نعمت دی چی د دی پشان بل نعمت نشته (سوره تغابن) .
یو بزرګ په دی اړه څومره ښه ویلي دي :
نه مـرد سـت آنکه ودنیا دوسـت دارد
ګـــر دارد بـــرای دوســـت دارد
که چیرته له الهي عبادت او احکامو نه منع کوي نو دا یو عـذاب دی چـی د دی پشان بل عذاب او وبال نشته . زیاتره دهقانان پخپلو کارونو کی دومره مشغول وي چی لمونځ ، روژه ، حج او جهاد پشان اعمالو نه محروم دي ، د اسلام له احکامو نه له سره خبـر نـه دي ، یوازی دهقانی سره مینه ئی وي او له دین نه بالکل غافل وي ، چی کورته راشـي نو له خپلو څارویو سره مشغول وي ، د الله له ذکر او یاد نه بالکل غافـل وي ، د غلـی د ګرانیدو دعا غواړي ، د داسی خلکو لپاره په حدیث کی اخطار ورکـول شـوی دی ، نـه هغو دهقانانو لپاره چی هغوی دینداره دي او د الله له ذکر نه غافـل نـه دي . پـه کـور کی د زرعي آلاتو د ایښودو هیڅ بدي نشته ، له حضرت امامه رضی الله عنه څخه روایت دی چی محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل : په ټولو ځـایونو کـی خـراب ځـای بـازار دی او له ټولو نه ښه ځای مسجدونه دي ، ځکه چـی بـازار د غفلـت ، ګنـاه ، دوکـی او دروغ ویلو ځای دی ، مګر د الله نیک او او صالح بنـده ګـان لـه دی بـدي نـه بـچ او محفوظ پاتی کیږي .
په حدیث شریف کی دي چی په بازارکی د داخلیدو په وخت ((لا اله الا الله وحـــده لاشریك له له الملك وله الحمد یحی ویمیت وهو علی کل شیئی قدیر)) لوسـتونکی لپاره یو لک نیکی لیکل کیږي او یو لک ګناهونه یی بخښل کیږي او یو لک درجـی ورنـه

اوچتولی شي ، په جنت کی ورته یو محل جوړولی شي ، ډیر اصحاب کرام بـه د دغه ثواب په خاطر بازارونو ته تلل . وګوره کوم ځای چی له بدو نه بدتر و هغه ځنګه مبارک ثابت شو . همداسی دهقانان هم په نیک نیتی ، صداقت او د شرعي احکامو په پابندی سره نامبارک ځیز مبارک کولی شي . په زرعي آلاتو کی بذات خـود څـه نحوسـت نشـته بلکی نحوست زمونږ بداعمال دي . نـو ځکـه خبرداری ورکـول شـوی دی لکـه چـی سردار چودري او نواب لپاره په حدیث کی دي چي هغه دوزخ تـه ځـي او عاشر یعنـی ټیکس اخستونکی لپاره خبرداری ورکول شوی دی چی په ظلم کولـو سره دی خپل آخرت خراب نه کړي ، حال دا چی همدغـه خلـک د حکومـت پـه نظـام کـی د بنیاد حیثیت لري هله چی د عدل ، دیانت او تقوی پابنـد وي . البتـه د سندرو او موسیقي آلات او سامانونه چی استعمال یی جائز نه دی ، په کورونو کی د هغوی ساتل اګر چـی استعمال نکړی شي مکروه او ګناه ده . په خلاصة الفتاوی کی دي :

ولو امسك فى بيته شيئاً من المعازف والملاهى كره ويأثم وان كان لا يستعملها لان امساك هذه الاشياء يكون للهو عادة ج ٤ ص ٣٣٨ فقط والله اعلم بالصواب .

د باران نه کیدو او قحط سالي وجه څه کېدای شي ؟

(۲۹۱ سوال) دا چی بارانونه نه کیږي او قحط راځي د دی څه وجه ده ؟

ځواب : د باران نه کیدو او د قحط سالي راتلو سبب له الهي احکامو نه مخالفت کول او خپل بد عملونه دي ، خصوصاً زنا ، حق تلفي ، د غریبانانو ، مسکینانو او حاجت منـدو خلکو مدد نه کول ، په تله کی کمي زیاتي کول دا ټول د قحـط سالي اصـلي سببونه دي . په حدیث شریف کی دي کوم خلک چی په ناپ تول ، یعنی په تله او پیمانـه کـی کمي زیاتي کوي ، هغوی په قحط سالي ، د مرګ سختئي او د حکومت په ظلم کی اخته کیږي ، په یو بل حدیث کی دي : ما من قومٍ يظهر فيهم الزنا الاّ اخذ بالسنة او كما قال عليه السلام .

په مثنوي کی مولانا رومي فرمائي :

ابـــر نـا یـداز پیٔ منـع زکـات
وز زنا خـیزد و بـا انـدر جهـات .

له حضرت ابو سفیان څخه روایت دی : انه قال بلغنی ان بنی اسرائیل قحطوا سبع سنین حتی اکلوا الجیف والاطفال . له ابو سفیان رضی الله عنه څخه روایت دی هغه واني چې ماته خبر رسیدلی دی چې بني اسرائیل تر اووه کلونو پوری په قحط کې اخته وو . تر دی چې سړي او ماشومان یې وخوړل .
وکانوا یخرجون الی الجبال ویتضرعون الی الله تعالی فاوحی الله الی انبیاءهم انی لا اجیب لك داعیا ولا ارحم لك باکیاً حتی تردوا المظالم الی اهلها ففعلوا فمطروا
او هغوی به غرونو ته تلل او هلته به یې الله ته عذر او زاری کولی ، الله تعالی د هغوی نبیانو ته وحي وکړه چې زه نه ستاسی دعا قبلوم او نه ستاسی په ژړا کوونکي باندی رحم کوم تر څو پوری چې تاسې حقدارو ته خپل حقوق ورنکړئ ، نو هغوی دحقدارانو حقونه ادا کړل او باران ورباندی وشو (مجالس الابرار م ۴۵ ص ۲۷۲) .
حضرت پیران پیر سید عبد القادر جیلاني فرمائي :
حکی ان بنی اسرائیل اصابتهم شدةفاجتمعوا الی نبی من انبیائهم فقالو ا له اخبرنا بما یرضی الحق عزوجل حتی نتبعه فیکون سبباً لدفع هذه الشدة عنا فسال الحق عزوجل عن ذالك فاوحی الله الیه قال لهم ان اردتم رضائی فارضوا المساکین فان ارضیتموهم رضیت وان استخطتموهم سخطت : اسمعوا یا عقل انتم ما تزالون تستخطون المساکین وتریدون رضی الله عزوجل ما یقع بایدیکم رضاه بل انتم متقبلون فی سخطه!
حکایت دی چې یو خل بني اسرائیل له قحط سالی او تنګدستی سره مخامخ شول ، ټول سره راغونډ شول او د یو نبي خوا ته راغلل ، ورته ئی وویل چې داسی یو کار وښایه چې د هغ په کولو سره الله تعالی رضا شي او زمونږ مصیبت لری کړي ، نبي له الله تعالی نه د دغه کار په باره کې پوښتنه وکړه نو الله تعالی وحي ولیږله چې هغوی ته ووایه که چیرته تاسی رښا خوشالي غواړئ نو مسکینان خوشاله کړئ . پس کله چې تاسی هغوی رضا کړل نو زه هم له تاسی نه خوشالیږم ، او که هغوی مو خفه وساتل نو زه هم خفه کیږم .

ای د عقل خاوندانو ! واورئ همیشه مسکینان خفه ساتئ خو د الله تعالی رضا غواړئ د هغه خوشالي او رضا سره هغه ستاسی په لاس نه درځي تر څو چی مو مسکینان نه وي رضا کړي (فیوض یزداني ترجمه الفتح الرباني جلد ۳۸ ص ۲۵۷) .

ایا ښځه خاوند دواړه د یو بل نوم اخستلی شي ؟

(۲۹۲ سوال) ایا ښځه دخاوند او خاوند د ښځی نوم په اخستلو سره یو بل ته آوازونه کولی شي ؟ که ښځه او خاوند د خپلو اولادو په نوم یو بل ته آواز وکړي نو د دی څه حکم دی ؟ که ښځه او خاوند یو بل باندی کوم خاص نومونه کیږدي او په همدغو نومونو یو بل ته آوازونه وکړي نو دا جائز دي او که نه ؟

ځواب : سړی کولی شي چی د ښځی نوم واخلي او په دی نوم ورته آواز وکړي ، لیکن ښځه دی د خپل خاوند نوم نه اخلي ځکه چی دا د بی ادبی او گستاخی په وجه مکروه دي . یکره ان یدعوا الرجل اباه والمرأة زوجها باسمه . (کذا فی السراجیة) .

لهذا پکار دي چی د سردار یا په بل تعظیمي نوم سره دی ورته آواز وکړي بل لا بد من لفظ یفید التعظیم کیا سیدی ونحوه (شامی ج ۵ ص ۳۶۹ کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع) د خپل هلک یا جینی په نوم آواز کول ورته مناسب نه دي ، د خپل خاوند لپاره ابومحمد یا بل کنیت استعمال کړي .

په اوسنی زمانه کی هجرت فرض دی او که نه ؟

(۲۹۳ سوال) په دی زمانه کی خپل وطن پریښودل پر مسلمان فرض دي او که نه ؟

ځواب : په دی زمانه کی هم چیرته چی د کفارو زور وي او شرعي احکام په ازاری سره نشي تر سره کولی نو بل وطن ته هجرت کول ضروري دي . د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کی تر څو پوری چی کله مکه نه وه فتح شوی او هلته د کفارو زور و له هغه خای نه هجرت ضروري و ، او دی لپاره تاکید هم شویدی ، نو ځکه اصحاب کرام مدینی ته په هجرت راغلي وو ، لیکن کله چی مکه فتح شوه نو حکم وشو چی نور د هجرت ضرورت نشته ، بنه نیت او جهاد پکار دی . نیتٌ و جهادٌ او کما قال علیه السلام (تفسیر فتح المنان ج ۳)

که هجرت فرض وي نو مکی ته لاړ شي او که مدینی ته ؟

(۲۹۴ سوال) که هجرت فرض شي نو خلک مکې ته لاړ شي او که مدینې ته او یا بل کوم وطن ته ؟
ځواب : دا تخصیص نشته چې کوم ځای ته هجرت وکړی شي ، هر چیرته چې اسلامي ارکان په آزادۍ سره ادا کولی شي همغلته دې لاړ شي . د مکې یا مدینې کوم تخصیص یکې نشته .

د باران د نه کیدو په وجه د خلکو صدقه او خیراتونه کول :

(۲۹۵ سوال) زمونږ په کلي کې باران نه کیږي خلکو چنده وکړه او په هغه یې څه غله او څیرلی واخستل ، هغه یې حلال کړ او د هغه غوښه او غله یې په غریبانانو تقسیم کړ ایا لدې خیرات نه غیر مسلم ته هم ورکولی شو او که نه ؟ بینوا توجروا .
ځواب : په داسې وختونو کې چنده کول او د څیرلی په حلالو سره د هغو غوښه واجب التصدق ګڼل غلط کار دی ، له دا سره چې هر څه وي د خپل طاقت په اندازه دې د الله تعالی د رضا لپاره دې ورکړي ، د څیرلی د حلالولو رسم غلط کار دی ، نفلي خیراتونه غیر مسلم ته هم ورکولی شئ . والله اعلم بالصواب .

له حکومت نه امداد اخستل څنګه دي ؟

(۲۹٦ سوال) د بهرونج نومې سیمه کې د زلزلې له کبله کورونو ، مدرسو او مسجدونو ته له برداشت نه وتلی نقصان رسیدلی دی ، دحکومت له طرف نه خلکو ته مرسته ورکول کیږي ، ایا مالدار سړی دا مرسته اخستلی شي ؟ ایا دا د مسجد او مدرسې په عمارت کې استعمالولی شو او که نه ؟ بینوا توجروا .
ځواب : په مسئوله صورت کې چې د حکومت له طرف نه کوم مدد تاسو ته درکول کیږي هغه تاسې اخستلی شئ . د چا چې ضرورت نه وي هغه دې غریبانانو ته ورکړي . همدغه راز د مسجد او مدرسې په کارونو کې هم لګولی شئ ، ښه خبره خو دا ده چې د قرض په توګه دې له چانه پیسې واخستلی شي او په مسجد کې ولګولی شي او بیا د حکومت له پیسو نه هغه قرض ادا کړی شي . فقط والله اعلم بالصواب .

د شرعي نقطې نظر له مخې د زلزلو وجوهات څه دي ؟

(۲۹۷ سوال) د زلزلو د راتلو وجه څه ده د شریعت په رڼا کې بیان کړئ بینوا توجروا .
ځواب : الله تعالی په ځمکه کې رګونه پیدا کړي دي او هغه یې د ملائکو په لاسونو کې ورکړی دي . څیرنه چې د ګناهونو بار زیاتیږي او هلته الله فوراً عذاب نازلول غواړي

نو ملائکو ته حکم ورکوي ، ملائکې هغه رګ راکاږي ، پدې سره په زمکه کې زلزله راځي . والله اعلم بالصواب .
د محمد صلی الله علیه وسلم په زمانه کې زلزله راغله ، هغه صلی الله علیه وسلم اصحابو کرامو ته خطاب کې وفرمایل : ستاسې رب له تاسو نه توبه ویستل غواړي تاسې توبه وکړئ . په هر حال له احادیثو نه معلوم شو چې د ګناهونوډیر والی د زلزلو سبب ګرځي ، او له دی د نجات لاره توبه او استغفار دی . نعوذ بالله ونتوب الیه .
د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کې زلزله راغله نو هغه رضی الله عنه خلکو ته په خطاب کې وویل : د کوم خاص ګناه په وجه زلزله کیږي ، ای خلکو ! توبه وباسئ ، زه په قسم سره وایم چې که بیا زلزله راغله نو زه به دلته نه اوسیږم .
له عائشه رضی الله عنها څخه د زلزلې په باره کې پوښتنه وشوه ، نو هغې وویل : کله چې زنا ، شراب ، رقص ، سرود زیات شي نو د الله غیرت هم په جوش راځي که په معولي تنبیه سره توبه وباسي نو ډیر ښه که نه نو کورونه او اوچت تعمیرونه نړول کیږي او له زمکې سره زمکه کوي . پوښتنه وشوه چې ایا زلزله عذاب دی ؟ په ځواب کې وفرمایل : د مؤمن په حق کې رحمت دی او د کافر لپاره عذاب (معاذ الله) .
کله چې حضرت عمیر بن عبد العزیز د مسلمانانو خلیفه شو نو یو فرمان یې ولیکلو او مسلمانو هیوادو ته ولیږلو . په هغه کې یې لیکلي وو : زلزله داسې یو څیز دی چې الله پاک پخپلو بنده ګانو باندې خپل عقاب ښکاره کولو سره له هغوی نه د توبې کولو غوښتنه کوي ، په کار دی چې د زړه له کومې توبه وباسئ او بدعملي پریږدئ ، ښه ډیر صدقه او خیرات ورکړئ که مکروه وخت نه وي نو نوافلو کې دی مشغول شي .
د حضرت آدم علیه السلام دعا : ربنا ظلمنا انفسنا وان لم تغفرلنا وترحمنا لنکونن من الخسرین ، همدغه راز د حضرت نوح علیه السلام دعا : وان لم تغفرلي وترحمني اکن من الخسرین ، او د حضرت یونس علیه السلام دعا : لا اله الا انت سبحنك انی کنت من الظلمین دی ولولي .
د زیات تفصیل لپاره دی ولولي " اخبار الزلزله " مصنف حضرت تهانوی رحمه الله فقط والله اعلم بالصواب .

د خلکو په وړاندې پوزه صفا کول :

(۲۹۸ سوال) د ځینو خلکو عادت دی چې د خلکو په وړاندې پوزه کې ګوتې دننه کوي او وچ شوی ګرنګ ترینه وباسي . ایا داسې کول جائز دي ؟ بینوا توجروا

ځواب : د خلکو په مخکې په پوزه کې ګوتې وهل او ګرنګ پاکول مکروه او بد عادت دی .لدینه باید ډډه وکړی شي ((ویکره ازالة درنه بحضرة الناس)) (غنیة الطالبین ص ۱۳ ج ۱) فقط والله اعلم بالصواب .

که خاص د الله لپاره دې پیسې ورکړې وي او هغه درته واپس په لاس درشي نو څه ورباندې وکړي ؟

(۲۹۹ سوال) زما خوا ته یو سړی راغی او ویې ویل چې یو سړی ناروغ او د پیسو له طرف نه سخت محتاج دی خو د زکات مستحق نه دی نو ځکه تاسې له هغه سره لله فی الله د پیسو مرسته وکړئ ، ما یو څو روپۍ هغه ته ورکړې ، شپږ ساعته وروسته ماته خبر راورسید چې هغه وفات شو . هغه ماته پیسې واپس راکړې ، اوس زما لپاره د دغو پیسو استعمال جائز دی او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : تا چې کومې پیسې ورکړې دي هغه نه د زکات دي او نه هم واجبه صدقه او کفاره او نه هم د قربانی د څرمنې پیسې دي او نه هم د بانک د سود پیسې دي نو تاسې بلاتأمل او بې له شک نه پخپل استعمال کې راوستلی شئ .

فقط والله اعلم بالصواب .

د مسافرو په کوټو کې تلویزون اېښودل :

(۳۰۰ سوال) زمونږ یوه اداره ده د هغه تر نظارت لاندې یوه مسافرخانه ده ، هلته مسافر اوسیږي ، زیاتره مسافر وایي چې په کوټه کې باید تلویزون وي ، یو کس دې لپاره پیسې هم ورکوي ، سوال دا دی چې ایا مونږ په کوټه کې تلویزون اېښودلی شو او که نه ؟ کومې پیسې چې هغه ورکوي هغه مونږ اخستلی شو او که نه ؟ که تلویزون کېښودلی شي نو د مسافرخانې ذمه وار او مسئولین ګنهګاریږي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کې په هیڅ حالت کې په مسافر خانه کې د تلویزون د اېښودلو اجازه نشته ، کوم خلک چې دهوتل ذمه وار دي هغوی ورباندې ګنهګاریږي ، کوم سړی چې دغه ګناه لپاره پیسې ورکول غواړي هغه دې بالکل قبول نه کړی شي .

د زيات تفصيل لپاره وګورئ فتاوى رحيميه (٦ جلد باب التصاوير) .

په تلويزون کی کرکټ ميچ کتل :

(۳۰۱ سوال) په تلويزون باندی کوم پروګرام لګه د کرکټ ميچ چی سيده له ميدان نه ښکاره کوي د هغه ليدل جائز دي او که نه ؟ ما له علماو نه آوريدلي دي چی تلويزون ته کتل حرام دي ليکن څرنګه چی په ميدان کی کوم يوه لوبه پخپلو سترګو ليدلی شو همداسی د کيمرى په ذريعه په تلويزون کی ليدلی کتلی شو او که نه ؟ بينوا توجروا .

حامداً ومصلياً ومسلماً ! په قرآن کريم کی د فلاح موندونکو صفت داسی بيان شوی دی: والذين هم عن اللغو معرضون. ترجمه : او څوک چی له لغو يعنی لـه فضولو خبرونو څخه که هغه قولي وي يا فعلي لرى اوسيدونکى وي (قرآن مجيد سوره مؤمنون پاره نمبر ۱۸ رکوع نمبر ۱) .

د لغو معنى ده فضول کار او فضول خبرى چی په هغه کی هيڅ ديني فائده نه وي لهذا له هر هغه کار څخه چی په هغه کی څه ګټه نه وي اعراض کول ښکار دي او په هغه کی خپل قيمتي وخت ضائع کول نه دي ښکار . په حديث شريف کی دي چی

من حسن اسلام المرء ترکه ما لا يعنيه .

د انسان د اسلام له خوبی نه يو دا هم دی چی هغه بی فائدی او لغو کارونه پريږدي (مشکواة شريف ص ٤١٣ باب حفظ اللسان والغيبة الخ)

په تلويزون کی د کرکټ ميچ کتل دکوم ځای ښه کار دی په دی کی لـه قيمتي وخت له ضياع نه پرته بل څه ګټه ده ؟لهذا په دی کی د قيمتي وخت ضائع کولو اجازه څنګه ورکول کيدای شي ، لدينه بايد بالکل پرهيز وکړی شي ، ګن سبا خو د وبا په شکل کی کرکټ عام شويدی ، په دی قمار وهل کيږي ، د کتلو او يا بايللو شرطونه تړول کيږي ، سړي او ښځي ، هلکان او جنوکياني د دی د کتلو لپاره راځي چی زيناتره وخت په تلويزون کی هم بی پردی ښځی ليدل کيږي . لمونځونه وربانـدَ قضا کيږي ، نور هم اخلاقي بدياني په دی کی موجودی دی نو څکه مسلمانانو ته ښکار دي چی دغه ښی کار او لغو څيزونه پريږدي او د عمر قيمتي لمحات غنيمت وګڼي دا د الله لـه طرف نه نعمت دی . په حديث کی دي چی د قيامت په ورځ دا پوښتنه کيږي چی تا خپل عمر چيرته او په کومو کارونو کی خرچ کړ (مشکواة شريف) .

خصوصاً د خوانی د عمر په باره کی پوښتنه کیږي چی دخپل خوانی عمر دی چیرته مصرف کړ (مشکواة شریف) .

که چیرته مونږ خپل دغه قیمتي وخت په بیکاره کارونو ،گناهونو او د لمونخ په پرینښودلو کی تیر کړی وي نو له مونږ سره به هیڅ خواب نه وي ، او دا یقیني خبره ده چی د قیامت په ورځ به هر څوک الله ته حاضریږي او د خپل ژوند حساب به ورکوي ، دنیا ته د مؤمن د راتلو مقصد دا دی چی په دی دنیا کی د آخرت لپاره تیاري وکړو ، په حدیث کی دي : " الدنیا مزرعة الاخرة " دنیا د آخرت لپار فصل دی ، په زمکه کی چی انسان هر څه وکري هغه ريبي‌لهذا عمر باید غنیمت وگڼل شي او د افسوس وخت له راتلو نه مخکی د آخرت لپاره تیاري وکړی شیي . د زیات تفصیل لپاره وگورئ باب التصاویر په کور کی د تلویزون او ریډیو ساتل . فقط والله اعلم بالصواب .

د کور په دروازه باندی هذا من فضل ربی تخته لگول :

(۳۰۲ سوال) څه فرمائي د دین علماء په دی باره کی چی په زوړ یا نوی عمارت په دروازه باندی هذا من فضل ربی ولیکل شي ایا د دی لیکل جائز دي او که نه ؟

ځواب : په تخته باندی د هذا من فضل ربی لیکل او د کور په دروازه باندی داسی لگول چی بی ادبی یی نه کیږي جائز دي . فقط والله اعلم بالصواب .

په کوم زنگ کی چی د بټن په وهلو سره د الله اکبر آواز ووځي په کور یا دفتر کی د هغه استعمال څنگه دی ؟

(۳۰۳ سوال) نن سبا په بازار کی یو قسم زنگ خرڅیږي ، د هغه بټنی ته په زور ورکولو سره له زنگ نه الله اکبر آواز ووځي ، په هغه سره دکور خلکو ته معلومیږي چی دورازه کی څوک ولاړ دي ، یا په دفتر کی دغه زنگ لگول کیږي د نوکر او خادم د غوښتو لپاره هغه زنگ وهل کیږي ، ایا د داسی زنگ استعمالول جائز دي او که نه ؟

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! په مسئوله صورت کی د داسی زنگ استعمالول جائز نه دي په دی کی د الله عزوجل مبارک او ډیر زیات د عظمت وړ نوم دچا د راتلو د خبر لپاره استعمالیږي او دا جائز نه بلکی د گناه کار دی ، په دی طریقی سره د زنگ استعمال د الله تعالی دنوم اهانت کیږي .لهذا په کور یا دفتر کی د دی لگول جائز نه دي . د الله تعالی نوم خاص د ذکر په نیت باید واخستل شي د دنیاوي غرض د پوره

کولو په خاطر د الله تعالی د مبارک نوم استعمالول ډیر زیات نامناسب او له ایماني غیرت نه منافي دی .

فقهاؤ لیکلي دي چې که یو سړی خلکو ته د خپل ځان د راتلو خبر ورکولو لپاره یا الله ووائي نو دا مکروه دی یا کوم سړی د سبق د ختمیدو خبر ورکولو لپاره والله اعلم ووائي نو دا مکروه دی ، یا کوم څوکیدار په زور سره لا اله الا الله کلمه ووائي او لدینه د هغه مقصد د خپل بیداري خبر ورکول وي نو دا هم مکروه دي په درمختار کی دي :
وقد کرهوا والله اعلم ونحوه لا علام ختم الدرس یقرء (رد مختار).

په شامي کی دي . (قوله لا علام ختم الدرس) اما اذا لم یکن اعلاماً بانتهائه لایکره لانه ذکر وتفویض بخلاف الاول لانه استعمله آلةً وللاعلام ، ونحوه اذا قال الداخل یاالله مثلاً لیعلم الجلاس بمجیئة لیهیئوا له محلا ویوقروه ، واذا قال الحارس لا اله الا الله ونحوه لیعلم باستیقاظه فلم یکن المقصود الذکر اما اذا اجتمع القصد ان یعتبر الغالب کما اعتبر فی نظائره اه (درمختار ورد المختار ص ۲۸۱ ج ۵ ، کتاب الحظر والاباحة قبیل کتاب احیاء الموات) فقط والله تعالی اعلم بالصواب . ۸ جمادی الثانیه ۱٤۱۷ ھ (۲۲ / ۱۰ / ۹٦ ء) .

که د سحر په وجه خراب خیالات ذهن ته راشي نو ؟

(۳۰۴ سوال) که چیرته په کوم سړي باندی د سحر او جادو اثر وي او د هغه په زړه او دماغ باندی هم د جادو او سحر اثر شوی وي چې د هغه په وجه په دماغ کی داسی ګنده او خطرناک خیالات راځي چې په ژبه د ویلو همت نشي کولی نو ایا د دغو خیالاتو په وجه هغه ګنهګاریږي ؟

خواب : که چیرته دا د سحر په وجه کیږي نو د دی هیڅ اعتبار نشته په دی دی هیڅ غم ونکړی شي ، د دغو فاسدو خیالاتو په وجه هغه سړی نه ګنهګاریږي البته د سحر له اثر نه نجات تر لاسه کولو لپاره ماهر او مخلص عامل ته دی رجوع وکړي تر څو لدی ګنده سحر نه نجات حاصل کړي . په بهشتي زیور کی هم له سحر نه دخلاصون لپاره یو عمل لیکل شویدی چې په لاندی ډول دی .

د سحر د دفع کولو لپاره :

لاندینی آیت ولیکئ او مریض ته په غاړه کی واچوئ او یا دی اوبه دم کړي او هغه دی وڅکي ،که چیرته لامبل ورته نقصان نه کوي نو په همدغو آیتونو سره دی اوبه دم کړي او مریض دی ورباندی ولمبوي . آیت شریف دا دی :

بسم الله الرحمن الرحیم فلما القوا قال موسی ما جئتم به السحر ان الله سیبطله ان الله لایصلح عمل المفسدین او قل اعوذ برب الفلق من شر ما خلق ومن شر غاسق اذا وقب ومن شر النفثت فی العقد ومن شر حاسد اذا حسد او قل اعوذ برب الناس ملك الناس اله الناس من شر الوسواس الخناس الذی یوسوس فی صدور الناس من الجنة والناس (بهشتي زیور ص ۱۱۸ ـ ۱۱۹ نهمه حصه) فقط والله اعلم بالصواب .

که له درزي (خیاط) سره ټوټه پاتی شي نو د هغه څه حکم دی ؟

(۳۰۵ سوال) مونږ د جامو ګنډلو کاروبار کوو ، خو تنه خیاطان کار کوي ، مونږ له دکاندارانو څخه ټوټی راوړو او له ګنډلو نه وروسته ورته بیرته ورکوو ، له هغوی نه ډیر دکانداران کافران دي ، هغوی پخپل حساب سره ټوټه راکوي مګر زیات وخت ټوټه پاتی کیږي کله چی مونږ پاتی شوی ټوټه هغوی ته ورکوو نو هغوی شک کوي چی تاسی زمونږ له ملازم نه زیاته ټوټه وړئ تاسو به هغه ته رشوت ورکړی وي ، مونږ چی څومره هغوی پوهیوو خو هغوی نه مني بلکی بدګماني کوي او پدی سره زمونږ په کاروبار کی رخنه پیدا کیږي . سوال دا دی چی مونږ څه وکړو ایا دا ټوټه خیرات کړو یا د دی قیمت غریبانانو ته ورکړو په هر حال په دی صورت کی مونږ ته څه کول پکار دي ؟ بینوا توجروا .

خواب : که چیرته پاتی شوی ټوټه دومره اندازه کی وي چی د هغی د واپس کولو عرف دی نو د دغی پاتی شوی ټوټي مالك همغه دی د چا چی دا ټوټه ده ، همغه ته باید واپس کړی شي که هغه شك او بدګماني کوي نو د هغه به ورباندی دی ټوټه واخستلی شي یا ورته وویل شي چی د خیال ... [illegible]

موجودگی کی مونږ ته توته راکوه ، د هغوی په وړاندی د دی خبری د واضح کولو کوشش وکړئ چی اسلام مونږ ته د امانتداری او ربنتیا ویلو درس راکوي او مونږ پخپل اسلام باندی عمل کوو د چا له اجازی نه پرته یو پیسه اخستل هم حرام گنو . مونږ کاریګر یو او زمونږ کوشش دا وي چی کتائي داسی وکړو چی توته ضائع نه شي او تاسو ته گټه ورسیږي . لهذا د بدگمانی پر ځای تاسو ته خوشالیدل پکاردي . غرض دا چی په یوه نه یوه طریقه د هغوی د مطمئن کولو کوشش وکړئ او له خپل صدق او دیانت نه د دی‌خبری د ثابتولو کوشش وکړئ چی مونږ ستا ملازمینو ته رشوت نه ورکوو . انشاء الله د دی به ډیره ښه نتیجه اوځي . کله چی مالک موجود دی نو د دی توټی مالک هم هغه دی د هغه له اجازی نه پرته غریبانو ته څنګه ورکولی شي . فقط والله اعلم بالصواب .

ایا ملا سید کیدای شي ؟

(۳۰٦ سوال) د علمي خاندان خلک د ملا په نوم پیژندل کیږي او ملا ورته ویلی شي مګر هغه خپل ځان ته سید وائي ایا کوم سړی چی ملا وي هغه سید کیدای شي ؟ بینوا توجروا

ځواب : په ملا او سید کی تضاد نشته کوم سړي ته چی ملا ویل کیدای شي هغه ته سید هم ویل کیدای شي او څوک چی سید وي هغه ملا هم کیدای شي . ملا حقیر او پسمانده خلک نه وي ، عالم فاضل سړي ته ملا ویل کیږي ، ډیر لوی لوی علماء چی امتیازي شان یی درلوده د ملا په نوم یادیدل لکه ملا علی قاري ، ملا جامي او ملا رومي . په لغات کشوري کی دي : ملا : ع ، دا د مبالغی صیغه ده چی معنی یی ده ډیر ډک ، لدینه هغه سړی مراد دی چی له علم نه ډک وي ، یعنی ډیر زیات سبق یی ویلی وي او لوی عالم وي . په فارسي کی د ملاء لفظ له همزی نه پرته ملا ویل کیږي (لغات کشوري ص ۴۹۴ فصل میم مع لام) .

په اشرف اللغات کی دي ملاء بضم میم وتشدید لام او له الف نه وروسته همزه ، د دی معنی ده له علم نه ډیر ډک یعنی هغه سړی چی ډیر سبق یی ویلی وي (اشرف اللغات ص ۲۳۰ باب میم مع لام) فقط والله اعلم بالصواب .

د ماشوم په غوږ کی د ښځی اذان کول کافي دي اوکه نه ؟

(۳۰۷ سوال) دماشوم له زیږیدلو نه وروسته یوی ښځی د هغه په غوږ کی آذان او په بل غوږ کی اقامت وویل ایا دا کافي دي اوکه نه ؟ ما آوریدلي چی ښځی ته آذان مکروه دی ایا دا آذان هم مکروه دی ؟ په دی وخت کی نر هلته موجود نه و نو ځکه ښځی د ماشوم په غوږ کی آذان کړی دی .

ځواب : که د ماشوم په غوږ کی صالح متقي سړی اذان وکړي نو دا غوره دی لیکن که چیرته ښځی اذان او اقامت وویل نو هغه هم کافي دی . د بیا ګرځولو ضرورت نشته ، د لمونځ لپاره چی کوم آذان دی هغه ښځی لپاره مکروه دی ځکه چی په دی کی آواز اوچتوي او دا کار ښځی لپاره مناسب نه دی . (ویکره اذان .... امرأة) درمختار ۱/ ۳٦٤ باب الاذان) .

که چیرته لمونځ لپاره ښځی اذان وکړ نو هغه دی وګرځولی شي . وكذا ايعادُ اذان امرأة (درمختار ۱/ ۳٦٥ ایضاً) .

د ماشوم په غوږونو کی آذان او اقامت کی آواز اوچتول نشته نو ځکه دښځی آذان او اقامت کافي دی د بیا ګرځولو ضرورت نشته . فقط والله اعلم بالصواب .

د آب زمزم په اوبوکی لوند شوی د احرام څادر سره څه وکړی شي ؟

(۳۰۸ سوال) زه حج ته تلی وم هغه وخت ما د احرام څادر په زمزم اوبو کی لوند کړی و ، هغه نن هم له ما سره موجود دی د دی استعمال څنګه وکړی شي ؟ د خپل خان یا د خپلی ښځی له کفن لپاره کیږدم یا خپلوانو ته تبرکاً لږلږ ورکړم ، یا د کوم کفن کمیټي نه ورکړم چی د کوم مناسب غریب کفن لپاره ورکړي . غرض دا چی کوم صورت تاسو ته مناسب ښکاري او د الله په نزد غوره وي له همغو نه ما خبر کړئ . انشاء الله پر همغه به عمل کوم .

ځواب : د احرام څادر چی تا پخپل سوال کی د هغه یادونه کړی ده باید هغه له زږیدو نه وړاندی وړاندی استعمال کړی شي ځکه چی له زږیدو نه وروسته د کفن لپاره د استعمال وړ نه پاتی کیږي ، تاسی د هغه مالک یئ خرڅولی هم شی خو که مالي حالت دی ښه وي نو چاته د بخشش په توګه ورکول نه کار دی

عمدغه راز د کفن لپاره خپل خپلوانو ته هم ورکول ښه کار دی . فقط والله اعلم بالصواب

که په کوم مسجد کې دعقیدې خرابونکې کوم تفسیر وي د هغې د لرې کولو حکم :

(۳۰۹ سوال) که چیرته په کوم مسجد کې د مودودي صاحب تفسیر وي یا د احمد رضا خان بریلوي تفسیر موجود وي ، له هغه نه دا ویره وي چې په دې سره به خلک په فتنه کې وغورځیږي نو په داسې صورت کې له مسجد نه د دغه تفسیر په غلا سره وړل او پخپل کور کې ساتل جائز دي او که نه ؟ او که د فتنې ویره نه وي بیا هم تفسیر غلا کول او پخپل استعمال کې راوستل څنګه دي ؟ بینوا توجروا

ځواب : حامدا ومصلیا ومسلماً ! په مسئوله صورت کې که دا ویره وي چې خلک به فتنه او بده عقیده کې واقع کیږي نو د مسجد متولي یا امام ته دې وویل شي چې دا په یوه داسې ځای کې کیږدي چې خلک هغه ونه لیدلی شي . که چیرته هغه دې کار ته نه تیاریږي نو هغه ته دې وویل شي چې مونږ د دې پر ځای بل تفسیر ږدو ، دا مونږ ته حواله کړه ، که د دې امید هم نه وي او دا ویره وي چې پدې سره د خلکو تر منځ اختلاف او جنجال پیدا کیږي نو هغه تفسیر دې لرې کړي او پر ځای دې یو صحیح تفسیر مثلاً د مفتي محمد شفیع صاحب معارف القران یا د حضرت تهانوي بیان القران کیږدي ، په دواړو صورتونو کې دا فکر کیږي چې دا تفسیر د خلکو لپاره د استعمال وړ نه و نو څکه د دې پر ځای بل صحیح او د استعمال وړ خیز کیښودلی شو . فقط والله اعلم بالصواب .

اقدس نوم ایښودل څنګه دي ؟

(۳۱۰ سوال) څو ورځې کیږي چې زمونږ په کور کې هلک پیدا شوی دی او پر هغه مو اقدس نوم ایښی دی ، لکه چې خلک پخپلو اولادو انور او اکرم نومونه ږدي داسې نوم ایښودل څنګه دي ؟ ایا په دې کې څه بدي شته ؟ که څه بدي وي نو په څه وجه ؟ که اقدس نوم ایښودلی شوی نو د دې ثبوت څه دی ؟

ځواب په ماشوم باندې اقدس نوم ایښودل مناسب نه دي ، د اقدس معنی ده ډیر زیات پاک . او د الله جل جلاله ارشاد دی فلا تزکوا انفسکم _ تاسې

خپل خانونه مقدس نه کنی لهذا اقدس نوم ایښودل ښه نه دي په حدیث ... د رباح (فائده) یسار (آساني) او نافع نوم ایښودل منع راغلی دی نو حکمه ... نومونه هم مناسب نه دي . یواځی اکرم او انور نوموته ایښودل خو صحیح ... دي البته محمد اکرم ، یا محمد انور نوم وربانډی ایښودلی شي فقط والله اعلم بالصواب .

ایا مسلمان له غیر مسلم سره یوځای خوراک څښاک کولی شي او که نه ؟

(۳۱۱ سوال) ایا یو مسلمان له یو کافر او غیر مسلم سړي سره خوراک څښاک کولی شي او که نه ؟ بینوا توجروا

ځواب : نصاب الاحتساب باب نمبر ۵ کی دي چی د کافرانو د تألیف قلب او د اسلام په طرف مائل کولو لپاره یوه دوه ځلی خوراک څښاک ورسره وکړي نو په دی کی څه بدي او مضائقه نشته لکه چی محمد صلی الله علیه وسلم یو ځل له غیر مسلمو سره خوراک کړی دی ، مونږ د هغه صلی الله علیه وسلم دا خوراک بدی محمول کړ چی د اسلام په طرف د مائل کیدو لپاره داسی کړی و ، لیکن هر وخت ورسره خوراک کول مکروه دي لکه چی د محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : من الجفاء ان یأکل مع غیر اهل دینه یعنی له غیر مسلمو سره یوځای دوډۍ خوړل ظلم دی پس مونږ د محمد صلی الله علیه وسلم دغه ارشاد همیشکي او مداوت باندی محمول کړ . همدغسی ذخیره ۱۸ فصل کی هم منقول دي (نصاب الاحتساب) فقط والله اعلم بالصواب .

له هندو نه شیریني او تحفه اخستل څنګه دي ؟

(۳۱۲ سوال) د هندوانو شیریني د هغوی د نیاز پشان وي ، ایا هغه شیریني مسلمان خوړلی شي او که نه ؟

---

[1] ـ عن سمرة بن جندب قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاتسمین غلامك یسار ولا رباح ولا نجیح ولا افلح الخ مشکوة باب الاسامی ص ۴۰۷ .

خواب د هندوانو له خوا د ورکول شوی شیریني خوړل جائز دي خو له احتیاط نه مخالف دی . خو که چیرته دغه شیریني د بت او غیر الله لپاره نـذر او نیاز وي نو د هغه خوړل حلال نه دي . فقط والله اعلم بالصواب .

که له کافرو سره دوډی وخوري نو د دی څه حکم دی ؟

(۳۱۳ سوال) ایا له کافرو سره یوځای دوډی خوړل جائز دي او که نه ؟

خواب کله کله ورسره یوځای دوډی خوړلی شي خو عادت گرځـول مکـروه دي په نفع المفتی والسائل کی دي :

الاستفسار : هل يجوز الاكل مع الكافر ؟ الاستبشار : ان كان ذلك مرة او مرتين يجوز لان النبي صلى الله عليه وعلى آله وسلم اكل مع كافرة فحملناه على ذلك ولكن يكره المداومة عليه كذا في نصاب الاحتساب في البـاب الرابع ص ۱۱۰)

کتاب الوصیة

په مرض الموت کی وارثانو ته مال بخشش کول :

(۳۱۴ سوال) زما د پلار پنځه میاشتی وشوی چی په ملایا کی وفات شـوی دی . زه پـه هغه ورځو کی استرلیا کی وم . زما حقیقي مور او دوه خویندی په هندوستان کی وو فی الحال هم هغلته اوسیږم زما له غیر حقیقي مور له ګیډی نه په اولاد کی ځلـور هلکـان او شپږ جنوکیانې دي چی زما له پلار سره اوسیدل . په مرض الموت کـی زمـا پـلار پخپـل رضا یا زبردستی سره زما د حقیقي مور او خویندو په عـدم موجـودګی کـی خپـل ټـول جائیداد زما غیر حقیقي مور او دهغې اولاد ته بخشش کړی دی ، ایـا د هغـه دا بخشـش معتبر دی او که نه ؟ ایا زمـا حقیقـي مـور او خوینـدی پـه دی کـی حقـدار نـه دي ؟ د کتابونو په حواله ځواب راکړئ .

ځواب : د محمد صلی الله علیه وسلم واجب الاذعان فرمان چی ورباندی عمل ضروري دی دا دی چی الله تعالی هر یو وارث ته دهغه حق ورکـړی او حصـه یی مقـرره کـړی ده.لهذا اوس هیڅ یو وارث ته وصیت کول جائز نه دي .

عن ابی امامه رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقــول فی خطبته عام حجة الوداع ان الله قد اعطی کل ذی حق حقه فلا وصـــیة لـــوارث (مشکوة شریف ص ۲۵٦ باب الوصایا) .

له کومی ناروغی وروسته چی سړی روغ نشي او په همغه ناروغی کـی مـړ شـي نـو دیتـه مرض الموت ویل کیږي . په مرض الوفات کی عطیه او بخشش د وصیت پـه حکـم کـی دی . او د وارثانو په حق کی وصیت کول د حدیث له مخی جائز نه دي .

په هدایه کی دي که چیرته په مرض وفات کی ځوک خپل وارث ته څـه هبـه کـړي نـو هغه د وصیت په حکم کی دي . والهبة من المریض للوارث فی هذا نظـیر الوصـــیة لانها وصیة حکماً ج ٤ ص ٦٤١ کتاب الوصایا .

په کوم وجه چی مرحوم پخپل آخري ناروغی کی څه جائیداد پخپلـه خوښـه یـا پـه زور سره خپلو وارثانو ته هبه کړی دی هغه شرعاً معتبر نه دی.لهذا د مرحوم مخکینـی ښځـی او د هغه هلکانو او جنوکیانو ته له مذکوره هبی څخـه حـق رسـیږي . او کـه چیرتـه لـه

مرض الوفات نه مخکی ورته هبه کړی وي او پر هغه یی قبضه ورکړی وي نـو هغـه هبـه معتبره ده د هبی د صحت او معتبر کیدو لپاره دواړه شرطونه ضـروري دي . فقـط والله اعلم بالصواب .

وصیت په مطابق دی کتابونه په مدرسه کی ورکړی شي او که نه ؟

(۳۱۵ سوال) یو عالِم صاحب وفات شو هغه وصیت کړی و چـی زمـا ټـول کتابونـه پـه فلان دیني مدرسی کی ورکړئ . د کتابونو قیمت د ترکی له دریمی حصی نه کـم دی . نو سوال دا دی چی په مذکوره مدرسه کی ورکول ضروري دي ؟ که طلبـاء او عالمـانو ته مو ورکړي نو په دی کی څه حرج شته او که نه ؟

ځواب : په کومه مدرسه کـی د کتـابونو ورکـول دوه قسـمه دي یـا دا چـی د مدرسـی طالبانو او مدرسینو ته ورکړی شي بل دا چی د مدرسی وقف کتابخانی ته ورکـړی شـي چی طلبه او مدرسین ترینه ګټه اوچته کړي او مطالعه یی کړي ، په مسـئوله صـورت کـی ښکاره ده چی دویم قسم وصیت یی کړی دی .لهذا ورثاو تـه پکـاردي چـی د مرحـوم د وصیت په مطابق ټول کتابونه د مدرسی وقف کتابخانـه کـی ورکـړي . فقـط والله اعلـم بالصواب .

مړ شوي شخص زکات نه دی ورکړی ایا د هغه وارثـان دی ادا کړي ؟

(۳۱٦ سوال) په مرحوم باندی زکات واجب الادا و لیکن ادا یی نه شو کړی نـو د هغـه له مال نه زکات ادا کول ضروري دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د مرحوم له ترکی نه زکات ورکول ضروري نه دي ، البته که هغه وصـیت کـړی وي نو د وصیت قانون لحاظ ساتلو سره باید له ثلث مال نه ادا کړی شي که ټول وارثـان رضا وي نو بلا وصیت نه هـم لـه ترکـی نـه زکـات ورکـولی شـي . مګـر د نابـالغ ورثـاو رضامندي معتبر نه دی ،لهذا دهغه له مال نه نشئ ورکولی[1] . فقط والله اعلم بالصواب .

---

[1] ــ وظاهر کلامهم انه کان علیه زکاة لا تسقط عنة بد ون وصیة لتعلیلهم لعدم وجوها بدون وصیة باشـــتراط النیة فیها لأنها عبادة فلا بد فیها من الفعل حقیقة او حکما یوصی بأخراجها فلا یقوم الوارث مقامـــه فی ذلـــك لم

د قریب المرگ وصیت :

(۳۱۷ سوال) یو سړی قریب المرگ دی د هغه خلور ورونـه دي ، یـوه نـوی ښځـه هـم لري اولادونه او مور پلار یې نشته ، له هغه سره تقریباً ۲۵ زره روپۍ دي فـی الحـال چـې کومه ښځه ده د هغې له مخکیني خاونـد نـه اولاد دی چـې علیحـده ژونـد تـیره وي ، دهغه د ښځې اصرار دی چې پخپل ژوند کی خپل ټول جائیداد زما پـه نـوم ولیکـه . د دغې ښځې هره ورځ جګړو له کبله اوس د هغه خاوند*دیته تیار شـوی چـې خپـل ټـول مال د هغه په نوم ولیکي ، ایا دا قسم وصیت نامه لیکل په شریعت کی څه اعتبـار لـري ؟ ایا د ښځې په وینا باندی په عمل کولو سره هغه گنهګاریږي او که نه ؟ حقدار ته حق نـه ورکوونکي لپاره څه وعید او عذاب دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : پخپل ژوند او صحت په حالت کی که یو سړی خپل جائیداد چاته عطیـه کـوي او ورباندی قابض کړي او مالک مختار یې وګرځوي نو هغه شرعاً او قانوناً مالک کیږي او هبه ئی حاصلیږي . او که د وارثانو د حق تلفي نیت کړی وي نو سخت گنهګاریـږي . او که کوم شرعي مجبوریت یې وي نو الله بخښونکی دی . په کوم مرض کی چې مـړ شـي هغه ته مرض الموت ویل کیږي او په مرض المـوت کـی بخشـش او چاتـه عطیـه کـول معتبر نه دي ، همدغه راز وارث لپاره وصیت نامه هم صحیح نـه ده . (لاوصیّة للوارث) البته غیر وارث لپاره له ثلث مال نه وصیت معتبر دی . په مسئوله صورت کی چې بیمـار شي نو د هغه په جائیداد کی د ښځې خلورمه حصه او پاتی مال کی هـر یـو ورور برابـر برابر حقدار دی ، مثال یې داسی دی :

مسئله ۴	١٦
میـــــت	
زوجه	ورور
۱/۴	۳/۴

یعنی ښځې ته خلورمه او پاتی هر یو ورور ته دری حصی رسیږي .

رأیت فی صوم السراج التصریح بجواز تبرع الوارث باخراجها . شامی باب قضاء الفوائت مطلب فی بطلان الوصـــیة بالختمات والتهالیل ج ۲ ص ۷٤ .

پخپل مال کی د عزیزانو لپاره وصیت کول :

(۳۱۸ سوال) زه بی واده سړی یم . مور او پلار می دواړه مړه شوی دي ، زما صرف دوه ورونه دي چی له هغو نه هم یو مړ شوی دی خو د هغه دوه زامن ژوندي دي . که زه مړ شم نو زما ورور او زما وریرو ته زما له میراث نه څومره څومره حصه رسیږي ؟ که چیرته زما وریرونو ته څه حصه نه رسیږي نو هغوی لپاره وصیت کولی شم او که نه ؟ او که کولی شم دڅومره مال وصیت کولی شم ؟ همدغه راز غواړم چی پخپل ژوند کی خیرات وکړم نو د دی څه حکم دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کی که چیرته ستا د مړکیدو په وخت ستا ورور او وریرونه ژوندي وي نو ستا دپوره مال حقدار ستا ورور دی . ستا ورارا ګانو ته په وراثت کی هیڅ نه رسیږي ، البته تاسی د خپل مال په دریمه حصه کی وصیت کولی شئ . تاسی کولی شئ چی پخپل ژوند کی د الله تعالی د رضا کولو په خاطر له خپل مال نه خیرات ورکړئ په دی شرط چی د وارثانو د محروم کولو یا هغوی ته د کم مال د پاتی کیدو نیت مو نه وي ، تاسی د خیرات لپاره داسی صورت خپلولی شئ چی وارث محروم نشي ، او که ستا وارث غریب او ضرورت مند وي نو بیا تا لپاره دا ښه ده چی هغه خوشاله او آسوده پریږدی تر څو د خلکو په وړاندی د سوال لاسونه اوږد نه کړي . په حدیث کی دي :

عن سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه قال مرضت عام الفتح مرضا اشفیت علی الموت فاتانی رسول الله صلی الله علیه وسلم یعودنی وفقلت یارسول الله صلی الله علیه وسلم ان لی مالاً کثیراً ولیس یرثني الا ابنتی افاوصینی بما لی کله قال لا قلت فثلثی مالی قال لا قلت فالشطر قال لا قلت فالثلث قال الثلث والثلث کثیر انك ان تذرورثتك اغنیاء خیر من ان تذرهم عالةً یتکففون الناس .... الخ .

ترجمه : حضرت سعد بن ابی وقاص فرمائي چی زه د فتح مکی په کال داسی ناروغ شوم چی د ژوند اثار پاتی نه شوی . محمد صلی الله علیه وسلم زما د عیادت لپاره تشریف راوړ ، حضرت سعد رضی الله عنه فرمائي : ما عرض وکړ چی ای د الله رسوله ! له ماسره ډیر مال دی او له یوی لور نه علاوه بل وارث هم نه لرم ، زه غواړم چی خپل ټول مال د الله په لاره کی د لګولو وصیت وکړم ، محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل

نه داسي مه کوه ، ما ورته وويل په دريو کی دوه برخی مال وصيت کړم ؟ هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل : نه دومره وصيت هم مه کوه . ما عرض وکړ د نيم مال د لګولو وصيت وکړم ؟ هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل : نه دومره هم مه کوه ، ما وويل د دريمی حصی مال وصيت وکړم ؟ محمد صلی الله عليه وسلم وفرمايل : هو د دريمی حصی مال وصيت کولی شی خو دا هم زيات دی . خپل وارث آسوده پريښودل لدينه بهتر دي چی ته هغه محتاج پريږدی او هغوی د خلکو په وړاندی د سوال لاسونه اوږد کړي .... الخ .

(بخاري ، مسلم ، مشکواة شريف ص ٢٦٥ ، کتاب الوصايا) فقط والله اعلم بالصواب .

مړ کيدونکی سړی خپله ترکه پنځه حصه کړي ؛ مور ، زوی ، لور او خور ته يوه يوه حصه ورکړي او پاتی يوه حصه باندی بدل کولو وصيت کړی دی

(٣١٩ سوال) يوه ښځه وفات شوه د هغیپه وارثانو کی د هغی مور ، د هغه يوه زوی ، يوه لور او يوه خور ده ، خاوند ورته طلاق ورکړی دی . د هغی تر که څنګه تقسيميږي ، هغی له خپل وفات نه مخکی خپل زوی ته ويلي ووچی زما مال پنځه حصی کړه ، يوه حصه ته پخپله واخله ، يوه حصه خور ته دی ورکړه ، يوه حصه زما مور ته او يوه حصه زما خور ته ورکړه او په يوه حصه باندی زما لپاره حج بدل وکړه . په مذکوره صورت کی څنګه عمل کول پکار دي ؟ بينوا توجروا .

خواب : په مسئوله صورت کی که د مرحومی ټول وارثان (زوی ، لور او مور) ټول عاقل او بالغ وي او هغوی ټول د هغی په وصيت باندی عمل کولو ته رضا وي نو د وصيت په مطابق عمل کولی شي . له وراثت نه مخکی حقوق لکه تجهيز ، تکفين او د خلکو د قرض له ادا کولو نه وروسته چی څومره مال پاتی شي هغه په پنځو حصو کی ووېشئ او د وصيت په مطابق ورباندی عمل وکړئ . خو که وارثان د وصيت په مطابق عمل کولو ته تيار نه وي نو تجهيز ، تکفين او د قرض له ادا کولو نه وروسته چی د مرحومی څومره مال پاتی شي دهغه په ثلث کی د مرحومی وصيت نافذيږي ، له ثلث نه بايد لومړی د مرحومی له طرف نه حج بدل وکړی شي او له هغی نه وروسته چی څه مال پاتی شي هغ دی د مرحومی خور ته ورکړی شي ، او د پاتی دوه ثلث دی ١٨ برخی وکړی شي

له هغوی نه د مرحومی مور ته دری حصی یعنی شپږمه حصه ، زوی ته لس حصی او لورت ه پنځه حصی رسیږي ، خور ته په وراثت کی څه نه رسیږي .
په در مختار کی دي : (وتجوز بالثلث لاجنبی) (عند عدم المانع وان لم یجز الوارث ذلك لا الزيادة عليه الا ان تجيز ورثته بعد موته) ولا تعتبر اجازتهم حال حياتـه اصلاً بل بعدو فاته (وهم كبار) (درمختار مع رد المختار ص ۵۷۱ ج ۵ کتــاب الوصايا) .

په درمختار کی دي : (واذا اجتمع الوصايا قدم الفرض وان اخره ، الموصـــی وان تساوت) قوة (قدم ما قدم اذا ضاق الثلث عنها .
په شامي کـی دي : (قوله قدم الفرض) كالحج والزكاة والكفارات لان الفــرض اهم من النفل ولظاهر منه البداء بالاهم زيلعي (درمختار ورد المختار ص ۵۸۰ ج ۵ ، کتاب الوصايا) . فقط والله اعلم بالصواب .

که د صدقی جاریی وصیت وکړ نو کوم کوم کارونه په صدقه کی داخلیږي ؟

(۳۲۰ سوال) یو سړی په مرض الموت کی له وفات نه لس دولس ورځی مخکـی خپلـی ښځی ته وویل چی په یو سړي باندی زما څه قرض پاتی دی ، که زه مړ شم نـو هغـه بـه تا ته دغه قرض پیسی درکړي ، ته به په دی پیسو باندی ما لپاره صدقه جاریـه وکـړی تـر څو ماته ثواب ورسیږي لدینه وروسته هغه مړ شو ، هغه پیسی ماته راکول شـوی دي اوس مالپاره څه حکم دی ؟ له صدقه جاریه نه څه شی مراد دی ؟ امید دی چی ماته لاربښونه وکړئ ، په صدقه جاریه کی کوم کوم کارونه داخل دي ؟
ځواب : مرحوم چی د کومو پیسو په متعلق وصیت کړی دی که هغـه پیسـی د مرحـوم د ټولی ترکی یو ثلث کی دننه وي نو د وصیت په مطابق عمل کول ضروري دي او کـه دا پیسی له ثلث نه زیاتي وي نو د ټولی‌ترکی په یو ثلث کی وصیت نافذولی شـي صـدقه جاریه یعنی داسی کار کول چی باقي پاتی شي او خلک له هغه نه فیض تر لاسه کـړي او مرحوم ته دهغه ثواب ورسیږي مثلاً مسجدجوړول ، مدرسه ... مسافرخانه او داســی نـور سیان جوړول ، یا دیني کتابونه وقف کول ، کوهی کنستل خصوصاً هلتـه چـی د اوبـو

ضرورت وي هلته د اوبو انتظام كول او داسي نور كارونه ، غرض دا چې د مرحوم په دغو پيسو داسې كار وكړى شي چې د صدقه جاريه په صورت خپل كړى او مړي ته ثواب ورسيږي، مړى په ثواب سره ډير زيات خوشاليږي [1] . فقط والله اعلم بالصواب .

په بانک کی د اچول شویو پیسو سود یی ټول عمر خوړلی دی ، که د هغه له مرګ نه وروسته د هغه وارثان د سود په بدله کی اصلي پیسی خیرات کړي نو ؟

(۳۲۱ سوال) يو سړي يو لك او پنځلس زره روپۍ په بانک کی واچولی ، دهغه نه چې خومره سود نړ لاسه کيده هغه به يی خوړلو او دخپل كور په ضروریاتو کی به لګول . يوه هفته وړاندی هغه مړ شو ، اوس د هغه د اولادو اراده دا ده چې زمونږ پلار خومره د سود پیسی استعمال کړي دي ، د ترکی له پیسو نه مخکې همدومره اصلي پیسی په غريبانانو باندی وویشي ايا د هغه زامن داسی کولی شي او كه نه ؟ او داسی کولو سره هغه چې كوم سود استعمال کړى وګناه یی بخښل کیږي او که نه ؟ بينوا توجروا .

ځواب : كه ټول وارثان عاقل او بالغ وي او ټول موجود هم وي او ټول پخپله رضا د سود هومره پيسی غريبانانو باندی ویشي نو داسی کولی شي ، الله تعالى ته دی د خپل پلار د مغفرت لپاره دعا ګانی وغواړي او خیراتونه دی هم ورپسی وکړي او له الله نه دی د مغفرت امید وساتي . فقط والله اعلم بالصواب .

ايا له بل چانه اخستی شوی ماشوم وارث کیدای شي او که نه ؟ د هغه لپاره وصیت کول صحیح دي او که د هغه له نوم سره دی د چا نوم ولګول شي ؟

(۳۲۲ سوال) كه چيرته كوم سړى يو ماشوم خپل زوی وګرځوي او پخپل كور كی لوی كړي نو ايا په حقيقت کی هغه د دی زوی کیدای شي ؟ او هغه ماشوم د هغه د مال وارث كيداى شي او که نه ؟ كه دغه سړی خپل دغه لوی کړي ماشوم ته څه ورکول

---

[1] ـــ وفي الفتاوى الخلاصة ولو اوصى بالثلث في وجوه الخير يصرف الى القنطرة او بناء المسجد او طلبة العلم كذا في التتار خانية . فتاوى عالمگيرى . كتاب الوصايا الباب الثاني في بيان الا لفاظ التي تكون وصية ج٦ ص ٩٧ .

وغواړي يا وصيت ورته وکړي نو د دی څه حکم دی ؟ په سکول (مکتب) کی د هغـه د پلار نوم څه وليکل شي ؟ بينوا توجروا.

ځواب : که چیرته یو سړی کوم ماشوم خپل زوی وګرځوي نو دحقیقت په اعتبار سره دا سړی د هغه پلار نشي جوړيدلی . د دغه ماشوم حقيقي پلار هغه دی چی د چا له نطفـی نه پیدا شي او د دغه ماشوم نسب هم د هغه له حقيقي پلار نه ثابتيږي او د همغـه وارث جوړيږي ، کوم سړی چی خپل زوی ګرځولی دی دهغه وارث نـه شـي جوړيـدلی . پـه قرآن مجيد کی دي :

وما جعل ادعياءكم ابناءكم ذلكم قولكم بافواهكم والله يقول الحق وهو يهـــدی السبيل ° ادعوهم لاباءهم هو اقسط عند الله (الاحزاب ٤ _ ٥) .

تاسي چی کوم ماشـومان خپـل اولاد ګرځـولی دی هغـوی تاسـی ربښتيا زامـن نـه دي ګرځولي دا يواځی ستاسی دخولی خبره ده (چی غلطه ده) او الله تعـالی حقـه خبـره کوي او همغه سيده لاره ښائي ، هغوی دخپلـو پلرونـو پـه نومونـو راوبلـئ دا د الله لـه طرف نه د راستي خبره ده . (احزاب آيت : ۴ _ ۵) .

حضرت مولانا مفتي شفيع صاحب ليکي : دا قسم اولاد ستاسی اولاد نشي کيدلی ، يعنـی هغه ستاسی د اولاد پشان نه ستاسی په مـال کـی مـيراث وړی شـي او نـه هـم دنکـاح دحرمت مسائل پر هغه لاګو کيږي لکه چی د ځوی طلاقه شـوی ښځـه پـه پـلار بانـدی هميشه لپاره حرامه ده نو د متبنی يعنی په خوله زوی ګرځـول شـوي طلاقـه ښځـه هـم ورباندی حرامه وي بلکی ورته حلاله ده . (معارف القرآن ج ۷ ص ۸۴) .

په سکول او مدرسه کی دی دهغه د حقيقي پلار نوم کيښـودلی شـي . ادعوهم لاباءهم هو اقسط عند الله څخه همدغه ثابتيږي .فقط والله اعلم بالصواب .

هسی د مصلحت لپاره د بل چا په نوم کور اخستلو کی د کور رښتونی مالک څوک ګرځي ؟ که یو سړی د خپل کور په یوه حصه کی د خپلی ښځی او لورګانو لپاره وصیت وکړ . نو د دی څه حکم دی ؟

(۳۲۳ سوال) مرحوم ایوب له خپلی ترور نه د کور آخستلو اراده وکړه ترور یی د کور خرڅولو لپاره تیاره شوه مګر دکوم مصلحت په خاطر دکور قواله او سند د ایوب د دوه زامنو په نوم ولیکل شو او س دا کور دچا کیږي ؟ ایوب مړ شوی دی ، دهغه په وارثانو کی یوه ښځه ، دری زامن او دری جنوکیانی دي ، مرحوم مذکوره کور له خپل سامان سره پریښی دي ، لدینه علاوه دوه نور کورونه هم لري ، ترکه به څنګه تقسمیږي ؟ مرحوم په خپل ژوند کی زامنو ته دا ویلي وو چی د کور په لاندی منزل کی به ستاسی مور اوسیږي کله چی هغه مړه شي نو د هغی دغه حصه دی دری جنوکیانو ته ورکړی شي . هغوی ټولو ودونه کړي دي . کله چی هغوی دلته راځي نو په لاندیني منزل کی اوسیږي . مرحوم چی څه وصیت کړی دی دهغه څه حکم دی ؟ همدغه راز که کوم وارث د مرحوم د کوم څیز له تقسیم نه وړاندی مالک جوړیدل وغواړي نو مالک جوړیدای شي او که نه ؟ او که په دی کی دټولو وارثانو حق دی او هغه یوازی د دی مالک نشي جوړیدی . صفا صفا یی ځواب ولیکئ .

ځواب : که د کوم مصلحت په خاطر د بل چاپه نوم کور واخستل شي نو یواځی د هغه په نوم په اخستلو سره هغه د دی کور مالک نه شي جوړیدلی ، بلکی دا کور د هغه چا دی چا چی پیسی ورکړي دي او چا چی سودا کړی دی (امداد الفتاوی ص ۱۸ _ ۱۹ ج ۳ کتاب البیوع) .

لهذا مذکوره کور د مرحوم ایوب په ترکه کی شامل دی او د هغه په ټولو وارثانو کی به ویشل کیږي ، یواځی هغه دوه هلکان د دی مالکان نه دي چی د هغوی په نوم مصلحتاً اخستل شویدی .

مرحوم ایوب چی دکوم څیزونو مالک وو مثلاً د هغه کورونه ، د کور سامان او داسی نور دا ټول د هغه په ترکه کی شامل دي او د شرعي قانو په مطابق ټول په وارثانو کی تقسمیږي له تقسیم نه وړاندی هیڅوک د هغه د کوم څیز مالک نشي جوړیدلی ، که چیرته د مرحوم ایوب همدومره وارثان وي څومره چی تاکلي دي نو حقوق مقدمه

علی الارث یعنی تجهیز ، تکفین ، قرض او جائز وصیت له ادا کولو نه وروسته د مرحوم ترکه په ۷۲ برخو ویشل کیږي په دی کی د هغه د ښځی ۹ برخی ، ددریو ځامنو لپاره د هر یو برخه خوارلس خوارلس برخی او د دریو لورګانو لپاره هری یوی ته اووه اووه برخی رسیږي.

مرحوم ایوب چی دخپل کور د لاندیني منزل په باره کی کومه خبره کړی ده که ټول وارثان عاقل او بالغ وي او ټول موجود وي او ټول د هغه د وصیت مطابق عمل کولو باندی رضا وي نو عملورباندی کولی شي ، خو که ورثه په دی وخت د مرحوم په ټول مال کی د ترکی د تقسیم غوښتنه کوي نو بیا د ټولی ترکی تقسیم ضروري دی ، او له تقسیم نه وروسته چی د هر وارث په حصه کی څه مال راشي د همغه خپل مالک ګرځي. فقط والله اعلم بالصواب.

د سرکاري قانون له زد څخه د بچ کیدو په خاطر د ټول مال وصیت

(۳۲۴ سوال) د سورت یو تن اوسیدونکی د څو کلو راهسی په بهرنی هیواد کی اوسیدو او همغلته مړ شو ، ددغه سړی ډیر زیات جائیداد دی ، د هغه یوه ښځه شته څو اولاد نه لري د هغه ځای سرکاري قانون دا دی چی کله د چا اولاد نه وي او نور وارثان ئی په هندوستان کی نه وي نو اویا فیصده جائیداد باندی سرکار قبضه کوي او پاتی نور دیرش فیصده وارثانو ته ورکول کیږي ،له دغه قانون نه د ځان بچ کولو په خاطر مرحوم خپل وراره په زوی توب نیولی دی او له ماشوم توب نه ئی له ځان سره وړی دی. مقصد یی دا و چی له خپل مرګ نه وروسته خپل جائیداد د مذکوره قانون له زد نه بچ کړی ، مرحوم پخپل ژوند کی یو وصیت نامه ولیکلو چی زما او زما د ښځی له مړ کیدو نه وروسته زما د کورونو مالک زما دغه متبنی دی ، هغه ته پکار دي چی زما دغه جائیداد پخپل نوم کړي او له هغه نه څه پیسی خیرات کړي له ټیکس نه د بچ کیدو په خاطر یی په وصیت نامه کی د وارثانو یادونه نه ده کړی تر څو حکومت له جائیداد نه اویا فیصده وانخلي. اوس د هغه ښځه هم مړه شوی ده هغی خپل ټول سره زر او نور ګاڼه یی دخپلو وارثانو اجازی نه پرته د مسجد لپاره ورکړی دی ایا دا قسم ورکول صحیح دي ، همدغسی متبنی هم څه پیسی په مسجد کی ورکړی دي. د

وصیت نامی په مطابق دغه متبنی د ټول جائیداد وارث ګرځیدلی دی ، اوس سـوال دا دی چی دمرحوم په میراث کی دهغه وارثان هم حق لري او که نه ؟ که حـق لـري نـو دڅومره حصی ؟ مهرباني وکړئ ځواب راکړئ .

ځواب : کوم سړی چی د بل چا زوی خپل متبنی (زوی) وګرځوي نو هغه واقعاً د هغـه سړی زوی نشي جوړیدلی او نه هم هغه سړی دهغه هلـک واقعـي پـلار جوړیـدلی شـي بلکی ددی هلک حقیقی پلار همغه دی چی دچاله له نطفی نه پیداشوی دی ، همدغـه راز دهمدغه حقیقی پلار وارث ګرځي نه دي هغه پلار چی په زوی توب یې نیولی دی.

په قرآن کریم کی دي :

(وما جعل ادعیاءکم ابناءکم ذلکم قولکم بافواهکم والله یقول الحق وهو یهدی السبیل ○ ادعوهم لاباءهم هو اقسط عند الله) (الاحزاب ٤ ـــ ٥) .

ترجمه یې لږ مخکی تیره شویده .

که چېرته متبنی ته څه ورکول غواړي نو دخپل مال له یو ثلث یعنې له دویمې حصی نـه دوصیت په توګه څه ورکولې شي . په مسئوله صورت کی مرحـوم دمصلحت لپـاره کـوم وصیت نامه لیکلی ده دهغه په رڼا کې دشریعت په نظر کـی متبنـی دهغـه دټـول مالـک نشي کیدای البته ددغه وصیت نامې له کبله هغه ته دمرحوم له ترکی نه ددریمې حصـی مال حقدار دی .

لدینه دزیات مال حقدار نه دی ، دپاتې دو ثلثه ترکـی حقـداران دهغـه وارث نـه دي ، څرنګه چی دمرحـوم خپل اولاد نشته نو ځکه متبنی ته دثلث مال له ورکولـو نـه وروسـته چی څومره مال پاتې شي دهغه ربع څلورمـه حصـه دمرحـوم ښځـې تـه رسیږي لنډه داچی دمرحوم په ټول ترکه کی یو ثلث متبنی ته رسیږي ، هغه ته له ورکولو نـه وروسـته چی څه پاتې شي دهغه څلورمه حصه دی دمرحوم ښځې ته ورکړی شـي . لانـد وروسته چی څه پاتې شي هغه دمرحوم دشرعي وارثـانو تـرمنځ ویشـل کیـږي یعنـی دهغـه نهـو وریرونو ترمنځ برابر تقسیمږي .

که متبنی په مدرسه او مسجد کی څه خیرات ورکول غواړي نو هغه له خـپلې حصـې نـه ورکولې شي ، پکار دی چی څه خیرات او صدقه دی ضـرور ورکـوي ، مرحـوم چـی پـه وصیت نامه کې څه لیکلي دي چې مال دی خیرات کـړی کـه لـه ثلـث مـال نـه زیـات خیرات کول وي نودادهغه دوارثانو رضا پوری موقوف دی . که دوارثانو رضا نـه وي نـو

هغوی خپله حصه دمسجد او مدرسې له کمیتي نه آخستلې شي ، په داسې حالاتو کې دشرعي وارثانو له اجازې نه پرته دمسجد او مدرسې په کارو کې دمال استعمالول جائز نه دی ، دمرحوم ښځې چې کوم کالی په مسجد کې ورکړی دي که هغه دمرحومې ذاتي ملکیت وي یا هغه ته برخه کې رسیدونکی شرعي حصه (څلورمې برخـی) څخه وي نو بیا ورکول یې صحیح دي او که دهغه له شرعي حصی نه زیات وي نو بیا دهغی تصرف جائز نه دی ، لهذا دمسجد په کارونو کی دهغی دکالو جواز هم نشته ورثاء په دی صورت کی هم خپل حق واپس اخستلی شي . فقط والله اعلم بالصواب.

که یو سړی غیر مسلم لپاره وصیت وکړي هغه معتبر دی او که نه؟

۳۲٦سوال : دیوسړی ښځه نوی مسلمانه شوی ده ، دغه سړی پخپل ژوند کی دخپلې ښځې دلرې خپلوان لپاره چې مسلمان نه دی وصیت کړی دی ، ددی وصیت څه حکم دی ؟

دغه وصیت کوونکې سړی مړشوی دی ایا دهغه په دی وصیت باندی عمل کول ضروري دي ؟ غیر مسلم لپاره وصیت صحیح دی او که نه ؟ امید دی چی په حوالو سره به ځواب راکوئ .

ځواب : غیر مسلم لپاره وصیت کیدی شي . په بدائع الصنائع کی علامه ساکالي رحمته الله لیکـي : واماکونه مسلماً فلیس بشرط حتی لو کان ذمیا فاوصی له مسلم او ذمی جاز (بدائع الضائع ص ۳۱٤ ج ۷ کتاب الوصایا)

په آخري هدایه-کی دي : ویجوز ان یوصی المسلم للکافر للمسلم فـالاول لقولـه تعالی لاینهاکم الله عن الذین لم یقاتلو کم فی الدین الایة . هدایه اخیرین ص ٦٤١ کتاب الوصایا.

لهذا په مسئوله صورت کی چی مرحوم کوم وصیت کړی دی هغه معتبر دی ، دهغه په ثلث مال کی نافذ دی . فقط والله اعلم بالصواب .

دمیراث له تقسیم نه وړاندی چی کومه گټه شوی دهغه حکم :

۳۲۷ سوال : دمحمد له انتقال نه څلور کاله بعد هم دهغه میراث نه دی تقسیم شوی پـه دی موده کی ډیره ګټه شوی ده ایا دغه ګټه هم په میراث کی حسابیږي ، که ځواب پـه اثبات کی وي نو میراث څنګه تقسیمیږي ؟
ځواب: کومه ګټه چی په دی څلورو کالو کې شوی ده هغـه دی داصـل ترکی یـو جـزء وګڼل شي اودغه ګټه دی په ترکه کی شامل کړی شي او تقسیم دی کړی شي .
فقط والله تعالی اعلم بالصواب راندیر ۲۰ شوال ۱۴۱۴ ھ .

دزیدله مړکیدونه وروسته معلوم شو چی یـو ځـوان دهغـه زوی دی لیکن هغه پخپله ددی مدعی نه دی :

۳۲۸ سوال : مرحوم زید پخپل ژوند کـی یـو ماشـوم خپـل متبنـی (زوی) ګرځـولی و ، اوس زید مړشوی دی دهغه په وارثانو کې یوه ښځه او ۹ وریرونه دي ، اوس اوس معلوم شوی دی چې دمرحوم زید خپل اصلي زوی هم شته ، خو مرحوم پخپل ژوند کی کلـه هم دهغه یادونه ندده کړی او نه هم دغه هلک دادعوه کړیده چی زه دزید زوی یم ، نـه یې میراث غوښتنی ، البته خلک داوایي چی دادزید زوی دی . یو سوال داکیږي چـی داهلک هم په همغه ښار کې اوسیږي چېرته چی زید اوسیدو ، تراوسه پورې نـه زیـد څـه ویلي دي چی پلانکی هلک زما زوی دی او نه هلـک داویلـي دي چـی زه دزیـد زوی یم، نو پدی صورت کی څه حکم دی ؟ ایا هغه دی دزیـد زوی ومنـل شـي او کـه نـه ؟ بینوا توجروا .
ځواب: حامداً ومثلیاً ومسلماً : دکوم سړي په باره کې چی داویـل کیـږي چـی دا دزیـد زوی دی که دهغه له طرف نه څه دعوه نه دي شوی چی زه دزید زوی یم لکه چـی پـه سوال کې لیکل شوي دي نو دخلکو خبرو ته هیڅ اعتبار نشته . خو که هغه دعوه وکـړي چی زه دزید ایکی یوزوی یم او نور وارثان دهغه لدی خبرې نه انکار کوي نـو هغـه تـه پکار دي چی خپل دعـوه شـرعي شـهادت سـره ثابـت کـړي ، دوه عـادل ، دینـدار او دشریعت پابند سړي یایوه سړی دوه دینداري ښځـې دی دالله تعـالی پـه نـوم شـهادت ورکړي چـی دغـه شـخص دمرحـوم زیـد صـحیح او نسـبي زوی دی . او ددی خبرې ګواهي ورکړي چی داد مرحوم زوی دی او مونږ په دی ګـواهي ورکـوو چـی دادزیـد ایکی یو زوی دی او ددی خبرې ګواهي ورکوو چـی دادزیـد شـرعي وارث دی . پـه

دی‌شرعي قاضي یاشرعي جرګه او کمیټـي دګواهـانو ګـواهي قبـول کـړي او دافیصلـه وکړي چی دادمرحوم زید نسبي زوی دی ، نو په داسې صورت کی هغـه دمرحـوم زیـد زوی دی ، او دمرحوم دترکې په ثلث کی دوصیت له نافذولو نـه وروسـته دمرحـوم دغـه زوی ته ورکول کیږي . اوپه دی صورت کې دمرحوم وریرونه له میراث نه محرومیږي که هغه سړی په شرعي شهادت سره داثابت نه کړی شي چی زه دزید زوی یم نـود صـحیح قول په مطابق له نورو وارثانو څخه قسم آخستل کیږي چی هغوی دی داپـه قسـم سـره ووایي چی مونږ ته نه دی معلوم چی دادمرحوم زوی دی ، لدینه وروسـته دهغـه دعـوه دمنلو وړ نه ده اودمرحوم وارث نه دی ، اوپه دی صورت کـی دوصـیت لـه نافـذولو نـه وروسته دمرحـوم له ترکی نه ۴/۱ خلوړمه حصه دمرحوم ښځې ته ورکـول کیـږي اولدینـه وروسته چی کوم میراث پاتې شي هغه دمرحوم په نهو وریرونو کې یو برابر تقسیمیږي .

په درمختار کـې دي : ولو ادعى ارثا عن ابيه فلو اقربه امرا بالدفع اليه ولايكـــون قضاء اعلى الاب حتى لو جاء حيا ياخذه من الدافع على الابن ولو انكـــر قيـــل للابن برهن على موت ابيك وانك وارثه ولا يمين والصحيح تحليفه على العلم بانه ابن فلان وانه مات ثم يكلف الابن بالبينة بذلك وتمامه فى جامع الفصـــولين مـــن الفصل السابع والعشرين . (درمختار ۴/ ۶۱۶ ، كتاب الدعوى ، باب دعـــوى النسب) (غاية الاوطار ۳/ ۳۹۸)

له مړ کیدو نه وروسته دخپلی سترګی بل چاته د ورکولو وصیت:

(۳۲۹ سوال) که یو سړی له مړکیدو نه وړاندی دا وصیت وکړي چی زما لـه مـرګ نـه وروسته دی زما سترګی په بانک کی وساتل شي او بیا دی کوم ضرورت منـد شـخص تـه ورکړی شي ، یا د فلان شخص په سترګو کی دی زما سترګه ولګوله شـي ، ایـا د هغـه دا وصیت جائز او دعمل وړ دی ؟ بینوا توجروا .

ځواب : انسان دخپل بدن یا د بدن د کـوم غـړي مالـک نـه دی چـی څنګـه وغـواړي آزادانه تصرف پکی وکړي . د دلائل لپاره وګـورئ کتـاب الحظر والاباحـت کـی د بـل سړي ګردی استعمالول همدارنګه په اخیرین هدایه کی دي : لانه لاولاية لهما علـــى دمهما ولهذا لا يملكلان الاباحة فلا يستبح برضاهما .

یعنی هیڅ چا ته د خپلې وینې همدغه راز د خپل بدن یا کوم عضو باندی حق نشته نـو خکه هیڅوک د دی خبری مالک نه دی چې خپله وینه یا د خپـل بـدن کـوم غـړی چـا لپاره مباح کړي ، که چا پخپله خوښه مباح کړ بیا هـم د هغـه وینـه او خپـل غـړي مبـاح الاستعمال نه دي (هدایه اخیرین ص ۱۲۹ باب التحکیم تحت قولـه ولایجـوز التحکـیم فی الحدود والقصاص) .

لهذا په مسئوله صورت کی چې مذکوره شخص کوم وصیت کوي دا وصیت فیما لا یملک یعنی د داسی څیز په متعلق دی چې د هغه مالک نـه دی ، نـو ځکـه د هغـه دا وصـیت معتبر نه دی همدغسی هغه فرد یا اداری ته هم هغه ته د ورکولـو وصـیت شـوی دی دا حق نه لري چې دغه سترګه وغواړي ، بل دا چې په دی کی د انسـاني اعضـاء اهانـت هم دی ، په داسی حال کی چې انسان واجب التکریم دی . فقط والله اعلم بالصواب .

کتاب المیراث

د مور په مال کی د هغی د لور حق شته او که نه ؟

(۳۳۰ سوال) مرحوم زید پخپل ژوند کی خپل لور زبیدی ته خپل ټول جائیداد بخښلی دی د زبیدی یو زوی او یوه لور ده ، د هغی خاوند مړ شوی دی ، زبیدی ته د هغی د خاوند خور دا لالچ ورکړی دی چی که ته خپل پلار له جائیداد نه چی تا ته رسیدلی دی د دغه هلک په نوم ولیکی نو زه به ستا واده وکړم ، زبیده دغه کار کولو ته تیاره شوی ده او خپل لور له میراث نه محرومول غواړي نو ایا د هغه دا کار شرعاً صحیح دی ؟ ایا د پلار په جائیداد کی د لور حق نشته ؟

ځواب : بی له شکه لور هم د مور په جائیداد کی د وراثت حق لري ، د مور له مړ کیدو نه وروسته د هغی د جائیداد حقداره ده ، که مور خپله لور له دی نه محرومول غواړي او وصیت وکړي چی زما له مړکیدو نه وروسته دې زما ټول جائیداد زما زوی ته ورکړی شي او زما لور ته دی هیڅ ورنکړی شي ، یا دهغی له اصلي حق نه دکم ورکولو لیکنه وکړي ، بیا هم د هغی لور د هغه له میراث نه نه محرومیږي ، بلکی د خپل پوره حق د اخستلو حقداره ده ، مګر دا حکم دهغی د مور له مړکیدو نه وروسته دمیراث په تقسیم کی دی ، خو د صحت او تندرستی په حالت کی مور خپل ټول جائیداد زوی ته ورکولی شي اګر چی د شرعي وجی نه پرته داسی کول بی انصافي دی او دمور له مروت نه هم خلاف کار دی نو ځکه دا کار د ګناه موجب دی (شامي جلد ۴ ص ۷۰۷) .

په حدیث شریف کی دي : عن انس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه یوم القیمة (مشکواة ج ۱ ص ۷۰۷ کتاب الهبة) .

لهذا که پخپل ژوند کی جائیداد ورکوي نو دواړو ته دی برابره حصه ورکړي ، هلک ته دوه برخی او جلی ته یوه حصه ورکول هم د ترکی په متعلق دي . په ژوند کی چی اولاد ته جائیداد ورکوي نو دا عطیه ده او په عطیه کی ټول اولاد جلی او هلک یو برابر حقدار دي البته که چیرته هلک ته د تعلیم او نور شرعي مصلحتونو له کبله زیات مال ورکړی شي او جلی ته په کم ورکولو د هغی مقصد هغی ته نقصان رسول نه وي نو

جائز دي . انما الاعمال بالنیـــات ـ د اعمالو مدار په نیت دی . فقط والله اعلم بالصواب.

دری خویندی ، دری وریرونه ، دری وریرې ، تره زوی او تره لور وارثان دي :

(۳۳۱ سوال) یو سړی مړ شوی دی د هغه اولادونه نشته ، ښځه هم نه لري ، دهغه نژدی خپلوانو کی دری خویندی او دوه مړه شویو خویند و اولاد ، دری وریرونه ، یوه وریره ، ورور ، خویندی او تره زامن او تره لورګانی دي ، په دی صورت کی د ترکی مال به څنګه ویشل کیږي ؟ د ترکی په مال کی څه نقدی پیسی دي او یو کور دی ، ټولی پیسی تقریباً پنځلس زره دي . بینوا توجروا.

ځواب : د ترکی له تقسیمولو نه مخکی د حقوقو له ادا کولو نه وروسته د پاتی پیسو او جائیداد به ۹ حصی کیږي ، دوه دوه حصی به دری واړه خویندو او یوه یوه حصه به دری واړې وریرو ته ورکول کیږي . دمړو شویو خویندو اولادونه ، وریرې او تره زامن او تره لورګانی د هغه له میراث نه محروم دي ، یعنی د هغه په میراث کی حق نه لري . والله اعلم بالصواب .

که خور ته میراث ورنکړی شي نو د دی څه حکم دی ؟

(۳۳۲ سوال) د ترکی په ویشلو کی زما د ورور نیت خراب دی یعنی د پلار له ترکی نه خویندو ته د حق ورکولو لپاره زما ورور رضا نه دی ، نو دی لپاره شرعي حکم څه دی ؟

ځواب : د میراث د تقسیم په باره کی شرعي حکم نه منل او جنوکیانې د هغوی له حق نه محرومول ډیره لویه ګناه ده بلکی د کفر حد ته رسیدو ویره ده . الله پاک پخپل کلام کی د وراثت د قانونه له بیانولو نه وروسته په څرګنده الفاظو کی ویلي دي : ومن یعص الله ورسوله ویتعد حدوده یدخله ناراً خالداً فیها وله عذابٌ مهین .

یعنی هر څوک چی د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم نافرمانئ کوي او د هغه له مقرره حدودو نه تیری کوي نو هغه په جهنم کی اچوي او هلته به همیشه لپاره اوسیږي او هغه لپاره د ذلت عذاب دی (سوره نساء)لهذا په مسئوله صورت کی خویندو ته د هغوی حق ورکول ضروري دي ، انکار کول د کفارو د رسم تابعداري دی . فقط والله اعلم بالصواب .

په وارثانو کی دوه ښځې ، یو زوی ، دوه جنوکیانې او یوه خور ده :

(۳۳۳ سوال) د مرحوم زید دوه ښځې یو زوی ، دوه لورګانی او یوه خور ده نو د زید جائیداد دی څنګه تقسیم کړی شي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته دی د ترکی ټول ۳۲ حصی جوړی کړی شي له هغوی نه دی دوه دوه حصی دواړو ښځو ته ، ۱۴ حصی د هغه زوی ته او اوه (۷) حصی دی دواړو لورګانو ته ورکړي ، خور یی محرومه ده .

(۳۳۴ سوال) څه فرمايي د دین علماء او مفتیان په دی مسئله کی چی سید ابراهیم صاحب مړ شو او په وارثانو کی یی سید عبدالکریم صاحب ، سید حسام الدین صاحب ، په لورګانو کی یی عائشه بي بي او امنه بي بي یی شاته پریښودل . لدینه وروسته سید حسام الدین صاحب هم مړ شو ، هغه پخپلو وارثانو کی ښځه نور بي بي ، زوی سید سراج الدین ، دویم زوی سید نظام الدین ، دریم زوی سید عبد الحق او لورګانو کی یی بي بي پریښوده . لدینه وروسته امنه بي بي هم مړه شوه هغه په وارثانو کی خپل ورور سید عبدالکریم او خور عائشه بي بي پریښودل ، بیا عائشه بي بي هم مړه شوه هغی په خپلو وارثانو کی صرف خپل ورور عبد الکریم صاحب پریښود اوس پوښتنه دا ده چی د سید ابراهیم صاحب جائیداد څنګه تقسیم کړی شي ؟ بینوا توجروا .

ځواب :

٦\٢٣\٧٣ سید ابراهیم صاحب

ابن	ابن	بنت	بنت
سیدعبدالکریم صاحب	سید حسام الدین صاحب	عائشه بي بي صاحبه	آمنه بي بي صاحبه
۲۴\۸\۱۲	۲	۱۲\۴\۱۱	۴\۱

وقف۴

مسئله۸ تداخل سید حسام الدین صاحب ما فی الید ۲

زوجه	ابن	ابن	بنت

نوربي بي صاحبه	سید سراج الدین	سید نظام الدین	بي بي
۳\۱	٦\۲	٦\۲	۲\۱

مسئله۳ تباثن آسنه بي بي صاحبه مافی الید ۲

اخ	اخت
سید عبد الکریم	عائشه بي بي
۸\۲	۴\۱

مسئله کل عائشه بي بي ما فی الید ١٦

اخ

سید عبدالکریم صاحب

١٦

الاحـــــــــــــــــــــــــــاء

سیدعبدالکریم	نور بي بي	سید سراج الدین	سید نظام الدین	سید عبد الحق	بي بي
۴۸	۳	٦	٦	٦	۳

له میراث نه وړاندې چې کوم ضروري حقونه دي د هغوی لـه ادا کولـو نـه وروسـته د سید ابراهیم میراث په ۷۲ حصو کی ویشل کیږي ، له دینه سید عبدالکریم صاحب تـه ۴۸ ، نور بي بي ته ۳ ، سید سراج الدین ته ٦ ، سید نظام الدین ته ٦ ، سید عبـدالحق تـه ٦ او بي بي ته ۳ برخې رسیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

کتبه سید عبدالرحیم لاجپوري امام بړي مسجد جامع راندیر ۲۳ ربیع الاول سال ٦۳ هـ مطابق ۱۹ مارچ کال ۴۴ ع یکشنبه .

د میړه او د ښځې میراث :

(۳۳۵ سوال) د خاوند له مال نه ښځې ته او د ښځې له مال نه خاوند ته څومره میراث رسیږي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که د خاوند کوم اولاد یعنی زوی ، لور ،نوسی ،نوسۍ ،کړوسی او کړوسۍ یی موجود وي (برابره خبره ده چې اولاد له دغی ښځې څخه وي یا له بلې ښځې څخه) نو لومړی د ضروري مصارفو لکه قرض او د وصیت لانفاذ نه وروسته کوم مال پاتی شي د

هغه اتمه حصه ښځې ته رسيږي که له يوی نه زياتې ښځې درلودی نو بيا هم همدغه اتمه حصه رسيږي ، دواړه دی پخپلو کی يو برابر تقسيم کړي .

او که په اولاد کی څوک نه لري نو ښځې ته څلورمه حصه رسيږي ، که له يوی نه زياتې ښځې ولري نو بيا هم څلورمه حصه ورته رسيږي ، برابر برابر دی پخپلو کی وويشي .

قال الله تعالى : ولهن الربع مما تركتم ان لم يكن ولد فان كان لكم ولدٌ فلهن الثمن مما تركتم الخ . يعنی که ستاسی اولاد نه وي نو ستاسو ښځو ته ستاسی په ترکه کی څلورمه حصه رسيږي ،او که ستاسی اولاد وي نو هغی ته اتمه حصه رسيږي (سوره نساء).همدغه راز که د ښځې په اولاد کی زوی ، لور ، نوسی ، نوسی، يا کړوسی او کړوسی موجود وي برابره خبره ده چی د همدغه خاوند نه وي يا له بل خاوند نه نو دمتقدمه حقوقو نه وروسته چی کوم مال پاتی شي د هغه څورمه خاوند ته رسيږي . مثال :

قال الله تعالى : ولكم النصف ما ترك ازواجكم ان لم يكن لهن ولدٌ فان كان لهن ولدٌ فلك الربع .
که ستاسي د ښځی اولاد نه وي نو د هغی له ترکی نه تاسو ته نيمائي رسيږي او که اولاد يې وي نو تاسو ته څلورمه حصه رسيږي (سوره نساء) .

اولاد له ډیر وخت نه وروسته د پلار په متروکه مال کی حقدار کیږي او که نه ؟

(۳۳٦ سوال) په هندوستان کی د یو سړي د مرګ پنځوس کاله شوي دي ، د هغه زمکه او نور جائیداد د هغه له وارثانو سره دی ، د هغه له وارثانو نه د هغه یو زوی له هندوستان نه باهر بل ملک کی دی هغه هم خپل حصه غواړي ، ایا حقدار دی او که نه ؟

خواب : کله چی دا سړی د خپل پلار زوی دی نو دا د هغه وارث دی ، خپل حق تر لاسه کولی شي د زیات وخت د تیریدو په وجه د هغه حق نه دی باطل شوی [1]. فقط والله اعلم بالصواب.

پخپل ژوند کی د مال تقسیمول :

(۳۳۷ سوال) زما د ښځی طبیعت هر وخت خراب وي نو ځکه خپل ټول مال او متاع پخپل ژوند کی پخپلو اولادونو تقسیمول غواړم ، په اولاد کی دو جنوکیانې او یو زوی یی دی ، زما د بلی ښځی نه څلور ماشومان دي دوه هلکان او دوه جنوکیانې ، د محمدي شرع په مطابق به خپل مال څنګه تقسیموي ؟ بینوا توجروا .

خواب : که ستا ښځه پخپل ژوند کی خپل مال او متاع تقسیمول غواړي نو څلور حصی دی ترینه جوړ کړي یوه حصه دی خپل خاوند ته یوه حصه هلک ته اویوه یوه حصه دواړه لوګانو ته دی ورکړي .

په ژوند کی د مال تقسیمول میراث نه دی بلکی عطیه ده او په دی کی هلک او جلی دواړه یو برابر حق لري هلک ته دوه حصی مال ورکول د میراث قانون دی چی له مرګ نه وروسته جاري کیږي .

قوله تعالی : یوصیکم الله فی اولادکم للذکر مثل حظ الانثیین (سوره نساء)

اوس پاتی شول ستا هغه څلور اولادونه چی ستا د بلی ښځی نه دي هغوی د دغی ښځي وارث نشي کیدلی . فقط والله اعلم بالصواب .

---

[1] ولما فی الحامدیة عن فتاوی احمد افندی المهنداری مفتی دمشق انه کتب علی ثلاثة مسئلة انه تسمع دعوی الارث ولایمنعها طول المدة . شامی کتاب الدعوی ج ٥ ص ٤٢٠ .

د تره زوی د اولادو او د وریری په اولادو کی څوک د ترکی حقدار دی ؟

(۳۳۸ سوال) یو سړی مړ شو ، د هغه ښځه او اولاد نشته ، وراره او وریره نه لري ، خو د وریری په اولادو کی دوه هلکان او یو لور ده ، تره زوی هم نه لري خو د تره زوی اووه زامن دي ، شرعاً د مرحوم وارثان څوک دي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کی د تره زوی اولادونه وارث دي د وریری اولادونه وارثان نه دي . فقط والله اعلم بالصواب .

د قبر د زمکی قیمت دی له کوم مال نه ورکړی شي ؟

(۳۳۹ سوال) د سړي له مړ کیدو نه وروسته عام ورثاء په عمومي قبرستان کی خښول غواړي خو ځینی ورثاء د قبر لپاره په پیسو زمکه اخستل غواړي ، ایا د زمکی قیمت دی د مړي له مال نه ورکړی شي او که وارثان یی ورکړي . بینوا توجروا .

ځواب : ذا د تجهیز او تکفین په خرچ کی شامل دي لهذا د مړي له مال نه ورکولی شي په مفید الوارثین کی دي : د وارثانو لپاره ضروري نه ده چی مړی په عام قبرستان کی دفن کړي . که وغواړي نو د قبر په اندازه دی زمکه واخلي او په هغه کی دفن کړي ، هیڅ یو وارث او قرض خواه د دی په وړاندی مانع نشي جوړیدلی . خو که پخپله خوښه په عام قبرستان کی دفن کړي نو ورته جائز دي . (ص ۳۵)

لیکن که مړ شوی انسان ښځه وي او میړه یی هم ژوندی وي نو بیا د هغه د تجهیز او تکفین ذمه وار همغه دی لهذا د ښځي له ترکی نه خرچه نشي اخستل کیدای . میړه دی پخپل حیثیت او رضا په مطابق د تجهیز او تکفین چاری تر لاسه کړي ، خو که خاوند یی انکار وکړي نو بیا د ښځی له ترکی نه د تجهیز او تکفین لپاره مال خرچولی شي . فقط والله اعلم بالصواب .

که په وارثانو کی دوه ښځی وي نو ترکه دیځنګه تقسیم کړي؟

(۳۴۰ سوال) یو سړی مړ شوی دی د هغه په وارثانو کی له دوه ښځو نه علاوه بل څوک نشته ، په یو روپۍ کی دواړو ته څلور آنی رسیږي نو پاتی دولس آنی دی چاته ورکړی شي ؟

ځواب : په مسئوله صورت کی دی پاتی دولس آنی هم دغو دواړو ښځو ته ورکړی شي فقط والله اعلم بالصواب

په وصیت نامه کی د نکاح نه کولو په شرط سره میراث ورکول:

(۳۴۱ سوال) یو سړي پخپل ژوند کی وصیت نامه ولیکلو چی که زما له مرګ نه وروسته زما ښځه له بل چاسره واده ونه کړي نو زما له مال نه دی میراث ورکړی شي اوکه نکاح وکړي نو نه دی ورکول کیږي بلکی هغه پیسی دی په مسجد کی ورکړی شي ایا داسی وصیت کول جائز دي ؟

ځواب : د خاوند له مړ کیدو سره سم ښځه د هغه له ترکی نه دخپلی شرعي حصی حقداره ګرځي ، ښځه بل واده وکړي او یا ونه کړي هغه په هر حال کی حقداره ده ، د وصیت نامی دغه لکینه د ښځی حق نشي باطلولی ،لهذا د ښځی دحصی پیسی په مسجد کی د ورکولو حق هیچا ته نشته . فقط والله اعلم بالصواب .

په وارثانو کی یو هلک او یوه جلۍ ده :

(۳۴۲ سوال) د مرحوم احمد په وارثانو کی یو زوی اسمعیل او یوه جلۍ عائشه ده ، دواړو ته څومره څومره حصه رسیږي ؟

ځواب : حقوق متقدمه علی الارث یعنی تجهیز ، تکفین ، قرض ، په ثلث مال کی وصیت ، له ادا کولو نه وروسته چی څومره مال پاتی شي د هغه دری حصی کیږي دوه حصی هلک اسمعیل ته او یوه حصه جلۍ عائشه ته ورکول کیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

مسئله۳	مرحوم احمد
میت	
ابن اسمعیل	بنت عائشه
۲	۱

په وارثانو کی ښځه ، مور ، خور او دری لورګانی دي :

(۳۴۳ سوال) د مرحوم په وارثانو کی دری جنوکیانې ، مور او خور دي ، نو هر یو ته څومره څومره حصه رسیږي ؟

مسئله۲۴ عــ۷۲

مرحوم

میـــــــــــــــــــــــــــت

زوجه	ام	بنت	بنت	بنت	اخت
۹\۳	۱۲\۴	۱٦	۱٦	۱٦	۳\۱

په مسئوله صورت کی د مرحوم د مال ۷۲ حصی جوړیږي له هغو نه ۹ برخی یعنی اتمه حصه ښځی ته ، ۱۲ برخی یعنی شپږمه حصه مور ته ، او شپاړلس شپاړس برخی دری جنوکیانو ته او پاتی دری حصی خور ته رسیږي . کذا فی کتب الفرائض . فقط والله اعلم بالصواب .

ښځه ، لور ، خور ، وراره او خوری وارثان دي :

(۳۴۴ سوال) مرحوم وفات شو د هغه په وارثانو کی یو ورو ، یوه خور ، یوه لور ، یوه ښځه او یو وراره او یوه خوری شامل دی . نو هر یو ته څومره میراث رسیږي ؟

ځواب :

مسئله۸

مرحوم

میـــــــــــــــــــــــــــت

زوجه	بنت	اخ	اخت	ابن الاخ	ابن الاخت
۱	۴	۲	۱	م	م

د مرحوم مال به ۸ حصی کیږي ښځی ته یوه حصه ، لورته یی څلور حصی ، ورور ته دوه حصی ، خور ته یوه حصه رسیږي ، وراره او خوروی ته میراث نه رسیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

دوه نارینه اولاد دوه لورګانی او یوه ښځه :

(۳۴۵ سوال) یو سړی مړ شو د هغه په وارثانو کی یوه ښځه ، دوه نارینه اولاد او دوه لورګانی شاملی دي ، په دی صورت کی د مرحوم مال به څنګه تقسیمیږي ؟

ځواب :

مسئله۸ ۴۸

مرحوم

میـــــــــــــــــــــــــــت

زوجه	ابن	ابن	بنت	بنت
۱٦\۱	۱۴	۱۴	۷	۷

د میراث د تفسیمولو نه وړاندی د نورو ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته دمرحوم مال به ۴۸ حصې کیږي ، دهغه ښځی ته ٦ حصی ، هر یو نرینه اولاد ته خوارلس خوارلس حصې او هر یوه لور ته یی ۷ حصې رسیږي .

فقط دوه هلکان او دوه جنوکیانی :

(۳۴٦ سوال) یوه ښځه مړه شوه په وارثانو کی صرف دوه زامن او دوه لورګانی دي د دوی تر منځ به میراث څنګه ویشتل کیږي ؟

خواب :

مسئله٦ هنده

میـــــــــــت

ابن	ابن	بنت	بنت
۲	۲	۱	۱

مال به شپږ حصې کیږي ، دوه دوه حصی به دواړو هلکانو ته او یوه یوه حصه بـه دواړو لوګانو ته ورکول کیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

یو ورو دوه خویندی :

(۳۴۷ سوال) یو سړی وفات شویدی دهغه په وارثانو کی یو ورور او دوه خویندی دي ، دهغه میراث به څنګه تقسمیږي ؟

خواب :

مسئله۴ مرحوم

میـــــــــــت

اخ	اخت	اخت
۲	۱	۱

ترکه به خلور حصی کیږي دوه حصی به د هغه ورور تـه ورکـوي او یـوه یـوه حصه بـه دهغه دواړه خویندو ته ورکوي . فقط والله اعلم بالصواب .

دری جنوکیانی ، یوه ښځه او یو ورور :

(۳۴۸ سوال) زید نومی یو سړی وفات شویدی د هغه پـه وارثـانو کـی دری لورګـانی ، یوه ښځه او یو ورور دی ، هر یو ته د هغه له ترکی نه څومره میراث رسیږي .

خواب :

مسئله۲۳ عـــ۷۲　　زید

میـــــــــــــــــــــــــــــــــت

زوجه	بنت	بنت	بنت	اخ
۹\۳	۱٦	۱٦	۱٦	۱۵\۵

د ضروري حقونو له ادا کولو نه وروسته چې خومره مال پاتې شي د هغه به ۷۲ حصې کیږي ، ۹ حصې د هغه ښځې ته . ۱٦ ـ ۱٦ حصې درې لورګانو او ۱۵ حصې هغه ورو ته رسیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

درې ښځې ، درې لورګانې ، یو ورور او یو خور :

(۳۴۹ سوال) یو سړی وفات شویدی ، دهغه په وارثانو کې درې ښځې ، درې لورګانې او یو ورور دی ، په داسې صورت کې دی ترکه څنګه تقسیم کړی شي ؟

ځواب :

مسئله۲۴ عـــ۷۲　　مرحوم

میـــــــــــــــــــــــــــــــــت

زوجات	بنات	اخ	اخت
۹\۳	۴۸\۱۴	۱۰	۵

د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته د مرحوم جائیداد دی په ۷۲ حصو کې وویشلی شي د هغه ښځو ته ۳ ـ ۳ حصې ، لورګانو ته ۱٦ ـ ۱٦ حصې ، او ورور ته ۱۰ او خور ته ۵ حصې رسیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

یوه ښځه دوه خویندې او یو ورور :

(۳۵۰ سوال) مرحوم خپل شاته یوه ښځه دوه خویندې او یو ورور پریښې دي په دې صورت کې به د مرحوم میراث څنګه تقسیمیږي ؟

ځواب :

مسئله۴ عـــ۲٦　　مرحوم

میـــــــــــــــــــــــــــــــــت

زوجه	اخت	اخت	اخ
۴\۱	۳	۳	٦

د ضروري حقونو له ادا کولو نه وروسته دی د ترکی تول ۱٦ حصی کولی شـي ، ښځـې ته به څلور حصی ورکوي ، ورور ته ٦ حصـی او هـر یـو خـور تـه بـه دری دری حصـی ورکولی شي . فقط والله اعلم بالصواب .

دوه خویندی ، یو ورور او دوه لورګانی :

(۳۵۱ سوال) یوه ښځه مړه شوه په وارثانو کـی دوه خویـنـدی یـو ورور او دوه لورګـانی شاملی دي ، په داسی صورت کی به میراث څنګه تقسیمیږي ؟

ځواب :

مسئله۳ عــــ۱۲ مرحوم

میـــت

بنت	بنت	اخ	اخت	اخت
۴	۴	۲	۱	۱

د متقدمه او ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته د ترکی ۱۲ حصی کیږي ، هـر یـو لـور ته څلور څلور حصی ، ورور ته دوه حصی او هر یو خور ته یوه یوه حصـه رسـیږي . فقـط والله اعلم بالصواب .

ښځه ، ورور ، دوه خویندی او مور :

(۳۵۲ سوال) یو سړی مړ شو د هغه په وارثانو کی ښځه ، ورور ، دوه خورګانی او یو مـور شاملی دي ، هر یو ته به څومره ورکولی شي ؟

ځواب :

مسئله۱۲ عــــ۴۸ مرحوم

میـــت

زوجه	اخ	اخت	اخت	ام
۱۲\۳	۱۴	۷	۷	۸

په مذکوره صورت کی حقوق مقدمه علی الارث له ادائیګي نه وروسته د ترکی تـول ۴۸ حصی کیږي ، ښځی ته دولس حصی ، مور ته اته حصی ، ورور ته څـوارلس (۱۴) حصـی او هر یو خور ته اووه حصی رسیږي .

دوه لورګانی او یو زوی :

(۳۵۳ سوال) یوه ښځه مړه شویده د هغه په وارثانو کی یوه هلک او دوه لورګانی دي هر یو ته څومره حصه رسیږي ؟

خواب :

مسئله۴ هنده

میـــــــــــــت

ابن	بنت	بنت
۲	۱	۱

د متقدم حقوقو له ادا کولو نه وروسته د ترکی څلور حصی کیږي ، هلک تـه دوه حصـی او هر یو جلی ته یوه یوه حصه رسـیږي . للذکر مثل حظ الانثـــیین . فقـط والله اعلـم بالصواب .

یو ورور او یو خور :

(۳۵۴ سوال) یو سړی مړ شو ، په وارثانو کی یو ورور او یو خور ده ، په دی صورت کـی هر یو ته څومره رسیږي ؟

خواب :

مسئله۳ مرحوم

میـــــــــــــت

اخ	اخت
۲	۱

د ضروري او مقدم حقوقو له ادا کولو نه وروسته به ترکی په دریو حصو کی ویشل کیـږي ، ورور ته دوه حصی او خور ته یوه حصه رسیږي .

زوی ، دوه لورګانی ، خاله او ترور :

(۳۵۵ سوال) یو سړی مړ شو د هغه په وارثانو کی یو هلک دوه لورګانی یوه خالـه او یـو ترور ده ، په دی صورت کی څومره حصه رسیږي ؟

خواب :

مسئله۴

مرحوم

میــــــــــــــــــــــــــت

هلک	جلۍ	جلۍ	خاله	ترور
۲	۱	۱	محروم	محروم

د ضروري او مقدم حقوقو له ادا کولو نه وروسته به ترکه پـه څلـور حصـو ویشـل کیـږي ، هلک ته دوه حصې او هر یـو جلـۍ تـه یـوه یـوه حصـه رسـیږي ، خالـه او تـرور دواړه محرومې دي .

خاوند کله له میراث نه محرومیږي ؟

(۳۵٦ سوال) خاوند کله له میراث نه محرومیږي ؟

خواب : د کوم خاص وجې نه پرته خاوند له میراث نه نه محرومیږي ، که د ښځـې اولاد وي نو څلورمه حصه ورته رسیږي او که اولاد نه وي نو نیمه حصه ورته رسیږي .

قوله تعالی : ولکم النصف ما ترك ازواجکم ان لم یکن لهن ولدٌ فان کان لهن ولدٌ فلك الربع . (قرآن حکیم)

ښځه کله د خاوند له میراث نه محرومه پاتې کیږي ؟

(۳۵۷ سوال) ښځه کله د خاوند له میراث نه محرومیږي ؟

خواب : د کوم خاص وجې نه پرته ښځه د خپل خاوند له میراث نه نه محرومیـږي ، کـه دخاوند اولاد وي نو اتمه حصه ورته رسیږي او که اولاد نه وي نـو څلورمـه حصـه ورتـه رسـیږي . لقوله تعالی : ولهن الربع مما ترکتم ان لم یکن ولد فان کان لکم ولدٌ فلهن الثمن مما ترکتم الخ . (القرآن حکیم)

پلار کله له میراث نه محروم پاتې کیږي ؟

(۳۵۸ سوال) پلار کله له میراث نه محروم پاتې کیږي ؟

خواب : پلار له میراث نه محروم نه پاتې کیږي ، د زوی او لور له حصې څخه لږ تـر لـږه شپږمه حصه خو پلار ته رسـیږي . لقوله تعالی : ولابویه لکل واحد منهما السـدس (قرآن کریم) .

نیکه کله له میراث نه محروم پاتی کیږي ؟

(۳۵۹ سوال) نیکه کله له میراث نه محروم پاتی کیږي ؟

ځواب : که پلار ژوندی وي نو نیکه له میراث نه محرومیږي . فقط

ښځه ، پلار او یو زوی :

(۳٦۰ سوال) عبدالله وفات شویدی ، د هغه په وارثانو کی ښځه ، پلار او یو زوی پاتی دي د دوی تر منځ به میراث څنګه ویشل کیږي ؟

ځواب :

مسئله۲۴ — عبدالله

میـــــــــــــــت

زوجه	پلار	زوی
۳	۴	۱۷

د ترکی د مال به ټول ۲۴ حصی کیږي ، ښځی ته یی دری حصی ، پلار ته یی څلور حصی او زوی ته پاتی ۱۷ حصی ټولی رسیږي . فقط

ښځه ، پلار او لور :

(۳٦۱ سوال) عبدالله نومی سړی مړ شوی دی ، د هغه په وارثانو کی یوه ښځه ، پلار او لور یی پاتی دي ، د دوی تر منځ دغه د میراث مال به څنګه ویشل کیږي ؟

ځواب :

مسئله۲۴ — عبدالله

میـــــــــــــــت

زوجه	پلار	لور
۳	۹	۱۲

د ترکی به ۲۴ حصی کیږي ، ښځی ته دری حصی ،لور ته ۱۲ حصی او پلار ته ۹ حصی رسیږي .

ښځه ، مور او پلار :

(۳٦۲ سوال) زید نومی سړی مړ شو ، د هغه په وارثانو کی یوه ښځه ، مور او پلار دي ، هر یو ته څومره څومره میراث رسیږي ؟

ځواب

مسئله۴ زید

میــت

زوجه	مور	پلار
۱	۱	۲

د ترکی نه به څلور حصی جوړیږي ، ښځی ته یوه حصه ، مورته هم یوه حصه او پلار ته دوه حصی رسیږي . (سراجي)

خاوند ، پلار او زوی :

(۳٦۳ سوال) جمیله نومی ښځه مړه شویده ، د هغی وارثانو کی خاوند ، پلار او زوی پاتی دي ، هر یو ته څومره میراث رسیږي ؟

ځواب :

مسئله۱۲ جمیله

میــت

خاوند	پلار	زوی
۳	۲	۷

د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته به ترکه ۱۲ حصی کیږي ، خاوند ته دری حصی ، پلار ته دوه حصی او زوی ته اووه حصی رسیږي . فقط .

خاوند ، پلار او یو لور :

(۳٦۴ سوال) حمیده مړه شویده ، دهغه په وارثانو کی خاوند . لور او پلار یی پاتی دي ، هر یو ته څومره میراث رسیږي ؟

ځواب :

مسئله۱۲ حمید

میــت

خاوند	پلار	لور
۳	۳	٦

د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته به د هغی مال دولس حصی کیږي ، خاوند ته ۳ حصی (ربع) لور ته شپږ حصی (نصف) او پلار ته دری حصی رسیږي .

په وارثانو کی یوه ښځه ، لور او یو ورور دی :

(۳٦۵ سوال) د مرحوم په وارثانو کی یوه ښځه ، یوه لور او یو ورور دی ، د دوی تر منځ به دا میراث څنګه ویشل کیږي ؟ بینوا توجروا .
ځواب : د شرعي او ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته دی مال ۸ حصی کړی شـي ، له هغو نه یوه حصه ښځی ته ، څلور حصی لور ته او دری حصی ورور ته رسیږي .
مسئله۸

مرحوم
میـــــــــــــــــت

ښځه	لور	ورور
۱	۴	۳

فقط والله اعلم بالصواب

په وارثانو کی یوه ښځه او د آنی وراره دی :

(۳٦٦ سوال) یو سړی وفات شو ، دهغه په وارثانو کی ښځه او آنی وراره دی یعنی د پلار ماما زوی ژوندی دی ، لدینه علاوه نور وارث نه لـري ، پـه دی صورت کی ترکه څنګه ویشل کیږي ؟ بینوا توجروا .
ځواب : په مسئوله صورت کی د ترکی څلور برخي کیږي ، ښځی ته یوه حصه او پاتی شوی نور دری حصی د مرحوم د آنی وراره ته رسیږي ، یعنی د پلار ماما زوی پـه ذوی الارحام کی شامل دی . ثم جدیه الخ (درمختار مع الشامی ص ٦۹٦ ج ۵ کتاب الفرائض) فقط والله اعلم بالصواب .

خاوند او پلار :

۳٦۷ سوال : جمیله نومې ښځه مړه شوه په وارثانو کې یې پلار او خاوند پاتې دي ، ددوی ترمنځ به مال څنګه تقسیمیږي .
ځواب:
مسئله۲

جمیله
میـــــــــــــــــت

خاوند	پلار
۱	۱

دلرکی به دوه حصې کیږي خاوند ته هم یوه حصه رسیږي او پلار ته هم یوه حصه رسیږي (سراجي) فقط .

دطلاق له عدت نه مخکې که خاوند مړشي نو هغی ته میراث رسیږي او که نه ؟

۳٦۸ سوال : یو ناروغ سړی په غصه کی خپلې ښځې ته طلاق ورکړ او دطلاق عدت له تیریدو نه وړاندی هغه مړشو ایا دهغه په مال کې دهغه ښځې حق شته او که نه ؟

ځواب: په مسئوله صورت کې طلاق یې واقع شوی دی ، اوپه عدت کې دوفات کیدو له کبله دمیراث حقداره ده ، که عدت ختم شوی وي نو بیا پکې حق نه لري فقط .

ښځه ، زوی ، درې لورګانې ، پلار ، ورور او خور :

۳٦۹ سوال : یو سړی مړشو ، دهغه په وارثانو کې ښځه ، زوی درې لورګانې ، پلار ورور خور او غیر حقیقی مور موجوده ده دهغی زوی او لور هم شته ، پدی صورت کې دمرحوم له ترکی نه هریو ته څومره میراث رسیږي؟

ځواب : په مسئوله صورت کې داواجبي حقوقوله اداکولو نه وروسته دلرکی ۱۲۰ حصې کیږي له هغو نه پنځلس حصې ښځې ته شل حصی پلار ته هلک ته څلور دیرش حصی او هریو لور ته اوه لس اوه لس حصی رسیږي ، غیر حقیقي مور او غیر حقیقي ورور او خور ته برخه نشته . (سراجي)

دوه ښځې او یو لور :

۳۷۰ سوال : دزید په وارثانو کې دهغه دوه ښځې او یوه لور دمړی شوی ښځې څخه ژوندی دي ، ددوی ترمنځ دامیراث دی څنګه تقسیم کړی شي ؟

ځواب:

مسئله۸ تصـــ۱٦

میـــــت زید

زوجه	زوجه	لور
۱	۱	۱۴\۷

دضروري حقوقو له اداکولو نه وروسته دلرکی ټول ۱٦ حصې باید جوړ کړی شي له هغو نه هریوې ښځې ته یوه یوه حصه اوپاتې څوارلس حصې دهغه لور ته رسیږي .

حامله ښځه ، مور او دوه خویندی :

۳۷۱ سوال : یو سړی مړشو دهغه په وارثانو کې مور ، دوه خویندی او یوه حامله ښځه ده ددوی ترمنځ به داتقسیم څنګه تقسیمیږي ؟

ځواب : که چې ښځه حامله ده نو دهغه دماشوم دپیداکیدو پورې دی صبر وکړي ، او دهغه له پیدا کیدو نه وروسته میراث تقسیم کړی شي نو غوره ده ، که وارثان نه رضا کیږي او دستي تقسم غواړي نو حمل دی هلک حساب کړي او ترکه دی تقسیم کړي ، یعني دضروري حقوقو له اداکولو نه وروسته دی مال ۲۴ برخی کړي ، له هغو نه ښځې ته درې حصې او مورته څلور حصی رسیږي او پاتې اولس حصې امانت پاتې کیږي ، دواړو خویندو ته هیڅ حصه نه رسیږي که هلک پیدا شي نو پاتې داولسو حصو مالک همغه کیږي او که جلۍ پیداشي نو له پاتې اولسو حصو نه دی هغی ته دولس حصې اوپاتې نور پنځه حصې دواړو خویندو ته رسیږي ، او که خداناخواسته مړماشوم پیداشي نو مال به دیارلس حصې کیږي له هغو نه ښځې ته درې حصې ، مور ته دوه حصې او هریو خورته څلور حصې رسیږي ، فقط والله اعلم بالصواب.

مور او لور دواړه په یو ځای په حادثه کې مړه شول نو ایا پخپلو کې یو دبل وارث دي او که نه ؟

۳۷۲ سوال : مور او لور دواړه په هوائی جهاز کې وو هغه وغورځید او دواړه یکې مړې شوی . دواړه مالدارې دي نو دترکی دتقسیم په وخت دواړه یودبل وارث دي او که نه ؟

ځواب: که مور اولور داسې مړی شي چې داپته چاته ونه لګیږي چې کوم یو پکې مخکې مړه شویده نو دواړه یودبل وارث نشي کیدای، هغوی به دوارثانو له شمار نه ویستل کیږي او بیا به میراث تقسمیږي ، دمثال په توګه دجلۍ په وارثانو کې ، خاوند، پلار او زوی وي نو دمال به ۱۲ حصې کیږي ، خاوند ته درې حصی، پلار ته دوه حصې او زوی ته پاتې اووه حصې رسیږي ، موریې وارث نه پاتې کیږي . همدغه راز که دمور په وارثانو کې خاوند او زوی وي نو دترکې مال دی څلور حصې کړی شي ښځې ته دی یوه حصه او زوی ته دی درې حصې ورکړې شي . جلۍ یې وارثه نه ده . (سراجي)

دنیکه په ترکه کې دنوسې محرومی اودشریعت په قانون کې دترمیم مسئله

۳۷۳سوال : که څه هم په قران کریم کی هدایت شوی دی چی (اباء کم وابناء کم لا تدرون ایهم اقرب لکم نفعا) مګر ددی باوجود دا سوال مخې ته راځي چی دنیکه له ترکې نه دیتیم لمسی محروم پاتې کیدل عجیبه غوندی خبره ده ، درحمت او را فت غوښتنه خو داده چی یتیم ته ضرور برخه ورکړی شي ، اګرچی قران کریم ددی نفې نه دی کړی مګر کوم اصل یې چی مقرر کړی دی دهغه په وجه یتیم لمسی خامخا محروم پاتې کیږي ما اوریدلي دي چې په مصر کې داقانون جوړ شوی دی چی په نیکه باندی دالازمولی شي چی خپل یتیم لمسی لپاره پخپل مال کې وصیت وکړي ، که هغه له وصیت نه بغیر مړشي نو قاضي داسې تقسیمات کوي چی یتیم ماشوم پکې محروم پاتې نشي او دخپل پلار حصه ترلاسه کړي ، دمصر په شان دلته هم دپارلمان دممبرانو دا اصرار دی چی په پرسنل لاء کې ترمیم وکړی شي او دمصر پشان قانون دی جوړ کړی شي ، اوس سوال دادی

۱ـ ایا دیتیمیو ماشومانو په متعلق دخلکو دا احساس صحیح ی‌د ، او که صحیح نه دی نو ولی ؟

۲ـ ایا دامناسب دی چی دمصر پشان دلته هم په قانون کی ترمیم وکړی شي ؟

ځواب: دا احساس صحیح نه دی ، دادناپوهي او بې اعتنائې نتیجه ده ، نه یواځې داچی دقران کریم له تعلیماتو او ارشاداتو څخه ناخبري دی ، بلکې داسې معلومیږي چی پوښتنه کوونکی دقانون دنفاذ له لازمي اثراتو او قدرتي تقاضو نه هم واقف نه دی یا هم په پرسنل لا کی دترمیم شوق هغه ناخبر او جاهل کړی دی.

حقه خبره داده چی عدل او انصاف او حق وصداقت باندی په عمل کولو سره زیاتره وخت داسې صورتونه مخې ته راځي چی ډیر تریخ اوله زغم نه وتلی وي او دهغه په خلاف ډیر سخت احساسات راپاریږي ، له هغه قاتل نه بل څوک زیات ظالم کیدی شي چی هغه کوم بې ګناه ، نیک اوصالح ځوان یې دکوم تعصب په وجه وژلې وي ، لیکن کله چی هغه دپانسی پر تخته ځیژول کیږي نو پخپله دهغه حالت څومره زړه نرموونکې وي ، بیا ددغه قاتل مور پلار ، ښځې او ماشومانو څه ګناه ده چې دهغه ښځه کونډه او ماشومان یې یتیمانولې شي ، مور او پلار ژړا او ویر ته کینول کیږي . او که له بدقسمتي

نه دغه قاتل دقاضي ورور یازوی وي نو هغه به خوسره زوریږي ؟ داقسم نفسیاتو ته په کتلو سره که یو طرف ته په کلام الله کی داحکم شوي دی چی : یا ایها الذین امنو کونو اقوامین بالقسط شهداء لله ولو علی انفسکم اوالوالدین والا قربین .
نو دی سره سره داهم بیان شویدی چی : ان یکن غنیا او فقیراً فا لله اولی بهما .
نساء ۲۰
دا آیت شریف دګواهي په باره کې دی همدغه شان او شوکت دقانون دنفاذ هم دی نو ځکه مشهوره مقوله ده چی قانون ورړند او ګونګ وي .
دفرائضو په سلسله کې هم داسې صورتونه مخې ته راځي چی دنفسیاتو په خلاف وي ، لکه چی په مسئوله معامله کی قران کریم پخپله دهمداسې صورتونو دمخ نیوي لپاره داسې حکم وکړ : (للذکر مثل خط الانثیینن ـ الی قوله یوصی بها اودین)
نو دکلام په سنځ کې (چی لا دټولو فرائضو بیان نه دی شوی) ارشاد وشو چی :
اباء کم وابناء کم لا تدرون ایهم اقرب لکم نفعاً ، فریضة من الله ان الله کان علیم حکیماً)
ستاسې پلاران او نیکه ، تاسې نه پوهیږئ چی دکتې رسولو په لحاظ سره کوم یوه رشته تاسو ته زیاته قریبه ده .؟(یواځې دیو الله بالغه حکمت ددی فیصله کولی شي اوبس) الله تعالی دغه حصې مقررې کړي دي او هغه دخپلو بندګانو په خیر بنیګنه او مصلحت باندی ښه پوهیږي ، (هغه پخپلو ټولو احکامو کې) حکمت لروونکې دی .
په هر حال داقسم احساسات او جذبات صحیح نه دي ، بلکې دیته کتل پکار دي چې دقانون نفاذ په وخت کې چی دغه رنګ زړه نرموونکي او رقت انګیز جذبات پیداکیږي ددی بنا په عدل او انصاف باندی دی او که نه ؟ لدیٰ غامی عقیدی نه علاوه چی دالله تعالی هر حکم په عدل او انصاف مبنی دی ، داهم ښکاره خبره ده چی نږدی تعلق او اړیکه دلرې اړیکي او تعلق په مقابله کې زیات قوي وي ، دشاخ حق مخکې دی بیا شاخ در شاخ حق وروسته ایا دا اصول دعدل او انصاف نه مخالف دی او که عین عدل او انصاف دی ؟

که چېرته دا اصول ونه منل شي نو بیا دنیکه دمیراث نـه بایـد دټولـو لمسیانو تـه حـق ورکړې شي . اوکه دا اصول صحیح دي نو په دی باندی دعمل کولـو پـه وخـت کـې کوم صورت له انساني نفسیاتو نه مخالف وي ، نو دغه نفسیات دی پرېښودل شي .
دا اصول دی هم په نظر کی ونیولی شي چی زمونږ نظر صرف په ظاهر باندی وي مګـر خبیر او د انا الله چی کوم قانون جوړوي په هغه کی له ظاهر سره باطن هـم د هغـه پـه وړاندی وي .
بیله شکه چی یتمیي یو لوی مصیبت دی لیکن دا مصیبت عندالله فضیلت دی ، د الهـي قانون د تدوین په وخت هغه فضیلت هم د هغه په وړاندی دی ، یو طرف ته ترکـه ده او بل طرف ته دا فضیلت ، دا دواړه نشي یوځـای کیـدلی . اولادو تـه مـال رسـیږي خـو هغوی له دی فضیلت نه محروم دي ، لمسیانو ته دغه فضیلت ورکول شـوی دی او مـال یی ورته نه دی ورکړی .
که څه هم پ مصر کی دا قانون جوړ شوی دی خو دا د عـدل قـانون نـه دی بلکـی د تغلب قانون دی دا قسم قانون په هغه وخت کی صحیح کیدای شي چی کله قاضـي تـه د تقسیمولو حق وي ، او چیرته چی دا حق نه وي هلته دا قسم قانون تغلـب او شخصـي ملکیت باندی دست درازي دی . د قـرآن کـریم مقـرر کـرده فـرائض د قاضـي کـومی فیصلی ته محتاج نه دی بلکی د قاضي له فیصلی نه بغیر پخپله لازمیـږي . د وارث حـق او حصه د قاضی د فیصلی په وجه نه بلکی دا قرآني فیصله ده چی د هغه غوښتنه دا ده چی کله هم مورث مړ شي نو دهغه وارثان د خپلی حصی حقدار ګرځـي . صـرف قبضـه پاتی کیږي چی دهغه لپاره ویش او تقسیم کولی شي تر څو هر څوک پخپله حصه بانـدی قبضه وکړي ، که قاضي د نیکه قائم مقام هم جوړ شـي نـو هغـه دا حـق نـه لـري چـی دوارثانو په حصه کی کمي یا زیاتي وکړي ، ځکه چی دا مال د مړي نه دی پاتی شـوی چی د هغی قائم مقام د چا په حصه کی کمي او زیاتي وکړي ،بلکـی دا مـال د شـرعي حصو په وجه د هغه خلکو شوی دی چی قرآن کریم د هغه وارث ګرځـولي دي ، کـه د قرآني نص په وجه د وارث د حصی پیسی زر کلداري کیږي نو د مورث له مړ کیـدو نـه وروسته هغه د زرو روپو وارث او مالک یی دی ، اوس که قاضي صـاحب د زرو روپـو پـر ځای اووه سوه روپی ورکوي او دری سوه د هغه لمسي ته ورکوي نو هغـه د یـو شـخص په شخصي ملکیت کی تصرف کوي چـی سراسـر تغلـب دی او یـو قـانون هـم د تغلـب اجازه نشي ورکولی .

(دویم خواب) قطعاً دا مناسب نه دي خکه چی دا په قرآني نصوص او الهي احکامو کی ترمیم دی چی مسلمان یی نشي زغملی او نه هغه لپاره جائز دي چی ویی زغمي فقط والله اعلم بالصواب .

یوه لور ،دری ورونه ،یوه خور ، دوه لمسیان او څلور لمسیانی دي

(۳۷۴ سوال) یوه ښځه په حق رسیدلی ده ، دهغی په وارثانو کی یوه لور ، دری ورونه ، یوه خور ،دوه لمسیان او څلور لمسیانی دي ، اوس سوال دا دی چی‌د مرحومی زوی د هغی په ژوند کی وفات شویدی ،لهذا د مرحومی ترکه به څنګه ویشل کیږي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته دی د مرحومی ترکه ۱٦ حصی وکړی شي له هغو نه اته حصی د هغی لور ته ، دواړه نوسیانو ته دوه دوه حصی او څلور واړه لمسیانو ته یوه یوه حصه رسیږي ، دا چی دمرحومی زوی نشته نو د هغه په وجه د هغه اولاد د هغی وارث شول او که زوی یی وای نو لمسیان او لمسیانی د میراث نه مال محروم پاتی کیدل .

ورور او خور یی محروم دي ، په مسئوله صورت کی به میراث داسی ویشل کیږي .

مسئله۲ عـــ۱٦

المیـــــــــــت

لور	لمسی	لمسی	د زوی لور	د زوی لور	د زوی لور	د زوی لور	ورور	خور
۸	۲	۲	۱	۱	۱	۱	محروم	محروم

فقط والله اعلم بالصواب .

مور ، دوه خویندی او ښځه یی حامله ده

(۳۷۵ سوال) یو سړی مړ شو ، د هغه په وارثانو کی ښځه ، مور او دوه خویندی دي او ښځه یی حامله ده نو په دی صورت کی به مال څنګه تقسیمیږي ؟ بینوا توجروا .

خواب : دا چی ښځه یی حامله ده نو دماشوم تر پیدا کیدو پوری دی صبر وکړی شي دا غوره ده خو که ورثاء صبر نه کوي نو بیا حمل دی هلک تصور کړی شي او مال دی وویشل شي ، یعنی د شرعي حقوقو له ادا کولو نه وروسته دی مال ۲۴ حصی وکړی شي ، ښځی ته دی ۳ حصی ، مور ته دی څلور حصی ، او پاتی ۱۷ حصی د ی د امانت په

توگه وساتي ، خورگانو ته هیځ نه رسیږي . که زوی پیدا شو نو ددغه امانت حقدار همغه دی ، او که جلی پیدا شوه نو د امانت له ۱۷ حصو نه دولس حصی دغه جلی ته رسیږي او پاتی پنځه حصی دواړو خویندو ته برابر رسیږي ، که الله مکره ماشوم یی مړ پیدا شو نو د مال ۱۳ حصی کیږي دوه حصی مور ته ، دری حصی ښځی ته او څلور حصی دواړو خویندو ته رسیږي . (سراجي)

د مسئلی صورت به داسی جوړیږي :

(۱) مسئله۲۴ هله چی ماشوم پیدا شي

المیــــــــــــــــــت

ښځه	مور	زوی	خورگانی
۳	۴	۷	محرومي

(۲) مسئله۲۴ کله چی جلی پیدا شي

المیــــــــــــــــــت

ښځه	مور	لور	خورگانی
۳	۴	۱۲	۵

(۳) مسئله۱۳ کله چی ماشوم مړ پیدا شي

المیــــــــــــــــــت

ښځه	مور	دواړه خویندی په شریکه
۳	۲	۴\۸

فقط والله اعلم بالصواب .

د دوه ښځو او بنی دلور تر منځ د ترکی تقسیم :

(۳۷٦ سوال) زید مړ شو په وارثانو کی دوه ښځی ،یوه لور (چی د دغو دواړو ښځو د بنی لور ده) او د دغو دواړو ښځو هیځ اولاد نشته ، په دی صورت کی به ترکه څنګه ویشل کیږي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته به مال په ۱٦ حصو کی ویشل کیږي ، لدینه دواړو ښځو ته یوه یوه حصه او پاتی څوارلس حصی لور ته یی رسیږي (سراجي).

صورت مسئله به داسی جوړیږي :

مسئله۷ حصــه۱٦

المیــت

ښځه	ښځه	لور
۱	۱	۱۴

فقط والله اعلم بالصواب .

ښځه ، ورور ، خور او د مرحومې خور په اولاد کې د میراث تقسیم

(۳۷۷ سوال) یو سړی مړ شو ، له هغه نه وروسته ښځه یې هم مړه شوه ، د هغه ورور او خور ژوندی ده ، خو یو خور یې د مرحوم په ژوند کې مړه شوی ده او دهغې اولاد شته ، په دې صورت کې به د میراث مال څنګه تقسیمېږي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : د شرعي حقوقو له ادا کولو نه وروسته به د مرحوم مال په څلور حصو ویشل کیږي ، ښځې ته یې یوه حصه رسیږي . که ښځه یې مړه شوې وي نو د هغې وارثان حقدار دي پاتې له دریو حصو نه ورور ته دوه حصې او یوه حصه خور ته رسیږي ، د مړې شوې خور اولادونه د هغه له میراث نه محروم دي .

مسئله۴

المیــت

ښځه	ورور	خور
۱	۲	۱

فقط والله اعلم بالصواب .

ښځه درې لورګانې او علاتي ورور تر منځ د میراث تقسیم :

(۳۷۸ سوال) حاجي احمد مړ شو د هغه په وارثانو کې یوه ښځه ، درې لورګانې او علاتي ورور دی ، حقیقي ورور یې پنځه کاله مخکې پاکستان ته تللی دی لاکن لاپته دی ، معلوم نه دی چې مړ دی او که ژوندی ؟ په دې صورت کې د مرحوم ترکه څنګه تقسیمېږي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کې د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته د مرحوم د مال ۷۲ حصې کیږي ، ښځې ته یې ۹ حصې ، هر یوې لور ته (۱٦ ـ ۱٦) حصې ، پاتې ۱۵ حصې د لاپته ورور لپاره د امانت په توګه کیږدئ ، که راغی نو وریې کړئ او که پوخ یقین مو راغی چې هغه دمرحوم حاجي احمد نه وړاندې مړ شوی دی نو دغه ۱۵

حصی د هغه علاتي ورور ته رسیږي . او که دا ثابت شو چی هغه دمرحوم حاجي احمد له مرګ نه وروسته مړ شوی دی نو دا امانت د هغه وارثانو ته ورکول کیږي او که څه پته او درک یی ونه لګید او د هغه عمر ۹۰ کلو ته رسیدلی وي نو بیا هغه مړ ګڼل کیږي او د هغه حصه علاتي ورور ته رسیږي او که هغه ژوندی نه وي نو بیا د هغه ورثاو ته رسیږي . د مسئلی صورت به داسی جوړیږي :

مسئله۲۴ عــ۷۲ کله چی لاپته ورور یی راشي

المیـــــت

زوجه	لور	لور	لور	حقیقي ورور
۹	١٦	١٦	١٦	۱۵

مسئله۲۴ عــ۷۲ هله چی دا یقین یی راشي چی د مرحوم له وفات نه مخکی حقیقي ورور مړ شوی دی

المیـــــت

زوجه	لور	لور	لور	علاتي ورور
۹	١٦	١٦	١٦	۱۵

فقط والله اعلم بالصواب .

د پلار په ژوند کی اولاد ته د میراث غوښتلو حق نشته :

(۳۷۹ سوال) له سلام او دعا نه وروسته عرض دا دی چی له ماسره لږ غوندی زمکه ده او زما اولاد موجود دی ، اوس خرنګه چی زه کمزوری شوی یم او ظاهري اسباب هم نشته ، د خلکو قرضدار هم یم ، دهغه د ادا کولو لپاره د زمکی له خرڅولو نه پرته بله لاره نشته ، سوال دا دی چی زما په موجودګی کی زما اولادونه زما دزمکی حقدار کیدلی شي ؟ که زه زمکه خرڅه کړم ، نو پدی سره د اولاد حق خو نه ضائع کیږي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : تاسی د خپل مال پخپله اختیار من یئ هر څه چی غواړئ ورباندئ کولی شئ اولاد مانع نشي کیدلی ، لاکن بلاوجه د وارثانو نقصان کول یا دهغوی محرومولو په غرض د خرڅولو او خیرات کولو شرعاً اجازه نشته .

حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه مریض شو ، محمد صلی الله علیه وسلم د هغه عیادت ته راغی حضرت سعد عرض وکړ چی له ماسره زیات مال دی ، او له لور نه علاوه بل وارث هم نه لرم ، زه غواړم چی د الله په لاره کی خپل ټول مال د لګولو وصیت وکړم ، محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : نا داسی مه کوه ، ما عرض

وکړ . په دریو کی دوه برخی مال وصیت کړم ؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل : نـا دا هم دیر دی . بیا ما عرض وکړ د نیم مال وصیت وکړم ؟ ویی وفرمایل : نا دا هم ډیـر دی . بیا مې وویل د دریمی حصی مال وصیت کړم ؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هـو د دریمی حصی مال وصیت کولی شی خـو دا هـم زیـات دی ، دا چـی خپـل وارثـان اسوده پریږدی لدینه بهتر دي چـی هغـوی محتـاج پریـږدی . او د خلکـو پـه وړانـدی لاسونه وغزوي . (مشکواة شریف ص ۲٦٥ باب الوصایا)

عن سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه قال مرضت عام الفتح مرضا اشفیت علـى الموت فاتانی رسول الله صلی الله علیه وسلم یعودنی وفقلت یارسول الله صلی الله علیه وسلم ان لی مالاً کثیراً ولیس یرثنی الا ابنتی افاوصیني بما لی کله قال لا قلت فثلثی مالی قال لا قلت فالشطر قال لا قلت فالثلث قال الثلث والثلث کثیر انك ان تذرورثتك اغنیاء خیر من ان تذرهم عالةً یتکففون النـاس .... الخ . (مشکوة شریف ص ۲٦٥ باب الوصایا)

البته له قرض نه د فارغیدو او خلاصون لپاره د خومره زمکـی د خرخولـو ضـرورت دی هغه خرخولی شئ ، د هغه په وړاندی نه ستا اولاد مانع کیدلی شي او نه هـم شـریعت . فقط والله اعلم بالصواب .

دوه بنځی ، یو زوی او شپږو لورګانو تر منځ د میراث ویش :

(۳۸۰ سوال) یو سړی مړ شو دهغـه دوه بنځـی ، یـو زوی او شـپږلورګانی دي ، دنقـدو پیسو په حساب سره به مال څنګه تقسیمیږي ؟ بینوا توجروا .

خواب : په روپی کی دوه آنی (اتمه حصه) دواړو بنځو ته یعنی هر یوی ته یـوه یـوه آنـه رسیږي ، د پاتی خوارلسو آنو به اته برخی کیـږي ، دوه حصـی (دری نیمـی آنـی) یـو زوی ته او هر یوی لور ته یوه یوه حصه پاو کم دوه دوه آنی رسیـږي . (سـراجي) فقـط والله اعلم بالصواب .

بنځه ، هلک او دوه لورګانو تر منځ د ترکی تقسیم :

(۳۸۱ سوال) له زید سره زمکه ، کورونه او نقدی پیسی دي ، د هغه په وارثانو کی یو زوی دی او دوه لورگانی دي ، د زید په ژوند کی د هغه ښځی او اولاد ته څومره څومره حصه رسیږي ؟ بینوا توجروا

ځواب : فی الحال خو زید د خپل مال پخپله مالک دی ، تر څو پوری چی هغه ژوندی وي ، هیڅ یو وارث خپله حصه چی د زید له مرگ نه وروسته ورته رسیږي په زور نشي اخستلی ، خو که زید پخپله ورکول غواړي نو دخپل ضرورت په مطابق مال دی خانته جدا کړي او پاتی مال دی دا قسم وویشي ، ښځی ته اتمه حصه (په روپی کی دوه آنی) زوی ته څلور آنی او اته پائي ، په دی ترتیب هر یوی لورته څلور آنی او او اته پائی دی ورکړي ، ځکه چی په ژوند کی دا تقسیم عطیه او بخشش دی او بخشش کی هلکان او جنوکیانی یو برابر حقدار دي . فقط والله اعلم بالصواب .

په وارثانو کی یوه لمسی او څلور لمسیانې دي د دوی تر منځ به ترکه څنګه ویشل کیږي ؟

(۳۸۲ سوال) څه وائي د دین علماء او مفتیان په لاندینی مسئله کی :

هنده خپل شاته یو لمسی او څلور لمسیانی پریښی دي د هغوی تر منځ ترکه څنګه تقسیمیږي ؟ بینوا توجروا

ځواب : په مسئوله صورت کی دضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته د مرحومی هندی مال به شپږ حصی کیږي ، لمسی به دوه حصی تر که اخلي او هر یوه لمسی به یوه یوه برخه آخلي ((للذکر مثل حظ الانثیین)) په اصول د عالمګیري په فتاوی کی دي :

وان استو وافی القرب ولیس فیهم ولد ا لوارث فالمال یقسم بینهم علی السواء ان کانو ذکوراً کلهم او اناثاً کلهن فان کانوا مختلطین فللذکر مثل حظ الانثیین وهذا بلاخلاف ان اتفقت صفة الاصول ای الأباء والامهات فی الـذکورة والانوثـة (فتاوی عالمگیري ج ۷ ص ۲۹٦ الباب السابع فی ذوی الارحام) په شامي کی دي : فان اتفقت (ای صفة الاصول فی الذکورة والانوثة) فالقسمة علی ابدان الفروع اتفاقاً بالسویة ان کانوا ذکوراً فقط او اناثاً فقط کابن بنت ابن مع مثلـه ای مع ابن بنت ابن آخر وکبنت بنت بنت مع مثلها وللذکر کالانثیین ان کانوا

مختلطين كابن بنت و بنت بنـــت (شـــامى ج ٥ ص ۲۹۳ _ ۲۹٤ كتـــاب الفرائض) (مفيد الوارثين ص ١٥٥) فقط والله اعلم بالصواب .

په وارثانو کې وراره ، وريره او د اخيافي خويندو اولادونه دي :

(۳۸۳ سوال) يو سړى وفات شو چې نوم يې عبدالغنى دى ، هغـه نـه ښځـه لـري او نـه اولاد او نه هم مور او پلار ، ورور او خور ، يواځې محمد حنيف په نامه يو وراره او رابعـه بي بي په نامه يوه وريره لري او د مرحـوم د دوه اخيـافي خوينـدو اولادونـه هـم شـته ديوى خور نه چې نوم يې حليمه ده درى زامن او درى لورګانى دي ، له بلى اخيـافي خور نه چې نوم يې عائشه ده له هغـې نـه دوه هلكـان او يـوه لـور ده ، دواړه اخيـافي خويندى د مرحوم په ژوند کې مړى شوى دي ، په دى صورت کې به ترکه څنګه ويشـل کيږي ؟ بينوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کې د مرحوم عبدالغني وراره محمد حنيـف عصـبه دى ، او د اخيافي خوېندو اولاد ذوى الارحام دي ، نو ځكه پوره ترکه محمد حنيف ته رسيږي او د اخيـافي خوينـدو اولاد محـروم دى . (مفيـد الـوارثين ص ١٦٧) فقـط والله اعلـم بالصواب .

ايا ورک زوى وارث دى او که نه ؟

(۳۸۴ سوال) قاسم صاحب وفات شو د هغه په وارثانو کې د هغـه يـوه ښځـه ، يـوه لـور خديجه او يو زوى دى ، له دوى نه علاوه بل هيڅ وارث نه لـري نـه پـه ذوى الفـروض کې او نه په عصباو کې ، زوى يې د خپل پلار نافرمان و نو ځكه پلار به يې ويل چې زمـا په ميراث کې ورته حصه ورنکړئ . لدينه علاوه د خپل پلار په ژوند کې چيرته تللي و تـر نن ورځې پورى د هغه هيڅ پته نشته په داسې‌صورت کې به د مرحوم ترکه څنګه ويشـل کيږي ؟ خديجه خپل ورک ورور ته د خه ورکولو او يا د هغه حصـه د امانـت پـه توګـه د ساتلو لپاره تياره نه ده ، مهرباني وکړئ په تفصيل سره ځواب راکړئ .

ځواب : په مسئوله صورت کې د ضروري حقوقو لـه ادا کولـو نـه وروسـته دى د مرحـوم قاسم مال ټول ۲۴ حصې وکړى شي ، له دغو حصو نه د هغه ښځې ته دمال اتمـه يعنـې درى حصې ، زوى ته يې ۱۴ حصې او لور خديجه ته يې ۷ حصې رسيږي که څـه هـم د قاسم زوى نافرمان و او پلار يې د ميراث له مال نه د محروم کولو خپله اراده هم ښکـاره کړې وه خو بيا هم د وراثت له حق نه نه محروميږي ، هغه به خپله حصه تر لاسـه کـوي

دا چې هغه هلک په دی وخت کې ورک دی نو د هغه حصه دی لـه کـوم امانـت دار سړي سره کینبودلی شي ، که راشي نو ورته دی ورکړی شي .او که په یقیني توګه ثابـت شي چې هغه د خپل پلار له مړ کیدو نه مخکې مړ شوی دی یاهم عمر یې نوي کلـو تـه رسیدلی وي او خپل کور ته رانشي نو د هغه دا څوارلس حصی د هغه خور خدیجـه تـه رسیږي ، او که په دی وخت خدیجه هم ژوندی نه وي نو دهغـی وارثـان حقـدار دي .
فقط والله اعلم بالصواب .

(نوټ) د ورک ورور حصه ساتل او له چا سـره امانـت اینـودل ضـروري دي ، د هغـه د خور ناراضي هیڅ اهمیت نه لري .

(۱) که ورک سړي ته د چا د مال نه میراث ورسیږي د هغه څه حکم دی (۲) د ورک سړي د مال څه حکم دی ؟

(۳۸۵ سوال) یو ښځه مړه شویده د هغې اولاد نشته ، خاوند یې د هغې په ژوند کې مـړ شوی و ، مور او پلار یې هم مړه دي ، صرف څلور ورونـه یې دي او یـو ورور یې لادرکـه دی ، نو په دی صورت کې د مرحومی میراث څنګه ویشـل کیـږي ؟ ایـا د لاپتـه ورور د خپل خور په میراث کې حق شته اوکه نه ؟ کـه حـق یې وي نـو د هغـه پـه برخـه کـې چې کوم مال راځي له هغه سره دی څه وکړی شي ؟ ایا د هغـه وارثـانو تـه دی وکـړی شي ؟ دا پوښتنه هم درنه کوم چې کوم ورور یې لاپتـه او ورک دی د هغـه خپـل ذاتـي مال او ملکیت هم شته ایا د هغه دا مال او ملکیت د هغه په وارثانو کې تقسیم کړی شي ؟ د هغه یو زوی یوه لور او یوه ښځه هم شته ، مهربـاني وکـړئ مفصـل او مـدلل ځـواب راکړئ

ځواب : ددغې مرحومی ښځی صرف څلور ورونه دي او نور څوک نه لري نو دمرحـومی د ترکی څلور حصی کیږي او هر یو ورور ته یوه یوه حصه رسیږي .

د مرحومی یو ورور ورک دی د هغه په متعلق شرعي حکم دا دی چې هغـه دی تـر هغـه ژوندی ومنل شي تر څو پوری چې د هغه هم عمر ژوندی وي ، کله چې د هغه هم عمر مړ شي نو هله دی هغه هم مړ وګڼل شي ، دی لپاره نوي کاله عمر ټاکل شـوی دی ، دا داسی عمر دی چې په دی عمر کې زیاتره کسان مړ کیږي ، خـو کـه پـه جنګـه کـې مـړ شوی وي یا هم د کینسر ، ټي بي او نوروملهکو مرضونو کې ورک شوی وي یا پـه دریـاب کې د کار کولو په وخت ورک شوی وي ، او شرعي قاضي یا قوم ته دهغه د مړکیدو یقین

راشي نو هغه مړ ګڼل کیدی شي ، یا هم شرعي ګواهان د هغه په مرګ ګواهي ورکړي نو هغه مړ حسابیږي .
دا چې دمفقون او ورک سړي مال او جائیداد هغه دی ورته وساتل شي .
کله چې د هغه د مړینی ثبوت ترلاسه شي نو بیا دی د هغه په ژوندو وارثانو کې تقسیم کړی شي د هغه دمړکیدو له حکم نه مخکې چې کوم یو ورور مړ شوی وي هغه محروم دی ، دا خو د هغه د ذاتي مال حکم و ، له بل چا نه چې هغه ته په وراثت کی کوم مال رسیږي هغه دی ورته د امانت په توګه وساتل شي . که راشي نو هغه دی وسپارل شي او که رانشي نو د پورتنیو بیان شویو اصولو په مطابق پر هغه د مړکیدو فیصله او حکم کیږي ، کوم مال چې هغه ته د مورث له مال نه رسیدلی و ، هغه دی د مورث په وارثانو وویشل شي ، نه دورک سړي په وارثانو ، په دی وخت کی چې کوم وارثان موجود دي د هغوی هیڅ اعتبار نشته ، بلکې په هغو وارثانو دی تقسیم کړی شي چې دمورث د مړکیدو په وخت کی ژوندی وو .
په مسئول صورت کی مفقود ته له خپلی خور نه کومه حصه رسیدلی وه هغه دی له کوم امانت دار سړي سره امانت کیښودی شي که راشي نو ورته دی ورکړی شي او که رانشي نو کله چې د هغه په مرګ قاضي حکم وکړي نو د هغه دا حصه د هغه له مرحومی خور چې کوم دری ورونه دهغی د مړکیدو په وخت کی ژوندي وو پر هغوی دی مساویانه تقسیم کړی شي ، که له هغوی نه کوم ورو مړ شي نو د هغه په حصه کی چې کوم مال راځي هغه دی د هغه په وارثانو کی تقسیم کړی شي ، او د مفقود چې کوم ذاتي مال دی هغه دی محفوظ کړی شي ، په وارثانو کی دی تقسیم نه کړی شي ، کله چې قاضي د مرګ تصدیق وکړي نو که په دی وخت کی د هغه وارث یعنی ښځه یا زوی اولور ژوندي وي نو د مفقود د ترکی ۲۴ حصی کیږي . ۸ حصی ښځې ته ، ۱۴ حصی زوی ته او ۷ حصی د هغه لور ته رسیږي .او که له هغوی نه کوم یو مړشوی وي نو چې کوم یو ژوندی دی پر هغوی تقسیمیږي . فقط والله اعلم بالصواب.

د وارثانو د محروملو ګناه :

(۳۸٦ سوال) له ماسره الحمد الله څه جائیداد ، سره زر ، سپین زر او نقدی پیسی دي زما دری لورګانی دي ، ښځه می مړه شوی ده ، دری ورونه هم لرم ، مګر له هغوی نه یو هم زما د کار نه دی ، زما اراده ده چې خپل ځان لپاره د ضرورت په اندازه څه مال

وساتم او نور خپلو دریو لورگانو ته عطیه ورکړم تر څو وروسته زما ورونو ته څه برخه ونه رسیږي یا هم کم ورسیږي ایا زه داسی کولی شم او که نه ؟ بینوا توجروا . (از بمبی)
ځواب : د نورو وارثانو د محرومولو په نیت خپل ملکیت صرف خپلو لورگانو ته بخښل غلط او د گناه موجب دی ، په حدیث کی دي چی ځینی خلک ټول عمر د الله په اطاعت کی تیروي لیکن دمرگ په وخت وارثان محروموي ، الله تعالی داسی خلک په دوزخ کی اچوي . په مشکواة شریف کی حدیث دی :
عن ابی هریرة رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان الرجل لیعمل والمرأة بطاعة الله ستین سنة ثم یحضر هما الموت فیضا ران فی الوصیة فتجب لهما النار ثم قرأ ابوهریرة من بعد وصیة یوصی بها اودین غیر مضار الی قوله تعالی وذلك الفوز العظیم (مشکواة شریف ج ۱ ص ۳۹۸ باب الوصایا) په حاشیه کی دي : قوله فیضار ان من ا لمضار ای یوصلان الضرر الی الوارث بسبب الوصیة للاجنبی باکثر الثلث او بان یهب جمیع ماله فالواحد من الوارثة کیلا یرث وارث آخر من ماله شیئا فهذا مکروه وفرار عن حکم الله تعالی ۱۲ مرقات (التعلیق الصبیح ج ۳ ص ۳۹۸) .
په یو بل حدیث کی دي کوم سړی چی خپل وارثان له میراث نه محروموي الله تعالی هغه له جنت نه محروموي ، په مشکواة شریف کی روایت دی :
عن انس رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة (مشکواة شریف ج ۱ ص ۲۶۶) .
لهذا بهتره دا ده چی مال او ملکیت له ځان سره وساتي ، ستا له مرگ نه وروسته ستا لورگانو ته ثلثان (دوه حصی) رسیږي او یوه حصه ستا ورونو ته رسیږي ، هغوی هم حقدار دي الله تعالی هغوی ستا حقدار گرځولي دي‌لهذا خپل زړه مه تنکوه . فقط والله اعلم بالصواب .

۱_ په وارثانو کې پنځه زامن ، دوه لور ګانې ، خاوند او یو خورده (۲) له وصیت نه پرته دلمونځ او روژې فدیه ورکول . (۳) یو مسکین ته څو څو فدیې ورکول یا یوه فدیه ګڼو مسکینانوته ورکول .

۳۸۷ سوال : زمونږ مور مړه شوی ده دهغې وارثان په لاندی توګه دي ، پنځه زامن دوه لورګانې ، خاوند او یوه حقیقي خور یې ده ، ددوی ترمنځ به داترکه څنګه ویشل کیږي ؟ بینوا توجروا .

بله پوښتنه داده چې له یو سړي سره زما دمرحومې مور دوه ویشت زره روپۍ دي ایا په دغو پیسو دخپلې مرحومې مور لپاره حج بدل کولې شوو ؟ ځکه چې زما مور دحج ډیر لوی ارمان درلود .

دناروغۍ له کبله تقریباً څلور میاشتې لمونځونه یې پاتې دي، اویوه میاشت روژې یې هم ترینه پاتې دي نو ایا دلمونځونو او روژو فدیه ورکولې شوو ؟ دیو لمونځ او دیوې روژې فدیه څومره ده ؟ مرحومې دفدیې وصیت نه دی کړی ، بینوا توجروا.

ځواب: دمرحومې ټوله ترکه به په ۲۸ حصو کې وویشئ . په دی کې خاوند ته ۱۲ حصې یعنی څلورمه حصه ، هریو زوی ته ٦_٦ حصې او هر یو لور ته ۳_۳ حصې رسیږي ، خور یې له میراث نه محرومه ده .

او که ټول وارثان یې بالغ وي او هغوی ټول پخپله خوښه دمرحومې له طرف نه حج بدل کول غواړي نو کولې شئ . او که په وارثانو کې نابالغ هم وي نو دهغوی رضامندي څه اعتبار نه لري ،لهذا دهغوی له حصې نه دی څه وانخستلې شي .

همدغه راز هغې دلمونځ او روژې دفدیې ورکول وصیت نه دی کړی لهذا فدیه ورکول واجب نه دی که چېرته بالغ وارثان تبرعاً پخپله خوښه فدیه ورکول غواړي نو ورکولې شي (مالا بدمنه ص۹۹ ، ص۱۰۰) که نابالغ وارثان یې هم وي نو دهغوی رضامندي اعتبار نلري او دهغوی له حصې نه فدیه ورکول جائز نه دی .

دیو لمونځ اودیوې روژې فدیه دصدقه فطر په برابردوه کیلو غنم یادهغه قیمت دی ، دیوې ورځې دوتر په حساب سره دی ، دشپږو لمونځونو فدیه دی ورکړي شي .

یو مسکین ته دخولمونځونو یا څو روژو فدیه ورکول جائز دی یانه په دی کې اختلاف نه دی ، درمختار ، الجو هرة النیرة او طحطاوي علی مراقي الفلاح ورته جائز ویلي دي . مولانا حضرت تهانوي او مولانان مفتي رشید احمد لدهیانوي په احسن الفتاوی کی په همدغه خبره فتوه ورکړې ده ، همدغه راز یوه فدیه دخو مسکینانو ترمنځ تقسیمول هم دامام ابو یوسف دقول په مطابق جائز دی .

په درمختار کې دي :

ویفدی وجوباً ولو فی اول الشهر وبلا تعدد فقیر کالفطرة درمختار (قوله وبلا تعدد فقیر) ای بخلاف نحو کفارة الیمین للنص فیها علی التعدد فلو اعطی هنا مسکینا صاعاً عن یو مین جاز لکن فی البحر عن القنیة عن ابی یوسف رحمه الله فیه روایتین وعند ابی حنیفة لا یجزیه کما فی کفارة الیمین ، وعن ابی یوسف لو اعطی نصف صاع من برعن یوم واحد لمسا کین یجوز قال الحسن وبه ناخذ . اهـ ومثله فی القهستاني (درمختار مع الشامی ص ۱٦۳ ، ص۱٦۳ فصل فی العوارض)

حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله په معارف القران کې لیکي :

مسئله : دیوې روژې فدیه په دوه کسانو باندی تقسیمول یادڅو روژو فدیه یوسړي ته په یوه تاریخ کې ورکول صحیح نه دی ، لکه چې شامي دبحر په حواله له قنیه نه نقل کړی دی . اوپه بیان القران کی هم همداسي نقل شویدی ، مګر حضرت په امداد الفتاوی کی په دی باندی فتوه نقل کړی ده چی دادواړه صورتونه جائز دي ، شامي هم په همدی فتوه ورکړی ده البته په امداد الفتاوی کی دي چی احتیاط په دی کې دي چې دڅو روژو فدیه په یو تاریخ کې یو سړي ته ورنکړي ، څو دورکولو جواز پکې شته دافتاوی ۱٦ جمادی الاخر کال ۱۳۵۳ ھ امداد الفتاوی جلد دوم ص ۱۲۴ کی نقل شویدی . معارف القران ج۱ ص۲۴٦ سوره بقره پاره نمبر ۳ . رکوع نمبر ٦ کی دي)

امداد الفتاوی جلد ۱ ص ۱۲۴ مطبوعه پاکستان ج ۲ ص ۱٦۱ ص ۴۴٦ سوره بقره پاره نمبر ۲ رکوع نمبر ٦) (امداد الفتاوی ج۲ ص ۱۲۴ مطبوعه پاکستان ج۲ ص ۱٦۱ ــ ۱٦۲ مطبوعه اداره تالیفات او لیاء دیوبند .)

په بهشتي زیور کې دي چې که چېرته دفدیې غنم لږ لږ په څو مسکینانوباندی وویشي نو داهم صحیح دی . بهشتي زیور ص ۴۲ دریمه حصه ، دفدیې بیان په احسن الفتاوی کې دي :

۲۰۱ سوال : دپنځو شپږو ورځو فدیه یو مسکین ته ورکول جائز دی او که نه ؟ بینوا توجروا .

(الجواب ومنه الصدق والصواب) په دی کې اختلاف دی ، په درمختار کې ورته جائز لیکلي دي اوپه شامیه کې له بحرنه نقل کړی دی چې عند الامام رحمه الله جائز نه دی ، له امام ابو یوسف نه دجواز روایت دی . له شامیه نه معلومیږي چې یوه فدیه په څو کسانو باندی دتقسیمولو په باره کی دامام ابو یوسف دجواز قول ماخوذ به دی ، لدینه ثابت شو چې دفدیې حکم دکفارې پشان نه دی بلکی دصدقة الفطر پشان دی ، لهذا دڅو روژو فدیه یو مسکین ته په ورکولو کې هم دامام یوسف قول راجح دی . یعنې همدا قول ماخوذ به دی .

(لدینه وروسته ددرمختار او شامي عبارت دی) (احسن الفتاوی ص ۳٦٦ کامل مبوب کتاب الصوم والاعتکاف .)

که په مرض الموت کې خاوند ښځې ته طلاق ورکړي نو ښځې ته یې میراث رسیږي او که نه ؟

۳۸۸ سوال : یو سړی دیر زیات ناروغ و په دی ناروغی کې هغه مړهم شو ، یعنې هغه په مرض الموت کې اخته و . هغه دخپل مرګ نه پنځلس ورځی مخکې خپلی ښځی ته طلاق ورکړی و ، په دی کې په دهغه نیت څه و یو الله ورباندی پوهیږي ، مګر په ظاهره داسی معلومیږي چې دهغه مقصد صرف دخپلی ښځې له میراث نه محرومول و ، څکه چې ددواړو تعلقات او اړیکی ښې نه وې . نو دغې طلاقې شوی ښځې ته دهغی په ترکه کې میراث رسیږي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : خاوند چې په مرض الموت کی خپلی ښځی ته هغی له مطالبی نه بغیر دری طلاقه ورکړ دي او عدت کی خاوند مړ شو نو ښځه یې له میراث نه نه محرومیږي په شریعت کی چې هغی ته څومره حصه مقرره ده هغه به دیته رسیږئ او که د ښځې په غوښتنه او مطالبه ورته خاوند طلاق ورکړی وي نو هغه د خپل خاوند په میراث کی برخه نشي اخستلی . په فتاوی عالمګیري کی دي :

ولو طلقها بائنا او ثلثاً ثم مات وهی فی العدة فكذلك عندنا ترث ولو انقضت عدتها ثم مات لم ترث وهذا اذا طلقها من غير سوالها فاما اذا طلقها بسوالها فلا ميراث لها كذا فی المحيط (عالمگیری ج ۲ ص ۱۲۲ باب طلاق المريض) .

په مفيد الوارثين کی دي چی که مريض خپلی ښځی ته بائنه یا رجعي طلاق ورکړی نو واقع کيږي ليکن که د عدت له ختميدو نه وړاندی خاوند مړ شي نو ښځه يی له ميراث نه محرومه نه ده (ص ٣٦) بهشتي زيور ص ۴۱ _ ۴۱ حصه چهارم د بيمار د طلاق بيان) فقط والله اعلم بالصواب .

په ورثاو کی يو اخيافي ورور او خور ده نو د دوی تر منځ به ترکه څنګه تقسيميږي ؟

(۳۸۹ سوال) يو سړی وفات شو د هغه په ورثاو کی صرف يو اخيافي ورور او يو اخيافي خور ده (د اخيافي معنی ده د مور له طرف نه وي خو د پلار له طرف نه نه وي) لدی دواړو نه علاوه بل څوک يی وارث نشته نو د مرحوم ترکه به څنګه تقسيميږي ؟ بينوا توجروا .

ځواب : که د مرحوم د انتقال په وخت کی صرف يو اخيافي ورور او يوه اخيافي خور وي او له دغو دواړو نه علاوه بل څوک وارث نه وي ، يعنی د هغه پلار او نيکه وي او نه هم زوی ، لور او لمسيان ، نه يی له عصباتو نه څوک ژوندي وي ، او نه هم له ذوی الفروضو نه څوک ژوندي وي ، نو د هغه ټول مال به دوه حصی کيږي ، يوه حصه اخيافي ورور ته او يوه حصه اخيافي خور ته رسيږي . د قاعدی په اعتبار سره دغو دواړو ته د مرحوم له ټول مال نه ثلث (دريمه) حصه رسيږي ، مګر څرنګه چی دريم وارث موجود نه دی نو څکه پاتی دوه حصی هم همدغو دواړو ته ورکول کيږي . دا خبره دی هم په ذهن کی وساتل شي چی ((للذكر مثل حظ الانثيين)) قاعده په اخيافي ورور او خور کی نه تطبيقيږي ، بلکی دواړو ته يو برابر رسيږي . هکذا فی کتاب الفرائض .

(نوټ) اخيافي ورور او خور هم په ذوی الفروض کی داخل دي ، په عصباتو کی نه شمارل کيږي ، د دی دری حالتونه دي .

(۱) کله چی دا یو وي او د مړ شوی شخص پلار ، نیکه لمسی او لمسیانی نه وي نو دیته د ترکی شپږمه حصه رسیږي .
(۲) کله چی دا دوه یا له دوه نه زیات وي نو هغه ته د ټول مال ثلث رسیږي .
(۳) کله چی میراث شوی سړی پلار ، نیکه ، زوی ، لور یا لمسی او لمسی نه څوک ژوندي وي نو اخیافي خور محرومیږي . په سراجي کی دي :
واما لا ولاد الام فاحوال ثلث السدس للواحد والثلث للاثنین فصاعداً ذکورهم واناثهم فی القسمة والا ستحقاق سواء ویسقطون بالولد ولد الابن وان سفل وبالاب والجد بالاتفاق (سراجی ص ۱٦ باب معرفة الفروض الخ) فقط والله اعلم بالصواب .

پخپل مال کی تصرف کول ، نافرمان اولاد له میراث نه محرومول :

(۳۹۰ سوال) له زید سره چی څومره مال دی د هغه ټول مالک همغه پخپله دی ، بل هیڅوک ورسره شریک نشته ، د هغه زامن ځانله ځانله کاروبار کوي او ټول د خپل پلار زید نه نافرمانه دي ، د زید یوه لور هم شته چی واده شوی لا نه ده ، زید غواړي چی خپل ټول مال حال خپل لور ته ورکړي ، خو زامن یی د پلار دا کار نه مني او اخطار ورته ورکوي ، په داسی حالت کی زید له خپل مال او ملکیت نه خپل لور ته څه ورکولی شي او که نه ؟ همدغه راز خپل زامن له خپل میراث نه محرومولی شي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : زید پخپل ژوند کی د خپل مال مالک او مختار دی ، پخپل ژوند کی هر چاته ورکول غواړی ورکولی شي ، همدغه راز خرڅولی هم شي او خپل لور ته هم ورکولی شي خو شرط پکی دا دی چی نیت یی د خپلو زامنو محرومول نه وي ، که همدا نیت یی و نو بیا ګنهګاریږي د هغه زامن په هر حالت کی د هغه اولادونه دي ، د نافرمان کیدو په وجه د عاقولو اجازه ورته نشته ، د پلار له مړکیدو نه وروسته چی څومره مال ترینه پاتی شي په دی کی د نافرمان اولادو ته هم خپل حق رسیږي . فقط والله اعلم بالصواب

که کور د تقسیم وړ وي او ځینې وارثان لدینه خپله حصه غواړي نو په دی صورت کی دی کور څنګه تقسیم کړی شي ؟

(۳۹۱ سوال) زمونږ د پلار ابراهیم صاحب یو کور دی ، په دی کی بل د هیچا حق نشته . تقریباً ځلویښت کاله مخکی هغه وفات شوی دی ، په هغه وخت کی د هغه په وارثانو کی د هغه ښځه ، دری زامن او دری لورګانی دي ، لدینه وروسته زمونږ مور مړه شوه د هغه په وارثانو کی بره بیان شوي دری زامن (اقبال ، خالد ، زاهد) او دری لورګانی (راشده ، فاطمه ، حلیمه) وو ، زمونږ نیا او آنی زمونږ له مور نه مخکی وفات شوي وو . بیا وروسته زما یو ورور اقبال مړ شو ، دهغه په وارثانو کی د هغه ښځه عائشه او دری هلکان (یوسف ، محمد انس ، طلحه) او پنځه لورګانی (میمونه ، سلمی ، رضیه ، حامده ، ناعمه) دي ، زمونږ د پلار کور به د هغه وارثانو تر منځ څنګه تقسیمیږي ؟ زمونږ د دوه خویندو خیال دا دی چی هغوی ته هم په کور کی حصه ورکړی شي ، یوه مطلقه ده او بله پیغله ، کور هم کافي لوی دی او د تقسیمیدو قابل دی ، په داسی صورت کی مونږ څنګه تقسیم کړو . بینوا توجروا .

ځواب : هو المفق

مسئله۹ عـ۲۹۶ — مرحوم ابراهیم وزوجه

میـــــــــــت

ابن	ابن	ابن	بنت	بنت	بنت
اقبال	خالد	زاهد	راشده	فاطمه	حلیمه
۲	۸۸\۲	۸۸\۲	۴۴\۱	۴۴\۱	۴۴\۱

په مسئوله صورت کی د ضروري او واجبي حقوقو له ادا کولو نه وروسته د مرحوم ابراهیم ترکه به ۲۹۶ سهامو (حصو) باندی ویشل کیږي ، لدینه خالد ته ۸۸ حصی ، زاهد ته ۸۸ راشد ته ۴۴ فاطمی ته ۴۴ حصی حلیمه ته ۴۴ حصی او د مرحوم اقبال ښځی ته ۱۱ حصی ، یوسف ته ۱۴ حصی ، محمد انس ته ۱۴ حصی ، محمد طلحه ته ۱۴ حصی ، میمونه ته ۷ حصی ، سلمی ته ۷ حصی ، رضیه ته ۷ حصی ، حامدی ته ۷ حصی او ناعمی ته هم ۷ حصی رسیږي .

دا چی ستا خور په کور کی حصه غواړي او کور هم لوی دی او د تقسیم وړ دی نولهذا دهغوی چی دا خواهش دی چی مونږ ته دخپل مرحوم پلار له یادګانه حصه تر لاسه

شي نو پدی کور کی ورته حصه ورکړئ ، که چیرته په کور کی دهغوی د حصی قیمت ورکړی شي نو کیدای شي چی په دغو پیسو بل ځای کی کور وانخستلی شي او هغوی بی کوره پاتی کیږي .لهذا ستا د خویندو کوم تجویز دی هغه ښه دی . فقط والله اعلم بالصواب .۱۴ذی قعده ۱۴۰۹ ھ .

(۱) که د چا یواځی لورګانی وي نو د هغه ورور او خور ته په ترکه کی حق شته او که نه ؟ (۲) پخپل ژوند کی اولاد ته خپل جائیداد هبه کول

(۳۹۲ سوال) مونږ دری وروړنه او دوه خویندی یو ، زما د پلار ملکیت ټول تقسیم شوی دی ، ناسته ولاړه هم جدا ده . سوال دا دی چی زما شپږ لورګانی دي او زامن مې نشته نو ایا زما له مال نه زما ورور او زما خویندو ته هم میراث رسیږي ؟ اوکه رسیږي نو څومره ؟

(۲) ایا پخپل ژوند کی خپلو لورګانو ته خپل مال او ملکیت بخښلی شم او که نه ؟ که بخښلی شم نو په کومی طریقی سره ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که ستا ښځه وي نو هغه ستا د مال په اتمه حصه کی حقداره ده . دا چی ستا شپږ لورګانی دي نو هغوی ستا دترکی په دریو کی دوه حصی حقداری دي ، پخپلو کی دی یو مساوي تقسیم کړي لدینه وروسته چی څه پاتی شي په هغه کی ستا ورور او خور حقداری دي . او ((وللذکر مثل حظ الانثیین)) په اصول باندی ورور ته دی دوه حصی او خور ته دی یوه حصه یعنی یو ورور ته د دوه خویندو په برابر حصه رسیږي . دا حکم ستا له وفات نه وروسته دی ، خور ، ورور شرعاً وارث دي .

اوس پوښتنه دا ده چی ته پخپل ژوند کی ولی خپل مال تقسیمول غواړی ؟ که چیرته ته پخپل ژوند کی خپلی ښځی او لورګانو ته ورکوی او پر هغه قبضه هم ورکوی نو قانوناً که څه هم هغوی د دی مالک جوړیږي ، مګر ورور او خور دی محرومیږي او ته د هغوی په محروموللو کی ګنهګاریږي ، که ته لدی ګناه نه ځان ساتل غواړی او په ژوند کی تقسیمول ضروري وي نو ښه صورت یی دا دی چی لومړی دخپل ځان لپاره د ضرورت په مطابق څه مال جدا کړه تر څو وروسته چاته محتاج نشی ، لدینه وروسته خپلی ښځی ته اتمه حصه ، شپږو لورګانو ته دخپل ټول مال دوه حصی او لدینه وروسته

چی بچ شي نو د بره بنودل شوی طریقی په مطابق ورور ته دی دوه حصی او خور ته دی یوه حصه رسیږي.
انشاء الله په دی صورت کی هر یو ته خپل خپل حق رسیږي او هیڅوک محروم نه پاتی کیږي. فقط والله اعلم بالصواب.

په خپل ژوند کی په لورګانو باندی د جائیداد تقسیمول:

(۳۹۳ سوال) زما صرف لورګانی دي، زما ورور او خویندی بنی مالداری دي او یو بل د وراثت تمنا نه لري، ایا زه دخپل ورونو او خویندو په اجازه او رضا خپلو لورګانو ته خپل جائیداد او نور مال دهبی په توګه ورکولی شم او که نه؟ مهرباني وکړئ ماته لار ښودنه وکړئ. جزاکم الله، بینوا توجروا.

ځواب: له مړکیدو نه وروسته د هغه د ترکی تقسیم او ویش شرعي حکم دی، هر څوک چی شرعاً وارث وي د شریعت دقانون په مطابق هغه ته د هغه حق رسیږي، که هغه مالداره وي یا غریب. د وراثت تقسیم د خپلی خوښی ځیز نه دی چی چاته وغواړی ورکړی اوچاته وغواړی ورنکړی، څوک چی شرعي وارث دی هغه ته دا حق حاصل نه دی چی خپله حصه وانخلي بلکی شرعاً هغه ته خپله حصه اخستل پکار دي، خو له اخستلو نه وروسته هغه ته دا حق شته چی‌هر چاته وغواړي ورته وبخښي. په خپل ژوند کی چی چا نه څه ورکول کیږي هغه د ترکی یا د وراثت تقسیم نه دی بلکی دا هبه او عطیه ده، انسان ته په شرعي حدودو کی دا حق حاصل دی چی له خپل مال نه په څه کی وغواړي تصرف وکړي، لیکن که چیرته د وارثانو دمحروممولو په نیت خپل مال چاته ورکوي نو دنیت د نه صحیح والي په وجه ګنهګاریږي.
او که د وارثانو د محروممولو نیت یی نه وي او وارثان یی هم په دی باندی رضا وي او یواځی په دی خیال سره چی زما له مړکیدو نه وروسته زما لورګانوته تکلیف او پریشاني نه وي، پخپل ژوند کی ورته هبه یا بخشش کړي او مالک یی وګرځوي نو ددی ګنجائش شته. فقط والله اعلم بالصواب.

مور یی د خپل پلار له ترکی نه دحصی اخستلو نه انکار کړی و اوس د هغوی اولاد حصه غواړي

(۳۹۴ سوال) د یو سړي ۸ زامن او ۲ لورګانی دي، د هغوی پلار او مور د هغوی په ژوند کی وفات شویدي، یو لور یی د پلار له مړکیدو نه وروسته مړه شوه هغی پخپل

ژوند کی ویلی وو چی زه د خپل پلار له میراث نه حصه نه اخلم او ددی خبری کواهان هم شته . د دغی مرحومی زامن او یوه لور یی ده . د هغی خاوند دهغی په ژوندون کی مړ شوی دی . د دغی مرحومی ځینی اولاد خپل حق (چی د مور له طرف نه هغوی ته رسیده) غواړي او ځینی اولاد یی نه غواړي . اوس شرعي حکم څه دی ؟ ایا د هغوی دا مطالبه شرعاً صحیح دی او که نه ؟ بینوا توجروا

خواب : له مړ کیدو نه وروسته د مرحوم د ترکی تقسیم یو شرعي حکم دی . هر څوک چی شرعاً وارث یی وي هغه ته د شریعت په مطابق حق ورکول ضروري دي . دا د خپلی خوښی خبره نه ده چی چاته وغواړي ورکړي او چاته وغواړي ورنکړي . او کوم سری چی شرعي وارث دی هغه هم دا حق نه لري چی خپله حصه وانخلي ، هغه ته د هغه حق ورکول ضروري دي . په درمختار کی دي :

والثالث اما اختیاري وهو الوصیة او اضطراري وهو المیراث وسمی فرائض لان الله تعالی قسمه بنفسه و اوضحه وضوح النهار بشمسه . الخ (درمختار مع رد المختار ص ٦٦٣ ج ٥ کتاب الفرائض) .

لهذا په مسئوله صورت کی یواځی په دومره ویلو سره چی زه خپل حق نه اخلم په دی سره دهغی شرعي حق نه ختمیږي .

په مسئوله صورت کی د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته د مرحوم ټول مال او مالکیت دی اتلس برخی کړی شي ، هر یو زوی ته به دوه دوه برخی او هر یوه لور ته به یی یوه یوه برخه ورکول کیږي ، دمرحومی لور ته چی یوه حصه رسیدلی ده هغه به دیارلس حصی کیږي هر یو زوی ته به دوه حصی لور ته به یی یوه حصه رسیږي ، کوم وارثان چی حصه نه اخلي هغوی دی خپله حصه واخلي او بیا چی هر چا ته غواړي پخپله خوښه ورته ورکولی شي . فقط والله اعلم بالصواب .

که د یوی لا ولدی ښځی دری ورونه او دری خویندی وي نو د هغه ترکه به څنګه ویشل کیږي ؟

(۳۹۵ سوال) یوه ښځه ده د هغی خاوند وفات شویدی ، د هغی مور او پلار نشته او اولادونه هم نه لري . د هغی په خپلوانو کی دری ورونه او دری خویندی دي ، دا سحد تر اوسه ژوندی ده . که مړه شي نو د هغه میراث به څنګه ویشل کیږي ؟ ایا دا

ښځه پخپل ژوند کی د خپلی خوښی مطابق چاته خومره وغواړي له خپل مال نه ورکولی شي او که نه ؟ ایا چا لپاره وصیت کولی شي او که نه ؟ دا ښځه غواړي چی خپل وصیت له مخکی نه ولیکي او کیږدي ، مګر هغه پخپله نشي لیکلی ، که چیرته په چا باندی ولیکي او ښځه پر هغه دستخط وکړي نو ایا د هغی دا وصیت اعتبار لري ؟ د دغی ښځی یو خوری او یوه خورزه ده ایا هغوی هم د دی په وارثانو کی شاملیدلی او په ترکه کی حقدار جوړیدلی شي ؟ (سورت)

ځواب : په مسئوله صورت کی که د ښځی د مړ کیدو په وخت کی د هغی دری ورونه او دری خویندی ژوندي وي نو حقوق متقدمه علی الارث (تجهیز وتکفین ، قرض او په شدت کی د وصیت) له ادا کولو نه وروسته به د ترکی ۹ حصی کیږي ، هر یو ورور ته دوه دوه حصی او هر یوه خورته یوه یوه حصه رسیږي ، خوری او خورزه له ذوی الارحامو څخه دي خو ورور او خورپي له عصبه و څخه دي ، او دعصبه په موجود ګی کی ذوی الارحام له میراث نه محرومیږيلهذا خوری او خورزه په وراثت کی حقدار نه دي . که دغه ښځه پخپل ژوند کي خپل خوری او خورزی ته څه ورکول غواړي نودخپل مال په دریمه حصه کي وصیت کولي شي پخپل ژوند کي چی څه ورکړی شي دادترکی تقسیم نه بلکي عطیه ده ، انسان ته په شرعي حدودو کي دننه داحق شته چی پخپل ژوند او صحت کی له خپل مال نه خومره وغواړي تصرف کړي (فتاوی محمودیه ص ٦٣ ج٥ باب مسائل المیراث)

لیکن که دوارثانو دمحرومولو او یا هغوی ته دکمی حصی داحق نشته چی له خپل مرګ نه وروسته له خپلو وارثانو څخه څوک محروم کړي .

شریعت چی خومره حصه دکوم وارث لپاره مقرر کړیده هغه ورته ضرور رسیږي ، که مور وربانډی رضا وي او که نه وي (فتاوی محمودیه ص ٦٣ ج٥) اوپه احادیثو کي په د باندی سخت وعید راغلی دی . په مفید الوار ثین کی حدیث شریف دی چی : ځیني خلک خپل ټول عمر په الهي اطاعت کی مشغول وي ، لیکن دمرګ په وخت وارثانو ته په میراث کي نقصان رسوي ، (یعني دڅه شرعي وجی نه پرته په څه حیلی سره خپل وارث له میراث نه محروموي او یاپي حصه کموي) (مفید الوارثین)

(مشکواة شریف ص ۲٦۵ باب الوصایا)

دحدیث الفاظ دادي

عن ابی هریره عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان الرجل لیعمل والمرأة بطاعة الله ستین سنة ثم یحضر هما الموت فیضا ران فی الوصیة فتجب لهما النار ثم قرأ ابو هریرة من بعد وصیة یوصی بها او دین غیر مضار الی قوله تعالیٰ وذلک الفوز العظیم (مشکوة ص ۲٦٥ ایضاً) باب الوصایا) په حاشیه کی دي (قوله فیضاران . من المضارة ای یو صلان الضرر الی الوارث . بسب الوصیة للاجنبی باکثر الثلث اوبان یهب جمیع ماله لواحد من الوارثة کیلا یرث وارث آخر من ماله شیئا فهذا مکروه وفرار عن حکم الله ۱۲ مرقات) (التعلیق الصبیح ص ۳۹۸ ج ۳)

په دویم حدیث کی ارشاد دی : عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة .

یعنې کوم سړی چی خپل وارث له میراث نه محروم کړي ، الله تعالی هغه دقیامت په ورځ له جنت نه محروموي . (مشکوات شریف ص ٢٦٦ باب الوصایا) (مفید الوارثین ص۱۲) (فتاوی رحیمیه ص ۲۴۷ ج ۱۰)لهذا مناسب دادی چی که په دی عمر کې له چاسره ښه کول یې نیت وي نو دخپل مال په ثلث کې دی وکړي . اودانیت ونکړي چی وارثانو نه ئې لږ ورسیږي په ژوند کې چې څه ورکول کیږي هغه هبه ده او دی لپاره قبض کول شرط او ضروري دی . نو ځکه چاته چی څه ورکوي که هغه دتقسیمیدو وړ وي نو له تقسیم نه وروسته دی دهغه حصه ورکړي او ورباندی قابض کړي ترڅوهبه مکمل شي .

(درمختار وشامي ص ۷۰۰ _ ۷۰٤ ج ٤) فتاوی رحیمیه ص۱۷۷ ، ج ۳ که دغه مذکوره ښځه پخپل لاس وصیت نشي لیکلی اوبل سړی دهغی په حکم سره وکیل شي او وصیت نامه ورته ولیکي ، بیا هغه وصیت نامه دغه ښځې او شرعي ګواهانو په وړاندې ولولي او په دی باندی دغه ښځه او ګواهان خپل دستخطونه وکړي ، او بیا شرعي ګواهان دوصیت نامې ګواهي ورکړي نو داسې وصیت نامه معتبره ده . فقط والله اعلم بالصواب.

دمتفوی چی کومې پیسی او ګاڼه وي هغه دی دهغه ورثاو ته ورکړی شي

۳۹۶ سوال : زید بکر ته کافي پیسې او سره زر دامانت په توګه ورکړل او ویې ویل چې کله زه مړشم نو زماله وارثانو څخه فلان فلان زامنو ته مې ورکړه ، دهغه له دوه زامنو څخه یو زوی له بکر نه دخپل پلار له امانت څخه دهغه له اجازې نه بغیر کافي پیسې قرض آخستې وې ، اوس زید وفات شوی دی نو بکر دی دا امانت چاته ورکړي) یواځې دهغه دغو دواړو زامنو ته یادهغه په ټولو وارثانو کې تقسیم کړي ؟ دزید په وارثانو کی څلور زامن او درې لورګانې دي دزیدښځه او مور او پلار یې دزید په ژوندون کې وفات شوي وو . بینوا توجروا.

ځواب : له بکر سره چی د زید کومی پیسی د امانت په توګه دي او له هغی نه بکر د زید له اجازینه پرته د هغه زوی ته د قرض په توګه ورکړي دي ، هغه پیسی دی د هغه له زوی نه تر لاسه کړی شي بیا دی ټولی پیسی او ګاڼه دیارلس حصی وکړی شي ، دوه دوه حصی دی د هغه څلور زامنو ، او یوه یوه حصه دی دری لورګانو ته ورکړی شي ، د زید په وصیت باندی عمل کول صحیح نه دی ، لا وصيَّة للوارثٍ (الحدث) فقط والله اعلم بالصواب . یکم ذیقعده کال ۱۴۱۰ ه .

د تقسیم په وخت کی چی د جائیداد کوم قیمت وي همغه معتبر دی

(۳۹۷ سوال) زمونږ پلار په کال ۱۹۷۵ء کی مړ شوی دی ، د هغه په وارثانو کی زما د پلار دویمه ښځه ، اته زامن او پنځه لورګانی دي ، دهغه مور او پلار یعنی زمونږ بابا ، انی او مخکینی ښځه زمونږ د پلار په ژوند کی مړشوي دي ، زمونږ د پلار له مړ کیدو نه وروسته په کال ۱۹۷۷ء کی د هغه د جائیداد او نور مال تقسیم لپاره یوه خاکه جوړه

کړی شوه . مګر هغه خاکه صرف کاغذ تر حده وه او میراث تقسیم نه شو ، تقریباً ۹ کاله وروسته یعنی په ۱۹۸٦ء کال کی زما مشر ورور زما خوا ته راغی او د ۱۹۷۷ء د خاکی په مطابق د میراث په تقسیم خبری اتری وشوی ، نورو وارثانو ته د دی خبر ورنکړی شو ، ما ورته وویل چی دا تقسیم خو صرف د کاغذ تر حده پوری و ، اوس باید د اوسنی وخت د قیمت په مطابق تقسیم کړی شي ، مګر هغه پخپل خبره ولاړ دی نو ما په هغه کاغذ باندی له دستخط کولو نه انکار وکړ ، اوس یوځل بیا دجائیداد د تقسیم خبری اتری روانی دي . سوال دا دی چی د جائیداد تقسیم به د اوسني قیمت په مطابق کیږي یا د ۱۹۷۷ء کال د کاغذ خاکی د قیمت په اعتبار سره ، د پلار له مړ کیدو نه وروسته د څلور و ورونو او دری خویندو ودونه له مشترک کاروبار نه شویدي ، خومره خرچه چی شویده ایا هغه دی د هغوی له حصو نه وګرځول شي او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : که چیرته په پوښتنه کی لیکل شوي ټولی خبری بالکل صحیح وي او حقیقت همدا وي چی تر اوسه پوری جائیداد نه دی تقسیم شوی او نه هم حصی مقرر شوی دي او هر چا ته خپله خپله حصه ورکول شویده ، نو اوس چی تقسیمول غواړئ نو د جائیداد تقسیم به د اوسني قیمت په اعتبار سره کیږي ، که چیرته په ۱۹۷۷ء کال کی مو جائیداد تقسیم کړی وای او هر یو وارث ته خپله خپله حصه مو مقرره کړی وای نو بیا د همغه وخت په اعتبار سره صحیح و ، مګر دا چی تقسیم صرف کاغذي خاکی پوری پاتی شو او ورباندی عمل ونه شو ، او اوس هر یو وارث ته د هغه شرعي حصه ادا کول غواړئ نو کوم وخت چی ترکه تقسیم کړی شي د همغه وخت قیمت معتبر دی ، دا د حقوق العباد معامله ده ، په دی کی د زیات احتیاط ضرورت دی .

د کومو ورونو خویندو ودونه چی ستاسی د پلار له مرګ نه وروسته شویدي ایا په هغه وخت مو هغوی ته دا ویلی وو چی څومره خرچه د هغوی په ودونو کی وشي هغه د ترکی د مال د تقسیم په وخت کی له هغوی نه ګرځول کیږي که چیرته داسی خبره نه وي شوی نو بیا دا تبرع او احسان دی ، د هغوی له حصی نه جبراً نشي ګرځولی خو که هغوی پخپله خوښه د هغه خرچی د راګرځولو اجازه وکړي نو صحیح ده . که په مسئوله صورت کی د مرحوم په وارثانو کی صرف همدغه پورته لیکل شوی وارثان وي نو حقوق متقدمه علی الارث له ادا کولو نه وروسته د مرحوم د ترکی ټول ۱٦۸ برخی

او سهامونه جوړېږي . د مرحوم ښځې ته ۲۱ برخې او هر يو لور ته ۷ ۷ برخې رسيږي فقط والله اعلم بالصواب .

په وارثانو کې ښځه ، مور ، حقيقي ورور ، خور ، علاتي ورور او اخيافي ورور اوخور موجود دي ، په دې صورت کې به ترکه څنګه ويشل کيږي ؟

۳۹۸ سوال) عباس سليمان نومې شخص مړ شو ، د هغه هيڅ اولاد نشته ، د هغه په وارثانو کې د هغه ښځه ، مور ، دوه حقيقي وروڼه او دوه حقيقي خوينډې دي ، لدينه علاوه د هغه درې علاتي ورڼه (يعنې د پلار له طرف وروڼه) هم شته ، د مرحوم عباس د مور نکاح مخکې له يو سړي غلام رسول سره شوې وه ، له هغه نه هم څلور اولادونه يې دي يو هلک او درې لورګانې . دا خبره دې واضحه وي چې جائيداد د مرحوم عباس دې نو د دې ترکه به په دغو مذکوره وارثانو کې څنګه تقسيميږي ؟ د مرحوم عباس پلار او نيکه هم د مرحوم په ژوند کې مړ شويدي . بينوا توجروا .

خواب : كه په مسئوله صورت كې د مرحوم عباس په سوال كې بواځې همدومره وارثان وي خومره چې ليكل شويدي ، او د هغه اولادونه ، پلار او نيكه هم نه وي نو حقوق متقدمه على الارث له ادا كولو نه وروسته په يو ثلث كې د جائز وصيت له ادا كولو نه بعد د مرحوم ذاتي مال او ملكيت ۲۴ حصې كيږي چې له هغو نه :

د مرحوم عباس ښځې ته	٦ حصې ـ څلورمه حصه
د مرحوم عباس مور ته	۴ حصې ـ شپږمه حصه
د مرحوم عباس اخيافي ورور ته	۲ حصې
د مرحوم عباس اخيافي خور ته	۲ حصې
د مرحوم عباس دويم اخيافي خور ته	۲ حصې
د مرحوم عباس دريم اخيافي خور ته	۲ حصې
د مرحوم عباس يو حقيقي ورور ته	۲ حصې
د مرحوم عباس دويم حقيقي ورور ته	۲ حصې
د مرحوم عباس حقيقي خور ته	۱ حصه

د مرحوم عباس دويم حقيقي خور ته ۱ حصې رسيږي .

د مرحوم عباس علاتي ورور د حقيقي ورور د موجودگی په صورت کی محروم دی ـ ځکه چی حقيقي ورور د علاتي ورور په نسبت قريبي عصبه دی ، او د مرحوم اخيافي ورور او خور ذوی الفروض دي او په مسئوله صورت کی د مرحوم عباس اولاد ، پلار او نيکه نشته نو ځکه دا محروم نه دي شرعاً وارث دي او د ثلث مال حقدار دي او دا ثلث مال د هغوی تر منځ يو مساوي تقسيمېږي . په سراجي کی دي : واما لا ولاد الام فاحوال ثلث السدس للواحد والثلث للاثنين فصاعداً ذكورهم واناثهم فى القسمة والا ستحقاق سواء ويسقطون بالولد ولد الابن وان سفل وبالاب والجد بالاتفاق (سراجی ص ۱٦ باب معرفة الفروض ومستحقيها) .

او اخيافي ورور او خور دمور په موجودگی کی هم وارث دي . په سراجي کی دي : وفريق يرثون بحال ويحجبون بحال وهذا مبنى على اصلين احدهما هو ان كل من يدلى الى الميت بشخص لا يرث مع وجود ذلك الشخص سوى اولاد الام فانهم يرثون معها لانعدام استحقاقها جميع التركة (سراجى باب الحجب) فقط والله اعلم بالصواب .

په وارثانو کی صرف يو حقيقي ورور او يو علاتي خور يی ده د دی حکم

(۳۹۹ سوال) يو سړی وفات شو د هغه نه اولاد شته او نه هم پلار مگر نيکه يی ژوندي دي ، صرف يو حقيقي ورور او علاتي خور يی دی ، په دی صورت کی د مرحوم د ترکی حقدار څوک دي ؟ که علاتي خور ته څه برخه رسيږي نو څومره به وي ؟ بينوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کی چی د مرحوم نه اولاد شته او نه هم پلار او نيکه يی ژوندي دي صرف يو حقيقي ورور اويوه علاتي خور يی ده ، نو د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته د مرحوم ټوله ترکه د هغه ورور ته رسيږي ، علاتي خور محرومه ده ، په سراجي کی دي : ويسقط بنوالعلات بالاخ لاب وام ، وبالاخت لاب واما اذا اصارت عصبة (سراجی) (باب معرفة الفروض و مستحقيها) په تنوير الحواشي

شرح سراجي کی دي : که د مړي حقیقي ورور موجود وي نو علاتي خور بلکی علاتي ورور هم د هغه له میراث نه محروم دی او هیڅ حصه ورته نه رسیږي . (تنویر الحواشي ص ۲۸) (مفید الورثین ص ۱۱۰ ، لسم فصل ، د علاتي خور حصه) فقط والله اعلم بالصواب .

په وراثانو کی خورزه او د خوری دوه زامن دي :

(۴۰۰ سوال) عبدالرحمن مړ شویدی ، د هغوی په وارثانو کی د یو حقیقي خور لور یعنی خورزه او د دویم حقیقي خور دوه زامن یعنی د هغه د خوری دوه زامن دي ، لدینه علاوه نور بل وارث نه لري ، مور او پلار او دهغه دواړه خویندی د عبدالرحمن په ژوند کی مړ شویدي ، په دی صورت کی به د عبدالرحمان ترکه څنګه ویشل کیږي ؟

ځواب : په مسئوله صورت کی که واقعي د عبدالرحمن همدغه په سوال کی لیکل شوي کسان وارثان وي ، مور او پلار او ذوی الفروض او عصباتو نه څوک نه وي نو د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته د مرحوم ټوله ترکه د هغه حقیقي خورزی ته رسیږي د خوری اولادونه یی محروم دي هغوی ته هیڅ نه رسیږي ، ځکه چی خورزه د هغه د خوری د اولاد په نسبت د مړي زیات نژدی خپلوانه ده .

د خوری او د خورزی اولاد د ذوی الارحام په دریم صنف کی داخل دي ، او په دریم صنف کی د وراثت د تقسیم طریقه دا ده چی مړي ته هر څوک زیات قریب وي همغه مقدم وي . په سراجي کی دي : فصل فی صنف الثالث الحکم فیهم کالحکم فی الصنف الاول اعنی او لهم بالمیراث اقربهم الی المیت (سراجی ص ۴۷ باب ذوی الارحام) .

په مفیدالوارثین کی دي چی کله لومړی او دویمه درجه ذوی الارحام موجود نه وي ، عصبه او ذوی الفروض هم موجود نه وي ، نو د دریمی درجی ذوی الارحام وارث کیږي ، له هغو نه هم هغه څوک چی د مړي زیات نژدی رشته دار وي هغه له بعید نه مقدم دي ، یعنی د کومو څلورو نمبرو ذکر چی مونږ کوو په هغو کی د اول نمبر په مقابله کی دویم نمبر محروم پاتی کیږي ،او د دویم نمبر په موجودګی کی دریم نمبر محرومیږي وعلی هذا القیاس . لدینه وروسته حضرت مؤلف رحمه الله څلورو واړو نمبرونه په تفسیل سره بیان کړي دي ، خورزه یی په دریم نمبر په وارثانو کی او

خوریونو اولادونه یې د دریمې درجې د دویم نمبر په وارثانو کې شمارلي دي نو ځکه د خورې اولاد د خورزې په موجودګۍ کې محروم دی.
مفید الوارثین ص ۱۷۶ ـ ۱۷۰ فصل نمبر ۳ د ذوی الارحام دریمه درجه).
دا مسئله په تنویر الحواشي اردو ص ۹۸ ـ ۱۰۱ کې هم په تفصیل سره بیان شوی دی.
فقط والله اعلم بالصواب.

د مړي په وارثانو کې یو زوی او یو لور یې ده، زوی یې غواړي چې د زمکې خالي ځای خپل خور ته ورکړي او کور پخپله واخلي

(۴۰۱ سوال) یو سړی وفات شوی دی، دهغه په وارثانو کې صرف یو زوی او یو لور ده دهغه ښځه او مور پلار یې د هغه په ژوند کې وفات شوي دي. په دی صورت کې د مرحوم ترکه د هغه د زوی اولور تر منځ څنګه تقسیمیږي؟ د مرحوم په ترکه کې یو کور دی د کور په وړاندی حصه کې یو تعمیر دی او شاته خالي ځای دی، ورور خپل خور ته وایي چې ته د کور دریمه حصه چې خالي ده او تعمیر پکې نه دی جوړ شوی واخله. دغه خالي ځای د کور دریمه حصه تشکیلوي، خو خور یې په دی رضا نه ده، هغه وائي چې په دی کې ماته نقصان دی، ایا شرعاً د هغې د وړور خبره دمنلو وړ ده او که نه؟ بینوا توجروا.

ځواب: په مسئوله صورت کې حقوق متقدمه علی الارث له ادا کولو نه وروسته د مرحوم ټوله ترکه به په دریمه حصه کې ویشل کیږي، زوی ته یې دوه حصې او لورته یې یوه حصه رسیږي، دا چې ورور یې خپل خورته خالي ځای او پخپله تعمیر شوی ځای اخستل غواړي که خور یې ورباندی رضا نه وي نو ورور ته یې دا حق نشته چې هغه خپل خور دیته مجبور کړي چې دا ځای واخلي. په ترکه کې چې څه خیز ونه وي د هغه په هریو جز کې د ټولو وارثانو حق دی لهذا هیڅ یو وارث پخپله خوښه د بل وارث حصه نشي مقررولی او نه هم د هغې په اخستلو مجبورولی شي، شرعاً هغه د دی حق نه لري په اولین هدایه کې دي: الشرکة ضربان شرکة املاك وشرکة عقد فشرکة الاملاك العین یرثها رجلان او یشتریا ها فلا یجوز لاحدهما ان یتصرف فی نصیب الآخر الا باذنه (هدایه اولین ص ۶۰۴ کتاب الشرکة) فقط

القدیر له فواند ظهیریه نه نقل کړی دی : ان الشرکة اذا کانت بینهما من الابتداء بأن اشتریا حنطةً او ورثاها کانت کل حبة مشترکة بینهما . الخ (فتح القدیر مع عنایة ص ١٥٤ ج ٦ کتاب الشرکة).

ددواړو عبارتونو خلاصه داده چې دشرکت دوه ډولونه دي . یو شرکت املاک اوبل شرکت عقود ، شرکت املاک دادی چی دوه یاله دوه نه زیات کسان دیو څیز وارث وګرځي ، یادوه کسانو په شریکه یو څیز واخست نو هغه ددواړو ترمنځ شریک دی ، له دواړو څخه هر یو تن دخپل شریکوان له اجازی نه پرته په هغه څیز کی دتصرف کولو حق نه لري او که شرکت له ابتداء نه وي لکه چی دوه کسان په شریکه کی دتصرف کولو حق نه نري . او که شرکت له ابتداء نه وي لکه چی دوه کسان په شریکه غنم واخلي یادغنمو وارث شي نو دهغه هره هره دانه ددواړو ترمنځ شریکه ده .(هدایه اولین فتح الفدیر)

عنایه په شرح هدایه کی دیوې مسئلی په تشریح کی وایي :

ان صاحب عشرة اسهم یکون شریکاً لصحاب تسعین سهماً فی جمیع الدار علی قدر نصیبها منها ولیس لصاحب الداران یدفع صاحب القلیل من جمیع الدار فی قدر نصیب من ای موضع کان .

دعبارت مطلب دادی چی په یو کور کی دوه کسان شریکوان دي دیو سړي یکی ۹۰ حصی دي اودبل ۱۰ حصی دي . نو دواړو دخپلو خپلو حصو په اندازه په ټول کور کی شریک دي .لهذا دکوم سړي حق چی زیاته ده هغه ته دا حق نشته چی خپل ملګری ته په کوم خای کې وغواړي حصه ورکړي

(عنایه شرح هدایه ص۲۷۵ ج ٦ مع فتح القدیر تحت المسئلة وصف ومن اشتری عشرة اذرع من مأة ذراع من دار او تمام کتاب البیوع)

لهذا په مسئوله صورت کې دی داسې بوصورت وویستل شي چی په دواړو کی دیو هم تاوان ونشي او هریو دخپل حق په اندازه حق ورسیږي ، فقذ والله واعلم بالصواب.

په موروثه زمکه او کور کی دخپلې حصې میراث په بل وارث باندی خرڅول

۴۰۲سووال: زمونږ پلار مړشوی دی. په ترکه کی کور او زمکه پرېښی ده مونږ درې ورونه او دوه خویندې یو، تراوسه پورې ترکه نه ده تقسیم شوی په کور او زمکه کی چی زماکومه شرعي حصه ده هغه زه پخپل ورور باندی خرڅول غواړم. آیا له تقسیم نه وړاندی خپله حصه پخپل ورور باندی خرڅولې شم او که نه؟ که له خپل ورونه علاوه په بل چاباندی خرڅوم نو ددی څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

ځواب: دترکی له تقسیمولو نه مخکی تاسې دکور او زمکې خپل حصه پخپل ورور باندی خرڅولې شئ همدغه راز که په بل چاباندی خرڅول غواړئ نو هم یې خرڅول شئ. په هدایه اولین کی دي: ويجوز بيع احد هما نصيبه من شريكه فى جميع الصورومن غير شريكه بغير اذنه (هدایه اولین ص۲۰٤ کتاب الشركة)

په فتح القدیر کی له فوائد ظیریه نه نقل کړی دی: ((ان الشركة اذا كانت بينهما من الابتداء بان اشتريا حنطةً او ورثا ها كانت كل حبة مشتركه بينهما فبيع كل منهما نصيبه شائعاً جائز من الشريك والا جنبي الخ))(فتح القدير مع عناية ص ١٥٤ ج ٦ كتاب الشركة . فقط والله اعلم بالصواب .)

له لوی کور نه خپل حصه غوښتل او دپوره کور په خرڅولو باندی نه رضا کیدل

۴۰۳ سوال: زمونږ پلار وفات شوی دی، دهغه په ترکه کی یو لوی کور هم پاتی دی. په هغه کې شرعاً زما حق دی، زه وایم په کور کې چی زما کومه حصه ده هغه ماته راکړئ او تقسیمول یې هم آسان دی څه مشکل پکې نشته، یو تن وایي چی دکور په تقسیمولو سره دکور قیمت کمیږي، ټول کور به خرڅ کړو او دهغه قیمت به وویشو زه پیسی نه بلکی کور غواړم، په دی باره کې دشریعت څه حکم دی، ایا زه په کور کی

دځپلې برخې د غوښتلو حقدار يم او که نه ؟ داچې ماخرڅولو ته مجبوروي داهغوی تـه جائز دی او که نه ؟ بينوا توجروا.

ځواب: په ترکه کې چې کوم څيز وي دهغه په هر يو حصه کې دټولو و ارثانو حـق وي او ټول وارثان په هغه کې شريک وي : په فوائد ظهيريه کې دي.

ان الشركة اذا كانت بينهما من الابتداء بان اشتريا حنطة او ورثا ها كانت كـــل حبة مشتركه بينهما (فوائد ظهيريه على هامش الهدايه ص ٦٠٤ جلد ٣)(فتح القدير . مع عنايه ص ١٥٤ ج ٦ كتاب الشركة .).

همدغه راز هيڅ يو وارث ته داحق نشته چې پخپله خوښه کور يا زمکـه تقسيم کـړي او نور ديته دمنلو لپاره مجبور کړي ، مګر داچې ټول رضا وي عنايه شرح هدايه کې ديـوې مسئلې په تشريح کې ليکي:

صاحب عشرة اسهيم يكون شريكاً لصحاب تسعين سهما فى جميع الدار على قدر نصيبهما منها وليس لصحاب الدار ان يدفع صاحب القليل من جميع الدار فى قدر نصيب من اى موضع كان (عنايه شرح هدايه ص ٢٧٥ ج٧ مع فـــتح القـــدير كتاب الشركة .).

په مسئوله صورت کې کور لوی دی او دويشلو قابل دی ، او ستاسـې غوښتنـه داده چـې په کور کې زما حصه ده همغه دی ماته راکړی شي ، ستا دا غوښتنه صحيح ده ، سـتا لـه رضا نه بغير دکور خرڅول او دپيسو دآخستلو لپاره تاسې څـوک نشئ مجبـورولی . فقـط والله اعلم بالصواب.

۱_ په قومي فساد کې زوی او پلار شهیدان کړی شوي دي خو داعلم نشته چی کوم یو مخکی شهید کړی شوی دی ، په مسئوله صورت کی ترکه څنګه ویشل کیږي ؟

۲_ دحکومت له طرف نه چی مړ شویو خلکو ته پیسې ورکول کیږي هغه به څنګه تقسمیږي ؟

۴۰۴ سوال : زمونږ په علاقه کی دقومي فساد په ورځوکی حاجي سلیمان او دهغه څلور زامن دهغوی پخپل کور کې شهیدان کړلی شول ، داچي کوم یو پکی مخکی شهید شو ددی علم چاته نشته او نه څوک ګواه دی ،، له دریو واړو زامنو نه یو زوی محمد حنیف واده کړی و او دوه نورو ودونه نه وو کړي ، دمحمد حنیف په وارثانو کی دهغه یوه کونده ، یو زوی او دوه لورګانی دي : او دحاجي محمد سلیمان په وارثانو کی دهغه له دغو دریو زامنو نه علاوه دهغه ښځه ، څلور زامن او درې لورګانی دي ، ایا دحاجي سلیمان له ترکی نه دهغه شهید زوی محمد حنیف ښځې او اولادوته برخه رسیږي او که نه ؟ بینوا توجروا .

۲_ دویم داچی څومره خلک په دی قومي فساد کی شهیدان شوي دي هریو ته دحکومت له طرفه نه شپیته شپیه زره روپې ورکول شوي دي ، دمحمد حنیف او دهغه دوه نادواده شوي زامنو پیسې دهغی ښځې ته ورکړي دي ، کومې پیسې چی هغوی ته ورکول شوي دي هغه به څنګه تقسیمیږي ؟ بینوا توجروا.

ځواب : کوم کسان چی شهیدان شوي دي له هغوی نه کوم یو مخکې شهید شوی دی په دی باره کې له هیچا سره علم نشته او نه څوک ګواه موجود دی . نو په دی صورت کی شهید شوي کسان پخپلو کی له یوبل نه دمیراث وړلو حقدار نه دي ، اوهریو ذاتي ملکیت دهغه په ژوندي وارثانو باندی تقسیمیږي په سراجي کی دي :

اذا ماتت جماعة ولا یدری ایهم مات اولاجعلوا کاهم ماتوا معاً فمال کل واحد منهم لورثته الاحیاء ولا یرث بعض الاموات من بعض هذا هو المختار (سراجي فصل فی الغرقي والحرقي والهدمی) (معین الفرائض ص۱۰۵ ، ص۱۰۶)

دضروري حقوقو له اداکولو نه وروسته دمرحوم حاجي سلیمان ترک په ۸۸ برخو ویشل کیږي ، دمرحوم کونډی ته ۱۱ حصې ، هریو ژوندي زوی ته ۱۴_۱۴ حصی او هر یو لور ته یې ۷_۷ حصې رسیږي ، که چېرته له دوه ناواده کړیو زامنو سره خپل ذاتي مال وي نو له هغه نه دهریو دترکی مال ٦٦ حصی کیږي ، دهغوی مور ته ۱۱ برخی او هریو ژوندي ورورته لس برخی او هر یو ژوندي خور ته پنځه پنځه برخې رسیږي.

دمرحوم محمد حنیف دترکی مال به په ۹٦ برخو ویشل کیږي ، له هغو نه دهغه ښځې ته دولس حصی، دهغه مور ته ۱٦ برخې ، دهغه زوی ته ۳۴ برخی ، دهغه یوی لورته ۱۷ برخی او بلی لورته هم ۱۷ برخی رسیږي .

دمرحوم حاجي سلیمان له ترکي نه دمحمد حنیف کونډی او دهغه اولاد ته هیڅ برخه نه رسیږي ، دمرحوم حاجی سلیمان زامن موجود دي او دزامنو په موجودګی کی لمسي او لمسیانې محرومې دي ، البته دحاجي صاحب وارثان دخپل مرحوم ورور محمد حنیف له ماشومانو سره تعاون وکړي نو دا ښه کار او صله رحمي ده .

انشاء الله داجر اوثواب کار دی . خومره چې ورکول غواړي دادهغه دوارثانو رضا پورې موقف دی ، دیو ثلث په منځ منځ کی دی وي .

دحکومت له طرف نه چې خومره پیسې ورکول شوي دي هغه ترکه نه ده .

۱_لهذا هرچاته چی ورکول شویدي همغه یې حقدار دی که هغه پخپل خوښه بل چاته ورکول غواړي ورکولې شي . فقط والله اعلم بالصواب .

په وارثانو کی ښځه ، حقیقي ورور او یوه علاتي خورده

۴۰۵سوال : حسن محمد وفات شویدی دهغه په وارثانو کې ښځه ، یو حقیقي او یو علاتي ورونه (یعنې له پلار نه یو او مور ګانې جدا جدا) اویوه خور یې ده ، دمرحوم حسن مور او پلار دهغه په ژوند کی مړه شوي دي ، دحسن محمد هیڅ اولاد نشته ، په دی صورت کې به دهغه ترکه دوارثانو ترمنځ څنګه تقسیمیږي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : حقوق مقدمه علی الارث (تجهیز ، تکفین ، قرض او په ثلث مال کی دهغه دوصیت له ادا کولو نه وروسته دمرحوم حسن محمد ترکه به څلور حصې کولې شي ، لـه هغونه یوه حصه دهغه ښځې او پاتې درې حصې دعصبه په طریقه دهغه ورور ته رسیږي . علاتي خو ریې محرومه ده هیڅ ورته نه رسیږي . په مفید الوارثین کی دي کله چی

حقیقي ورور موجود وي نو علاتي ورور او علاتي خور محروم پاتې کیږي . (مفید الوارثین ص۱۴۱ عصبه درجه سوم نمبر ۹۱۱ حقیقي ورور) فقط والله اعلم بالصواب.

ګرو کړی شوی کور دراهن (ګروه کوونکی) له مرګ نه وروسته مرتهن دعدالت په اجازه خرڅ کړی دی ، ایا په هغه کی دهغه دوارثانو حق شته ؟

۴۰٦ سوال : محمد حسین له محمد عمر نه یو لک روپۍ قرض واخستلې او خپل کور یې له هغه سره ګروه کړ . دقرض له اداکولو نه وړاندی محمد حسین مړ شو ، دمحمد حسین درې زامن او دوه لور ګانې دي . محمد عمر دمحمد حسین وارثانو ته وویل چی ستاسې دپلارکور له ماسره ګرو دی . تاسې دخپل پلار قرض ماته راکړئ او خپل کور بیرته رانه واخلئ .

لیکن وارثانو څه پورا ونکړه ، محمد عمر مجبوراً دخپل قرض دترلاسه کولو لپاره عدالت ته عارض شو او دکورټ په حکم هغه کور په یو لک روپۍ خرڅ شو ، یو لک روپۍ بالکل مناسب قیمیت یې و . محمد اقبال نومې یو سړي دغه کور په یو لک روپۍ واخست ، دهغه سند له محمد اقبال سره و ، لدینه وروسته دمرحوم محمد حسین دیو زوی ښځې فاطمه بي بي هغه کور له محمد اقبال نه په پیسو واخست . دفاطمې خاوند ابراهیم له وړاندې نه مړ شوی و . اوس دمحمد حسین نور وارثان له فاطمه بي بي نه په دغه کور کې خپل حق غواړي ، ایا شرعاً په دغه کور کې په مذکوره صورت کې دمحمد حسین دوارثانو حق شته ؟ دمدلل ځواب ضرورت دی .

دمحمد حسین دوارثانو شدید اصرار دی حال داچی فاطمه بي بي داکور پخپلو پیسو آخستې دی . فقط .

ځواب: کله چې راهن یعنې ګرو ایښودنکی سړی وفات شي او د هغه ورثه د خپل مورث قرض ادا نه کړی ، په ترکه کی د مال د نشتوالي له کبله او یا د غفلت په وجه ، او دغه مرهونه څیز خرڅ کړی شي نو د دی د قیمت له ټولو نه زیاده مستحق هغه څوک دی چی له چاسره دا کور ګرو ایښودل شوی دی ، که کومی پیسی ترینه زیاتی شي نو په دی کی د نورو قرض خواهانو او یا هم د هغه وارثانو حق دی او که قیمت له قرض نه کم وي نو څومره قرض چی پاتي وي نو همدومره پیسی مرتهن دراهن له

ترکی نه د ترلاسه کولو حق لري او که قیمت د قرض په برابر وي نوبیا مرتهن دټول قیمت حقدار دی . په بدائع الصنائع کی دي :

وکذالك اذا بیع الرهن بعد و فاة الراهن وعلیه دیون ولم یخلف مالا آخر سوی الرهن کان المرتهن احق بثمنه من بین سائر الغر ماء لما ذکرنا فان فضل شئ یضم الفضل الی مال الراهن ویقسم بین الغر ماء بالحصص لان قدر الفضل لم یتعلق به حق المرتهن وان نقص عن الدین یرجع المرتهن بما بقی من دینه فی مال الراهن ......الخ (بدایع الصنائع ص ۱۵۳ ج ٦ ، کتاب الراهن اذا مات واما شرائطه کونه مضمونا عند الهلاك) .

د هدایه آخرین په یو ځای کی لیکلي دي کالراهن اذا مات . په حاشیه کی دي

قوله کالراهن الخ فان المرتهن احق بالمرهون یباع فی دینه اذا تعذر الاستیفاء ۱۲ (هدایه اخرین ص ۸۷ کتاب البیوع) .

په مسئوله صورت کی مرحوم محمد حسین له محمد عمر نه یو لک روپی قرض اخستی وي او په مقابل کی خپل کور ورته گرو ایښی و . خو دقرض له ادا کولو نه وړاندی وفات شو ، د هغوی په وارثانو لازم وچی د خپل پلار قرض ادا کړی وای او کور یی ترینه تر لاسه کړی وای ، محمد عمر د هغوی وارثان هم خبر کړل مګر وارثانو څه پروا ‌نکړه ، محمد عمر مجبوراً عدالت ته لاړ او د کوټ په معرفت کور په یولک روپی نیلام کړ ی شوی چی مناسب بیع ئی وه ، د دغه یو لک روپی مستحق محمد عمر دی ځکه چی هغه څومره روپی قرض ورکړی وی د همغه په برابر دي ، په دغو پیسو کی ن مرحوم محمد حسین وارثان هیڅ حق نه لري ، د دغه کور مالک اوس محمد اقبال دی ، که له محمد اقبال نه فاطمه بي بي پخپلو ذاتي پیسو هغه کور په بیع اخستی وي نو فاطمه بي بي د دغه کور مالکه ده او که د خپل خاوند په پیسو یی اخستی وی نو دهغه د خاوند ټول وارثان په دی کی حق لري ، او د محمد حسین نور وارثان په دی کور کی هیڅ حق نه لري ، او دا کور په مذکوره صورت کی د هغوی په ترکه کی بالکل نه شاملیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

په سرکاري زمکه یې کور جوړ کړ ، بیا وفات شو ، ایا په دی کی وراثت جاري کیږي ؟

(۲۰۷ سوال) زمونږ پلار په سرکاري زمکه یو دکان جوړ کړی و ، ددغی زمکی هیڅ سند له مونږ سره نشته او نه هم کرایه ورکوو ، بلکی په دغه زمکه باندی ډیرو خلکو چی مسلم او غیر مسلم پکی شامل دي دکانونه جوړ کړي دي ، له حکومت نه د دغی زمکی د اخستلو کوشش روان دی ، مګر تر اوسه پوری حکومت زمکه نه ده خرخه کړی ، د دغی زمکی د میراث په اړه څه حکم دی ؟ ایا دا زما د پلار په ترکه کی حسابیږي او که نه ؟ ایا پدی کی د هغه د وارثانو شرعي حق شته او که نه ؟ بینوا توجروا.

ځواب : کوم څیزونه چی مملوکه وي او په هغه کی د بل چا حق نه وي داسی څیزونه په ترکه کی شاملیږي ، او دکوم څیز په متعلق چی دا علم وي چی دا څیز له مرحوم سره د مالکانه په توګه نه دی یعنی د هغه ملکیت نه دی نو په هغه کی وراثت نه جاري کیږي او په ترکه کی نه شاملیږي . (درمختار ، شامي ص ٦٦٦ ، ٦٦٧ ج ۵ کتاب الفرائض)
په مفید الوارثین کی دي : هغه ټول مال چی ورباندی شریعت د هغه ملک او مملوک کیدو حکم کړی وي او دبل چا حق په دی کی نه وي او مړ شوی شخص خپل ځان پسی په ترکه کی پریښی وي هغه ته ترکه او میراث ویل کیږي ، برابره خبره ده چی دا مال هغه ته دمور او پلار نه پاتي وي یاله ښځی اوخاوند نه .
یا پخپلو پیسو باندی یی اخستی وي . غرض دا چی کوم څیزونه د مرګ په وخت کی د هغه ملکیت وي نو هغه له ورکوتي نه ورکوتي څیز هم په ترکه کی شامل دی . او په ټولو څیزونو کی د هغه د وارثانو حق دی ، تر دی پوری چی دمړي په بدن کی کومی جامی دي هغه هم په دی کی داخل دي ، که دمړي په جیب کی یوه دانه لاچی (ابل) هم پرته وي نو هیڅاته دا جائز نه دي چی د وارثانو د اجازی نه پرته هغه په خوله کی واچوي ، ځکه چی هغه د وارثانو حق دی نه د یو سړي (مفید الوارثین ص ۲۷ فصل نمبر ۴) .

په مسئوله صورت کی د دکان په ملبه او د دکان په مال کی وراثت جاري کیږي خو د دکان زمکه سرکاري ده ، نو په شرعي لحاظ سره په دی کی وراثت نه جاري کیږي ، البته هغه وارث چی دغه زمکه استعمالوي نورو وارثانو ته د خو پیسو په ورکولو سره

هغوی رضا کړي نو د هغوی هم دلجویي کیږي او بیا د دغی زمکی معامله هم صفا کیږي له هغه سره د هغوی څه تعلق نه پاتی کیږي . فقط والله اعلم بالصواب .

د مقتول ښځی او زوی ته چی د مرستی په توګه له حکومت نه کومی پیسی ورکړی شي په هغه کی د نورو وارثانو حق نشته

(۴۰۸ سوال) اقبال په برطانیه کی وژل شوی و ، د برطانیی حکومت له طرف نه د هغه ښځی ته څه پیسی د مدد او مرستی په توګه ورکول شوي دي ، همدغه راز د هغه د زوی لپاره هم حکومت څه پیسی منظوری کړي دي چی د ۱۸ کلو په عمر کی ورته ورکول کیږي ، پوښتنه دا ده چی په دغو دواړو مرستو کی د مرحوم اقبال پلار ، مور او یا بل کوم رشته دار ته حصه رسیږي او که نه ؟ بینوا توجروا .

(ب) د مرحوم ښځی نذر منلی و چی کله هغی ته پیسی ورکړی شي نو له هغه نه مرحوم ته د ایصال ثواب لپاره دوه زره پاونډ مصرفوي ، د پیسو ترلاسه کیدو نه وروسته د مرحوم پلار هغه ټولی پیسی له خپل ځان سره کینسودلی او ویی ویل چی زه پخپله د ایصال ثواب لپاره مصرفوم ، مګر تر اوسه پوری یی هیڅ نه دي کړي ، نو اوس د مرحوم ښځه څه وکړي ؟ بینوا توجروا .

ځواب : کله چی د برطانیی حکومت دغه پیسی صرف د هغه ښځی او زوی ته د تعاون په توګه ورکړي دي ، نو د دغو پیسو حقدار د هغه ښځه او زوی دی ، دا دمرحوم ترکه نه ده چی په دی کی د مرحوم پلار ، مور او نورو رشته دارانو حق وي .

(۲) دا چی د مرحوم پلار د هغه پیسی له خپل ځان سره ایښی دي دا له هغه سره امانت دی د دغو پیسو اصلي مالک دمرحوم ښځه ده او په دی کی د مرحوم پلار ته د تصرف حق نشته بلکی د تصرف حق د هغه ښځی ته دی ،لهذا د مرحوم پلار ته پکار دي چی دغه پیسی د مرحوم ښځی ته ورکړي او د پیسو له تر لاسه کولو نه وروسته دی خپل نذر پوره کړي . فقط والله اعلم بالصواب .

په وارثانو کی یو لور ، خور او دری وریرونه پریښی دي :

(۴۰۹ سوال) یو سړی مړ شو د هغه په وارثانو کی یوه لور ، یوه خور او دری وریرونه دي د مرحوم مور او پلار ، دهغه ښځه او ورور د مرحوم په ژوند کی مړ شوي دي . په مذکوره صورت کی به د هغه ترکه څنګه ویشل کیږي ؟ بینوا توجروا .

خواب په مسئوله صورت کی د ضروري حقوقو له ادا کولو نه وروسته د مرحوم ترکه په دوه حصو ویشل کیږي ، یوه حصه دمرحوم لور ته اویوه حصه د هغه خور ته رسیږي ، وریرونه یی محروم دي ، کله چی خور له لور سره جمع کیږي نو هغه عصبه مع الغیر گرځي په سراجي کی دي : ولهن الباقي مع البنات او بنات الابن لقوله علیه السلام اجعلوا الاخوات مع النبات عصبة .

یعنی خویندو ته د لورگانو او یا لمسیانو څخه پاتی حصه رسیږي . د محمد صلی الله علیه وسلم قول دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی چی خویندې له لورگانو سره عصبه وگرځوئ . (سراجي نمبر ۱۰ باب معرفة الفروض مستحقیها)

په بل ځای کی دي : واما العصبة مع غیر فکل انثی تصیر عصبة مع انثی اخرىٰ کالاخت مع البنت لما ذکرنا ، حاشیه کی دي : قوله مع البنت . سواء کانت صلبية او بنت ابن وسواء کانت واحدة او اکثر کما ذکرنا من قوله اجعلوا الاخوات مع البنات عصبة (سراجی مع حاشیه ص ۱۵ وحاشیه نمبر ۱ ایضاً) .

لدینه ثابت شو چی خور له لور سره په یوځای کیدو عصبه گرځي . برابره خبره ده چی خور یوه وي یا له یوی نه زیات ، یا لور یوه وي یا له یوی نه زیات په هر حال خور عصبه جوړیږي .

په مفیدالوارثین کی دي (۳) که چیرته د مړ سړي لور ، لمسی یا کړوسی (یوه وي یا ډیر) نو په دې صورت کی ذوی الفروض ته له ورکولو نه وروسته چی څه پاتی شي هغه د مړي خور ته رسیږي . (مفید الوارثین ص ۱۱۲ د ذوی الفروض بیان فصل نمبر ۹) .لهذا په مسئوله صورت کی خور د عصبه کیدو په وجه د پاتی نیمی ترکی حقداره گرځي او وریرونه یی محرومیږي .

په مفیدالوارثین کی دي (۴) که د مړي کوم حقیقي یا علاتي ورور موجود وي یا د اولی درجی او دویمی درجی کوم عصبه موجود وي نو وراره بالکل محروم پاتی کیږي او که د مړ شوي سړي لور او حقیقي خور دواړه موجود وي بیا هم دا محروم دي . (مفید الوارثین ص ۴۳ پنځم باب د عصباتو بیان ، عصبه دریم نمبر ۱۱\۳ حقیقي وراره) فقط والله اعلم بالصواب .

خپل خاوند ، یو لور ، دوه خویندی او دوه وریرونه یی شاته

پرېښی دي

(۴۱۰ سوال) یوه ښځه مړه شوی ده د هغې په وارثانو کی د هغې خاوند ، یوه لور ، دوه حقیقي خویندی او دوه وریرونه دي د مرحومې مور او پلار او ورور یی د هغې په ژوند کی مړ شوي دي ، دمرحومې نرینه اولاد نشته ، نو په مذکوره صورت کی د مرحومې ترکه څنګه ویشل کیږي ؟

ځواب : په مسئوله صورت کی حقوق متقدمه علی الارث له ادا کولو نه وروسته د مرحومې ترکه په ۱۸ برخو ویشل کیږي له هغو نه د مرحومې خاوند ته دوه برخی د مرحومې لورته څلور برخی ، دمرحومې یوه خور ته یوه برخه او بلی خور ته هم یوه برخه رسیږي . د مرحومې وریرونه محروم دي هیڅ برخه ورته نه رسیږي . د مرحومې دواړه خویندی د هغې له لور سره په جمع کیدو سره عصبه مع الغیر جوړیږي او لور ته د خپلی شرعي حصی ورکولو نه وروسته په پاتی مال کی دواړه خویندی حقداری دي . (سراجي ص ۱۰ ، ۱۵ مع حاشیه ، مفیدالوارثین ص ۱۱۹ ذوی الفروض بیان فصل نمبر ۹ ص ۱۴۳) فقط والله اعلم بالصواب .

لورته چی قرض ورکړی شي له هغی نه سند اخستل څنګه دي؟

(۴۱۱ سوال) زید خپل لورته پنځه لکه روپۍ د قرض په توګه د خپل زوم د کاز لپاره ورکړی وی لیکن تر اوسه پوری زید ته د خپل قرض د ترلاسه کیدو امید نشته ، زید زیاتره وخت ناروغ وي ، هغه غواړي چی له خپل لور نه یو لیکلی سند واخلي ، د دی مقصد او مطلب دا دی چی یو حجت او دلیل پاتی وي ، او دلور دمیراث له حصی نه همدومره پیسی کمی کړی شي ایا د شریعت په نظر کی داسی کول جائز دي ؟ بینوا توجروا .

په مسئوله صورت کی چی زید خپل لورته پنځه لکه روپۍ ورکړي دي هغه قرض دي او قرض واجب الادا دی ، که چیرته د زید لور د خپل پلار په ژوند کی قرض ادا نه کړی شي او پلاز یی مړ شي نو دا قرض د مرحوم په ترکه کی حسابیږي ، د زید نور وارثان به دغه قرض ترلاسه کوي او په ټولو وارثانو باندی به د شرعي قانون په مطابق تقسیموي ، که خداناخواسته د زید لور دا قرض ادا نکړي نو نور وارثان حق لري چی د هغی د میراث له حصی نه دا پیسی وګرځوي زید خپل لور ته دا پیسی د قرض په توګه ورکړي دي ، زید کولی شي چی ترینه لیکلی سند واخلي . په قرآن کریم کی دي :

یاایها الذین امنوا .... فلیملل ولیه بالعدل (بقره آیت نمبر ۲۸۱)

ای مومنانو ' کله چی تاسی د یوی ټاکلی مودی لپاره د قرض معامله وکړئ نو هغه ولیکئ . او دا ضروري ده چی ستاسی ترمنځ لیکونکی په انصاف سره ولیکي او له لیکلو نه انکار هم ونکړي خرنګه چی الله تعالی هغه ته لیکل ښودلي دي هغه ته پکار دي چی ویی لیکي او هغه څوک دی ولیکي چی د چا په ذمه دا حق واجب وي او له خپل پالونکي الله نه وویریږي اوپه دی کی یوه ذره هم کمی ونکړي ، بیا د چا په ذمه چی حق واجب و که هغه کم عقل یاله بدن نه ضعیف وي ، یا پخپله دلیکلو قدرت نه لري نو دهغه ولي دی صحیح صحیح ولیکي .

په دغه پورتني آیت کی دا ارشاد دی چی ای خلکو ! کله چی تاسی د قرض معامله کوئ نو په هغه کی وخت مقرر کړئ چی له نن نه پنځلس ورځی وروسته به ستا قرض ادا کوم ، بیا دی دغه معامله پخپل منځ کی ولیکل شي تر څو سبا ته څه جګړه او اختلاف پیدا نشي . او دا لیکل د قرض اخستونکی په سر دي چی دهغه له طرف نه په اصل کی اقرارا نامه ده . الخ (اسان تفسیر ص ۲۴ _ ۳۰) فقط والله اعلم بالصواب .

په وراثانو کی یوه لمسی یو کړوسی او دوه کړوسیانی دي :

(۴۱۲ سوال) نور محمد د قاسم زوی د خپل پلار په ژوند کی مړ شوی دی ، دهغه یو زوی احمد او یوه لور فاطمه ژوندی دي ، د احمد واده شویدی او د هغه هم یو زوی شبیر او دوه جنوکیانی ممتازه او مریم دي ، احمد هم د خپل نیکه قاسم په ژوند ی ک شوی دی کله چی قاسم مړ شو نو په هغه وخت د هغه وارثانو کی یوه لمسی فاطمه ، یولمسی شبیر او دوه کړوسیانی ممتازه اومریم موجود دي ، نو په دی صورت کی به د قاسم میراث څنګه ویشل کیږي ؟ بینوا توجروا .

مسئله عــ۸ مضروب مرحوم قاسم

میـــت

د زوی لور فاطمه	د زوی زوی (لمسی) شبیر	کړوسی ممتازه	کړوسی مریم
۴\۱	۲	۱	۱

په مسئوله صورت کی د حقوق متقدمه علی الارث نه وروسته د مرحوم قاسم لمسی ته د فرضیت په طریقه نصف ترکه رسیږي او پاتی نور نیمه ترکه کړوسي شبیر او دوه کړوسیانی ممتاز اومریم ته رسیږي څکه چی للذکر مثل حظ الانثیین قانون دی .

پوله ترکه به په ۸ حصو ویشل کیږي ، په دی کی ممتازی ته یوه حصه او همدغه شان مریم ته هم یوه حصه رسیږي .

په سراجي کی دي : ولو ترك ثلث بنات ابن بعضهن اسفل من بعض وثلث بنات ابن ابن آخر ......الى قوله .... للعليا من الفريق الاول النصف وللوسطى من الفريق الاول مع من يوازيها السدس تكملة للثلثين ولا شئ للسفليات الا ان يكون معهن غلام فيعصبهن من كانت فوقه ممن لم تكن ذات سهم ويسقط من دونه (سراجی ص ۹ ، ص ۱۰ باب معرفة الفروض الخ) .

شريفيه شرح سراجي کی دي : وان فرض الغلام مع العليا من الفريق الاول كان جميع المال بينه وبين اخته للذكر مثل حظ الانثيين ولا شيئ للسفليات (بمقتضى قوله ويسقط من دونه) وهی ثمان (سوی العليا المذكورة) وان فرض (الغلام) مع الوسطى الاول فياخذ عليا الاول النصف (بالفرض) والباقى للغلام مع من يحاذيه وهی وسطى الاول وعليا الثانى للذكر مثل حظ الانثيين (شريفه مع حاشيه ص ۳ ، ص ۲۵ باب معروفة الفروض) .

په درمختار کی دي : بخلاف ابن الابن وان سفل فانه يعصب من مثله او فوقه ممن لمتكن ذات سهم ويسقط من دونه فلو ترك ثلث بنات ابن بعضهم اسفل من بعض وثلاث بنات ابن ابن آخر كذلك ......الى قوله .... فالعليا من الفريق الاول يوازيها احد فلها النصف .....الى قوله .... الا ان يكون مع واحدة غلام فيعصبها ومن يحاذيها ومن فوقها ممن لاتكون صاحبة فرض وسقط السفليات .

په شامي کی دي : (قوله فلها النصف) لانها قامت مقام بنت الصلب عند عدمها (قوله والوسطى من الفريق الاول توازيها العليا من الفريق الثانى (لان كلاهمما يدلى الى الميت بواسطتين الخ . قوله الا ان يكون الخ ...... وان فرض الغلام مع العليا ،من ا لفريق الاول كان جميع المال بينه وبين اخته للذكر مثل حظ الانثيين

ولاشئ للسفليات وهن ثمان ، وان فرض مع الوسطى الاول فتاخذ عليا الاول النصف والباقى للغلام مع من يحاذيه وهى وسطى الاول وعليا الثانى للذكر مثل حظ الانثيين الخ (قوله ممن لاتكون صاحبة فرض ، اما من كانت صاحبة فرض فانها تأخذ سهمها ولا تصير بها عصبة وهى العليا من الفريق الاول التى اخذت النصف والوسطى منه مع العليا من الفريق الثانى حيث اخذتا السدس وهذا قيد معتبر فيمن كانت فوقه دون من كانت بحذائه فانه يعصبها مطلقاً (درمختار وردمختار ص ٦٧٦ و ص ٦٧٧ ج ٥ ، كتاب الفرائض ، قبيل باب العول) (عاية الاوطار ص ٤٩٠ ، ج ٤) فقط والله اعلم بالصواب .

ښځه او خاوند په اکسیډنټ کې (د موټر په ټکر کې) مړ شوي دي د دوی د وراثت حکم څنګه دی؟

(۴۱۳ سوال) زید او د هغه ښځه عائشه په موټر کې روان وو چې د دواړو موټر ټکر شو او یوځای مړه شول ، د زید دوه ښځې دي ، لومړۍ ښځه یې مړه شوه له هغې نه یې د فاطمې په نوم یوه لور ده ، د بلې ښځې یو کور دی ، په دې کور کې وراثتاً د زید دلومړۍ ښځې د لور حق شته او که نه ؟ بینوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کې زید او د هغه دویمه ښځه عائشه د موټر په ټکر کې یوځای مړ شوي دي ، کوم یومخکې او کوم وروسته مړ شوي دی د دې معلومات نشته ، نوله دواړو نه د یو بل وارث نه جوړیږي او دهر یو ذاتي مال او ملکیت د هغوی په خپلو خپلو وارثانو باندې د شریعت مطابق تقسیمیږي لهذا زید ته د هغه له دویمې ښځې عائشې د کور نه هیڅ حصه نه رسیږي .

په سراجي کې دي :- فصل فى الحرقى والغرقى والهدمى اذا مات جماعة ولايدرى ايهم مات اولاً جعلوا كانهم ماتوا معاً فمال كل واحد منهم لورثته الاحياء ولايرث بعض الاموات من بعض هذا هو المختار (سراجى) .

په معین الفرائض کې دي : د حرقي ، غرقي او هدمي بیان : که چیرته څو خپلوان په دریاب کې ، یا اور کې یا دکور د پرې وتو په وجه مړه شول او دا معلوم نه شو چې کوم

یو مخکې مړ شوی دی او کوم یو وروسته ؟ نو د وراثت په باره کې هغوی پخپلو منځو کې د یو بل په نسبت کالعدم تصور کولی شي یعنی هغوی ټول پخپلو کې له یو بل نه د میراث وړلو حق نه لري بلکې په موجود و مستحقو وارثانو باندی تقسیمیږي . الخ (معین الفرائض ص ۱۰۵ ، ۱۰۶) .

په مسئوله صورت کې کله چې مرحوم زید ته د عائشه په کور کې شرعاً حصه نه رسیږي نو دهغه د لومړی ښځې لور فاطمه ته هم څه حصه نه رسیږي . فقط والله اعلم بالصواب.

په ترکه باندی قابض له دوه وارثانو څخه یو وارث نورو وارثانو ته د حق ورکولو لپاره تیار دی خو بل انکار کوي ، کوم وارث چې تیار دی که هغه خپل پوره حصه هغه کور نه چې وربانډی قابض دی وصول کړي نو د دی څه حکم دی ؟

(۴۱۴ سوال) زمونږ پلار وفات شویدی ، د هغه په وارثانو کې دوه زامن او دری لورګانی دي ، زمونږ د مرحوم پلار دوه کورونه دي یو لوی کور دی چې قیمت یې تقریباً اووه لکه روپې دی ، او یو کور له هغه نه وړوکی دی چې قیمت یې پنځه لکه روپې جوړیږي ، لوی کور دهغه د مشر زوی په لاس کې دی او وړوکی کور زما په لاس کې دی ، زما مشر ورور وارثانو ته د برخې ورکولو لپاره تیار نه دی ، خو زه الحمد الله تیار یم که چیرته زه د دواړو کورونو قیمت مجموعاً دولس لکه روپې په اعتبار سره چې زما حصه ده (۱۴ ــ ۳۴۲۸۵۷) دا حصه د خپلی قبضی لاندی کور نه واخلم او پاتی پیسی (۸٦ ــ ۱۵۷۱۴۴۰) د دواړو خویندو تر منځ مساوي تقسیم کړم نو دا شرعاً صحیح دي او که نه ؟ دا تقسیم د ترکی په اووه حصی ورکولو سره شویدی ، داسی چې زمونږ دواړو ورونو ته دوه دوه حصی او زمونږ دریو خویندو ته یوه یوه حصه ، مونږ ته دا طریقه یومفتي صاحب ښودلی ده ، زما دری واړه خویندو هم زمونږ له مشر ورور نه خپلی حصی غواړي خو هغه ورکولو ته تیار نه دی . بینوا توجروا .

خواب : تا چې د تقسیم کوم صورت لیکلی دی هغه صحیح نه دی ، په دی صورت کې تاته پوره حصه رسیږي خو ستا خویندو ته کم رسیږي .

صحیح طریقه دا ده چې تاسی ټول یوځای خپل ورور باندی کوشش وکړئ چې هغه د ترکې په تقسیم باندی تیار شي ، که ضرورت وي نو د کلي او علاقی د دیندارو ،انصاف

دارو . او نيکو خلکو مرسته هم تر لاسه کړئ ، که د دغو ټولو کوششونو سره سره بيا هم هغه تيار نه وي نو ستا په قبضه کی چی کوم کور دی هغه پخپل تصرف کی ونيسه اوخپل مشر ورور ته ووايه چی ستا په لاس کی موجود کور کی چی زما کومی دوه حصی دي هغه دواړه حصی په دغو دواړو حصو کی حسابوو . فقط والله اعلم بالصواب.

په وارثانو کی ينځه علاتي وروڼه ، څلور علاتي خويندې او يو حقيقي وراره دی ، نو په دی صورت کی به ترکه څنګه تقسيميږي ؟

(۴۱۵ سوال ، د غلام محمد دوه ښځی دي ، له لومړی ښځی حامدی څخه يو زوی عبدالحق او دوه لورګانی زهرا او سارا دي ، دحامدی له مړ کيدو نه وروسته غلام محمد له حفصه سره نکاح وکړه ، له هغی نه څلور زامن او څلور لورګانی دي ، اوس غلام محمد وفات شويدی ، دهغه لومړی ښځی حامده له زوی عبدالحق نه د احمدپه نوم زوی دی ، پخپله عبدالحق او د هغه حقيقي خور زهرا دواړه مړ شوي دي ، د زهرا دوه زامن دي ، اوس اوس سارا هم مړه شوی ده ، هغی واده نه و کړی . د سارا په وارثانو کی د هغی پنځه علاتي وروڼه ، څلور علاتي خويندی ، يو حقيقي وراره او دوه وريرونه دي ، د سارا ترکه په مذکوره وارثانو باندی څنګه تقسيميږي ؟ بينوا توجروا .

ځواب : په مسئوله صورت کی حقوق متقدمه علی الارث نه وروسته د مرحومی سارا ترکه په څوارلسو برخو ويشل کيږي ، له هغو نه دوه حصی يو علاتي ورور ته ، او يوه يوه حصه هر يوه علاتي خور ته رسيږي ، د سارا حقيقي وراره احمداو دوه وريرونه محروم دي هغوی ته هيڅ برخه نه رسيږي ، علاتي ورور له حقيقي وراره نه مقدم دی ، او په مذکوره صورت کی علاتي خويندې له خپلو ورونو سره عصبه بغيره جوړيږي ،او د هغوی د ټولو تر منځ د مرحومی سارا ترکه د للذکر مثل حظ الانثيين په طريقه تقسيميږي .

په درمختار کی دي : (ثم جزء ابيه الاخ) (ثم) لاب ثم (ابنه) لابوين ثم لاب (وان سفل) (درمختار ص ٦٨٧ ج ٥ کتاب الفرائض فصل فی العصبات) .

په مفيدالوارثين کی دي :

(٦) چی کله علاتي ورور موجود وي نو حقيقي وراره محروميږي ، ځکه چی ورور قريب دی اګر چی علاتي دی او د وراره درجه لری ده .

(۳) که د مړي علاتي خويندی هم موجود وي نو هغوی هم د علاتي ورور سره په يوځای کيدو سره عصبه ګرځي او هری يوی خور ته له ورور نه نيمه حصه رسيږي (مفيد الوارثين ص ۱۴۲ عصبه درجه سوم نمبر ۱۰\۱۲ علاتي ورور) .
همدغه راز په مفيد الوارثين کی دي :
که د مړ شوي شخص کوم حقيقي يا علاتي ورور موجود وي ، يا د لومړی درجی او دويمی درجی کوم عصبه موجود وي نو وراره بالکل محروم پاتی کيږي . الخ (ص ۱۴۳ عصبه درجه سوم ۱۱\۳ حقيقي وراره) .
همدغه راز په مفيد الوارثين کی دي :
(۱) کله چی د مړي حقيقي او علاتي ورور نه وي نو د حقيقي ورور زوی د هغه ټول مال مستحق وي ، چی د ذوی الفروضو د حصو له مقررولو نه وروسته پاتی شوي دي (مفيد الوارثين ص ۱۴۲) فقط والله اعلم بالصواب .

پلار له ټيکس نه د بچ کيدو په خاطر جائيداد د خپلو زامنو په نوم کړی دی نو په دی کی دهغه دلور ګانو حق دی اوکه نه ؟

(۴۱۶ سوال) زيد مړ شو ، د هغه يوه ښځه شپږ زامن او څلور لورګانې دي ،په ترکه کی يو دکان ۹ کورونه او په زرګونو روپی ميراث پريښي دي د زيد زامنو خپل پلار ته ويلي وو چی که ته پخپل ژوند کی ټول جائيداد مونږ پسی وليکی نوحکومت هغه ټيکس چی دمورث له مړ کيدو نه وروسته دهغه وارثان يی ورکوي له ټيکس ورکولو نه بچ پاتی کيږي .زيد د خپلو زامنو په اصرار خپل جائيداد پر هغوی تقسيم کړی او هغوی پسی يی ليکلی دی ، هغه دکانونه او کورونه د خپلو زامنو په نوم ليکلي دي ، او له نقدو پيسو څخه يی لږی غوندی پيسی د شرعي اصولو په خلاف د خپلو لورګانو په نومونو ليکلي دي ، دهغه زامنو د خپل پلار د تقسيم په مطابق هر يو په دکان او کورونو باندی قبضه کړی ده ، د زيد څلور واړه لورګانی له خپلو ورونو څخه غوښتنه کوي چی زمونږ د پلار له ترکي نه د شريعت په مطابق خپل حق راکړئ ، خو د هغوی ورونو ورته ويلي دي چی زمونږ پلار کوم تقسيمات کړي دي هغه صحيح دي ، هغه دوکانونه اوکورونه مونږ ته د بخشش په توګه راکړي دي ، نوځکه په دغو دوکانونو او کورونو کی ستاسی حق نشته ، په کومو پيسو کی چی هغه ليکل کړي دي د همغی ليکلنی په مطابق ستاسو حق تاسو ته درکوو ، خو په نوره ترکه کی ستاسی حق نشته ، اوس سوال دا دی چی

دمرحوم زید په ترکه کی د هغه دلورګانو حق شته او که نه ؟همدغه راز د زید ښځې ته څومره څومره برخه رسیږي ؟

ځواب داچې زید پخپل ژوند کی له مرض الموت نه وړاندی خپل جائیداد د خپلو نارینه زامنو په نوم باقاعده هبه کړی او د هغوی په تصرف کی هم ورکړی دی نو د هغه دا هبه صحیح ده ، په دغه هبه شوي جائیداد کی د هغه د لورګانو هیڅ برخه نشته ، دا خانته خبره ده چې د خپلو لورګانو د محروومولو په وجه پلار یې سخت ګنهګار دی .

په حدیث کی دي چې کوم سړی د خپل میراث له مال نه خپل وارث محروموي الله تعالی هغه له جنت نه محروموي (مشکواة باب الوصایا ص ۲٦۲) .

په یو بل حدیث کی دي : چې ځینی خلک ټول عمر د الله په اطاعت کی تیروي ، لیکن د مرګ په وخت په میراث کی وارثانو ته د نقصان رسولو په وجه جهنمي ګرځي.

قال ان الرجل ليعمل والمرأة بطاعة الله ستين سنة ثم يحضر هما الموت فيضار ان في الوصية فتجب لهما النار (مشکواة شریف ص ۲٦۵) لیکن که له هبی نه وروسته د هغه زامنو قبضه نه وي کړی او زید مړ شو ، یا هبه په مرض الموت کی واقع شوی وي نو په دغو دواړو صورتونو کی هبه باطله ده ، او که داسی شوي وي چې زید د خپلو زامنو د خیر خواهی په خاطر خپل جائیداد هسی تش په نوم د خپلو زامنو پسی لیکلي وي او مطلب یې د هغوی مالک جوړول نه وي بیا هم دهغه زامن دهغه د جائیداد مالک نه ګرځي ، او ټول ورثاء په دی جائیداد کی د خپلو خپلو حصو په مطابق حقداره دي . فقط والله اعلم بالصواب .

تمت